د نصاب محترم ریاست لپاره یوه کاپي پرنټ شوه وروسته له څلورم اډیټ څخه.

14 – 11 - 2012

**د پوهنې وزارت**

**د ښوونکو د روزنې لوی ریاست**

# منطق

## صوري او تطبيقي

**مؤلف: پوهاند محمد ابراهیم ابراهیمي**

**کال: ۱۳۹۱ هـ. لمریز**

## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: منطق صوري او تطبيقي

مؤلف: پوهاند محمد ابراهيم ابراهيمي

کمپوز: محمد صديق صميم، هزارګل موسی خېل او فرهاد صديقي

ډيزاين: روح الله شفيق، عصمت الله عمرزوی او محمد صديق صميم

شمېر: 20,000 ټوکه

د چاپ کال: 1391 هـ. لمريز

چاپ خونه: د هند د رېپرو مطبعه (Repro India Ltd.)

## د درسي نصاب او انکشاف کيمټه

سوسن وردګ، پوهاند دکتور سيد قيوم شاه باور، ښووندوی عبدالخليل فضلي، ښووندوی صدر الدين اشرفي، ښوونيار عبدالحق رحمتي، ښوونمل عبدالودود شر ښووندوی محمد حسين محسني او ښووندوی شاه غاسي زرمتي



د امتياز خاوند: وزارت معارف

©Copyright reserved by MoE

د چاپولو حق د امتياز خاوند لپاره خوندي دی



## د دې کتاب پلورل او پېرودل منعه دي

د يونسف (UNICEF) او نړيوال بانک (WORLD BANK)

په مالي او تخنيکي مرسته

14 – 11 - 2012

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب مطالعه، د انسان شخصيت بشپ?وي. ساتنه ي? د مطالعه کوونکي د لو? فرهنگ

# د پوهنې د وزیر پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد:**

له شک پرته چې پوهنه د ایمان لار او د پرمختګ، تمدن او انساني کمال مدارجو ته د رسیدو یوازینۍ وسیله ده.

په تېر او اوسني عصر کې ټول بشري تمدنونه او پرمختیاوې د ژوند په پراخه ډګر کې د هغه نهضت او پوهنیزو نوښتونو پایله ده چې ښوونکو او پوهانو د خپل ارزښتمن ژوند په بیه ترلاسه کړي او د هغو په مرسته یې د اختراعاتو او علمي موندنو لاره د بشر پر مخ پرانیستې ده.

د تاریخي حقایقو له مخې بشري تجربې او علوم له یوه نسل څخه بل ته لېږدول کېږي او د هغو له برکته هره ورځ د نړۍ په کچه په بېلابېلو برخو کې حیرانوونکي اختراعات او نوښتونه رامنځته کېږي ، چې د انتقال دغه ګړندی بهیر او ټول پوهنیز بدلونونه بیا د ښوونکي په وسیله ترسره کېږي؛ ښوونکی په حقیقت کې د بشري تمدن بنسټګر، مخکښ او په نړۍ کې د لوړ انساني تربیت، پرمختګ او مدنیت د کاروان لارښوود او بل ځراغ بلل کېږي ، ځکه خو د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ د ښوونکي همدغه لوړ موقف او دروند ټولنیز دریځ ته په پام سره خپل ځان ښوونکی بللی او فرمایلي یې دي (انما بعثت معلماً) یعنې له شک پرته زه د ښوونکي په توګه رالیږل شوی یم.

د ښوونکي دغه ارزښتناک مقام ته په درناوي سره، د هغه د معیشتي وضعیت ښه کول او د هغه علمي ظرفیت لوړول، د معارف د پراختیا په لاره کې له جدي اړتیاوو څخه شمیرل کیږي او د پوهنې وزارت له هغو بنسټیزو لومړیتوبونو څخه دي چې د خپل مسؤلیت له مخې یې په بشپړ قاطعیت او جدیت سره تعقیبوي.



04 – 08 - 2012

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل اسلامي او ملي رسالت په درک کولو سره د هېواد د اساسي قانون د احکامو او د معارف د پراختیایي تګلارې په رڼا کې هڅه کوي څو د هېواد د پوهنې نظام د ودې او هراړخیزې پراختیا په موخه بنسټیزې او اغیزمنې چارې ترسره کړي.

د ښوونکي روزنې، ښوونیز نصاب او مصؤن تعلیمي چاپېریال د چمتو کولو په درېیو مهمو برخو کې د پوهنې بیارغونه چې په خپل وار سره د ښوونځیو او نورو ښوونیزو بنسټونو ټولو مادي اړتیاوو ته ځواب وایي او همدارنګه په معنوي لحاظ د علمپالو، وطن دوستو او مسلمانو انسانانو په توګه د زده کوونکو د شخصیت د متوازنې ودې لپاره د معنوي او سالمې علمي فضا په رامنځته کولو کې کارنده ونډه اخلي، چې د پوهنې وزارت په لومړیتوبونو کې ځای لري.

د لوی خدای په مرسته، د دوستو هېوادونو په مالي همکارۍ، د افغانستان د پوهنپال ملت په هڅو او ملاتړ او د پوهنې وزارت د با احساسه کارکوونکو او درنو ښوونکو د بې دریغه سرښندنو په مټ د پوهنې په ټولو برخو کې داسې کوټلي ګامونه اخیستل شوي دي چې له برکته یې د هېواد په تاریخ کې د پوهنې بهیر بې سارې پرمختګ کړی دی.

د پوهنې وزارت هڅه کوي څو د ښوونکي روزنې مؤسساتو ته له کمي او کیفي اړخه بهبود وبښي چې لله الحمد د عمومي، اسلامي، تخنیکي او مسلکي زده کړو او لیک لوست زده کړې تر څنګ د دارالمعلمینونو لپاره د نوي نصاب چمتو کول او د هغو لپاره د نویو درسي کتابونو تألیف په دې برخه کې یوه څرګنده ارزښتمنه لاسته راوړنه ده.

د دارالمعلمینونو نوی تعلیمي نصاب چې زموږ د ټولنې اړتیاوو ته په پام او د معاصرې پیداګوژۍ له معیارونو، اصولو او نویو لارو چارو څخه په ګټې اخیستنې سره چمتو شوی دی، ان شاء الله چې زموږ د هېواد د ځوانو ښوونکو علمي اړتیاوې به پوره او پوهنیزو غوښتنو ته به یې ځواب ووایي.

له ټولو هغو درنو پوهانو او قدر وړ استادانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې د دارالمعلمینونو د نوي نصاب په چمتو کولو کې یې د مفرداتو او یا هم د تألیف، تصحیح او بیاکتنې په برخو کې کارنده ونډه اخیستې ده.

د دارالمعلمینونو د نوي نصاب د تطبیق په لاره کې ټولو درنو، با احساسه او زیارکښو استادانو ته د علیم او خبیر ذات له درباره د لازیاتو بریاوو هیله کوم څو د دغسې نویو پوهنیزو کړنلارو په پلي کولو سره د افغانستان د پوهنې نظام لاهم څواکمن او د علمي او ټکنالوژیکي پرمختګونو د سیالۍ په دغه پراخ ډګر کې د نورو هېوادونو د سیالۍ جوګه شي.

**والله ولی التوفیق**

**فاروق وردګ**

**د پوهنې وزیر**



04 – 08 - 2012

# مخکنۍ خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

ښوونه او روزنه د يوې ټولنې د پرمختګ اساسي برخه ده . چې د وخت د غوښتنې او د هر هېواد ملي او نړيوالو شرايطو سره سم بايد په هغه هېواد کې وده او پرمختيا وکړل شي. دې واقعيت ته په پام کې نيولو سره اړتيا ليدل کېږي چې د هېواد د ښوونې او روزنې په سيستم کې هم بنسټيز او بنيادي بدلون رامنځ ته شي . لدې کبله په نصاب کې د بدلون او انکشاف نه پرته د تغيير او ودې امکان نه ليدل کېږي. ځکه نو ښوونيز نصاب د اسلامي لوړو ارزښتونو په اساس او د معاصرو علومو او فنونو پرمختګ ته په پاملرنې د ځانګړې لومړيتوبونو څخه بايد برخمن وي. د يادولو وړ ده چې د ښوونکو د روزنې ښوونيز نصاب له ډېرې مودې راپدې خوا په يو ډول و. او د خپلو مخکينيو ارزښتونو په چوکاټ کې هغه خوځښت چې د معاصرو علومو د ودې سره يو ځاۍ وي د پام وړ تجربې يې لړ ازمويلې. له بلې خوا په هېواد کې د ټولنيزو او اقتصادی ناخوالو لکه: بې وزلۍ، ناپوهي، بېسوادي لۀ امله زمونږ، هېواد د معاصرې نړۍ له پر مختللي کاروانه وروسته پاتې شوی، نو د معاصرې نړۍ د علم او تخنيک د پرمختګ د اوسنيو شرايطو په پايله کې چې کوم بدلونونه د بشري ټولنې په بيلابيلو اړخونو کې رامنځته شوي، زمونږ د هېواد لپاره هم د وروسته پاتې والي څخه د خلاصون او پرمختګ په لور يون يو ښکاره او مبرم ضرورت ښکاري. د غسې لوړ انساني آرمان او هدف ته رسېدل بې د ښوونې او روزنې له بدلون او د نوي معارف او پوهنې له جوړولو پرته چې بنسټيز اړخ يې د ماهر و تخصصي او مسلکي ښوونکو روزل دي، ناشونی کاردی.

د همدې موخې پر بنسټ خوکاله مخکې د پوهنې وزارت د پرېکړې په اساس د وزارت د ښوونکو د روزنې په برخه کې لوی مشاوريت و پتيله چې د ښوونکو د

روزنې لپاره د نوی نصاب جوړول پیل کړي دا کار یې د کابل پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنتون او دعلومو اکاډمي د یو شمېر ښاغلو استادانو په مرسته د ورکشاپونو په دایرولو او د ځینو پرمختللیو هېوادونو د ښوونې او روزنې له سیستم نه په ګټه اخیستلو سره وکړای شول چې د خپل هېواد د ځانګړو شرایطو سره سم د ښوونکو د روزنو د موسساتو لپاره نوی تعلیمي نصاب جوړ او په بېلا بېلو رشتو کې د نویو درسي کتابونو لیکلو بهیر پیل کړي.

د دغو نویو کتابونو له لیکلو څخه چې د دارالمعلمینونو د نوي تعلیم ي نصاب پر بنسټ لیکل شوي اصلي موخه او هدف دادی چې د محصلینو علم ي او تخصصي سویه لوړه او په ملي او اسلامي روحیه وروزل ش ي، چې په راتلونکې کې د پوهو او اګاهو ښوونکو په ځبر خپل ملي او وطني رسالت د راتلونکي نسل د ښوونې او روزنې په برخه کې په پوره ایمانداری او بریالیتوب سره سرته ورسوي.

د یادولو وړ ده چې د ښوونکو د روزنې لوی ریاست موخه یوازې د دارالمعلمینونو د نوي نصاب په چمتو کولو او د دغو نویو درسي کتابونو په لیکلو پای ته نه رسیږي، بلکې د ښوونکو د روزنې د لوی ریاست هدف دادی چې د دارالمعلمینونو د ښوونکو تخصصي سویه لوړه او تجربه يې دومره زیاته شي چې له یو ې خوا د لوړو زده کړو زمینه ورته برابره شي او له بلې خوا د علمي سیمینارونو، ورکشاپونو او لکچرونو له لارې لازیاته عملي تجربه ترلاسه کړي.

هیله لرم زموږ د دارالمعلمینونو ګران محصلین به وکولای شي د ښکارنده زده کړې له طریقې نه، له دغو درسي کتابونو څخه چې په لیکلوکې یې له معتبرو اخځلیکونو څخه استفاده شوې زیاته ثمربښوونکې ګټه ترلاسه کړي، څو د خپل هېواد راتلونکي نسل لپاره د یوه ښه عالي او مسلکي ښوونکي په توګه خپله علمي سویه لوړه کړي چې د راتلونکو سمبالونکو په خاطر د زیات او د ښه خدمت جوګه شي.

په پای کې په ځای ده چې د کابل پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنتون، علومو اکاډمی له هغه شمېر ښاغلو استادانو، دښوونکو دروزنې دلوی ریاست ښاغلو علمي او مسلکي غړو، طباعتی کارکوونکو، په هېواد کې د ښوونکو د روزنې هغه شمېر ښاغلو استادانو، او د کتابونو د چاپولو د نصاب د بیا کتونکو دکمیسیون ښاغلو غړو، بهرنیو موسساتو او اشخاصو څخه چې ددې کتابونو په چاپولو کې یې مالي مرسته کړې د زړه له کومې مننه وکړم او له لوی خدایﷻ څخه هغوی ته لا زیات بریالیتوبونه غواړم.

## سوسن ورک

## د ښوونکو د روزنې عمومئیرسه

## اود پوهنې وزارت د مقام هتسلا کاره

# موضوع ګانې

سرلیک — مخګڼه


سریزه ......1......

**لومړی برخه (صوري منطق)**

**لومړی څپرکی**

**عمومي موضوعات**

لومړی لوست: د منطق تعریف، موضوع او غرض ......8......

دویم لوست: د منطق د علم اهمیت ......15......

دریم لوست: د منطق د علم تاریخچه ......20......

څلورم لوست: د منطق د علم اقسام ......28......

پنځم لوست: منطق او انساني علوم ......35......

**دویم څپرکی**

**تصورات او الفاظ**

لومړی لوست: علم او د دلالت اقسام ......42......

دویم لوست: د الفاظو ویش ......51......

دریم لوست: کلي او څلور ګونې نسبتونه ......60......

څلورم لوست: پنځه ګونې کلیات ......68......

پنځم لوست: تعریف او تقسیم ......76......

**دریم څپرکی**

**منطقي قضایا**

لومړی لوست: د حملیه قضیې تعریف او اجزاء ......84......




04 – 08 - 2012

دویم لوست: د حملیه قضیې وېش ........................90........................

درېیم لوست: شرطیه قضیه او د هغې اقسام ............98................


## څلورم څپرکی

## استدلال یا حجت


لومړی لوست: حجت او اقسام یې ........................108..........

دویم لوست: حملي اقتراني قیاس ........................115..............

درېیم لوست: شرطي اقتراني قیاس او استثنايي قیاس ....125................

څلورم لوست: د قیاس لواحق ..........................136..................


## پینځم څپرکی

## پنځګوني صنعتونه


لومړی لوست: لومړني مبادي ..........................144..................

دویم لوست: برهان ....................................152..................

درېیم لوست: خطابه او شعر ..........................159..................

څلورم لوست: جدل او مغالطه ..........................167..................




04 – 08 - 2012

## دويمه برخه (تطبيقي ميتودولوژي منطق)

### لومړی څپرکی

### تطبيقي ميتودولوژي منطق ته ننوتل

لومړی لوست: د نوو پېړيو د فلاسفه وو او منطقيانو په واسطه د صوري منطق نقد او مخکښې تاريخ .............................................178
دوم لوست: د صوري منطق د نقد نقد .........186.................


### دويم څپرکی

### د علومو روشونه او تصنيف بندي

لومړی لوست: د علومو تصنيف بندي .........194.................
دويم لوست: انساني تفکر او د علومو روشونه (طريقې) ..............201.
درېيم لوست: علمي معرفت او پيژندنه .........209.................
څلورم لوست: عقل، تجربه او په خطا کې د وقوع اسباب ..............215.


### درېيم څپرکی

### روشونه

لومړی لوست: په رياضي علومو کې د تحقيق روش ..............224.
دويم لوست: په طبيعي علومو کې د تحقيق روش ..............231....
دريم لوست: په بشري علومو کې د تحقيق روش ..............241....
مأخذونه: .........253................................................

# سریزه

سُبحانَه ما اعظَمَ شانَه لایُحد و لایتصور و لایُنتِج و لایتغیر، تعالی عن الجنس و الجهات، جعل الکلیات و الجزئیات، الایمان به نعم التصدیق و الاعتصام به حبذا التوفیق، و الصلوة و السلام علی من بُعث بالدلیل الذی فیه شفاء لکل علیل، و علی آله و اصحابه الذین هم مقدمات الدین و حجج الهدایة و الیقین.

منطق مطمئنه وسیله ده د ذهن د ساتلو لپاره له خطاء څخه په فکر کې او د دې علم د اصولو او قواعدو په رعایت سره دا نقشه برابرېږي چې د معلومو امورو د تنظیم او ترتیب له لارې د هغه امر (شي) د پوهیدلو لپاره چې تر اوسه مجهول وو لاره ومومو، منطق د سم فکر کولو لپاره قانوني آله او معتبره وسیله ده د دې آلی کارول له مونږ سره د سمو الفاظو په ټاکلو او پوهه کې د قضیو، تعریفونو او بیا د یو قیاس او د قبولیت وړ حجت د جوړولو لپاره د قضیو په ټاکلو او پوهه کې مرسته کوي.

د فکر او مفاهیمو یوازینی ښه تعبیرونکي ــ الفاظ ــ جملې او منطقي قضیې دي چې زمونږ په ذهن کې وجود لري، دا فکرونه او مفاهیم (مفهومونه) په مختلفو شکلونو سره بیانیدلی شي او هر څوک یې په یو شکل سره ظاهروي که د فکرونو ترمنځ رابطې او د هغوی د مطابقت څرنګوالی په واقع او نفس الامر کې په ښه توګه تشخیص او سنجش شي او په هغوی کې په اساس د تضمن او شمول، کلیت او جزیت، ایجاب او سلب، علیت او معلولیت، تضاد، تناقض، تباین، تساوي، امکان، وجوب، استحاله، یقین، ظن (ګمان)، شک، توهم، تعلیل، استقراء، مشاهده، تجزیه، ترکیب، تجربه، مدارک او احصایه په مناسبو الفاظو او قانوني ترکیبي شکل سره حکم شي نو په یقین سره ویلی شو چې دغسې حکم یو داسې حقیقت دی چې انکار ترینه نشي کیدلی او د طبیعي عالم، اجتماع او انساني فکر له حقایقو څخه به بیان کوی او یو منطقي حکم به وي.



14 – 11 - 2012

انسان په فطري توګه یو متفکر او منطقي حیوان دی او د خپل طبیعت او فطرت په حکم دې ته مایل دی چې په معقوله او منطقي توګه سره فکر وکړي او خپل فکر په الفاظو سره بیان او له نورو سره شریک کړي، مګر صرف د هغه منطقي فطرت په پوهه، درک او د حقایقو ښودنه او د نړۍ د واقعیتونو لپاره نه کافي کیږي نو د دې ضرورت له مخې حکماوو او فلاسفه وو ځینې اصول او قوانین د سالم فکر لپاره وضع کړل او نوم یې پرې د منطق علم کیښود چې اصولو او قوانینو یې په خوره وره توګه د ارسطو څخه د مخکې فلاسفه وو په نظریاتو کې وجود درلود ولې ارسطو لومړنی فیلسوف دی چې د پخوانیو (تیر شوو) فلاسفه وو اصول او منطقي قوانین یې تهذیب او په بابونو وویشل او خپل نوي نظریات یې هم پرې ورزیات کړل او د منطق (لومړني معلم) لقب یې لاس ته روان، د پخواني یونان ټول علمي او فلسفي کتابونه د عباسیانو په زمانه کې عربی ژبې ته ترجمه شول چې د ارسطو د منطق کتابونه هم پکې شامل وو. د ارسطو صوري منطق ارزښتناک ځای په شرق او غرب کې کسب کړ، خصوصاً په اسلامي شرق کې، او د اسلامي هیوادونو د مدرسو او پوهنتونونو د نصاب جزء وګرځېد. دغه منطق د ترجمې له زمانې څخه زمونږ د ګران هیواد افغانستان د مدرسو، عمومي ښوونځیو او د هیواد د پوهنتونونو په ځینو پوهنځیو کې تدریس کیږي، دا چې دا مضمون همیشه زمونږ د هیواد د درسي پروګرام جزء وو علتونه یې داسې بیان شوي:

الف: منطق له خطاوو څخه په فکر کې د ذهن د ساتلو قانوني آله ده.

ب: منطق مونږ ته دا قابلیت راکوي چې په مختلفو علمي، حقوقي، اقتصادي، سیاسي، رواجي او په ورځنیو بحثونو کې موفق اشخاص و اوسو او د منطقي دلایلو او حجتونو په راوړلو سره وکولای شو چې مقابل لوري ته په بحث کې قناعت ورکړو.

ج: له هغه ځايه چې د اسلامي علومو ټول لومړني کتابونه د ارسطو د صوري منطق د اصولو او قوانينو مطابق ليکل شوي نو ځکه يې د محتوياتو د پوره پوهې لپاره د منطق خصوصاً د صوري منطق زده کولو لپاره سخت ضرورت احساسيږي.

د: په نويو پيړيو کې نوي منطق ميتودولوژي (د تحقيق روشونه) او د فرانسس بيکن، استوات ميل او نورو اروپايي فلاسفه وو او منطقيان منطقي نظريات د ارسطو د صوري منطق ضميمه شول، د دغه منطق محتويات په ورستۍ نيمه پيړۍ کې زمونږ د هيواد د ښوونيزو ځايونو د درسي کتابونو د مفرداتو جزء هم وګڼل شول نو په دې بنا د دې مضمون د تدريس له لارې زمونږ متعلمين او محصلين په ښه توګه قادريدلی شي چې د رياضي، طبيعي او بشري علومو د تحقيق پر مختلفو روشونو باندې وپوهيږي.

نو په دې بنا د ضرورت او اهميت له مخې د منطق مضمون زمونږ د هيواد د دارالمعلمينونو د ديني علومو د رشتې د درسي نصاب جزء هم ګڼلی شوی ترڅو چې د دې ځايونو فارغان چې د ديني مدرسو او عمومي مکتبونو د معلمانو په حيث به وظيفه اجراء کوي د هغه په تدريس کې مشکل و نه لري.

حاضر کتاب د منطق مضمون درسي کتاب د دارالمعلمين د ديني علومو په رشته کې دی چې په دوه برخو کې تحقيق او ليکل شوی دی، په لومړۍ برخه کې د ارسطو صوري منطق تر بحث لاندې نيول شوی او په دويمه برخه کې نوی منطق (په مختلفو علومو کې د تحقيق روشونه) توضيح شوي دي.

د دې کتاب د بشپړولو په منظور له ډيرو مراجعو څخه استفاده شوې، تقريباً ډيرې معتبرې مراجع يې په عربي ژبه او ملي ژبو چې په صوري او تطبيقي منطق کې ليکل شوي او په رسمي يا شخصي کتابتونونو کې موجودې دي، د مؤلف د استفادې مورد ګرځيدلي چې د دغې مراجعو يوې برخې ته د مأخذونو په ليست کې ځای ورکړل شوی دی.

دا کتاب په نوي درسي بنه تحقیق او لیکل شوی او هر څپرکی یې ګن شمېر لوستونه لري. د لوست په ابتداء کې د لوست عنوان معرفي او ښوونیز هدفونه ذکر شوي او د لوست په پای کې درسي پوښتنې دي چې مختلف سوالونه پکې شامل او د لوست د مطلبونو د زده کړې د څرنګوالي مهارتونه، طرز تلقي (ذهنیت) د محصلانو ارزونه په کې ترسره کیږی او هم د محترمو استادانو او قدرمنو محصلانو توجه د ټولګي فعالیت، عملي کارونو، کورنیو دندو ته جلب شوې ده ترڅو له دې لارې معتبر مراجع او لازم درسي مواد د پراخی استفادی او ګټي مورد (وړ) وګرځي.

له لازم فرصت نه په ګټې اخیستنې سره غواړم له محترم پوهنوال عبدالجلیل یوسفي او محترم محمد صدیق صمیم څخه شکریه ادا کړم چې له ما سره یې د دې کتاب د غلطیانو په تصحیح، ټایپ او ډیزاین کې صادقانه همکارې کړې ده.

او هم په پای کې له محترمو استادانو او مدرسینو څخه هیله لرو که له ټایپي غلطیانو سره مخامخ کیږي او یا د دې کتاب د مطالبو په تحلیل کې کوم مشکل ویني نو په خپله بزرګي دې هغه حل او رفع کړي.

# لومړی برخه

## صوري منطق

# لومړی څپرکی

## عمومي موضوعات

# لومړی لوست

## د منطق تعریف، موضوع او غرض

### موخې:

1. محصلین د منطق لغوي او اصطلاحي تعریف بیان کړی شي.
2. محصلین د فکر او څلورګونو علتونو په اړوند معلومات شرح کړی شي.
3. محصلین د منطق موضوع او غرض تشریح کړی شي.
4. محصلین د تمرین د اجراءکولو څخه وروسته د توضیح او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

### د منطق تعریف:

منطق په لغت کې د وینا (ویلو) په معنا دی او «نطق ینطق» یې فعل دی، په اصطلاح کې د قانوني آلې د علم عنوان دی چې د هغې د قوانینو کارول په استدلال او فکر کې ذهن له خطاء څخه ساتي، دا تعریف یو ډېر پخواني تعریف «هو آلة قانونیة تعصم مراعاتها الذهن عن الخطاء فی الفکر» (۲۹ : ۱۹) ته نژدې دی چې د دې علم لپاره شوی دی. د منطق پوهنې ډېرو شارحینو دا تعریف د منطق د معرفي کولو لپاره سرته رسولی او داسې بریښي چې د ارسطو منطق صورت او د شکل طرف ته ډېره توجه کړې او دا کړنه او خاصه د یوناني پوهې د وضعی څخه متأثره ده چې کیفي جنبه لري، د همدې منطقي توجه په اساس یې د «فکر» په تعریف کې ویلی دي «یو مجهول امر ته د لاس رسۍ لپاره د معلومو امورو (څرګندو چارو) ترتیب ته فکر وایي» په دې تعریف کې څلور علته د ارسطو د زمانې د مروجه فکر مطابق داخل دي:

1. په فکر کې څرګندې چارې مادي علت دی.

2. هغه څه چې د دې امورو ترتیب او تنظیم کوي فاعلي علت دی.
3. د دې امورو ترتیب او تنظیم په هغه شکل او صورت چې مونږ یو مجهول امر ته رهبري کړی صوري علت دی.
4. مجهول امر ته رسېدل چې زمونږ مطلوب (مقصد) دی غايي علت (مقصودي علت) یې بولي.

دا چې د ارسطو منطق ته یې صوري منطق ویلی یو لامل به یې دا وي چې دا منطق د معلومو امورو د شکل ورکولو په څرنګوالی بوخت دی مګر هغه څه چې د ارسطو د منطق په اړه واقعیت ته نژدې دي په دې امر (کار) حکم دی چې ارسطو نه یوائې د معلومو امورو د شکل او صورت ترتیب ته توجه لرله بلکې مادې او مضمون ته یې هم خاصه توجه وه مثلاً دا منطق له یوې خوا د فکر قوانین او د هغه شکلي جنبو پورې اړوند مطلبونه څېړي چې د دې منطق په یوې کوچنۍ برخې کې شامل دي او له بله اړخه د ریاضي او طبیعي علومو د مباحثو ښودنې ته متوجه دي، دا برخه یې د منطق کبیر (لوی منطق) په نامه یاده کړې او د ارسطو د منطق د دې دوه اړخیزۍ له مخې ده چې ابو علي سینا بلخي یې په اړه وایي : «څرنګه چې دا دواړه اړخونه (صورت او د فکر ماده) مونږ له خطاوو څخه ژغوري نو زمونږ د پاملرنې وړ دي » (۱۹ : ۱۳). او همدا رنګه د شعر، جدل او خطابی په اړه د ارسطو پلټنې او هم د هغو منابعو تحقیق چې منطقي اصولو ترې نه منشاء اخیستې پر دې واضح دلیل دی چې د هغه منطق د فکر دواړو صوري او تطبیقي اړخونو ته خاصه توجه لرلې ده، ارسطو نظري علوم په طبیعیاتو، الهیاتو او ریاضیاتو پورې منحصر ګڼلي او د هغه له نظره نظري علوم د منطق په هېڅ یو ډول کې شامل نه دي بلکې منطق یوه آله ده چې کارولو ته یې ټول علوم اړتیا لري او د هغې نومونه په «ارګانون» چې د آلې په معنی دی، هم مخکینی نظر تائید وي.

د حیواناتو په منځ کې یواځې انسان دی چې فکر کولی شي او خپل فکرونه له نورو سره شریکولی شي، او همدا لامل دی چې ارسطو انسان «ناطق حیوان» ګڼلی دی. څکه فکر د نطق او لفظ په قالب کې د نورو د فهم او درک قابل دی نو په ځای ده چې انسان په ناطق او فکرمند حیوان سره و نوموو. فرانسوي رنه دیکارت د ټولو موجوداتو په اړه شک وکړ، د هغه دا شک د قدیم یونان د شک کوونکو په شان نه وو بلکې هغه وغوښتل ټولو هغو شیانو ته چې له بهر نه د هغه ذهن ته لاره موندلې انکار وکړي او خپله د خپلو نظریاتو څخه مرسته وغواړي، د نوي علم تأسیس وکړي، نو لومړنی شی چې د هغه په وجود یې اقرار وکړ او د هغه په اړه یې شک کول ناسم وبلل فکر و او د فکر د درلودلو له لارې یی خپل وجود هم ومانه او خپل دا څرګند حکم یې بیان کړ «څرنګه چې فکر کوم نو موجود یم » نو کولای شو چې و وایو د انسان اساسي صفت فکر کول دي او د هغه ژوند په فکر سره پیل او د هغه په نشتوالي پای مومي.

مونږ ټول فکر او سوچ کوو، آیا زمونږ ټول افکار سم او صحیح دي. په ځینې مواردو کې د فکر صحیح فعالیت یوازې کفایت کوي خو په ځینو نورو موضوع ګانو کې د اساسي معلوماتو د ترلاسه کولو په اړه د تفکر موضوع ته ضرورت احساسیږي، ترڅو زمونږ فکر د پورتني واقعیت او نفس الامر سره مطابقت پیداکړي؛ که ووایو:

1. الف او ب مساوي دي.
2. ب او ج مساوي دي.
3. نو ج تر الف لوی دی.

فی الحال هر سړی پوهیږي چې دا افاده غلطه ده خو که و وایو «ځمکه اواره او مسطحه ده» دا قضیه هم د ژبې د قواعدو له لحاظه سمه ده او هم د یو بی علمه سړي له نظره او هم له نفس الامر سره سمه بریښي، او حتی پوه انسانان هم تر ډیرو زمانو پورې په همدې غلط ګمان تېر شوي خو کله چې د اروپا د نویو پیړیو پوه

ګاليله د هغه پر خلاف نظر بيان کړ او له ډېرو کړاوونو او تکليفونو سره مخامخ شو نن ورځ مونږ د هيأت پوهنې او ځمکې پيژندنې د معلوماتو او تحقيقاتو پر اساس قطعي حکم کوو چې مخکې ذکر شوې قضيه سمه نده او ځمکې د وضعې په اړه سم فکر دا دی چې و وايو «ځمکه مدوره او ګرده ده» (۲٦ : ۱ - ۳).

هره ورځ په مکالماتو کې تل اورېدل کېږي چې: «دا خبره منطقي نه ده » «د دې وينا منطق په دې کې دی » او داسې نور...، دغه شان قضيي او جملي پخپله د دې بيانونکې دي چې د منطق کلمه د څرګندو چارو په سم ترتيب دلالت کوي چې د يوې مجهولې چارې په پيداکيدو پای ته رسيږي. که يو څوک د يو فکر په اړه چې په خپل ذهن کې يې ترتيب کړی او يا د هغې خبری په اړه چې له نورو څخه يې اوريدلې پلټنه او پوښتنه وکړي چې آيا دا کار سم دی او که ناسم، په دې صورت کې ويلی شو چې د هغه په دماغ او ذهن کې يو منطقي فعاليت را منځ ته شوی دی نو د دې خبرو په نتيجه کې ويلی شو: «منطق هغه علم دی چې د حقيقت د ادراک د لارې ښودنه کوي ».

د عباسيانو د دورې په لومړی زمانه کې د قديم يونان منطق او فلسفه په عربی ژبه ترجمه شول، مسلمانو ترجمانانو په لومړي وخت کې د منطق کلمه د دې فن لپاره استعمال نه کړه بلکې د دې فن لپاره اصلي يوناني کلمه چې له «لاجيک» څخه عبارت ده استعمال کړه، او دا طريقه يې په ټولو علمي اصطلاحاتو کې وکاروله مثلاً په لومړيو عربي ترجمو کې د رياضياتو اصطلاح نه وه بلکې د هغې پرځای يې له اصلي يوناني اصطلاح «ماتاماتيکا» څخه استفاده وکړه څرنګه چې د بديع او بيان د اصطلاح لپاره يې د «ديتوريکا» کلمه او د «ماده» د عبارت لپاره يې د «هيولی»کلمه استعمال کړه.

په لرغوني یونان کې د «لاجیک» کلمې استعمال د دې فن لپاره په دقیقه توګه معلوم نه دی چې څه وخت او د چا په واسطه استعمال شوی، ارسطو پخپله هم له دې اصطلاح څخه استفاده کړې او وروسته د هغه د معروف کتاب «ارګانون» درې وروستي فصلونه د «لاجیک» په نوم مسمی شوي دي. د «لاجیک» کلمه له لوګوس (Logos) څخه اخیستل شوې چې د افادې او تفکري اشارې په معنی ده او په ذهن کې رامنځ ته کیږي، اوس هم په غرب کې د یو نوی علم د نومونې لپاره اکثراً د لوجي یا لاجي کلمه د اصلي کلمې په آخر کې زیاتوي لکه جیولوجي یعنې د ځمکې پیژندني منطق، سایکولوجي او داسې نور.

## د منطق موضوع:

«تصوري او تصدیقي معلومات » د منطق د علم یا فن موضوع تشکیلوي، تصوري معلومات له هغې پوهې څخه عبارت دی چې مونږ په خپل ذهن کې حاصل کړی لکه ګرمي، یخني، رڼا، تیاره، فردیت، زوجیت او داسې نور، دا پوهه د منطق په اصطلاح کې د «قول شارح» یا «معرِف» د راء په کسر یعنی پیژندونکی په نامه یادوي کله چې دا تصوري پوهې یو له بل سره مرتبط کړو او یو له بل سره نسبت ورکړو یا یو له بله یې سلب کړو او یا د هغه په صحت یا عدم صحت حکم وکړو دغه شان تصوري معلومات د تصدیقي معلوماتو، استدلال، حجت او قول جازم په نامه یادوي، کله چې ووایو: شپه تیاره ده، د پنځو عدد زوج (جفت) نه دی او داسې نور نو د پورته ذکر شوې توضیح پر بنا د ارسطو د منطق موضوع دوه شیان په پام کې لري:

۱. قول شارح یا هغه معلوم تصورات چې مجهول تصور مونږ ته معلوم کړي.

۲. حجت یا د تصدیقاتو معلومه مجموعه چې مجهول تصدیق مونږ ته را پیژني.

## د منطق غرض:

د لرغوني يونان مشهور فيلسوف سقراط به د منطق په اړه ويل: «منطق د ټولو علومو تاج دی او بې له هغه نشو کولای چې هيڅ يو علم ته ننوځو او واقعيت ته ورسيږو ». افلاطون د سقراط شاګرد په خپل مشهور کتاب «جمهوريت» کې د خپل استاد له وينا څخه نقل کوي چې د سم فکر لپاره بايد ټاکلي قواعد او موازين تدوين او ترتيب کړو. د افلاطون مدرسه او د تدريس او تحقيق محل په يو ځای کې د «اکادميا» په نوم موقعيت درلود له همدې کبله نن ورځ په ټوله نړۍ کې د پلټنې او تحقيق مرکزونه د «اکاډمی» په نوم يادوي، افلاطون د خپلې اکاډمۍ د ننوتلو د دروازې پر سر ليکلي وو: «دې ساحې ته دې هغه څوک نه راننوځي چې په منطق او رياضي نه پوهيږي» (۳۲: ۵). ټول هغه څه چې ذکر شول د منطق په اهميت او غرض دلالت کوي، دا چې انسان په خپل فکر او سوچ کې تل له اشتباه او خطاء سره مخ کيږي نو داسې قواعدو او اصولو ته سخته اړتيا ده چې د هغه ذهن د معلومو امورو په بنه ترتيب سره د فکر له خطاء او اشتباه څخه وساتي.

# پوښتنې

1. منطق په لغت او اصطلاح کې په هغه ډولونو چې ذکر شول تعریف کړئ.
2. که ممکنه وي د منطق لپاره نور جامع او مانع تعریفونه ذکر کړئ.
3. فکر څه شی دی؟ تعریف یې کړئ.
4. د ارسطو څلورګونې علتونه د فکر په تعریف کې و پلټئ.
5. په دلیل سره ثابته کړئ چې د ارسطو منطق صرف یو صوري منطق نه دی بلکې د مضمون او مادې او د تفکر د تطبیق په بهرنیو مصادیقو هم توجه (پاملرنه) لري.
6. د دې لپاره چې زموږ منطقي تفکر په بیروني او نفس الامري واقعیتونو تطابق وکړي علمی دقیقو معلوماتو ته هم ضرورت دی دا موضوع وڅیړئ.
7. هغه موضوع ګانې چې په منطق کې پرې بحث کیږي د ګڼو مثالونو په راوړلو سره یې بیان کړئ.
8. د منطق د زده کولو غرض او هدف څه شی دی؟ په مستدله توګه پرې مناقشه وکړئ.
9. د درس د ډېر مضبوطولو لپاره د درسي لازمو موادو څخه استفاده وکړئ.



14 – 11 - 2012

# دویم لوست

## د منطق د علم اهمیت

**موخې:**

1. د قرانکریم د هغو آیتونو په اړه وضاحت چې په هغې کې خلک سالم فکر کولو ته بلل شوي.
2. محصلین د اسلامی علماوو او فلاسفه وو نظریات د منطق د علم د اهمیت په اړه تحلیل کړی شي.
3. د دې وضاحت چې منطق د هر علم اړتیا او ضرورت دی په خاصه توګه د اسلامي لرغونو علومو د متونو د پوهېدلو لپاره.
4. محصلین د تمرین تر اجراءکولو څخه وروسته د توضیح او د دې درس د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

د منطق علم انسان ته د سم فکر او سوچ عام او کلي قواعد او قوانین ورزده کوي تر څو د انسان ذهن سالمو فکرونو او سوچونو ته د علمونو او فنونو په ټولو ساحو کې ورتیا پیداکړي، د منطق علم مونږ ته رازده کوي چې په کوم ترتیب او شکل او د کومو موادو او معلوماتو په اساس فکر او سوچ له حاصل شوو صورتونو (شکلونو) څخه په ذهن کې پټو، مجهولو او غایبو چارو ته ورسیږي، او د دې مطلب له مخې يې منطق د فکرونو او سوچونو لپاره میزان، معیار او ښه وسیله ګڼلې ده، ټول علوم د منطق علم ته اړتیا لري حتی د الجبر علم د منطق د علم تر قوانینو پورې تړاو لري چې فیضې او معادلې يې پرې حل کېږي (۲۹ : ۲۰ - ۲۱).

«هل یستوی الذین یعلمون و الذین لایعلمون»، «هل یستوی الاعمی و البصیر» او د قرآنکریم په لسګونو نور آیتونه چې انسان سالم تفکر او تعقل ته رابلي. قرآنکریم د

الله تعالی له بندګانو څخه عالمان او پوهان یوازینۍ ډله ګڼلې چې د خپل سالم علم او سوچ په مقتضا له الله تعالی څخه ویریږي څرنګه چې دا آیت صریحاً پر پورتني مطلب دلالت کوي: «انما یخشی الله من عباده العلماءُ». دا قرآني مثالونه ټول دعلم، پوهې او د حکمت علماوو، پوهانو او حکماوو د ستاینې په اړه کارول شوي او هغه ځای ته هغه وخت رسیږي چې د علم او حکمت بخشش او ورکړه یې د خیر کثیر په عنوان سره ذکر کړې او د دنیا او آخرت د سعادت حاصلول یې ور پورې موقوف ګڼي.

اوس وینو هغه لاره چې علماوو او پوهانو له یو بل سره یو ځای طی کړې ده هغه لاره چې له منطق څخه شروع کیږي او په منطق خاتمه مومي، منطق د فلسفې او ټولو علومو د لارې پرانیستونکی دی. او یوازینی علم یا فن دی چې هر فیلسوف (الهي وي او که طبیعي) او هر عالم (دیني وي او که طبیعي) د هغه تحصیل د خپل مطلوب او مقصد لپاره یو لازمي او حتمي امر ګڼي او هم یې د هر علم تحصیل د منطقي ضوابطو او قوانینو په تحصیل او زده کولو پورې موقوف ګڼي او د منطق د دې اهمیت له مخې د اسلامي قلمرو مشهورو عالمانو، حکماوو او فلاسفه وو قیمتي کتابونه او رسالې د زمانې په اوږدو کې په دې مهم فن کې لیکلې. ابو نصر فارابي د دې علم د بابونو او فصلونو په تهذیب او ترتیب کې چې د ارسطو له زمانې څخه په نسبتاً ګډوډ شکل ده ته رسیدلي وو بری وموند نو ځکه د دې علم د «معلم ثاني» لقب یې خپل کړ.

د اسلام مشهور فیلسوف او طبیب ابو محمد زکریا رازي د خپلو مختلفو تصنیفاتو ترڅنګ چې د زمانې په مروجه علومو کې درلودل له شپاړسو څخه د زیاتو منطقي کتابونو او رسالو په تألیف یې لاس پورې کړ، هغه منطق له اساسي علومو څخه ګڼه او د دې علم د اهمیت په اړه لیکي: «څوک چې پر طبیعي، فلسفي چارو او منطقي قوانینو همت مقرر نه کړي او د علم ادعا وکړي نو هغه باید پر علم متهم وګڼل شي».

ابو علی سینا بلخي د خپلې زمانې د مروجه علومو هر یو د زده کړې لپاره د منطق د علم یادول او زده کول اساسي شرط ګڼلی دی او په دې فن کې یې له دولسو څخه

زياتې رسالې په فارسي اوعربي ژبو ليکلي دي. او د خپل زلميتوب په کلونو کې يې د خپل مشهور کتاب «شفاء» په تأليف شروع وکړه او هغه يې په اتلسو فنونو کې تصنيف کړ، کله چې د خپل کتاب په ابتداء کې د منطق د صنعت له بيان فارغ شو د منطق په اهميت يې د طبيعي علم په شروع کې دا رنګه تصريح وکړه او ويې ليکل: «څرنګه چې د منطق د صنعت له زده کولو څخه د خدای په مرسته د دې کتاب په مقدمه کې مې خلاصی و موند نو اوس سمه او لازمه ده چې «د طبيعي علم په زده کړه شروع وکړم » او همدارنګه د اسلام ټولو حکماوو او علماوو ډېر کتابونه او رسالې په دې مهم فن او د افکارو د سنجش په ښې تلې کې تأليف او تصنيف کړي دي.

د اکثرو اسلامي هيوادونو د ديني علومو په مدرسو کې، له هغې جملې څخه زمونږ د ګران هيواد افغانستان طالب علمان د تفسير، حديث او فقه د کتابونو له زده کړې څخه مخکې د نورو فنونو په ډله کې لومړی منطق زده کوي او وروسته اسلامي تخصصي علومو ته لاره مومي او د کائناتو سردار حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د مبارکو احاديثو لويه دوره سرته رسوي. د منطق تدريس زمونږ په هيواد کې هم د ديني علومو په مدرسو او عمومي مکتبونو کې د درسي برنامو يوه برخه شمېرل کيږي، سربيره پر دې د منطق د علم تدريس د هيواد د مختلفو پوهنتونونو دشرعياتو په پوهنځيو کې د تحصيلي نصاب جزء دی او مستقله کرسۍ (چوکۍ) لري، د دې لامل چې ولې د منطق علم د هيواد د ديني علومو د خصوصي او رسمي مدرسو، د عمومي مکتبونو او شرعياتو د پوهنځيو د درسي برنامو جزء دی ټولو ته څرګنده ده: ټول درسي کتابونه او رسالې چې د پخوا زمانې راهيسې د اسلامي علومو په برخه کې په پورته ذکر شوو ځايونو کې تدريس کيږي د صوري منطق د قوانينو په طريقه او روش تأليف او ليکل شوي دي. که د منطق له علم او فن سره طالب العلم، متعلم او يا محصل آشنايي و نه لري په يقين سره ويلی شو چې د اسلامي علومو په زده کړه کې به له هغو لرغونو متونو څخه برداشت ونه شي، کړای. ځکه دا لرغوني

متون ټول په الفاظو پورې له مربوطو بحثونو څخه ډک دي. همیشه له عام او خاص، مطلق او مقید، حقیقت او مجاز، صریح او کنایې، مفرد او مرکب، کلي او جز ئي او داسې نورو څخه خبرې منځ ته راوړي او د الفاظو د دلالت له څرنګوالي څخه په معناګانو باندې بحث کوي، د سلګونو مربوطه موضوع ګانو لپاره چې په دې کتابونو کې کوم تعریفونه سرته رسیږي ټول په ټوله د منطقي قوانینو په اساس پر حد تام او حد ناقص، رسم تام او رسم ناقص باندې بنا شوي، همیشه د تعریفاتو له جامعیت او مانعیت څخه بحث کوي، د هر تعریف جنس او فصلونه تر پلټنې لاندې نیسي، د کلیات په نسبتونو کې د تساوی او تباین، عموم او خصوص مطلق، او عموم او خصوص من وجه څخه خبرې کړي، ثابت او پرځای قوانین «د جمع ضدین استحاله» او «نقیضینو د جمع او رفعې استحاله » د هغې د متونو د سلګونو محتویاتو په اړه تطبیق کیږي، له دې پرته په دې متونو کې د منطقي حملیه او شرطیه قضیو د قوانینو په اساس چې د اقتراني یا استثنائي قیاس مقدمات تشکیلوي استدلال کیږي.

لنډه دا چې د منطق علم ته د ټولو علومو ضرورت دی او هر عالم او پوه باید د هغه په قوانینو پوه شي تر څو د ذهني معلومه چارو په ترتیب کې د اشتباه مرتکب نه شي او باید پوه شي چې یوه منطقي قضیه څرنګه جوړیږي او د قضیو له ترتیب څخه څرنګه کولای شو یو منطقي استدلال او قیاس جوړ کړو او مطلوبه نتیجه لاسته راوړو، هغه باید متوجه اوسي چې د هغه  د منطقي قیاسونو مبادي د څه نوعه یقیني یا ظني معلوماتو په اساس بناء شوې دي؟ او څرنګه کولای شي د لومړنیو مبادیو، د قیاس پربنا، د جدل، مغالطې او نورو څرنګوالی له یو بل څخه تفکیک (جدا)کړي.

په اوسني زمانه کې د منطق علم تر ارسطویي قوانینو پورې ځان ته محصور نه دی بلکې د هغه ساحه ډېره پراخه شوې او په هغه کې د تحقیق له مختلفو روشونو څخه په ریاضي علومو، طبیعي علومو او انساني علومو کې بحث کیږي او د تطبیقي منطق او یا میتودولوژي په نامه سره یادیږي.

## پوښتنې

1. په قرانکريم کې شا او خوا ۱۷۰ موارد موجود دي چې په هغو کې له سالم تفکر او سوچ څخه خبرې منځ ته راغې. له معجم مفهرس نه په استفادې سره د ځينې موارد و پلټئ.
2. د اسلامي علماوو او فلاسفه‌وو نظريات د منطق د علم د اهميت په اړه توضيح او بيان کړئ.
3. د منطق د علم تدريس ولې د هيواد د ديني مدرسو، عمومي ښوونځيو او عالی تحصيلاتو د درسي برنامو جزء دی؟
4. څرنګه ثابتولی شئ چې د منطق د علم حاصلول د هر عالم او پوه سړي ضرورت او اړتيا ده؟
5. د صوري منطق قوانينو او روشونو څرنګه د اسلامي علومو په لرغونو متونو کې انعکاس موندلای دی؟ د ډيرو مثالونو په وړاندې کولو سره يې بيان کړئ.
6. محصلين دې نوی مثالونه د منطق د علم د اهميت په باب وښايي او د ټولګي د تختې پرمخ دې وليکي.
7. د درس د ښه انکشاف لپاره دې له لازمو درسي منابعو او موادو څخه استفاده وشي.

# دریيم لوست

## د منطق د علم تاریخچه

### موخې:

1. محصلین هغه منطقي موضوعات چې له ارسطو څخه مخکې د یونان د فلاسفوو ترمنځ پکې جروبحث کیده بیان کړی شي.
2. د ارسطو د منطقي کتابونو په اړه معلومات وړاندې کړی شي او په وروستنی پیړی کې یې ترجمانان او شرح کوونکي وپیژني.
3. د ارسطو د منطق په اړه د اروپایي دوو نوو فیلسوفانو (بیکن او دیکارت) د نظریاتو تحلیل وکړای شي.
4. محصلین د تمرین له اجراءکولو څخه وروسته، د توضیح او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

د ارسطو د تعریف مطابق انسان «ناطق او فکر کوونکی حیوان دی» نو د منطق او د صرف تفکر قوت، ادراک او تعقل پیدایښت، د انسان له پیدایښت سره همزمان دی. خو د منطق پیدایښت د یو مدون علم او فن په عنوان له میلاد څخه څلور پیړی مخکې په مشهور فیلسوف ارسطو پورې مربوط دی چې په یونان کې اوسیدلی، له ارسطو نه مخکې هم منطقي قواعد په خوره وره توګه د ایلیائي فلاسفه وو، سوفسطائیانو، سقراط او نورو په مباحثو کې لیدل کیږي، سقراط په «تصوراتو» کې، افلاطون په «تصدیقاتو» کې او سوفسطائیانو په جدل، مغالطه او خطابه کې تسلط درلود. ارسطو هغه کس دی چې د اندکو منطقي نظریاتو پر بنیاد یې د دې علم د تیر شویو فلاسفه وو اصول او قواعد راغونډ او تدوین کړل او د دې علم د لومړی معلم لقب یې خپل ځان ته غوره کړ، په دې برخه کې هغه د خپل کار په اړه وایي: «ما هم د تیرشویو علماوو له افکارو او زحمتونو څخه په ډېرو فنونو کې استفاده کړې خو

باید ووایم مخکې له ما څخه په قیاس، برهان، جدل او سفسطه کې هیڅا کوم بحث نه درلود او پخپله زه یې واضع یم ». او ابوعلي سینا بلخي د شفاء په منطق کې له ارسطو څخه نقل کوي: «مونږ له خپلو پخوانیو څخه میراث نه دی وړی بې له غیرمنظمو قواعدو خو د هغو نظم یو کار وو چې په سرته رسولو کې یې ما ډېر زحمتونه او بې خوبیګانې ویستلې دي» (۳۲: ٦ - ۷).

ایلیائي حکما (ګزنفانس، پارمنیدس او زنون) د یونان د طبیعي علماوو د تفکر د طرز په مقابل کې چې مشاهده ی، حس او تجربې ته یې ډېر اهمت ورکوه په عقلي او نظري استدلال سره وسیله نیوونکی شول. لومړنی یوناني حکیم پارمنیدس دی چې د حقیقت د کشف لپاره یې حسي او ظاهري ادراکات بې ارزښته بللي مجرد تفکر او تعقل یې کافي ګڼلی دی. ایلیائیان او په خاصه توګه د زنون مدرسې زده کوونکي منطق د ترقي یوازینۍ وسیله ګڼي او د تجربې روش له نقش او رول څخه یې د قضیو او مسایلو په حل کې انکار کړی دی.

## سوفسطائیان:

د سوفسطائیانو ښوونځی د لرغوني یونان له مهمو ښوونځیو څخه یو ښوونځی شمېرل شوی چې د خطابې په کار کې یې برلاسی درلود. د غاصبو او ظالمو حکومتونو د له منځه تللو څخه وروسته د سیسیل په جزیره کې قضایي محکمې د ډېرو عریضو او دعواګانو شاهدې وې او هر چا به د خپل غصب شوي مال او ملکیت د لاسته راوړلو لپاره محاکمو ته مراجعه کوله. د حقوقو د مدعیانو شمېر چې زیات شوی وو په پخپله یې نه شوی کولای چې خپلې دعواګانې مخ ته بوځي نو په دې بنا مدافع وکیلانو ته اړ شول وکیلان دی ته اړشول چې د پوهې ترڅنګ، حقوقي مهارتونه او په خاصه توګه د خطابې فن او د دعواګانو د إقامې څرنګوالی هم زده کړي. ځینو خلکو په دې فن کې ښه مهارتونه کسب کړل چې د هغې ډلې نه کولای شو د «کوراکس» او «تیسیاس» نوم واخلو، دې دواړو به د دعواګانو صورتونه په لیکلي

توګه محاکمو ته وړاندې کول، پروتاګوراس او ګورګیاس د موکلینو له حقوقو څخه دفاع او د خطابې په فن کې ډېر شهرت پیداکړ او د خطابې د فن او د وکالت دفاع د فن د ښوونکو په حیث به یې وظیفه اجراء کوله، د هغوی دغه ډېر مهارت د دې باعث شو چې خلکو هغوی ته د «سوفیست» یعنې د ماهر او حکیم لقب ورکړي. په کراره کراره د وکالت دفاع فن ځینو وکلاوو له اصلي مسیر څخه ویستلو او هر وکیل خپل ځان ته حق ورکاوه چې د خپل مؤکل له دعوی څخه په حقه وي او که په ناحقه دفاع وکړي، او د خطابی په فن او د خپل استدلال په قوت کله کله باطل حق ښکاره کړي، هغوی په دې کار کې داسې مهارت پیداکړ چې یوه دعوی او قضیه د یو شمیر دلایلو په وسیله اثبات او د نورو دلایلو په وسیله رد کړي، نتیجه دا شوه چې د موجوده حقایقو معیار د هغوی په نزد شخصي شي، او د اشیاوو د حقایقو په عدم ثبوت حکم وکړي، او د سوفیست کلمې خپل اهمیت او مفهوم په تدریج سره له لاسه ورکړ او د مغالطې په معنی د استفادې وړ وګرځېده. وروسته له دې یې د سوفیسطائیانو عمل او د استدلال طرز «سفسطه» و نوماوه او خپل لومړنی مفهوم یې کاملاً له لاسه ورکړ.

سوفیسطائیان به د خطابې او استدلال په اقامه کې خپل روزګار سرته رساوه او هېچا له هغوی سره استدلال نشوای کولای تر څو چې د هغې زمانې درې لوی فیلسوفان او منطقیان منځ ته راغلل او د سوفیسطائیانو د سفسطې او مغالطې په مقابل کې یې د صحیح استدلال او مدون منطق له روش څخه کار واخیست او هغوی یې د استدلال، منطق او محاجاة له صحنې څخه بهر کړل.

سقراط لومړنی کس دی چې د سوفیسطائیانو پر ضد یې مبارزه پیل کړه او د ادراکاتو او تصوراتو په څرنګوالي کې بحث د هغه له ابتکاراتو څخه دی، د هغه دا کار لومړنی مفید ګام وو خو د سوفیسطائیانو مغلوبیت ته منتج نشو، په سقراط پسې د هغه شاګرد افلاطون د خپل استاد موقف د هغوی په مقابل کې ډېر کلک او مضبوط کړ او د

تصديقاتو په تحليل يې شروع وکړه او د هغوی نظريات يې رد کړل خو د دې فيلسوف کار هم د هغوی په مقابل کې کفايت ونکړ او د هغوی په مغلوبيت تمام نشو تر دې چې د افلاطون شاګرد يعنی ارسطاطاليس (ارسطو) منځ ته راغی، هغه وکولای شول چې د خپلو منطقي قوانينو په تدوين د هغې زمانې خلک خبر او آګاه کړي او د سفسطي قياسونو د بطلان دلايل هغوی ته ور زده کړي او په نتيجه کې سوفسطائيان د هغه د مدون منطق په مقابل کې په ګونډو او مغلوب شي.

## ارسطو او د هغه منطق:

ارسطو له ميلاد نه ۳۸۴ کاله مخکې په آتن کې وزېږېد او د ۱۸ کالو په عمر د افلاطون په اکاډمی کې شامل شو او توقع يې درلودله چې د افلاطون له مرګ څخه وروسته د اکاډمی رئيس شي خو دا کار ونشو او افلاطون اسپوسيب د دې منصب لپاره غوره کړ په دې توګه هغه ناهيلی شو او کال ۳۴۳ ق.م کې کوچنۍ آسيا ته ولاړ په هغه ځای کې د مقدونيې پادشاه د خپل زوی سکندر (وروسته د مقدونيې لوی سکندر) ښوونه او روزنه د هغه په عهده کېښودله، څرنګه چې د سکندر ښوونه او روزنه په سمه توګه سر ته ورسېدله يو ځل بيا آتن ته راوګرځېد او د اکاډمۍ په مقابل کې يې خپله فلسفي مدرسه تأسيس کړه، دا چې د هغه مدرسې د «اپولوليسين» د معبد څنګ ته موقعيت درلود هغه يې د «لېسه» په نوم ياده کړه، دې مدرسې د خپلې زمانې يو مجهز پوهنتون ته په چټکتيا ارتقاء وکړه او د افلاطون په اکاډمۍ يې غلبه حاصله کړه، په دې پوهنتون کې د علمونو څانګې د لومړي ځل لپاره وټاکل شوې او تصنيف يې وشو. د دې پوهنتون د کار په نتيجه کې په منطق، عقلي او طبيعي علومو کې مختلف کتابونه تأليف او تدوين شول، د دې ځای فارغانو خپلې علمي زدکړې په منطق او نورو علومو کې خپلو هيوادونو ته يوړې او په خپراوي يې لګيا شول.
وروسته په مسيحی قلمرو کې د ديني چارو د تبليغ په منظور او د اثبات لپاره د ارسطو د منطق تدريس ته ضرورت پيدا شو او د مسيحي تعليمي ځايونو د درسي

نصاب جزء وګرځید او په یونان، روم، فرانسې، مصر، سکندریې او نورو ځایونو کې یې تدریس پیل شو. د ارسطو منطق اته برخې یا اته کتابونه دي چې له هغه نه وروسته «فرفوریوس» د هغه په منطق یوه سریزه ولیکله او د «ایساغوجي»(۲ : ۷) یعنی مدخل او یا «پنځه ګوني کلیات» په نامه یې مسمی کړه د ارسطو د منطق اته کتابونه د فرفوریوس له سریزې سره په لاندې ډول دي:

1. ایساغوجی: چې له پنځو کلیاتو څخه بحث کوي.
2. قاطیفوریاس: چې له مقولات عشر څخه عبارت دی.
3. باریرمیناس یا کتاب العبارة: چې په هغې کې د الفاظو د مفرداتو او د هغې له ترکیب څخه بحث کېږي.
4. لومړی انالوطیقا: په دې کتاب کې د قیاس له مقدماتو، اجزاوو او د هغې د اقسامو اوهم د هغې له عکس نه بحث کېږي.
5. دویمه انالوطیقا: چې په هغې کې له برهان څخه بحث کیږي.
6. طوبیقا: چې په هغې کې د جدل یا دیالیک تیک، استدلال او محاورې څخه بحث کېږي.
7. سوفسطیا: چې په هغې کې له مغالطې د استدلال د غلطوالی له علتونو او اسبابو څخه بحث کېږي.
8. ریطوریقا: چې د خطابې په اړه دی.
9. بوطیقا: هغه کتاب چې د شعر په اړه بحث لري (۲۴ : ۱۶).

## ترجمانان او شارحان:

د ارسطو کتابونه چې په رومي لیکل شوي وو د ترجمانانو په واسطه سریاني او بیا وروسته عربي ته ترجمه شول او نظر په هغه اهمیت چې یې پیدا کړی وو د ډیرو شارحانو په واسطه شرحه او خواره شول او هم د ارسطو ځینې کتابونه په مستقیمه توګه له یوناني نه عربی ته ترجمه شوي دي.

مشهور ترجمه کوونکي چې د ارسطو منطق یې له رومی نه سریانی ته ترجمه کړی حنین بن اسحاق، ابن ناعمه، بشرمتی او اسحق نومیږي.

هغه پوهان چې د ارسطو منطق یې له سریاني یا یوناني ژبو څخه عربي ته ترجمه کړی اسحق، ثیادورس، بشرمتی، یحی بن عدی، د مشقي او ابراهیم بن عبدالله نومیږي.

د ارسطو د منطق مشهور شارحان دادي: فرفوریوس، اصطفن اسکندرانی، یحی نحوي، امونیوس، ثامسطیوس، ابونصر فارابی، قویری، ابوبشرمتی، کندی، سکندر افرودیسی، ابن سینا، ابن رشد او ابن العربي.

مخکې یاد شوي کسان هغه ترجمانان او شارحان دي چې هر یو د ارسطو د منطق یو یا څو کتابونه ترجمه او یا شرحه کړي دي خو د هغوی په ډله کې زمونږ د ګران هیواد افغانستان ابونصر فارابی او ابو علی سینای بلخی هغه دوه پوهان او فیلسوفان دي چې د ارسطو د منطق ټول کتابونه یې ترجمه او شرحه کړي دي چې یوه بنه بیلګه یې«شفا» منطق دی.

د ارسطو د منطق کتابونه له عربي څخه لاتین او اروپایي نورو ژبو ته هم ترجمه شوي او د اروپا د تحصیلی ځایونو د درسي پروګرامونو جزء ګرځیدلي دي تردې چې د فرانسس بیکن انګلیسی او رنه دیکارت فرانسوی زمانه رارسیږي او په هغو کې ځیني بدلونونه واردوي. دې دوو فیلسوفانو کوم خاص کتاب په دې علم کې نه دی لیکلی خو د دې زمینه یې مساعده کړې تر څو دوه نور کسان د آرنوله او نیکول په نومونو په ۱۶۶۷ کال کې یو کتاب په منطق کې تألیف کړي، دې کتاب د نوي منطق بنسټ (مبنا) ایښی او (۴) برخې لري، درې برخې یې دا دي: تصورات، تصدیقات او برهان چې د ارسطو منطقي مبادي بیانوي او څلورمه برخه یې د علومو په روش او میتود کې ده چې د بیکن او دیکارت منطقي مبادي شرحه کوي.

د بیکن او دیکارت د عقیدې اساس په منطق کې دا وو چې د ارسطو منطق د فکر له صورت او ادراک څخه بحث کوي او دا روش د اشیاوو، حقایقو او نتیجو ته د

رسېدلو او تحقیق لپاره کفایت نه کوي او د اشیاوو حقیقت ته د رسیدلو یوازینۍ مطمئنه لاره مشاهده، تجزیه او تجربه ده (۳۲: ۵ – ۲۳).

## پوښتنې

1. له ارسطو نه مخکې د فلاسفه وو نظريات د منطقي موضوعاتو په اړه څه وو؟ په اختصار يې بيان کړئ؟
2. د ارسطو خبرى د منطق د مباحثو د تدوين په اړه شرحه کړئ؟
3. سوفسطائيانو ولې د خطابې او استدلال د اقامي فن ته مخ را اړولی و؟ او د هغوى د کار نتيجه کوم ځاى ته ورسيده.
4. د سقراط، افلاطون او ارسطو د قيام څرنګوالی د سوفسطائي استدلال د طريقو په مقابل کې په لنډ ډول وړاندې کړى.
5. د ارسطو منطق اته برخې او کتابونه لري. د دغو کتابونو صرف نومونه واخلئ.
6. ايسا غوجي زمونږ د هيواد د ديني مدارسو له درسي کتابونو څخه دى، دغه کتاب معرفي کړئ.
7. د ارسطو منطق د کتابونو د سرياني او عربي ترجمانانو او د مشهورو شارحانو صرف نومونه واخلئ.
8. د بيکن او ديکارت نظريات د منطق په اړه د کومو اشخاصو د کتاب په واسطه منعکس شول؟ واضح يې کړئ؟
9. د بيکن او ديکارت د عقيدې اساس په منطق کې څه و؟ په لنډيز سره يې توضيح کړئ.
10. د مفاهيمو، قضاياوو او منطقي قياس کارول دې د محصلينو په واسطه عملاً تمثيل شي .

# څلورم لوست

## د منطق د علم اقسام

### موخې:

1. د دې مطلب تحلیل چې ولې منطقي نظریات د زمانې په اوږدو کې متحول وي؟
2. محصلان د معلوماتو تحلیل د صوري منطق د انکشاف په اړه، په شکلي او مادي ابعادو کې وکړای شي.
3. محصلان د طبیعي منطق، صوري منطق، تطبیقي منطق، اتمی منطق، پراګماتیزم منطق او ریاضي منطق د تفکر طرز بیان کړی شي.
4. محصلان د تمرین له اجراء نه وروسته، د توضیح او د دې درس د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

د انسان د پیدایښت له ابتداء نه د هغه له ذاتیاتو څخه یو تفکر او برداشت تشخیص شوی او هیڅ وخت هیڅ انسان له دې ذاتي خصوصیت څخه پرته وجود نه دی لرلی خو انسانانو د زمانې په اوږدو کې ټولو یو شان او په یوه طریقه سوچ نه دی کړی بلکې هر چا او هر ملت په هر ځای او هره زمانه کې د تفکر مختلفې طریقې او روشونه په کار اچولي دي، د دې لپاره چې انسانان د فکر او د معلومه چارو د ترتیب په اړه نسبتاً یو روش غوره کړي او تر مقدور حده د ذهن له خطاوو څخه پکې مصئون پاتې شي نو خاص قواعد او اصول د دې هدف لپاره وضع شول او له همدې کبله یې وروسته د منطق د علم یا فن عنوان خپل ځان ته غوره کړ. د منطق علم هم د نورو علومو په شان د اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او علمي تحولاتو او بدلونونو تر تأثیر لاندې قرار لري او د زمانې له حالاتو او مقتضیاتو سره سم یې حرکت کړی او انکشاف یې موندلی دی.

د دې انکشاف په نتيجه کې د منطق د علم مختلف اقسام منځ ته راغلل چې د زماني له محيطي شرائطو څخه پيدا شوي وو. د دې علم ځينې اقسام په لاندې ډول په لنډيز سره وړاندې کوو:

## ١. طبيعي منطق:

که تاريخ ته مراجعه وشي په منطقي طريقه تفکر د انسان د ژوند له قديمي دورو څخه وجود درلود انسان ذاتاً او فطرتاً يو منطقي او مدني بالطبع موجود دی او د حواسو او عقل په مرسته کولای شي له محسوس او د بديهي امورو څخه معنوي او نظري چارو ته لاره ومومي. د فرانسې پوکلن مولي ير يو عالم او مشهور ډرامه ليکونکی په خپلو تعليمي او تربيتي افسانو (قصو) کې ليکي «يو مالدار سوداګر د تحصيل په فکر شو تر څو د ناپوهۍ له قيده خلاص شي. کله چې د ادبيات استاد هغه ته دا تعليم ورکړ چې خبرې په دوه ډوله دي (نظم او نثر) او هر هغه وينا چې نظم نه وي نثر ده، هغه په پوره تعجب سره وويل: ای تعجب چې ما تر اوسه په نثر خبرې کولې او نه پوهيدلم نو په همهغه وخت کې په منډه منډه کور ته لاړ ترڅو خپل اقارب له خپل نوي اکتشاف څخه خبر کړي» (٣١ : ٢).

دا قصه ډېر شباهت لري د هغه خلکو له وضعې سره چې د منطق د نوم له اوريدلو او يا ويلو څخه په وېره کې پريوتل خو که په يوه زمانه کې په دې نکته پوه شي چې دهغوی ټولې سياسي، مذهبي، او د هرې ورځې مناقشې او خبرې اترې د منطقي اصولو او قواعدو پر بنا ترسره کيږي نو په يقين سره به د هغه سوداګر په شان په تعجب کې واقع شي.

که مونږ په خپل عادي ژوند کې د يو شخص نظريه سره له د ليله اورو او دا نظريه او دلائل په دقت سره تحليل او تجزيه کړو او په صحت يا عدم صحت يې حکم کوو، کله چې د مختلفو نظرياتو په منلو او رد کې د تحليل روش او د هغوی د مطابقت

څرنګوالی له واقع او نفس الامر سره په نظر کې ونیسو زمونږ دې تفکر ته کاملاً صحیح او منطقي تفکر ویل کیږي. خلاصه دا چې منطق د هر انسان طبیعي غریزه ده خو د لرغوني یونان د ټولنې اقتصادي، سیاسي، اجتماعي او فرهنګي تحولات په هغه اندازه دي چې طبیعي منطق د طرحه شوو قضایاوو په حل او د حق او باطل د تمیز لپاره کفایت نه کوي او ضرورت احساسیږي چې ځینې قوانین او قواعد د سالم تفکر او سوچ په رابطه وضع او تأسیس شي.

## ۲. صوري منطق:

طبیعي منطق چې د هر انسان خاصه ده تر یوه حده د بدیهي او معلومو چارو په ترتیب کې مجهول امر ته په رسیدلو کې مرسته کوي خو باید ډیره توقع ترې ونه لرو.

که د دوو متناقضو امرونو د تحلیل په وخت کې، انساني فطرت او طبیعي منطق کفایت نه کوي د ضرورت د رفع لپاره د طبیعي منطق د عدم قدرتمندی له کبله د صناعی منطق په تأسیس اقدام وشو او یوه سلسله خاص قوانین او اصول له خطاء نه د ذهن د ساتلو لپاره په تفکر او سوچ کې وضع شول، دغو قوانینو چې په ګډه وړ شکل د قدیم یونان د فلاسفه وو په نظریاتو کې وجود درلود د ارسطو په واسطه په منظم ډول تدوین شول، نوي اصول او قواعد د هغه له خوا پرې علاوه شول. دغه قواعد چې د وخت د یوناني پوهې له توصیفي او کیفي خصوصیت سره یې مطابقت درلود په صوري منطق سره مسمی شول. صوري منطق سره له دې چې د افکارو ترتیب، صورت، شکل او معلومو چارو ته یې ډېر تمایل درلود خو د قضیو او مسایلو مادي او تطبیقي جنبه یې هم ښکته نه ده وړې لکه څرنګه چې «د اولیه مبادیو پرمخ بحث او څلورګوني علل: مادي، فاعلي، صوري او غایي چې په صوري منطق کې تحلیل کیږي د اخیرالذکر اړخ وجود ثابتوي» (۲۳: ۳۶ - ۳۷).

## ۳. تطبيقي منطق:

شاوخوا دوه زره کاله د ارسطو صوري منطق په انساني افکارو حکومت وکړ او د فکرونو د سنجش يوازينی ښه وسيله او د افکارو د تربيت د صحت معيار د هرچا په آند وو، د قسطنطنيې ښار چې د ختيځ روم زړه امپراطوري د هغې له لارې اداره کېده د پنځلسمې ميلادي پيړۍ په اواسطو کې د سلطان محمد فاتح په واسطه فتح او د عثماني ترکانو په لاس ولويد، دا تحول له علمي، اقتصادي، فرهنګي او نورو تحولاتو سره يوځای سبب شو چې د منځنيو پيړيو دورې خپل ځای نويو پيړيو ته پريږدی او زمينه د رنسانس او علومو تجديد، فنونو او ادبياتو ته مساعده کړي، د دې تحول نماينده ګانو د فرانسس بيکن او رنه ديکارت په شان په صراحت سره اعلان وکړ چې د ارسطو منطق کومه نوی نتيجه لاسته نه ده راوړې او د استدلال يوه شنډه وسيله ده. هغوی و ويل: د هغه قياس په استدلال کې چې د احکامو سير له کلي نه جزئي لوري ته صورت نيسي خپله جزئي له مخکې نه د کلي په ترځ کې په مسلمه توګه فرض شوی دی او د قياس دا حالت د دور او مصادره علی المطلوب بيانوونکی دی، که څه هم جزئي په عين حال کې د دعوی ثابتوونکی دليل دی خپله د دعوې جزء هم دی، اوس د هغهٔ وخت رارسيدلی چې يو منطق ايجاد او تأسيس شي چې د طبيعت د موجوداتو او اشياوو د خواصو او مقتضياتو د تحقيق په حوادثو کې دقت وکړي او په حقايقو يې پوه شي، د هر علم په قضيو کې د تحقيق روش او مختلف حوادث فرق کوي، په رياضياتو کې افکار له يو بل سره مرتبط وي، خو په طبيعي علومو کې متفاوت آزمايښتونه سرته رسيږي نو د علومو د هر يو روش او ميتود د مسايلو د تحقيق لپاره له يو بل سره متفاوت وي. د علومو د تحقيق د روشونو مجموعه پخپله مستقل علم را منځ ته کوي چې د تطبيقي منطق يا ميتودولوژي په نامه ياديږي. څرنګه چې په دې علم کې فکر د علومو له مختلفو موضوعاتو سره تطبيق کيږي نو د تطبيقي منطق په نامه ياديږي لکه څرنګه چې دا علم د مختلفو علومو د تحقيق روش او ميتود را منځ ته کوي نو د ميتودولوژي منطق په نامه هم ياديږي.

## ۴. اتومي یا تحلیلي منطق:

طبیعي علوم د اجسامو د تجزیې په اړه هغه ځای ته ورسیدل چې د هغوی ماهرانو حکم وکړ: نړۍ له ذراتو یا اتمونو څخه مرکبه ده چې هر اتوم خپله هسته او الیکتروني مدارونه لري، د منطق علماوو هم د مادي نړۍ د اساسي ذراتو له کشف څخه د فکر او سوچ په ذروي والی باندې حکم وکړ، سره له دې چې ارسطو هم د تفکر لومړني واحدونه چې له منطقي قضیو څخه عبارت دي تشخیص کړي وو خو د نوي منطق علماء د قضیو پر ځای د تصوراتو په تحلیل لګیا شول او د قضیې موضوع او محمول یې د خپل تحلیل موارد وګرځاول. انګلیسي برتراند راسل د اتومي او تحلیلي منطق له مؤسسانو څخه شمېرل کېږي هغه ادا تأکید کوي ترڅو د کلام لپاره مناسب اولیه عناصر او اتومونه او له بهرنیو او عیني حقایقو له تعبیر څخه انتخاب شي او واقعیت لکه څرنګه چې دی منعکس کړل شي. کله چې مونږ داقضیه «فلانی وږی دی» استعمالوو باید د دې قضیې بیروني حقیقت او واقعیت ته هم ځیر شو چې آیا مونږ حقیقتاً د دې قضیې په بنودلو یو واقعیت ته انعکاس ورکړی او یا دا چې نوموړی شخص چې وږی نه دی مونږ هغه وږی ښودلی دی، د اتومي منطق د انکشاف په تکوین کې لودویک ویتګنشتاین د راسل شاګرد هم بی تأثیره نه و (۵: ۴۵۴ ـــ ۴۵۵).

## ۵. ریاضي منطق:

د ارسطو صوري منطق په خپل مادي او معنوي دواړو اړخونو کې ډېر پرمخ لاړ، د مادي اړخ د انکشاف په نتیجه کې اتومي منطق یا تحلیلي منطق چې مخکې په مختصره توګه توضیح شو منځ ته راغی، خو د صوري منطق انکشاف په صوري جنبه کې د ریاضی منطق د منځ ته راتلو لامل شو چې تر ټولو ځوان منطق دی، دې منطق ته یې ځکه ریاضی منطق ویلی دی چې په کې د منطقي مخصوصو

جملو او اصطلاحاتو پر ځای د رياضي سمبولونه، علايم او رموز په کار وړل شوي دي.

## ۶. د پراگماتیزم منطق:

مخکې و ويل شول چې د صوري منطق د مادي اړخ له انکشاف څخه اتومي منطق او د هغه د صوري انکشاف له اړخه د رياضي منطق منځ ته راغی، دا نظر د پراګماتيزم د ښوونځي له نظره سم نه دی، د دې ښوونځي پلويان وايي: د اشياوو حقايقو ته د رسيدلو او دفکر مطابقت د واقع او نفس الامر لپاره، د صورت مطابقت د مضمون او مادې سره يو حتمي امر دی. پراګماتيزم د يوناني پراګما له کلمې څخه اخيستل شوی او د عمل په معنا سره دی او اوس د يوه فلسفي ښوونځي عنوان دی. په ۱۹ پيړۍ کې په امريکا کې چې د حق او باطل معيار په ټولو چارو کې ګټنې ګټورتوب او په کاريدنه وبلل شوه، هر شی چې زمونږ مشکل حل کړي او په عمل کې مفيد واقع شي هغه شی او هغه نظريه حق او واقعيت دی او برعکس يې باطل او ناسم وي.

منطق او د پراګماتيزم له نظره يوه آله ده چې فاعله قوه (انسان) او منفعله قوه (طبيعت) له يو بل سره مرتبط کوي، نو منطق يوه وسيله ده د فاعل او منفعل په منځ کې، صادق او کاذب نه لري بلکې ګټور او يا بې ګټې وي چې تر کومې اندازې کولای شي د ذهن او عين ترمنځ رابطه برقراره کړي او عين لکه څرنګه چې دی کماحقه يې منعکس کړي (۲۵: ۱۱۷).

## پوښتنې

1. ولې د منطق علم مختلف اقسام لري؟ د اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او نورو تحولاتو نقش پکې توضیح کړئ؟
2. طبیعي منطق څرنګه منطق دی؟ د مولی یر مثال په دې اړه ذکر او تطبیق کړئ؟
3. کوم ضرورتونه وو چې د هغې له مخې طبیعي منطق کفایت و نه کړ او د صوري منطق قواعد وضع شول؟ دا موضوع په مستدل ډول بیان کړئ.
4. څرنګه ثابتولی شئ چې صوري منطق سربیره پر شکل د افکارو، مضمون او مادي اړخ ته هم توجه کړئ‌ولې ده؟
5. د تطبیقي منطق محتوی بیان کړئ او د دې منطق د علماوو اعتراضونه د صوري منطق په اړه توضیح کړئ.
6. د ریاضي منطق او اتومي منطق د صوري منطق د کومو ابعادو د انکشاف په نتیجه کې منځ ته راغلل؟ شرح یې کړی.
7. د پراګماتیزم منطق د فکر د مطابقت له څرنګوالي څخه د واقع پیښو سره خبرې کوي، دا موضوع د هغه د ښوونځي د (ګټورتوب او بې ګټې او عدم مفیدیت) له تیوري سره د څو مثالونو په راوړلو بیان کړی.
8. محصلان له درسي موادو څخه په استفادی سره د ذکر شوو منطقیانو د تفکر طرز دې په مختلفو مثالونو کې مناقشه کړي.

# پنځم لوست

## منطق او انساني علوم

### موخې:

1. د دې مطلب وضاحت چې منطق ولې له انساني علومو سره رابطه لري؟
2. د معلوماتو تحليل د منطق د رابطې په اړه د روانشناسی، ژبې، ټولنپوهنې او فلسفې سره.
3. محصلين استدلال او د منطقي تفکر درې ګوني اصول توضيح کړی شي.
4. محصلين د تمرين له اجراءکولو څخه وروسته د توضيح ، او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

منطق د انسانانو له سالم تفکر او سم سوچ څخه بحث کوي، څرنګه چې تفکر د انسان له ذاتي خصائلو څخه دی نو منطق د انساني علومو له ډلې څخه حسابيږي. د منطق علم له نورو انساني علومو سره خاص روابط لري چې په لاندې ډول په لنډيز سره دا درې رابطې وړاندې کوو:

### ۱. منطق او روانشناسي:

څرنګه چې د تفکر حادثه د منطق د بحث مورد ده به همدې ډول د روانشناسی د بحث مورد هم ده، نو دا پوښتنه پيداکيږي چې دوه علمه د يوی موضوع د بحث پرمخ پر کار مصروف دی؟

نه داسې نه ده، که دواړه علمه تفکر د بحث او تحقيق مورد ګرځوي په دې معنی نه ده چې هغه دواړه له يوه حيثه د تفکر موضوع پلټي بلکې روانشناسي روحی واقعات او انساني سلوک منحيث کل د تحقيق مورد ګرځوي. څرنګه چې دا کار طبيعي او سالم روح تر پلټنې او مشاهدې لاندې مطالعه کوي په عليل او غير طبيعي روح کې

هم هغه په بحث کې نیسي. په روانشناسی کې د مختلفو انسانانو ټول روحي مظاهر په عامه توګه بدوي او مدني، سالم او لیوني، ماشوم، ځوان او بوډا مطالعه کوي او د روحي واقعاتو تأثیر د هغوی په سلوک او رفتار کې ملاحظه کیږي او په مطلوبو تغییراتو لازم اقدام کېږي په داسې حال کې چې منطق د تفکر په مسأله کې دغه شان تحقیق سرته نه رسوي چې انسان څرنګه فکر کوي؟ بلکې په دې ډول تحقیق کوي چې انسان باید څرنګه فکر وکړي؟ د هغه تفکر طرز چې منطق ورته متمایل دی د بی نقصانه او متکامل انسان تفکر دی، مثالونه او نموني هم له دې ډوله اشخاصو څخه اخلي او د انسان په ډېرو عالي او ډېرو مهذبو افکارو او تجاربو اتکاء کوي او مونږ ته پوهه راکوي چې هغوی د هستۍ د عالم د حقایقو د درک لپاره څرنګه فکر کړی؟ او په کوم نوعه استدلالونو یې تمسک کړی او په پای کې د حقایقو په پیداکولو کې د صحیح او غلط تفکیک ته رسیدلی دی؟ (۲۶ : ۷ - ۸)

## ۲. منطق او ټولنپوهنه:

ځیني علماء له هغې جملې څخه د اجتماعي ښوونځي پیروان په دې نظر دي چې انساني فکر پخپله یو اجتماعي حقیقت دی او د هغې تعبیر د الفاظو او منطقي حدونو په وسیله هم یو اجتماعي حقیقت دی. منطق د هغو فکري میتودونو پر بنیاد تشکیل شوی کوم چې بشري جوامعو د خپل تاریخي تحول په تګ کې هغه منځ ته راوړي.

او دا منطقي میتودونه د اجتماعي عقل د تحقیق نتیجه ده او د فرد سهم (برخه) په هغې کې ځانله د دې حیثه ده چې هغه د بشري جامعې یو عضو دی، د ذکر شوو علماوو د نظر په اساس منطقي قواعد د اجتماعي تحولاتو زیږنده دي د انساني فرد فطرت او طبیعت پکې دومره نقش نه لري (۱۹ : ۲۹ - ۳۰).

مسلَّمه اندازه داده چې مخکې ذکر شوی نظر له مبالغې څخه خالي نه دی او مؤثق دلیل نشته چې انسان لومړی فکر کوي او وروسته خپل سوچونه له نورو سره په منځ

کې رڼدی نو تفکر د هغې د اجتماعي پیوندونو سره د انساني فرد یو طبیعي او ذاتي امر دی ټولنپوهنه هغه حوادث تر څیړنې لاندې نیسي چې عملاً واقع شوي په داسې حال کې چې منطق هغه فن دی چې د هغه شي په اړه چې باید وي بحث متمرکز کوي.

## ۳. منطق او ژبه:

فکر او ژبه د یوې سکې د دوو مخونو په منزله دي. ژبه هغه قالب دی چې فکر پکې پر یوځي، نو د فکر چې د منطق د بحث موضوع ده او ژبې ترمنځ ژور ارتباط وجود لري، فکر په ژبه کې او ژبه په فکر کې خپل خاص تأثیر رڼدي او دا ژبه ده چې فکر یې د جزئي احساساتو څخه د تجرید ساحې ته او د مفاهیمو تعمیم ته منتقل کړې او د فکر د پخوالي او د عیني تفکر او فردی احساساتو څخه مجرد فکر ته تبدیل زمینه مونږ ته... مونږ ته آماده کوي، سوفسطائیان د خطابې لپاره په ډیر ارزش قایل وو او د خطابې د فن اصول یې چې با مفهومه محتوا او د مناسبو کلمو او ښکلو جملو انتخاب ته شامل وو د خلکو د قناعت په حصول کې یې فوق العاده مؤثر ګڼل.

منطق وروسته د هغې له ترجمې نه په عربي ژبه د شرعي او کلامي علومو سره ګډ شو او د هغې اختلاط له فقهي موضوعاتو سره تر هغه حده وو چې په څلورمه هجری پیړۍ کې ټولو فقهاوو ته دعوت ورکړ شو ترڅو د خپلې پوهې (فقه) د اعتبار د لوړولو په خاطر منطقي اصول او قواعد زده کړي، وروسته له هغې نه ټول کلامي او فقهي کتابونه د ارسطو د منطق د اصولو او موازینو په اساس تدوین او تألیف شول.

## ۴. منطق او فلسفه:

ریاضیات د منطق یوه څانګه ده، ریاضیاتو ټولې کمّي پوهې د متصوره روابطو د ښودنې په واسطه د کمیاتو په منځ کې ممکن کړې دي شاید د ریاضیاتو د حقایقو ځینې برخې د عملي تطبیقاتو له لارې کشف شوې وي مګر د ریاضي د روابطو لویه برخه چې ډیره مهمه او ګټوره ده د هغو علماوو پواسطه کشف شوې ده چې د

رياضي د مجرده صورتونو په مطالعه مصروف وو، رياضی په کومه اندازه چی د طبيعی علومو د موضوعاتو د فهم لپاره ضروری ده په همهغه اندازه منطق چی مجرد او عمومي صورت مطالعه کوي د فلسفي د غوامضو د فهم لپاره ضروري دي،
فلسفه د علم ټول موضوعات د يوه نظام او سيستم په چوکاټ کې مطالعه کوي او د اهل کيدی شی چې د منطقی قوانينو څخه استفاده وشی او منطق د فيلسوف لپاره د تلسکوب حيثيت لري لکه د استرونومي (د هيأت او کواکبو علم) د ماهر لپاره يی چې لري په دې شرط چې د تلسکوب د فني استعمال په شان د منطقي اصولو او قواعدو د کارولو څرنګوالی و پيژني او له هغو نه د تفکر او استدلال د يوې ښې وسيلې په حيث استفاده وکړی شي.

## استدلال او د تفکر اصول

استدلال هغه فعاليت دی چې په هغې کې د يو ډول خاصو معلوماتو پواسطه چې د دليل په حيث ځای ونيسي زمونږ ذهن نورو معلوماتو ته چې تر اوسه مجهول وو منتقل شي، منطق د استدلال يو درس دی او استدلال د منطقي تفکر يوه خاصه نوعه ده.
استدلال د تنفس د عمليې په شان له يوه اړخه طبيعي طريقه او هميشنی عادت دی خو له بل اړخه يو فن او مهارت دی چې په غير محدود ډول د رشد او دايمي انکشاف قابل دی، د معماری، رسامۍ او لامبودفن په شان.

څرنګه چې د منطقي تفکر مبنا استدلال دی نو منطقي تفکر په درې عمده اصلونو بناء دی: د عينيت اصل، د عدم تناقض اصل او د امتناع د مبدأ اصل. د عينيت اصل دا دی چې حکم وکړو «دا شی خپله دا شی دی» او يا دا شی که صحيح وي نو صحيح دی اوکه غلط وي نو غلط دی، مثلاً په هندسه کې لومړی د نقطې (ټکي) عينيت تثبيتوو او وروسته يې له حرکت څخه خط واضح کوو که نقطه په خپل ځان توافق و نه لري له هغې څخه خط وجود ته نه شي راتللی او همدارنګه له خط څخه سطح او له سطحې څخه حجم افاده کيدلی نه شي.



14 – 11 - 2012

د عدم تناقض اصل هغه دی چې حکم وکړو «(دی او نه دی) هستي او نیستي د یو حکم په منځ کې یو ځای د تصور قابل نه دی » او «دواړه احتمالونه نه شي کیدلای یوځای مرتفع شي » مثلاً د پنځو عدد یا فرد (تاق) دی او یا زوج (جفت) دی نه دا چې نه فرد دی او نه زوج. په تضاد کې جمع نه کیږي او رفع ممکنه ده او د امتناع د مبدأ اصل حکم کوي چې په تناقض کې یوازې دوه احتماله موجود وي او د دریيم احتمال وجود ممتنع وي لکه دا چې وویل شي: «دا شی یا موجود دی او یا معدوم » (۲۲ : ۱۳).

## پوښتنې

1. دا چې منطق له نورو انساني علومو سره رابطه لري علت يې څه دی؟ توضيح يې کړئ.
2. د منطق او روانشناسي مشترکات او تفاوتونه د مختلفو مثالونو په راوړلو سره بيان کړئ.
3. منطقي قوانين ذاتي او فطری منشأ لري يا اجتماعي؟ دا موضوع په مستدله توګه شرحه کړئ.
4. د منطق او ژبې متقابل تأثيرات تحقيق کړئ او اغيزه يې د اسلامي علومو د کتابونو په تأليف کې واضحه کړئ.
5. د منطق تشابه له تلسکوب سره څرنګه توضيح کولای شئ؟ په مختصر ډول يې مناقشه کړئ.
6. استدلال تعريف کړئ او د تفکر درې ګوني اصول په متعددو مثالونو کې شرحه کړئ.
7. له درسي موادو څخه په استفادې د منطق رابطه له انساني علومو سره د ګروپي کار په ضمن کې مختصراً جر و بحث کړئ.



14 – 11 - 2012

# دويم څپرکی

## تصورات او الفاظ

# لومړی لوست

## علم او د دلالت اقسام

**موخې:**

1. محصلین د علم د پخوانیو او نوو تعریفاتو مقائسه وکړي او بیا د علم او جهل اقسام وپیژني.
2. محصلین باطني پینځه ګوني حواس او د خبر د مطابقت له واقع سره څلورګوني حالات یو له بله تفکیک کړای شي.
3. د تعریف بیان، د دلالت لومړي او ثانوي اقسام او د هغې تطبیق په الفاظو، طبیعي او عقلاني امورو کې.
4. محصلان د تمرین له اجراءکولو څخه وروسته د توضیح او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

**علم:**

لرغونپوهانو علم په دې ډول تعریف کړی دی: «العلمُ حضور صورة الشیء عند العقل» یا «العلم حصول صورة الشیء في الذهن» خو اوس علم صرف یو بې حرکته انعکاس او غیر فعال او د واقعیت ساده منعکس کوونکی نه ګڼي بلکې هغه یو مرکب منطقي جریان په نظر کې نیسي، مخکې ذکر شوي تعریفات په اوسنۍ زمانه کې د ساده پیژندني او یا «معرفت» لپاره په کار وړل کیږي خو علماء علم په دې ډول تعریف کوي: «علم د ذهن له پر له پسې او منظمو کوښښونو څخه عبارت دی چې د طبیعت، اجتماع او تفکر، پدیدو، علتونو او قوانینو د کشف سبب شي. او له یو بل سره د دې قوانینو مربوطولو لپاره په داسې طریقه سره عمل وکړي چې یو نظام



14 – 11 - 2012

تشکیل کړي او د انساني عقل لپاره د قبول وړ و ګرځي » او یا په مختصره توګه:
«علم د طبیعت، اجتماع او تفکر په اړه د معرفتونو له نظارت څخه عبارت دی».

## علمي پېژندنه او سطحي پېژندنه:

علمي پېژندنه د پخوانیو او نوو ملتونو او قومونو د بې شمېره انسانانو د تحقیقاتو، تجاربو او زحمتونو نتیجه ده په داسې حال کې چې سطحي پېژندنه انفرادي ده او شخصي او جزئی جنبه لري. علمي روح د لاندې خصوصیاتو لرونکی ده:

1. علمي روح د حقیقت ملګرى ده او همیشه په حقیقت پېژندنې پسې وي او د غرض د شبهې څخه پرته له هغې څخه دفاع کوي.
2. د فکري تقوی لرونکی ده او هیڅ موضوع له آزاد او بې طرف تحقیق څخه پرته نه قبلوي.
3. د علمي تجربو په نتایجو باور لري (۷: ٦۴ - ٦۵، ۷۱ - ۷۲).

پخوانیو منطقیانو انسانی علوم او ادراکات په څلورو ډولو تقسیم کړي دي:

1) **حسي علم:** دا علم د پینځه ګونو ظاهري حواسو (د باصرې حس، د سامعی حس، د شامې حس، د ذایقې حس او د لامسی حس) په واسطه انسان ته تر لاسه کیږي.

2) **وهمي علم:** د غیر مادي جزئیه معناګانو درک لکه صداقت، د همنوع محبت، حسادت، کینه او داسې نور د وهمي علم په نامه یادوي.

3) **خیالي علم:** دا علم په حسي علومو کې د مخیله قوې د تصرف په نتیجه کې د انسانانو لپاره وجود ته راځي او د هغې په اثر حسي صورتونه یو له بل سره مقایسه او ترکیب کیږي او نوي صورتونه تشکیل کیږي.

**4) عقلي علم:** د عاقله قوې پواسطه له جزئياتو څخه د کلي صورتونو د انتزاع په نتيجه کې له جزئياتو څخه حاصليږي او د استدلال کول صورت نيسي.

او دا علم د انسان خصوصيت دی او د منطق علم د دې قوی په کار نظارت کوي او هغه له کاري خطاء څخه ساتي. د علومو په درې لومړنيو قسمونو کې انسان او نور حيوانات يو له بل سره شريک دي. د پخوانيو فلاسفه‌وو په نزد له پينځه ګونو ظاهري حواسو نه علاوه الله جل جلاله پنځه نورې باطني قوې هم اسنان ته ور په برخه کړې، دا پنځه قوې دا دي: مشترک حس مخيله قوه، واهمه قوه، حافظه قوه او متصرفه قوه. حس، مشترک د باطن او ظاهر په منځ کې قرار لري او محسوس صورتونو منعکس کوي مثلاً انسان له يوشخص سره مخامخ کيږي او د هغه څېره د مشترک حس پواسطه د هغه په ذهن کې انعکاس مومي، مخيله قوه دا عکس له خپل ځان سره ساتي او انسان کولای شي له کلونو تېرېدو وروسته د هغه شخص څېره يې له دې نه چې د هغه د سترګو په وړاندې حضور ولري په ښکاره توګه په خپل ذهن کې حاضره کړي. واهمه قوه لکه څرنګه چې مخکې ذکر شوه جزئيه معناګانې د شجاعت، جبن او نورو له جملې څخه پيداکوي.

حافظه قوه دغه جزئيه معناګانی د ځان سره ساتي او په حقيقت کې د واهمې قوې ذخيره ده، څرنګه چې مخيله قوه د مشترک حس لپاره ذخيره ګڼل کيږي.
متصرفه قوه د تصاويرو، اشکالو او مفاهيمو ترمنځ، ترکيب، تأليف، فصل او جدايي سرته رسوي. دا باطني پينځه ګوني حواس د دماغ په درې ګونو اجوافو کې متمرکز دي، د دماغ مقدم جوف تر ټولو لوی او وسطي جوف تر ټولو کوچنی او عقبي جوف د لوی والي او کوچني والي په لحاظ متوسط دی. زمونږ مشايخو د باطني پينځه ګونو حواسو په وجود حکم د اسلامي اصولو مطابق نه دی ګڼلی په داسې حال کې چې بيا د هغوی اکثريت دا حواس په ډېرو مواردو کې

کارولي دي (۸: ۱۱) علم د پخواني تعریف په بنا «په ذهن کې د شي د صورت حصول دی» د انساني ادراکاتو څلور واړو قسمونو ته شامل دي.

## د علم اقسام:

د منطق پخوانیو علماوو علم په دوه ډوله (حضوري او حصولي) تقسیم کړی دی. حضوري علم هغه علم دی چې له خارج څخه نه کسب کیږي بلکې انسان وجداناً او حضوراً پرې آګاه وي مثلاً د شخص علم پر هغه څه باندې چې د هغه په دننه کې تیریږي خو حصولي علم هغه دی چې له خارج څخه کسب شوی وي او په تصور او تصدیق دوه نوعو تقسیمیږي. تصور د شي، د صورت له ادراک څخه په ذهن کې عبارت دی بې له دې چې پرې کوم حکم شوی وي لکه تصور د انسان، حیوان، اسلامي افغانستان، د کابل نه تر وردګو، اوه سوه شپږاتیا او داسې نور تصدیق له هغه فعالیت څخه عبارت دی چې عقل یې د خپل ځان سره د معقوله صورتونو په نسبت سر ته رسوي او د حکم په صدور سره د دوه شیانو ترمنځ رابطه پیداکوي.

## د تصدیق اقسام:

د یو خبر د اوریدلو په وخت کې ممکنه ده چې انسان له لاندې څلورګونو حالاتو څخه یو خپل ځانته غوره کړي:

1) **یقین:** څرنګه چې هر خبر د صدق او کذب احتمال لري نو که انسان د خبر مضمون تصدیق کړ او تکذیب یې نفی کړ او یا برعکس د هغه خبر په اړه یقین ته رسیدلی دی.

2) **ظن:** ظن چې د تصدیق تر ټولو ښکته اقسامو څخه دی هغه حالت ته ویل کیږي چې شخص د خبر مضمون او یا د هغه عدم ته ترجیح ورکړي او په عین وخت کې بل جانب هم محتمل و شمیري په دې صورت کې هغه ظن ته رسیدلی دی.

3) **وهم:** دا چې شخص د خبر مضمون او يا د هغه عدم، محتمل وشميري خو بل لوري ته ترجيح ورکړي.

4) **شک:** د خبر د مضمون د وقوع او عدم وقوع د احتمال مساوي والی دی.

بايد په ياد ولرو چې وهم او شک يی له تصديقاتو څخه ندي ګڼلي او تصديق يې صرف دوه قسمونو يقين او ظن ته تقسيم کړی دی.

## جهل او د هغې اقسام:

د علم او جهل ترمنځ د ملکې او عدم ملکې نسبت قایم دی، جهل په حقیقت کې د علم نشتوالی دی، د هغه چا په وجود کې چې د علم لپاره صلاحیت موجود وی د علم فقدان د جهل په معنا دی. لکه مرګ او سکون چې د ژوند او حرکت نشتوالی دی د هغه چا لپاره چې د ژوند او حرکت صلاحیت لري. او جهل هم په جهل تصوري او جهل تصدیقي دوو قسمونو ویشل شوی چې تصدیقي جهل په خپل ذات کې په بسیط او مرکب دوو ډولو ویشل کیږي، بسیط جهل هغه دی چې شخص په یو شي نه پوهیږي او له خپلې دې ناپوهۍ څخه آګاه وي په داسې حال کې چې په مرکب جهل کې انسان په یو شي نه پوهیږي خو فکر کوي چې پرې پوهیږي، ځینو مرکب جهل علم ګڼلی، د هغوی دا ګمان سم نه دی او د مرکب جهل د خاوند خپل تصور نه شي کولای چې واقعیت ته بدلون ورکړي (۲۹: ۴۶ - ۴۸).

## د تصور او تصدیق اقسام:

تصور او تصدیق په دوه ډوله دی: ضروري (بدیهی) او نظري (اکتسابي):

1) **ضروري تصور او تصدیق:** چې پر هغه باندې پوهیدل عقلي عملیی، سوچ او فکر ته محتاج نه وي لکه د ګرمۍ، یخنۍ او نورو تصور او په دې تصدیق کول چې اُور ګرم او لمر روښانه دی.

2) **نظري تصور او تصدیق:** چې پر هغه باندې پوهیدل عقلي عملیې، سوچ او فکر کولو ته محتاج وي لکه د عقل، روح، نفس او نورو تصور او په دې تصدیق کول چې د یوه مخمس د داخلي زاویو د درجو مجموعه له (540) درجو سره مساوي کیږي.

د دې لپاره چې د یو شي په بداهت حکم وکـــړو لازمه ده چې په هغه کې لاندې ټول او یا ځینې امور وجود ولري:

1. د ذهن سلامتیا په ټولو بدیهیاتو کې حتمي ده.
2. د حواسو سلامتیا هم په ټولو محسوساتو کې لازمي ده.
3. مطلوب شي ته دقت که څه هم واضح وي یو حتمي امر دی.
4. د شبهې عدم وجود.
5. د ځینې غیرعقلي فعالیتونو اجرا لکه: لیدل، اوریدل او تجربه کول.

## دلالت او د هغه اقسام:

دلالت د دوه شیانو ترمنځ علمي رابطه ده په داسې ډول چې پر یوه باندې یې پوهیدل بل ته د ذهن د انتقال سبب وګرځي، لومړي ته «دال» او دویم ته «مدلول» او د دواړو ترمنځ رابطې ته «دلالت» وایي.

دلالت د دال د وجود له مخې یا لفظي دی او یا غیر لفظي او دلالت د منشأ له مخې وضعي، طبیعي او عقلي دری ډوله دی.

1) **وضعي دلالت:** په دې دلالت کې د دوو شیانو ترمنځ د ملازمت منشأ وضع او اجتماعي قرارداد وي لکه د الفاظو دلالت په معناګانو، د اسماوو دلالت پر اشخاصو او د ترافیکي علایمو دلالت پر خاصو مدلولاتو.

2) **طبیعي دلالت:** په دې دلالت کې د دوو شیانو ترمنځ د ملازمت منشأ یو طبیعي ملازمت وي لکه د مخ د سره اوښتلو دلالت په شرمیدلو باندې او داسې نور.

3) **عقلي دلالت:** هغه دی چې د دال او مدلول ترمنځ ذاتي او عقلي ملازمت او رابطه برقراره وي لکه له دیوال نه اخوا د لفظ د اوریدلو دلالت د لافظ په وجود او د لوګي دلالت د اور په وجود باندې او داسې نور.

که د لفظي او غیرلفظي دلالت دوه قسمونه په وضعي، طبیعي او عقلي دریو قسمونو کې ضرب کړونو شپږ قسمه دلالت حاصلیږي، د منطق په علم کې د نظر وړ دلالت لفظي وضعي دی دا لاندې درې ډولونه لري:

**1. مطابقي دلالت:** د لفظ دلالت دی په ټوله «موضوع له» معنی او د هغې مطابقت دی په ټوله معنی لکه د خونې د لفظ دلالت په چت، دیوالونو او نورو باندې.

**2. تضمني دلالت:** د لفظ دلالت دی د «موضوع له» معنی په یوه برخه باندې لکه د خونې د لفظ دلالت یوازې د هغې په دیوالونو.

**3. التزامي دلالت:** هغه دی چې لفظ پر هغه معنی دلالت وکړي چې د «موضوع له» معنی څخه وتلې وي خو له آثار و او لوازمو څخه یې وي لکه د کوزې د لفظ دلالت پر اوبو او د انسان د لفظ دلالت د هغه د کتابت په استعداد خو شرط دا دی چې د لفظ د اصلي معنی او بهرنۍ معنی ترمنځ په ذهن کې له مخکې نه واضح او روښانه تلازم وجود ولري.

## پوښتنې

1. د علم لپاره د نوو او پخوانيو تعريفونو څو بېلګې وړاندې کړئ.
2. حسي علم، وهمي علم، خيالي علم او عقلي علم په جلا جلا توګه تعريف کړئ او د هر يوه مثالونه بيان کړئ.
3. د پخوانيو فلاسفه وو له نظر سره سم باطني پينځه ګوني حواس د انساني دماغ له درې ګونو اجوافو سره توضيح کړئ.
4. د علم لومړي او ثانوي اقسام بيان او د خبر له واقع سره د مطابقت څلورګوني حالات شرحه کړئ.
5. د جهل، تصور او تصديق اقسام له خپلو مربوطه مثالونو سره بيان کړئ.
6. دلالت تعريف کړئ، لومړني او ثانوي اقسام يې له درې درې مثالونو سره توضيح کړئ.
7. څرنګه کولای شئ د غير لفظي وضعي دلالت لپاره ګڼ شمېر مثالونه په هغه ښار کې چې استوګن ياست ولټوئ.
8. د دې لوست د ډېر ښه انکشاف لپاره له درسي لازمو موادو څخه استفاده وکړئ.



14 – 11 - 2012

# دویم لوست

## د الفاظو تقسیمات

### موخې:

1. د دې بیان چې الفاظ د تعریفاتو او منطقي براهینو مبنا تشکیلوي او د ډول ډول تقسیماتو لرونکي دي.
2. محصلین د مختص، مشترک، منقول، مرتجل، حقیقت او مجاز د الفاظو تعریفات او مثالونه یو له بل نه تشخیص کړی شي.
3. د ترادف، تباین، تقابل، تخالف، تماثل، تناقض، تضاد، تضایف، عدم او ملکه، مفرد او مرکب، تام او ناقص، تام خبري او تام انشائي د تعریفاتو او مختلفو مثالونو شرحه.
4. محصلین د تمرین له اجراء څخه وروسته د توضیح او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

درې عمـــده تقسیمونه د لفظ د معنی په ارتباط په اړه او نظر کې نیول شوي دي:

۱. ددې حیثه چې لفظ واحد دی. ۲. ددې حیثه چې لفظ متعدد دی. ۳. ددې حیثه چې لفظ دی او وحدت او تعدد یې د نظر وړ نه دی.

مخکې له دې چې د الفاظو د اقسامو په تعریفونو شروع وشي لومړی دغو دریو تقسیمونو ته په لاندې ډول سره وضاحت ورکوو.

## 1. واحد لفظ

- مختص لفظ
- مشترک لفظ
- منقول لفظ
  - تعیینی
  - تعینی
- مرتجل لفظ
- حقیقت یا مجاز لفظ

## 2. متعدد لفظ

- مترادف
- متباین
  - متقابل
    - نقیضان
    - عدم او ملکه
    - ضدان
    - متضایفان
  - متخالف
  - متماثل

## 3. لفظ

- مفرد لفظ
  - کلمه (فعل)
  - اسم (نوم)
  - حروف (ادات)
- مرکب لفظ
  - تام مرکب
    - تام خبري
    - تام انشائي
  - ناقص مرکب

## د الفاظو لومړی تقسیم:

هغه واحد لفظ چې له دې درې ګونو دلالتونو (وضعي، تضمني، او التزامي) څخه په خپله یوه معنا دلالت کوي له خپلې معنی سره د ارتباط په لحاظ له لاندې پینځو قسمونو څخه خالي نه دی. د واحد لفظ معنی به یا واحده وي او یا متعدده چې لومړی «مختص» لفظ دی او دویم لفظ د مشترک. منقول، مرتجل، حقیقت او یا مجاز څلورو قسمونو ته تقسیمیږي:

1) **مختص لفظ:** هغه دی چې صرف یوه معنی ولري لکه انسان، حیوان، کاتب، تیږه او نور.

2) **مشترک لفظ** هغه دی چې دوه یا څو معنا وې ولري او د هرې معنا لپاره په جلا توګه وضع شوی وي لکه د «عین» مشترک لفظ چې د سترګي، چینې، سرو زرو او نورو لپاره په جلا جلاتوګه وضع شوی دی.

3) **منقول لفظ:** هغه دی چې د څو معنا وو لپاره په تقدیم او تأخر سره وضع شوی وي د مثال په ډول هر لفظ په ابتداء کې د یوې معنی لپاره وضع شوی وي خو وروسته د شرع، منطق، فلسفی او نورو علماوو هغه د یوی بلې معنا لپاره چې له لومړۍ معنا سره مناسبت لري نقل کړی وی لکه د «صلوة» لفظ چې په اصل کې د تحریک صلوین او یا دعاء په معنا دی خو د اسلامي شریعت علماوو هغه د «لمانځه» لپاره چې پکې هم تحریک صلوین او هم دعاء کیږي نقل کړی او د شرعي منقول عنوان یې ځانته غوره کړی دی.

4) **مرتجل لفظ:** دا هم د منقول لفظ په شان دی صرف په دې تفاوت چې په مرتجل کې د دوو معناوو تر منځ ارتباط د نظر وړ نه وي او د اکثرو اشخاصو نومونه مرتجل الفاظ دي.

5) **د حقيقت او مجاز لفظ:** هغه دی چې د څو معناوو لپاره استعمالېږي خو په اصل کې صرف د يوې معنا لپاره وضع شوی وي او وروسته د بلې مضاد تړاو او هغه قرينې له مخې چې د «موضوع له» معنی سره يې لري په هغه مجازي معنا کې استعمال شي، چې لومړنۍ معنی ته حقيقي معنی او دويمی ته مجازی معنی وايې لکه د زمری د لفظ استعمال د زړور شخص لپاره (۳۲: ۴۱ ـ ۴۲).

د مجاز او مشترک لفظ استعمال په تعريفاتو او براهينو کې سم نه دی خو صرف د قرينې د موجوديت په صورت کې د مقصودې معنا لپاره استعماليدلی شي. د مجاز استعمال په شعر او خطابه کې که څه هم په پراخه پيمانه وي مستحسن دی او د هغې په ښايست کې زياتوالی راولي. د مرتجل او منقول لفظ استعمال په تعريفاتو او براهينو کې هغه وخت سم دی چې د لفظ استعمال د هغه له لومړۍ معنا څخه متروک شوی او يا د هغه مقصودې معنا اخيستلو ته قرينه موجود وي.

د يادونې وړه ده که يو لفظ د مشخص ناقل په واسطه (شرعي، کلامي، تصوفي او نورو) دويمې معنا ته انتقال موندلی وي دغه لفظ ته «منقول تعييني» وايې خو که دا نقل د يو معين ناقل په واسطه نه وي شوی بلکې د خلکو په واسطه شوی وي او د زمانې په تيريدلو سره د هغه په دويمه معنا کې ډير رايج شوی وي دغه لفظ ته «منقول تعينی» ويل کيږي.

## د الفاظو دويم تقسيم:

په دې تقسيم کې تعدد لفظ د ترادف او تباين له لحاظه په نظر کې نيول شوی چې يا دوه لفظه د يوې معنا درلودونکي وي او يا هر لفظ د بيلې معنا درلودونکی وي، د لومړي حالت مترادف الفاظ او د دويم حالت متباين الفاظ دي، د دوو متباينو معناوو ترمنځ د «تساوي، تباين، عموم او خصوص مطلق، عموم او خصوص من وجه» د نسبتونو څخه يو نسبت وجود ته راځي.

د دوو متباينو الفاظو د دوو معناوو ترمنځ تغاير په درې قسمه دی: تماثل، تخالف او تقابل په دې تفصيل چې دوه متباين معانی يا له يو بل سره متامثلان دي او يا متخالفان او يا هم متقابلان چې مختصراً په لاندې ډول ذکر کيږي:

**1) متماثلان** هغو دوو شيانو ته ويل کيږي چې په يوه حقيقت کې مشترک دي لکه زيد او بکر چې د دوو اشخاصو نومونه دي او په انسانيت کې يو له بل سره شريک دي او يا انسان او آس چې په حيوانيت کې سره شريک دي او که بې له انسانيت او حيوانيت څخه نور خصوصيات چې د هر يوه مربوط دي په نظر کې ونيول شي په دغه صورت کې هغوی يو له بل سره متماثلان نه بلکې «متخالفان» ګڼل کيږی.

تماثل هم مختلف اقسام لري په دې معنا چې که اشتراک او تماثل په يو نوعې حقيقت کې وي لکه زيد او بکر په دې حالت کې دغو دواړو ته متماثلان يا مثلان وايي خو که اشتراک او تماثل د دغو دواړو په منځ کې په جنس کې وي لکه انسان او آس په دې صورت کې هغوی «متجانسان» دي او که اشتراک په مقدار او کيفيت کې وي دغو دواړو ته «متساويان» او که په هيئات، شکل او کيفيت کې اشتراک وي نو دغو دواړو ته «متشابهان» ويل کيږي.

**2) متخالفان** دوه متغاير امرونه که د مشترک حقيقت لرونکي وي او يا که نه وي متخالفان يې بولي. تخالف کيدای شي په تشخص کې وي لکه تخالف په منځ د احمد او محمود کې او يا په نوع کې وي لکه تخالف په منځ د زمري او پړانګ کې او يا هم په جنس کې وي لکه تخالف په منځ د فلز او تيږه کې، او که تخالف د دوو شيانو په صفت کې وي په يوه محل يوې زماني او له يوه جهته، يو له بل سره جمع کيدلی شي.

3) **متقابلان** دوه يو له بل نه تنبيدونکې او متنافرى معناګانې چې په يوه محل يوې زمانې او له يوه جهته يې جمع يو له بل سره ناممکن وي ورته متقابلان ويل کيږي (۲۹: ۶۸– ۷۷).

د تقابل اقسام څلور دي چې په لنډيز سره په لاندې توګه توضيح کيږي:

1. **د نقيضينو تقابل:** د ايجاب او سلب تقابل ته چې د يوطرف په وجود او د بل طرف په عدم دلالت وکړي د نقيضينو تقابل وايي. د دوو نقيضو اجتماع او ارتفاع محال ده لکه چې وويل شي عدد يا زوج دی او يا فرد، نه دا چې نه زوج دی او نه فرد، دريم حالت پکې وجود نه لري.

2. **د ملکې او عدم، تقابل:** دوه وجودي او عدمي امرونه چې د هغوی جمع ناممکنه او رفع يې کيدلی شي په دې شرط چې د ملکې د درلودلو صلاحيت ولري لکه علم او جهل، ړوندوالی او بيناتوب.

3. **د ضدينو تقابل:** دوه وجودي امرونه چې پرله پسې په يوه موضوع وارد شوي او د يوه تصور يې د بل په تصور پورې مربوط نه وي او په يوه وخت کې په هغه موضوع کې نه شي جمع کيدلی. عين دا تعريف يې په عربی ژبه کې داسې کړی دی: «الوجوديانِ المتعاقبانِ على موضوع واحدٍ، و لايُتصورُ اجتماعُهما فيه، و لايَتوقفُ تعقلُ احدِهما على تَعقلِ الآخر» لکه سپکوالی او درونددوالی، تورروالی او سپين والی.

4. **د متضايفينو تقابل:** دوه وجودي امرونه دي چې يو له بل سره تصور کيږي او د هغوی اجتماع په يوه موضوع کې له يوه جهته ناممکن وي څرنګه چې په عربی کې متضايفين په دې ډول سره تعريف کوي: «هما الوجوديانِ الّذانِ يتعقّلانِ معا و لايجتمعان فی موضوع واحدٍ من جهة واحدةٍ» لکه خالق او مخلوق، بره او ښکته، پلار او زوی (۲۲: ۱۲ – ۱۴).

## د الفاظو درېيم تقسيم:

لفظ په کلي توګه بې له دې چې دا په نظر کې ونيول شي چې واحد دی يا متعدد په دوه ډوله تقسيمېږي:

1) **مفرد لفظ:** هغه لفظ چې جزٔ نه لري، په هغه حال کې چې د لفظ جزء دی په يوه برخه د معنى دلالت وکړي او يا په دې ډول: «اللفظ الذی ليس له جزءٌ يدلُّ على جزءِ معناه حينَ هو جزءٌ» نو مفرد لفظ يا هيڅ جزء نه لري لکه د «و» حرف په «والله» کې او يا جزء لري خو په هغه وخت کې چې د لفظ جزء دی د معنى په يوه برخه دلالت و نه کړي لکه عبدالله چې د يوه شخص لپاره عَلَم وي او که علم نه وي د هغه د اضافت معنا معتبره وي او لفظ به مرکب وي خو علما د عبدالله په شان الفاظ که څه هم عَلَم وي مرکب الفاظ ګڼي، د ادبياتو اهل د اعراب او بناء په اهميت قايل دي او عبدالله په هغه صورت کې چې د شخص عَلَم هم وي د دوو کلمو او دوو اعرابو درلودونکی دی نو مرکب لفظ دی، خو منطقيان دې ته توجه لري چې لفظ څرنګه په معنا باندی دلالت کوی اعراب او بنا يې مهمه نده.

### د مفرد لفظ اقسام:

مفرد لفظ په درې ډوله دی: فعل، اسم او حرف. فعل (کلمه) يې په دې ډول تعريف کړې: «اللفظُ المفردُ الدالُ بمادته على معنىً مستقلٍ فی نفسه و بهيأته على نسبةِ ذلک المعنى الی فاعل لابعينه نسبةً تامةً زمانيةً » يعني مفرد لفظ دی چې په خپله ماده پر يوه مستقله معنى او په خپل هيأت سره پر زماني، تام نسبت او په يوه غير معين فاعل باندی دلالت لري لکه: ويخښل، ښنبي يې او نور.

اسم: له هغه مفرد لفظ څخه عبارت دی چې په يوه مستقله معنی دلالت لري او د هغه هيئات درلودونکی نه دی چې د زماني له تام نسبت څخه حاکي (حکايت کوونکی) وي لکه: احمد، انسان، صادق او نور.

حرف «ادات» حرف د دوو شيانو ترمنځ په نسبت دلالت کوي «اللفظ المفرد الدال علی معنی غير مستقل فی نفسه» لکه: له، تر، په او نور.

2) **مرکب لفظ (قول)**: هغه لفظ دی چې جزء لري او هغه جزء په هغه حال کې چې د لفظ جزء دی د معنا په يوې برخې دلالت وکړي لکه چې و وايو «سپورت کول صحت ته ګټور دي» او «هيڅکله نااميده مه اوسه» او نور.

## د مرکب لفظ اقسام:

مرکب لفظ په دوه ډوله دی، تام او ناقص: تام مرکب هغه دی چې د متکلم سکوت پرې سم وي «مايصحُّ للمتکلم السکوتُ عليه» او ناقص مرکب هغه دی چې د متکلم سکوت پرې سم نه وي: «مالايصحُّ السکوتُ عليه»، د تام مرکب مثالونه مخکی ذکر شول او د ناقص مرکب مثال دا دی چې و وايو «پرون په کابل کې ...» سکوت پرې سم ندی بلکې بايد خپل مرکب تکميل او تام کړو، مثلاً دا پرې زيات کړو «... د استقلال جشن تجليل شو». تام مرکب په دوه ډوله دی: خبري او انشائي.

**تام خبري مرکب** هغه دی چې ثابت حقيقت بيان کړي او د صدق او کذب احتمال ولري «المرکب التامُ الذی يَصحُّ اَن نَصِفَه بالصدق و الکذب».

**تام انشائی مرکب** هغه دی چې ثابت حقيقت بيان نه کړي بلکې متکلم غواړي نوي معنا په تام لفظ سره ايجاد کړي لکه امر، نهی، استفهام، نداء، تمنا، تعجب، عقد، ايقاع او نور، او په عربی ژبه کې يې هغه داسې تعريف کړی: «المرکب التامُ الذی لايصح ان نَصِفَه بصدقٍ و لاکذبٍ» (28: 37 ــ 40).



14 – 11 - 2012

# پوښتنې

1. د لفظ د ډرې عمده ډولونو يوازې نومونه واخلئ او د درې واړو چارتونه د کاغذ په لويو تختو رسم کړئ.
2. مختص لفظ له مشترک، منقول، مرتجل، حقيقت او مجاز سره څه توپير لري توضيح يې کړئ.
3. اساسي فرقونه د مشترک، منقول، مرتجل، حقيقت او مجاز الفاظو په منځ کې په لنډه توګه له مثالونه سره شرحه کړئ.
4. په دويم تقسيم کې الفاظ په مترادف او متباين سره تقسيم شوي تاسې د متباينو الفاظو ثانوي اقسام بيان کړئ.
5. د تقابل اقسام د ډېرو مثالونو په ترڅ کې چې ستاسې په ټولګي کې پيداکيږي وښاياست.
6. د منطق د کتاب يو مخ په نظر کې ونيسئ د مفرد او مرکب لفظ د لومړني او ثانوي تقسيم ډېر مثالونه پکې تشخيص کړئ.
7. له محصلينو څخه درې تنه دې د لفظ د اقسامو مختلف شل مثالونه د ټولګي د تختې پرمخ وليکي او نورو ته دې بلنه ورکړي چې د هر مثال په برابر دې د لفظ مربوطه قسم وليکي.
8. په ذهن کې د لوست د ښه پرځای کولو لپاره له ګڼو د رسي موادو څخه استفاده وکړئ.



14 – 11 - 2012

# درېیم لوست

## کلي او څلورګوني نسبتونه

### موخې:

1. محصلین د کلیاتو او جزئیاتو له نړۍ سره بلد او د کلي د انتزاع څرنګوالی له جزئي څخه بیان کړی شي.
2. محصلین د کلي د مفهوم لومړنی، دویم او درېیم تقسیمات توضیح کړی شي.
3. د معلوماتو تحلیل د څلورګونو نسبتونو په اړه، مصادیق، د هغوی د اجتماع او افتراق مواد.
4. محصلین د تمرین له اجراء څخه وروسته د توضیح او د دې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

### کلي او جزئي:

مونږ هره ورځ ډېر موجودات په خپل چاپېریال کې وینو او احساسوو لکه قلم، کتاب، میز، احمد، کابل او نور. دا مفاهیم په داسې ډول دي چې هر یو یې په خپل فرد تطبیق شوي او په بل فرد صدق نه کوي، دې ډول مفاهیمو ته «جزئي» وایي خو که مونږ ګڼ جزئیات مشاهده او احساس کړو چې په یوه صفت او یا خوصفتونو کې یو له بل سره شریک وي او وروسته یو عمومي مفهوم له دغو جزئیاتو څخه انتزاع کړو نو دغه عمومی مفهوم د «کلي» په نوم یادوو، اوس کولای شو چې کلي او جزئي داسې تعریف کړو:

**کلي:** هغه ذهني صورت دی چې د ذات په اعتبار د شرکت له قبولیت څخه امتناع و نه لري او په ډېرو شیانو باندې صادق وي او یا لکه چې وایي: «المفهوم الذی لایمتنعُ صدقُه علی اکثرَ من واحد» لکه قلم، کتاب، میز، انسان او نور.

**جزئي:** له هغه ذهني صورت څخه عبارت دی چې د ذات په اعتبار له یو فرد څخه پر ډیرو د شرکت قابل او صادق نه وي او یا دا تعریف «المفهومُ الذی یَمتنعُ صدقُه علی اکثرَ من واحد» لکه دا کور، محمود، هرات او نور (22: 10).

## کلي او د هغه اقسام:

کلي له دريو لحاظه د تقسيم وړ دی:

الف: تقسیم د کلی مفهوم د صدق د تساوی له حیثه پر افرادو او یا د صدق د عدم تساوی له حیثه پر افرادو باندی.

ب: تقسیم د امکان او عدم امکان، وجود او عدم وجود، د کلي د افرادو د حصر او عدم حصر له حیثه.

ج: تقسیم د افرادو له ذات څخه د کلي د معنی د خروج او د هغې د عدم خروج له حیثه.

### لومړی: کلي د لومړني تقسيم له مخې په دوه ډوله دی: متواطي او مشکک:

**الف: متواطی کلي:** هغه کلی څخه عبارت دی چې صدق يې په خپلو افرادو یو شان او په مساوي ډول وي لکه د ونې، تيږې کلي او نور.

**ب: مشکک کلي:** له هغه کلي څخه عبارت دی چې صدق يې په خپلو افرادو یو شان او په مساوي ډول نه وي، عدم تساوي په مختلفو اشکالو سره منځ ته را تللی شي لکه شدت او ضعف، تقدم او تأخر، غوره والی او نور چې په ترتیب سره د توروالي کلي، د «وجود» کلي د پلار او زوی به نسبت، د «هستی» کلي د خدای جل جلاله او د عالم د موجوداتو په نسبت د هغې مثالونه دي (۳۲: ۴۵ - ۴۷).

### دویم: کلي د دویم تقسیم له مخې په شپږ ډوله دی:

الف: هغه کلي چې د هغې هیڅ فرد وجود و نه لری چې لاندې دوه احتماله لري:

1. هغه کلي چې د افرادو وجود يې اصلاً مستحيل وي لکه د باري ذات شريک، د ضدينو او نقيضينو اجتماع، د نقيضينو ارتفاع او نور.
2. هغه کلي چې د افرادو موجوديت د هغې لپاره ممکن وي لکه د طلا د غره کلي او د سيمرغ کلي.

ب: هغه کلي چې صرف يو فرد يې موجود وي او دا لاندې دوه احتماله لري:

1. هغه کلي دی چې د بل فرد وجود ورلره مستحيل وي لکه واجب الوجود.
2. هغه کلي دی چې د نورو افرادو موجوديت ورلره هم ممکن وي لکه د لمر کلي.

ج: هغه کلي چې له يوه فرد څخه ډېر افراد يې موجود وي او دا هم لاندې دوه احتماله لري:

1. هغه کلي چې افراد يې محدود او متناهي وي لکه د شمسي منظومې سيارات او رسولان عليهم السلام.
2. هغه کلي چې د هغې افراد غير محدود او نامتناهي وي لکه د عدد کلي.

## درېيم: کلي د درېيم تقسيم له مخې په دوه ډوله دی، ذاتي او عرضي:

**الف: کلي ذاتي** هغه حقيقت دی چې کلي د هغې نه په غير د تصور قابل نه وي لکه حيوان او ناطق چې د انسان له ذاتياتو څخه دی.

**ب: کلي عرضي** هغه کلي دی چې د موضوع د ذاتياتو له کامليدو څخه وروسته ور پورې ملحق کيږي لکه د«تلونکي» کلي د حيوان لپاره او د«خندان» کلي د انسان لپاره.

عرضي کلي د تلازم او عدم تلازم له مخې په دوه ډوله ده: عرضي لازم او عرضي مفارق.

**لومړی: عرضي لازم**له نامه څخه يې خرګنده ده چې تل له موضوع سره ملازم وي او د انفصال د تصور په صورت کې يې د موضوع وجود مستحيل ګرځي او دا خپله د بيان او عدم بيان له نظره په دوه ډوله دی: عرض لازم بَيّن او عرض لازم غير بَيّن.

**الف: عرض لازم بَيّن**دا چې د لازم لزوم د ملزوم لپاره له دوو خواوو په مجرد تصور سره حاصل شي او حد اوسط ته ضرورت نه وي او دا ډول عرض هم په دوه ډوله دی: اعم او اخص.

1. بين اعم: دا چې د ملزوم او لازم له تصور څخه په لزوم يقين حاصل شي؛ لکه: د حدوث لزوم د کايناتو لپاره.
2. بين اخص: دا چې د ملزوم له تصور څخه لازم تصور شي؛ لکه: د ( ۴ ) عدد له تصور څخه دا يقين حاصليږي چې د (۲) عدد دوه برابره دی.

ب: عرض لازم غير بَيّن: دا چې د لازم د ثبوت لپاره ملزوم ته د حداوسط او دليل موجوديت حتمي وي لکه د يوه مخمس د زاويو د درجو مساوي والی(۵۴) درجو ته.

**دويم: عرض مفارق**هغه دی چې د لازم د انفصال او انفکاک تصور له ملزوم څخه يوه مستحيل امر ته منجر نه شي او لاندې درې احتماله ولري:

الف: مفارق دايم: لکه علم د عالم شخص لپاره.

ب: مفارق بطيء الزوال: لکه ځواني د ځوان شخص لپاره او حلم د حليم شخص لپاره.

ج: مفارق سريع الزوال: لکه قهر د حليم شخص لپاره (28: 43ــ48).

## څلورګوني نسبتونه:

که يوه معنى له بلى معنا سره چې يو له بل سره متغايرې وي وسنجول شي د دې سنجش تر نتيجه کې له لاندې څلورګونو نسبتونو څخه يو د هغو دوو کلي معناګانو له منځه تصور کيدلای شي (٦: ٥٥).

**۱. تباين:** ټول متقابل مفاهيم او ځيني متخالف معاني چې په يوه مصداق کې يو له بل سره جمع کيدی نه شي او په هيڅ فرد کې اشتراک و نه لري، متباين مفاهيم يا کليات يې بولي او د هغوی ترمنځ رابطه د تباين په نامه يادوي. دوه متباين کلي د دوو موازي خطونو حيثيت لري چې په هره اندازه يو له بل سره امتداد ومومي يو بل سره نه قطع کوي لکه د حيوان او تيږی دوه کلي، انسان او ونه، او نور. بايد ووايو چې د تباين اصطلاح د الفاظو په تقسيماتو کې هم د بحث وړ وګرځيده چې په هغه ځای کې تباين د مفهوم له مخې و او دا چې الفاظ د معناوو د مغايرت له لحاظه يو له بل سره متباين دي، خو دلته تباين د مصداق او بهرنيو افرادو له مخې په پام کې نيول شوی دی.

**۲. تساوي:** هرکله د دووکلي ګانو دوه مفهومه په خپلو ټولو مصاديقو کې يو له بل سره مشترک وي په دې حالت کې د هغوی په منځ کې د تساوي نسبت برقرار وي لکه د خندان د کلي د مفهوم او د انسان د کلي د مفهوم ترمنځ نسبت، او يا د ناطق او انسان ترمنځ نسبت. د دوو متساوي کلي ګانو ترمنځ تل دوه موجبه کليه قضيې صدق کوي لکه دا چې ووېل شي: ټول متفکرين انسانان دي، او ټول انسانان متفکرين دي،خو د دوو متباينو کلی ګانو ترمنځ بيا همېشه دوه سالبه کليه قضيې صدق مومي لکه دا دوه قضيې: هيڅ حيوان تيږه نه ده او هيڅ تيږه حيوان نه دی.

**۳. عموم او خصوص مطلق:** د دوو کلی ګانو مفهومونه چې يو د هغه بل کلي د مفهوم په ټولو افرادو صدق وکړي او له هغه پرته نور افراد او مصاديق هم ولري دا نوعه رابطه د عموم او خصوص مطلق په نامه يادېږي لکه د فلز او طلا، حيوان او انسان ترمنځ نسبت او نور، د دې لپاره چې فلز د طلا په ټولو افرادو صدق کوي او سربيره پر دې نور افراد هم لري لکه د نقرې، مس او سرب افراد او نور، په دې ځای کې فلز اعم مطلق او طلا اخص مطلق ده او د انسان او حيوان ترمنځ رابطه هم

همدغه شان ده. د عموم او خصوص مطلق ترمنځ یوه د اجتماع ماده او یوه د افتراق ماده موجودیدلی شي، په مخکني مثال کې د طلا لبنتۍ د دواړو کلي ګانو د مفهومونو د اجتماع ماده او مسي دېګ د فلز د کلي له مفهوم څخه د طلا د کلي د مفهوم د افتراق ماده ده. د دوو اعم او اخص مطلق کلي ګانو ترمنځ تل یوه موجبه کلیه قضیه او یوه سالبه جزئیه قضیه صدق کوي لکه دا دوه قضیې: طلاګانې فلز دي، او ځیني فلزونه طلا نه دي.

**۴. عموم او خصوص من وجه:** دا نسبت د هغو دوو کلی ګانو ترمنځ برقرارېږي چې په ځینو افرادو او مصادیقو کې یو له بل سره شریک وي خو هر یو د خاصو افرادو مصادیق درلودونکی هم وي چې یو پر بل صدق نه کوي لکه الوتونکی او تور، تیره او سپین او نور، الوتونکی او تور دواړه مشترک افراد او مصادیق لري چې د هغې یو مصداق کارغه دی خو د هغوی هر یو د خپل ځان لپاره د مخصوصو افرادو او مصادیقو درلودونکی هم دی لکه سپینه کوتره چې یوازې الوتونکې ده خو توره نه ده، او سکاره چې یوازې تور دي خو الوتونکي نه دي. د اعم او اخص من وجه کلي ګانو ترمنځ د اجتماع یوه ماده او د افتراق دوې مادې وجود لري. د اجتماع مورد هماغه مثال د «کارغه» دی چې هم الوتونکی او هم تور دی، د الوتونکي د افتراق ماده له تور څخه «سپینه کوتره» او د تور د افتراق ماده له الوتونکي څخه «سکاره» دي (۲۴: ۱۰۲-۱۰۴).

د اعم او اخص من وجه د دوو کلي ګانو ترمنځ کومه کلیه قضیه نه شي صادقیدلی بلکې د هغوی ترمنځ تل دوه موجبه جزئیه قضیې او دوه سالبه جزئیه قضیې صدق کوي.

د موجبه جزئیه قضیو مثالونه:

1. ځیني الوتونکي تور دي.

2. ځيني توران الوتونکي دي.

د سالبه جزئيه قضيو مثالونه:

1. ځيني الوتونکي تور نه دي.
2. ځيني توران الوتونکي نه دي.

او ملاحسن د سلم العلوم په شرح کې د عموم من وجه مرجع دوه سالبه جزئيه دائمه او يوه موجبه جزئيه ګڼلې او د عموم مطلق مرجع يې يوه موجبه کليه مطلقه عامه او يوه سالبه جزئيه دائمه ګڼلې ده چې د ډېرو معلوماتو لپاره دې هغه ځاى ته مراجعه وشي (۳۰: ۱۰۶).

# پوښتنې

1. کلي او جزئي تعریف کړئ او د کلیاتو د انتزاع څرنګوالی له جزئیاتو څخه بیان کړئ.
2. کلي په لومړي تقسیم کی په دري ډوله دی، تاسې یې اجمالاً نوم‌ونه واخلئ.
3. تواطؤ او تشکیک توضیح کړئ او مثالونه یې په کلیاتو کې وپلټئ.
4. کلي د امکان او عدم امکان، وجود او عدم وجود، د افرادو د حصر او عدم حصر په لحاظ په شپږ ډوله دی، تاسې هر یو د مثال په راوړلو سره یو له بل څخه تفکیک کړئ.
5. ذاتي او عرضي چې د کلي د اقسامو دریېم تقسیم جوړه وي تعریف او مثالونه یې وړاندې کړئ.
6. د عرضي د لاندې اقسامو ډلبندي مشخصه کړئ: عرض مفارق، عرض غیر بین، عرض لازم، عرض بین اخص، عرض لازم بین، عرض بین، عرض مفارق سریع الزوال، عرض بین اعم، عرض مفارق دایم، عرض لازم غیر بین او عرض مفارق بطیء الزوال.
7. خصوص او عموم من وجه یې ولې په دې نامه یاد کړی دی؟ توضیح یې کړئ.
8. د الفاظو د تقسیماتو په اړه د تباین بحث وشو او د څلورګونو نسبتونو په بحث کې هم د تباین سره مخامخ کېږو، د دې دوو بحثونو مختلف حیثونه شرح کړئ.
9. د څلورګونو نسبتونو د اجتماع او افتراق مواد په ځان ځانته لیست کې ترتیب او د ټولګې د تختې پرمخ یې ولیکئ.
10. د څلورګونو نسبتونو له څو مثالونو څخه مختلفې منطقي قضیې جوړې کړئ او د هر یوه نسبت یې مشخص کړئ.
11. درسي مواد او د ټولګي په داخل کې چې کوم شیان کلي مفاهیم لري هغه د تختې پرمخ لست او د هر یوه مَقسَم د هغوی مخې ته ولیکئ.



14 – 11 - 2012

# څلورم لوست

## پينځه ګوني کليات

### موخې:

1. د منطقي حد په اړه د معلوماتو تحليل، د تضمن او شمول پيژندنه او د هغوی د ښودنې او نمايش ځرنګوالی.
2. محصلان د جنس، نوع، فصل تعريفات او د هغوی د هر يو ه اقسام يو له بل څخه تفکيک کړی شي.
3. محصلان: خاصه، عرض عام او د پينځه‌ګونو کلياتو څخه د استفادې ځرنګوالی په جامع او مانع تعريفاتو کې تشخيص او عملي کړی شي.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

مخکې له دې نه چې د پينځه ګونو کلياتو په اړه خپل بحث شروع کړو لازمه ده چې د حد، تضمن او شمول په مورد کې څو کرښې هم وليکو.

### حـد:

د منطق علم چې د تفکر او استدلال علم دی معمولاً يې خپل بحثونه د الفاظو او حدونو څخه شروع کړي، د منطقي قضاياوو په شرح لګيا او د يوه منطقي قياس او استدلال د تأليف زمينه برابره وي، دا چې وايو: (هوا تياره ده) يوه منطقي قضيه او حکم دی، د (هوا) کلمه په پورته قضيه کې يو منطقي (حد) دی، بايد په ياد ولرو چې د منطقي حد او صرفي کلمې ترمنځ فرق وجود لري، د مثال په ډول: ښايسته کور، زحمتکش محصل، د يوه مثلث د زاويو مجموعه، هر يو ته منطقي حد ويل کيږي ځکه چې د هغوی هر يو په کلي توګه يو فکر ښايي په داسې حال کې چې د صرف او نحو په علم کې دغو ترکيبونو ته (کلمه) نه ويل کيږي.

## تضمن او شمول:

(حدونه) يو له بل سره ډول ډول روابط لري، کله چې يو حد تصور کړو نو بل حد يا حدود هم زمونږ په ذهن کې ګرځي چې له لومړني حد سره په ارتباط کې دي، د مثال په ډول که د (انسان) حد په نظر کې ونيسو مرتبط حدود يې هم زمونږ په ذهن کې ګرځي، د جسم، ساکښ، حيوان، ښځې، سړي، زاړه او نور، د انسان د حد څخه پاس او ترې لاندې نور ډير حدود وجود لري، هغه حدود چې د انسان له پاسه دي داسې اوصاف لري چې د انسان د حد په ضمن کې شته دي نو په دې وجه د (انسان) د حد «تضمن» تشکيلوي او هغه حدود چې د انسان له حد څخه لاندې قرار لري د انسان حد پکې شامل دی او پر هغه صدق کوی په دې اساس ياد شوی حدود د (انسان) د حد د «شمول» په نامه يادوي او يا دا چې تضمن د يوه حد په کيفيت دلالت کوي په داسې حال کې چې شمول د هغه په کميت صادق دی.

هر څومره چې د يوه حد تضمن ډير شي شمول يې تناقص قبلوي د مثال په ډول که د انسان له حده د حيوان حد ته پورته لاړ شو د هغه له اوصافو او تضمن څخه يو صفت کميږي خو په مقابل کې يې افراد زياتيږي، خو که د انسان له حد څخه ښکته لاړ شو او د (افغانستاني) حد په نظر کې ونيسو د انسان د حد تضمن زياتيږي او برعکس شامل افراد يې کميږي، نو په لنډه توګه ويلی شو (د يوه حد شمول د هغه له تضمن سره معکوساً متناسب دی) (٢٦:٣٦ـــ٤١).

منطقي حدود چې د تضمن او شمول مختلف مراتب لري په لاندې توګه د يوه چارټ په ترڅ کې ورته نمايش ورکوو:


جوهر
مجرد
غیر مجرد
عقل
نفس
هیولی
جسم مطلق
صورت
ذيحيات(جسم نامی)
غيرذيحيات(غيرنامی)
حيوان
نبات
غير شمزی لرونکي
شمزی لرونکي
زواحف(خزندهگان)،ضفادع(چنگښي)، اسماک(ماهيان)، طيور(الوتونکي)، ذوات الثدي(تي لرونکي)
انسان
غير انسان
آستراليايي افريقاى ي
آسياى ي
اروپاى ي
امريکاى ي
ي
جاپاني
هندوستان
ي افغانستان
ي
عراق
ي
او نور
کابلي
بلخ
ي
هرات
ي
او نور
مولانا جلال الدين
ابوعل
ي سينا
رابعه

## پينځه ګوني نسبتونه

په تير شوی لوست کې مو کلي د دری لحاظه تقسيم کړی چې کلي د دريم لحاظه يعنې د کلي د معنی خروج د افراد له ذات څخه او د هغې د عدم خروج له حيثه ذاتي او عرضي په دوه ډوله وه، کلي ذاتي په درې ډوله دی: جنس، نوع او فصل. کلي عرضي په دوه ډوله: عرض خاص او عرض عام ته ويشل کېږي چې عرض يا مفارق او يا لازم دی چې وروستني تقسيمات هم لري او په مخکې لوست کې په تفصيل سره بيان شوي دي. د منطق په علم کې د ذاتي او عرضي دا اقسام (جنس، نوع، فصل، عرض خاص او عرض عام) د پينځه ګونو کلياتو په نامه يادوي. فورفوريوس صوري چې په (۳۰۴) ميلادي کال کې وفات شوی يو کتاب د (ايساغوجي) تر عنوان لاندې چې په يوناني ژبه کې د مدخل يا سريزې په معنی دی تأليف کړی چې په هغه کې يې پينځه ګوني کليات تر بحث لاندې نيولي. ارسطو د پينځه ګونو کلياتو په نامه څه شي ته عنوان نه دی ورکړی بلکې حد (تعريف)، جنس، فصل، عرض خاص او عرض عام يې د محمولاتو تر عنوان لاندې ذکر کړي دي، فورفورس صوري محمولات د کلي الفاظو له جملې څخه ګڼلي او حد (تعريفات) يې هم د پينځه ګونو کلياتو څخه بهر کړي او د هغه په ځای يې نوع ځای پر ځای کړې ده.

**1. جنس:** هغه ذاتي کلي دی چې د مختلفه انواعو د حقيقت او ذات د پوښتنې په ځواب کې راوړل کيږي او يا دا تعريف: ( الجنس هو تمام الحقيقة المشتركة بين الجزئيات المتكثرة بالحقيقة فقط فى جواب ما هو ) د سلم العلوم ليکوال جنس دارنګه تعريف کړی (الجنس هو كلى مقول على كثيرين مختلفين بالحقائق فى جواب ماهو) کله چې پوښتنه وشي چې انسان، کب او باز څه شی دي؟ په ځواب کې ويل کيږي حيوان دي – حيوان ددغو ټولو ماهيت بيانوي. جنس د قرب او بعد له مخې دوه ډوله لري: قريب او بعيد. ۱. جنس قريب: هغه دی چې مستقيماً انواعو ته تقسيم شي لکه حيوان. ۲. جنس بعيد: هغه دی چې انواعو ته نه تقسميږي بلکې ورړ



14 – 11 - 2012

جنسونو ته تقسيمېږي لکه جسم چې لومړی حيوان، نبات او جماد ته تقسيمېږي او وروسته د هغوی هر يو خپلو مربوطه انواعو ته تقسيمېږي، په هره سلسله کې متعدد بعيد اجناس وجود لري خو جنس قريب صرف يو وي. او په بل تقسيم کې جنس د دری قسمونو لرونکی دی: عالي، متوسط او سافل، په مخکې چارت کې جوهر جنس عالي يا جنس الاجناس دی: او د مفروضه سلسلې په سر کې واقع دی، حيوان چې د اجناسو تر ټولو لاندې مرتبه کې قرار لري د جنس سافل په نامه يادېږي او هغه جنس چې ددې دوو جنسونو په منځ کې قرار نيولی دی جنس متوسط دی لکه جسم نامی.

**2. نوع:** نوع هغه کلي دی چې د متفق الحقيقة افرادو ماهيت بيانوي او يا دا چې ويلي يې دي: ( النوع هو تمامُ الحقيقة المشتركة بين الجزئياتِ المتكثرةِ بالعدد فقط في جواب ما هو) لکه چې د احمد، محمود او بکر له حقيقت څخه پوښتنه وشي او په ځواب کې وويل شي انسانان دي چې په دې مثال کې انسان د خپلو افرادو نوع ده. نوع په مفروضه سلسله کې د مرتبې له حيثه په درې ډوله ده: عالي، متوسط، سافل. هغه نوع چې تر ټولو انواعو عامه وي د نوع عالي په نامه يادېږي لکه جسم، جسم مطلق او هغه نوع چې تر ټولو خاصه وي د نوع سافل په نامه يادېږي لکه انسان او هغه نوع چې ددغو دوو تر منځ قرار ولري د نوع متوسط په نامه يادېږي لکه حيوان او جسم نامی. پورتني درې ګوني اقسام د نوع اضافي دي. نوع اضافي له هغه کلي څخه عبارت ده چې د موضوع پر ټولو ذاتياتو مشتمله وي او تر جنس لاندې واقع شوي وي لکه انسان، حيوان، جسم نامي، جسم مطلق چې هر يوه تر پورته جنس لاندې قرار نيولی او دهغوی په نسبت ورته نوع اضافي ويل کيږي، د نوع اضافي په مقابل کې نوع حقيقي قرار لري چې مخکې يې دوه تعريفه وشول. انسان هم نوع حقيقي او هم نوع اضافي دی. حيوان، جسم نامي، او جسم مطلق يوازې انواع اضافي دي نه حقيقي او په هغې کې دقت وکړی (۲۹: ۱۲۰ــ۱۲۲).

**3. فصل:** هر ذاتي کلي چې يو ماهيت د هغه له انواعو څخه چې په جنس کې د هغه له ماهيت سره شرکت لري بيل کړي د فصل په نامه يادېږي. فصل په حقيقت کې د شي د ماهيت جزء دی خو هغه جزيي چې په هماغه ماهيت پورې اختصاص لري لکه (ناطق) چې د انسان نوع د حيوان له نورو انواعو څخه جلا کوي او يا حساس چې د حيوان جنس له نبات او جماد څخه جلا کوي. فصل دوه ډولونه لري: قريب او بعيد فصل قريب: نوع له خپلو مشارکاتو څخه په جنس قريب کې جلا کوي لکه ناطق د انسان لپاره، او فصل بعيد: نوع په جنس بعيد کې له نورو انواعو څخه چې په هغه جنس کې له هغوی سره شريکې دي جلا کوي.

**4. خاصه يا عرض خاص:** خاصه هغه عرضي کلي دی چې د موضوع له ذاتياتو څخه بهر وي او د يوه حقيقت پر افرادو عارض او طاري کيږي لکه خندان، شاعر، مجتهد او خبرې کوونکی د انسان لپاره چې خندان خاصه شامله او درې نور مثالونه د خاصه غير شامله مربوط دی. يوه بله نوع، خاصه هم وجود لري چې د طبيعي علومو د موضوعات په مربوطه تعريفاتو کې ډير د استعمال موارد لري او د (خاصه مرکبه) په نامه يادېږي، ددې خاصې په تعريف کې يې ويلي دي: څو وصفه چې ځانته ځانته هيڅ اختصاص د تعريف د مورد په شي پورې نه لري خو که يو ځای په نظر کې ونيول شي صرف د تعريف د مورد په شي کې پيدا کيږي او بس، لکه دا چې د اکسيجن په تعريف کې وويل شي (يو بخار دی خرمائي رنګه او د تنفس قابل) د اکسيجن دا درې صفته په جلا توګه د اکسيجن مخصوص نه دي خو که په مجموعي توګه په اکسيجن کې په نظر کې ونيول شي اکسيجن به يې يوازينی مصداق وي، يا دا چې د خفاش (مابنام شاپيرکي) په تعريف کې يې ويلي دي: (زيږونکی الوتونکی دی) ددې دوو صفتونو هيڅ يو هم د خفاش مخصوص صفت نه دی خو که په يو ځايي توګه د هغه په مورد کې په نظر کې ونيول شي خفاش به يې يوازينی مصداق وي (۵۸:۲۸).

**5. عرض عام:** هغه عرضي کلي دی چې د مختلفو حقائقو پر افرادو طاري او عارض کيږي او همدارنګه يې د هغه په تعريف کې ويلي دي (العرض العام الکلی الخارجُ المحمولُ علی موضوعهِ و غيره) لکه «تلونکی» د انسان لپاره او الوتونکی د کوترې لپاره. د يادونې وړ ده چې په ځينې مواردو کې يو شی د يوې موضوع په نسبت خاصه او د بلې موضوع په نسبت عرض عام وي لکه (تلونکی) د حيوان خاصه او د انسان عرض عام دی او هم کيدلی شي چې يو شی د يوې موضوع عرضي او د بلې موضوع ذاتي وي لکه (رنګين) چې د جسم خاصه ده او د سپين، تور او ددې په شان د نورو لپاره ذاتي بلل کيږي.

# پوښتنې

1. منطقي حد تعریف کړئ او توپیر یې له صرفي کلمې سره واضح کړئ.
2. تضمن د حد په اوصافو او شمول د حد په کمیت دلالت کوي. دا مطلب د مثالونو په ترځ کې شرحه کړئ.
3. د تضمن او شمول مختلف مراتب په یوه سلسله کې بې د جوهر او جسم له سلسلې څخه وښایاست.
4. د پینځه ګونو کلیاتو په اړه د ارسطو د نظر او فورفوریوس د نظر پر تفاوت خبرې اترې وکړئ.
5. جنس، نوع او فصل تعریف کړئ او پر ډولونو یې په تفصیل سره بحث وکړئ.
6. خاصه او عرض عام تعریف کړئ. او د خاصه مرکبه څو مثالونه ووایئ.
7. دا موضوع چې پینځه ګوني کلیات په جامع او مانع تعریفونو کې د استفادې وړ ګرځي د ګروپي کار په لړ کې یې مناقشه کړئ.
8. تاسې د پینځه ګونو کلیاتو څو سلسلې ترتیب او کلیات یې پکې مشخص کړئ.



14 – 11 - 2012

# پينځم لوست

## تعريف او تقسيم

### موخې:

1. د تعريف د تعريف وضاحت، اقسام او د هغه د صحت د شروطو پيژندل.
2. د معلوماتو تحليل د تقسيم او دهغه د اقسامو په اړه.
3. د تعريفاتو لپاره د زميني مساعدول او د محصلانو لپاره د متعددو ماهياتو تقسيمات.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړې.

### تعريف:

د هر علم تعريف يو له ډيرو ضروري عمليو څخه دی هر کله چې وغواړو يو علم ته لاس رسی پيدا کړو له هر څه نه لومړی ضرورت لرو چې د هغه علم د مربوطه کلماتو پر مفاهيمو او د اشياوو پر ماهياتو باندې پوه شو، نو تعريف د يو شي د ماهيت له بيانولو څخه عبارت دی، او ديوې کلمې د مفهوم تضمن او شمول په مخکني لوست کې توضيح شو. تضمن د هغو اوصافو له مجموعې څخه عبارت دی چې يو شی هغه ولري او سم تعريف د يوه شي د تضمن پلټنه ده: تعريف کولای شی چې مختلف ډولونه ولري لکه د لفظ له لغوي معنا څخه اجمالي تصور، د لفظ د معنا ماهيت، د شي تحقق او عدم تحقق او نور، خو هغه شی چې په منطق کې د بحث وړ ګرځي د شيانو د ماهيتونو حقيقي تعريف دی نه لغوي تعريف او نور، د يوه شي د ماهيت په حقيقي تعريف سره نه يوازې هغه مطلوب شی ډير ښه پيژنو بلکې د شي د ماهيت دا فهم د تعريف په واسطه نورو ته هم په آسانۍ سره منتقل کولای شو (۲٦: ۴۲-۴۵).

## د حقیقي تعریف اقسام

د منطق په علم کې يې حقيقي تعريف په څلورو ډولونو ویشلی دی:

**1. حد تام:** هر کله چې د يوه شي تعريف د جنس قريب او فصل قريب په واسطه وشي دې تعريف ته حد تام ويل کيږي. جنس قريب او فصل قريب د معرَّف ټول ذاتيات بيانوي او د تعريف د څلورو قسمونو په منځ کې پورتني تعريف ته تر ټولو کامل ويل کيږي، دا تعريف د معرَّف سره مساوی وي او (معرَّف او معرِّف) دواړه د دوو مترادفو لفظونو په شان دي. ددې تعريف دلالت په معرَّف باندې مطابقي دلالت دی لکه دا چې د انسان په تعريف کې وويل شی (حيوان ناطق) يا (جسم نامي حساس متحرک بالارادة و ناطق) لومړنی تعريف لنډ او ښه دی او دويم تعريف د هغه کسانو لپاره دی چې د حيوان مفهوم نه پيژني، د هغې نه غير ډير ګړيده دی.

**2. حد ناقص:** هر کله چې د يوه شي تعريف يوازې د فصل قريب او يا د فصل قريب او جنس بعيد په واسطه وکړی شي دې تعريف ته حد ناقص ويل کيږي څرنګه چې دا تعريف د معرَّف ټول ذاتيات نه بيانوي له دې وجهې نه د ناقص په نامه يادیږي، په دې تعريف کې د حد ناقص مفهوم له معرَّف سره مساوي نه وي او دلالت يې هم په معرَّف باندې مطابقي دلالت نه دی بلکې التزامي دی، دا تعريف معرَّف ته له ټولو شيانو څخه صرف ذاتي تمييز ورکوي نه دا چې د معرَّف ټول حقيقت بيان کړي د مثال په توګه که د انسان په تعريف کې وويل شي: (جسم نامي ناطق) چې په جنس بعيد (جنس نامي) او فصل قريب (ناطق) سره شوی دی، ځکه چې د حيوان فصل (حساس متحرک بالارادة) په هغې کې نه دی ذکر شوی بناءً د انسان مفهوم ته په کامله توګه وضاحت نه ورکوي. کله تعريف په حد ناقص بسيط سره کيږي چې هغه هم تام او کامل نه دی لکه د انسان تعريف په (...ناطق) سره.

**3. رسم تام:** هر کله چې د يوه شي تعريف د جنس او خاصې په واسطه وشي دې تعريف ته رسم تام ويل کيږي، څرنګه چې دا تعريف هم ذاتي او هم عرضي ته شامل دی نو په دې وجه د (تام) په نامه ياديږي لکه د انسان تعريف په (خندان حيوان) سره.

**4. رسم ناقص:** هر کله چې د يوه شي تعريف صرف د خاصې په واسطه وشي دې تعريف ته رسم ناقص ويل کيږي، له هغه ځايه چې دا تعريف يوازې عرضي ته شامل دی د (ناقص) په نامه ياد شوی دی، تعريف بالرسم که تام وي او يا ناقص مطلوب شي په سمه توګه نه معرفي کوي بلکې معرَّف صرف له نورو امورو څخه جلا کوي هغه هم په عرضي شکل نه په ذاتي شکل سره، په دې تعريف کې د معرِّف دلالت په معرَّف باندې التزامي دلالت دی لکه (خندان) د انسان په تعريف کې (۲۹:۱٦۴ـــ۱٦۷).

پورته څلور ګوني تعريفات د هغه ترتيب په ترڅ کې چې بيان شول اهميت لري خو منطقيان په دې امر هم تأکيد لري چې د اشياوو له فصلونو سره آشنايي سخت کار دی او اکثره فصلونه چې ذکر کيږي د شي له ذات څخه خارج خصوصيات بيانوي، په دې بنا که په تعريفاتو کې له خاصې څخه کار واخستل شي ښه کار دی خصوصاً هغه خاصه چې لازم بين د اخص په معنی وي په دې خاطر چې دا خاصه د مطلوب شي حقيقت په ښه توګه بيان کولی شي.

په پورته څلور ګونو تعريفاتو سربيره نور تعريفات هم وجود لري چې لاندې ورته اشاره کيږي.

**د تشبيه په واسطه تعريف** هر کله چې معرَّف شی د يوه بل شي سره چې له هغه سره مشابهت لري تشبيه او تعريف شي داسې تعريف ته تعريف په تشبيه سره وايي او په هغه صورت کې سم دی چې مخاطب په مشبه به کې د مشابهت له وجهې څخه

مطلع وي لکه د وجود تشبیه له نور سره چې په هغې کې د ذهني صورت تشبیه له یوه محسوس صورت سره ده او ذهن ته د هغې د ډېر تعرف سبب کیږي.

**د مثالونو په واسطه تعریف** هر کله که مطلوب شی د مثال یا مثالونو په راوړلو سره تعریف کړو په حقیقت کې مو د مثالونو په واسطه تعریف سر ته رسولی دی، په دې طریقه کې اکثراً د استقراء او پلټنې روش کارول شوی چې د تعریف وړاندې کوونکي ابتداء څو مثالونه د شي د تعریف لپاره ذکر کړي او وروسته په آسانې سره هغه شی تعریفوی، دا تعریف په حقیقت کې په رسم ناقص سره تعریف دی او د یوه شي مثال په واقع کې د هغې د خاصې نه غیر بل شی نه دی.

## د تعریف شرایط

د لاندې شرطونو موجودیت د یوه ښه او منطقي تعریف لپاره حتمي دی:

1. تعریف باید جامع او مانع وي یعنې د مصداق له لحاظه د تعریف د مورد له شي سره برابر راشي او یا په بل عبارت تعریف د عکس او طرد درلودونکی وي یعنې د معرَّف ټولو افرادو ته انعکاس ورکړي اوهم د پردو ماهیاتو ټول افراد طرد او دفع کړي د مثال په ډول په اعم سره تعریف له اغیارُو څخه مانع نه دی لکه د انسان تعریف په هغه حیوان سره چې په دوو پښو په لاره ځي. او تعریف په اخص سره د افرادو لپاره جامع نه وي لکه د انسان تعریف په هغه حیوان سره چې د علم طلب کوي، تعریف په مباین سره هم سم نه دی ځکه د دوو مباینو حمل یو پر بل نه شي کیدلی.

2. معرِّف باید د معرَّف څخه ډېر روښانه او ډېر واضح وي نه مساوي او یا کم له هغه څخه لکه چې د فرد په تعریف کې وویل شي (هغه عدد دی چې د زوج له عدد څخه یو واحد کم دی) فرد او زوج د وضوح او خفا له لحاظه یو له بل سره برابر

دی، او یا دا چې د نور په تعریف کې وویل شي (یوه نیروده مشابه له وجود سره) چې د وجود مفهوم د نور له مفهوم څخه ډیر خفي دی.

3. معرِّف باید عین معرَّف نه وي لکه تعریف د انسان په بشر سره د یوه حقیقي تعریف په عنوان نه د لفظي تعریف په حیث.

4. د معرِّف پیژندنه د معرَّف له پیژندنې سره مربوط نه وي په دې معنا چې د تعریف څخه پیژندنه صرف په هغه صورت کې ممکن وي چې د تعریف د مورد د شي پیژندنه حاصله شي او دا په غیر د دور او مصادره علی المطلوب څخه بل شی نه دی لکه د لمر تعریف په دې سره: (هغه ستوری دی چې د ورځې راخیژي) او ورځ خپله صرف د لمر پواسطه تعریفیږي.

**تقسیم:** هر کله چې یو کلي په ذهن کې د هغه په مربوطه جزئیاتو سره صنف بندي شي دا عملیه د منطقي تقسیم په نامه یاد وي لکه تقسیم د حیوان د هغه په مربوطه انواعو لکه انسان، الوتونکی، خزنده او نور، او که حیوان سر، تنې، لاس او پښو ته تقسیم کړو دې جدا کولو ته منطقي تقسیم نه بلکې طبیعي تقسیم وایي چې یو کل په هغه کې د هغې د مادې په اجزاوو تقسیمیږي.

که په تعریف کې د اوصافو بیانول او د یوه شي تضمن مطرح دی نو په تقسیم کې د یوه کلي حد، ذهني جلا کول د هغه په شمول او مربوطه افرادو مطرح دی، د یوه شي تقسیم د هغه په مربوطه افرادو دومره مهم دی لکه چې د یوه شي تعریف او پیژندنه مهمه ده، دا چې په تعریف کې مهمه نه ده چې د یوه شي ټول اوصاف ذکر شي په همدې شکل په تقسیم کې هم لازمه نه ده چې د یوه شي ټول افراد وشمیرو بلکې دا سمه ده چې د یوه شي ټولې شعبې او اقسام بیان شي، که جسم مطلق په ساه لرونکي او غیر ساه لرونکي سره تقسیم کړو، پدی مثال کې جسم مطلق «مقسم»

دی، ساه لرونکی د جسم مطلق په نسبت «قِسم» او دغیر ساه لرونکي په نسبت ورته (قسیم) ویل کیږي او غیر ساه لرونکی هم عین نومونه ځانته نیسي (۲۶:۴۵ـــ۴۷).

هغه اصول چې د تقسیم په عملیه کې باید په نظر کې ونیول شي یو یې د تقسیم جامع او مانع والی دی چې پکې د مَقسم هیڅ فرد بهر پاتې شوی نه وي څرنګه چې باید هیڅ پردی فرد هم تقسیم ته داخل شوی نه وي، بل اصل دادی چې باید تقسیم په یوه جهت او لحاظ صورت نیولی وي مثلاً یو شی له څو جهتونو د تقسیم قابل دی باید دقت وشي چې د هر تقسیم اقسام په خپل منځ کې خلط نه شي. دریم اصل دادی چې د یوه شي اقسام د یو بل مباین وي او هم یو له بل سره تداخل ونه لري. او څلورم اصل دادی چې په تقسیم باندې خاصه ثمره مرتبه شي.

## د تقسیم انواع:

تقسیم په مختلفو ډولونو کیږي:

1. د یوه کل تقسیم د هغې په اجزاوو لکه د اوبو تقسیم د طبیعي تجزیې په واسطه په اکسیجن او هایدروجن دوو عنصرونو باندې چې دا تقسیم د طبیعي په نامه هم یادوي.

2. **منطقي تقسیم**:په دې تقسیم کې یو کلي د هغې په جزئیاتو سره تقسیمیږي لکه د مادې تقسیم په جماد، نبات او حیوان. د طبیعي او منطقي تقسیم ترمنځ توپیر په دې کې دی چې په منطقي تقسیم کې د اجزاوو حمل پر مَقسم او د مَقسم حمل پر اجزاءو صورت نیسي مثلاً ویل کیږي چې جماد ماده ده اویا ماده جماد دی، خو په طبیعي تقسیم کې حمل صورت نه نیسي مثلاً نه ویل کیږي چې دیوال خونه ده او یا خونه دیوال دی.

## پوښتنې

1. تعريف تعريف کړئ او رابطه يې د شي له تضمن سره واضح کړئ.
2. د حقيقي تعريف د ډولونو يوازې نوم واخلئ او د هغې تر ټولو غوره ډول د څو مثالونو سره بيان کړئ.
3. حد او رسم په تام او ناقص سره تقسيم شوي، د تام والي او ناقص والي علتونه يې بيان کړئ.
4. ولې د منطقيانو له نظره د شي تعريف د هغه په خاصه لازم بين په معنی د اخص سره اهميت لري؟ شرحه يې کړئ.
5. د تعريف د صحت د شرطونو صرف نوم واخلئ او په دې لړ کې دور او مصادره على المطلوب واضح کړئ.
6. تقسيم تعريف کړئ او اصول يې په لنډه توګه ذکر کړئ.
7. طبيعي او منطقي تقسيم يو له بل سره څه توپير لري؟ مَقسم، قِسم او قسيم په يو مثال کې وښاياست.
8. محصلان دې د اشياوو مختلف ماهيات تعريف او وروسته دې د حد تام، حد ناقص، رسم تام او رسم ناقص اقسام پکې تشخيص کړي.
9. محصلان دې څو شيان راز راز تقسيمات کړي او بيا دې پکې طبيعي او منطقي اقسام تشخيص کړي.
10. محصلان دې پر اعم، اخص او مباين سره د تعريفونو څو بيلګې ذکر کړي او د هغو د هر يوه خطاګانې دې بيان کړي.

# دریم څپرکی

## منطقي قضیې

# لومړی لوست

## د حمليه قضيې تعريف او اجزاء

### موخې:

1. محصلان د قضيې تعريف او دهغې لومړني اقسام شرحه کړی شي.
2. د معلوماتو تحليل د حمليه قضيې په اړه او د هغې د حکم د صدق او کذب څرنګوالی.
3. محصلان د حمليه قضيې موضوع، محمول او رابطه حکميه تشخيص کړای شي.
4. محصلان د تمرين له اجراء نه وروسته، د توضيح او ددې درس د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

### د قضيې تعريف:

منطقي قضيه له هغه تام مرکب څخه عبارت ده چې کولای شو هغه لذاته په صدق يا کذب سره متصف کړو او يا په بل عبارت: منطقي قضيه د هر تام خبري کلام څخه عبارت ده چې په خپله د صدق يا کذب د اتصاف قابل وی. هدف له صدق نه د حکم مطابق والی دی له واقع او نفس الامر سره، او له کذب څخه هدف د حکم عدم مطابقت دی له هغه سره. قضيه د (عقد) په کلمې هم اطلاق کيږي، ځکه عقد يا د اعتقاد په معنا دی او يا د ارتباط په معنا او دعقد دا دواړه معنی ګاني له قضيې سره مناسبت لري، ددې لپاره چې قضيه هم د ويونکي د اعتقاد او باور وړ ده او يا په هغې کې دوه طرفه او دوه جزءه (موضوع او محمول يا مقدم او تالي) يو له بل سره مرتبط وي، او همدارنګه قضيه په مختلفو حيثونو او اعتباراتو سره په متفاوتو نومونو هم ياده شوې ده لکه خبر، قول جازم او حکم (۳۲ــ۸۹).



14 – 11 - 2012

د قضيې په تعريف کې (لذاته) يا (په خپله) قيد ضروري دی، ددې لپاره چې انشائيه جملې د خپل التزامي مدلول په اعتبار په صدق او کذب موصوفې کيږي، او په نتيجه کې دا انشائيه جملې د قضيې له تعريف څخه بهر او انشاء ته شاملې شي.

انشائيه جملات شايد په خپل التزامي مدلول د صدق او يا کذب احتمال ولري او دا چې د کلام تام خبري په تعريف کې د (لذاته) قيد راوړو په حقيقت کې مو تعريف د کلام انشائي د افرادو له ورود څخه ښه مانع ګرځولی دی.

او هم به مناسبه وي چې د (لذاته) قيد د انشاء په تعريف کې هم ذکر کړو چې په دې صورت کې به د انشائي کلام تعريف خپلو افرادو ته ډير جامع وي. او تام انشائي کلام دارنګه تعريف کيږي: (هغه دی چې د يوه انشائي لفظ په ويلو سره ايجاد شي چې لذاته د صدق او يا کذب احتمال و نه لري) د تام انشائي کلام التزامي مدلول د صدق او يا کذب احتمال لري مثلاً له يوه چا د هغه شي پوښتنه وکړی چې پرې پوهيږي يا هغه څوک چې احتياج نه لري له يوه چا نه پيسې وغواړي او يا يو څوک د هغه شي تمنا وکړي چې هغه شی لري، مونږ ددې جملاتو د التزامي مدلولاتو پر بنا هغه اشخاص کاذب ګڼو، او که بالعکس يو څوک د هغه شي پوښتنه وکړي چې پرې نه پوهيږي او يا يو څوک چې احتياج لري له يوه چا څخه پيسې وغواړي او يا هم يو څوک د هغه شي تمنا وکړي چې هغه شی نه لري د زمونږ له نظره دغه ټول کسان صادق دي. که يو څوک يو وخت ووايي: ای کاشکې ما يو موټر لرلی. دا انشائي جمله، التزامي دلالت لري په دې چې (زه موټر نه لرم) او که مونږ پوه شو چې هغه موټر لري نو ورته وايو (ته دروغ وايې) سره له دې چې د هغه د انشائيه جملې مطابق مدلول د هغه پر کذب دلالت نه کوي خو د هغې جملې التزامي مدلول د هغه پر کذب دلالت کوي (۲۹: ۲۰۵ــ۲۰۷).

دا چې يوه قضيه مؤلف او مركب كول دي او تاليف كله له مفرداتو (يا هغه شی چې د مفرد په حكم كې وي) څخه صورت نيسي او كله له قضاياوو څخه، د همدې منشأ په بنا منطقي قضيه يې په دوه ډولو ويشلې ده: حمليه قضيه او شرطيه قضيه. دادی مونږ ددې لوست په اوږدو كې له حمليه قضيې او د هغې له اجزاوو څخه په لنډيز سره شرحه كوو او شرطيه قضيه به هم د يوه جلا لوست په ترڅ كې توضيح كړو.

## د حمليه قضيې تعريف:

حمليه قضيه له دوو لارو د تعريف وړ ده: ١- د اجزاوو له لارې ٢- د هغې د معنا او ګټې له لارې.

حمليه قضيه له لومړۍ لارې له هغې قضيې څخه عبارت ده چې دوو مفردو ته انحلال ومومي او يا له دوو مفردو څخه تأليف شوې وي، لكه احمد محصل دی، محمود انجينر نه دی، حمليه قضيه له دويمې لارې له: هغې قضيې څخه عبارت ده چې په هغې كې په ثبوت د يوه شي د بل شي لپاره او يا په نفي د يوه شي له بل شي څخه حكم شوی وي، او يا د هغې په تعريف كې وايو: (ما حكم فيها بثبوت شئ لشيء او نفيه عنه) لكه د پورتنيو دوو مثالونو په شان چې په يوه كې احمد ته د محصل والي نسبت وركړ شوی او په بل كې له محمود څخه انجينر والی سلب شوی دی، په ياد شوو مثالونو كې د دواړو قضيو دواړه جزءه حقيقي مفردات دي خو په ځينو قضيو كې ممكنه ده چې د يوې قضيې اجزاء حكمي مفردات وي لكه چې وويل شي: (مضر بخيل سړی د چا د اعتماد وړ نه دی).

## د حمليه قضيې اجزاء:

هره حمليه قضيه درې جزءٔه لري:

**1. د قضيې موضوع** د محکوم عليه (يعنې په هغې حکم کيږي) په نامه ياديږي او د نحوې په علم کې ورته مسند اليه (هغې ته يې د څه شي نسبت ورکړی) هم وايي لکه د (ربا) مفرد چې په (ربا حرامه ده) حمليه قضيه کې د هغې موضوع ده.

**2. د قضيې محمول:** د محکوم (يعنې په هغې حکم کيږي) په نامه ياديږي او د نحوې په علم کې هغې ته مسند (نسبت ورکړ شوی شی) هم وايي لکه د (فلز) مفرد چې د (طلا فلزدی) په حمليه قضيه کې د هغې محمول دی.

**3. د قضيې رابطه** د نسبت حکميه په نامه ياديږي څرنګه چې د رابطې له نوم څخه څرګنده ده چې محمول او موضوع يو له بل سره مربوط کوي د (دی) لفظ چې په دي حمليه قضيه کې (صداقت غوره دی) د هغې رابطه ده.

## رابطه يا حکميه نسبتې دوه ډوله دی زماني او غير زماني:

زماني رابطه هغه ده چې په حکم سربيره د حکم په زمانه هم دلالت وکړي او د زماني د حکم نوع مشخصه کړي لکه د (و، او نه به وي) عبارتونه په لاندې حمليه قضيو کې (غلام محمد غبار آګاه مؤرخ و) او (د افغانستان هيواد به په امن وي). غير زماني رابطه هغه ده چې د محمول د ثبوت په دوام د موضوع لپاره او يا د محمول د سلب په دوام له موضوع څخه حکم وکړي او هيڅ ډول دلالت په مشخصې زماني باندې په هغې کې وجود ونه لري لکه چې ووېل شي: (يوسف قرضاوي عالم دی) چې د حکم په استمرار او دوام دلالت کوي او (خدای ﷻ شريک نه لري) چې د حکم د سلب په دوام دلالت کوي (۲۸: ۵۸ـــ۶۰).

په پښتو ژبه کې حکميه رابطه په قضيه کې وجود لري او ملفوظه وي لکه د (دی، و او وي) رابطې په پورتنيو حمليه قضيو کې، خو په عربي ژبه کې دا ډول رابطې اکثراً په قضيه کې موجودې او ملفوظې نه وي لکه چې په عربي ژبه ووېل شي: (زيد کاتب) او (بکرليس بکاتب) چې په هغوی کې حکميه رابطه ملفوظه نه ده او د منطق علماء د

هغې د افادې لپاره د (هو او هی) له مرفوعه ضمایرو څخه کار اخلي او هغوی یې د منطقي قضیو پر حکمیه رابطو باندې دال ګڼلی دي یعنې (زید هو کاتب) او (فاطمة هی لیست بکاتبة).



14 – 11 - 2012

## پوښتنې

1. قضيه تعريف کړئ او د هغې د حکم د صدق او کذب د احتمال څرنګوالی توضيح کړئ.
2. د قضيې په تعريف کې يې ولې د (لذاته) قيد يا د (په خپله) قيد علاوه کړی دی؟ شرح يې کړئ.
3. د تام انشائي کلام څو مثالونه ذکر کړئ چې په هغه کې د التزامي دلالت پر بنا د صدق او کذب احتمال وجود ولري.
4. د قضيې لومړني اقسام دوه ډوله دي، د هغې د حصر وجه په لنډه توګه ذکر کړئ.
5. حمليه قضيه له دوو لارو د تعريف وړ ده، تاسې دا دوه لارې په جلا تعريفونو کې وښاياست.
6. حقيقي او حکمي مفرد ته د هغې د مربوطه مثالونو په ترڅ کې وضاحت ورکړئ.
7. د حمليه قضيې موضوع، محمول او حکميه رابطه تعريف او د هغې پښتو او عربي مثالونه وښاياست.
8. زماني او غير زماني رابطه د مختلفو مثالونو په ترڅ کې بيان کړئ.
9. د درسي موادو او په ټولګي کې له موجوده اشياوو څخه په استفادې سره مختلفې حمليه قضيې جوړې کړئ او د هغوی د تعريف، اجزاوو، ايجاب او سلب په اړه خبرې اترې وکړئ.



14 – 11 - 2012

# دويم لوست

## د حمليه قضيې تقسيمات

### موخې:

1. محصلان د حمليه قضيې مَقْسمونه او قسِمونه يو له بل څخه تفکيک کړی شي.
2. محصلان د محصورې او موجّهه حمليې مختلف اقسام د هغې له مربوطه مثالونو سره تشخيص کړی شي.
3. محصلان د محصوره حمليه قضيې مختلف اقسام په هندسي شکلونو کې وښودلی شي .
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

په مخکني لوست کې ذکر شول چې حمليه قضيه درې جزءٔ لري: (موضوع، محمول او حکميه رابطه) او هم په هره حمليه قضيه کې د محمول ثبوت د موضوع لپاره او يا د محمول سلب له موضوع څخه له دريو احتمالاتو (وجوب، امتناع او امکان) څخه يو لري چې په ملفوظه يا غير ملفوظه توګه له قضيې څخه معلوميږي، دا چې له دې احتمالاتو څخه يوه ته لفظاً اشاره وشي، دې لفظي اشارې ته د قضيې جهت يا کيفيت وايي او پورته درې ګونو احتمالاتو ته يې د قضيې ماده ويلې ده. منطقيان حمليه قضيه د پورته احتمالاتو په نظر کې نيولو سره تقسيمات کوي، د موضوع له لحاظ تقسيم، د محصول له لحاظ تقسيم، د سلب د توري له لحاظ تقسيم او د جهت او د کيفيت

له لحاظه تقسیم. دادی مونږ په ترتیب سره د پورتني تقسیمات د هر یوه په شرحه کولو کې په لنډيز سره بحث کوو:

## اول: د موضوع له مخې د قضيې تقسيم:

حملیه قضیه د موضوع له مخې په څلور ډوله ده: شخصیه، طبیعیه، مهمله او محصوره.

**الف**: که د قضيې موضوع جزئي وي هغې ته شخصیه یا مخصوصه قضیه وايي لکه چې وویل شي: ابو نصر فارابيډ منطق معلم ثاني و، کابل د هندوستان پایتخت نه دی.

**ب**: طبیعیه: هغه قضیه ده چې په هغې کې د موضوع طبیعت په خپله پرته د افرادو له رعایت څخه په نظر کې نیول شوی وي لکه: جوهر جنس الاجناس دی، ناطق فصل دی، حیوان له جنس عالی څخه نه دی.

**ج**: مهمله: قضیه چې په هغې کې د موضوع طبیعت د افرادو له رعایت سره په نظر کې نیول شوې خو د افرادو کمیت پکې اهمال او پریښودل شوی وي. په دې قضیه کې نه توضیح کیږي چې هدف ټول یا څینې افراد دي لکه: مؤمن دروغجن نه دی، انسان همیشه په نقصان کې دی.

**د**: محصوره: هغه قضیه چې د موضوع طبیعت پکې په خپله نه بلکه د هغې د معین او محدودو افرادو د مراعات له حیثه په نظر کې نیول شوی وي یا دا چې وو ایو موضوع د کلیت او جزئیت له حیثه صریح او روښانه وي لکه: هر انسان متفکر دی، څینې خلک علماء نه دي (۲۸: ٦١ــ٦٢).

د حملیه قضیو په منځ کې صرف آخرنی ذکر شوې قضیه چې د محصورې یا مسورې په نوم یادیږي د منطیقانو د بحث او توجه وړ ده نه قضیه شخصیه، قضیه طبیعیه او قضیه مهمله.

شخصيه، طبيعيه او مهمله قضيې په منطق او علومو کې ددې لپاره د استفادې وړ نه ګرځی چې شخصي موضوعات په علومو کې د استدلال پايه او اساس نه شی کيدلای او هم د موضوع په طبيعت حکم شوی وي او يا دا چې د موضوع افراد په هغې کې مهمل ګرځول شوي وي د منطقيانو او علماوو د اعتناء او توجه وړ نه دي ګرځيدلې.

محصوره قضيه چې د منطقيانو مطلوب ده د کليت، جزئيت، ايجاب او سلب له مخې لاندې څلور ډولونه لري:

**1. محصوره موجبه کليه:** محصوره قضيې ته مسوره هم وايي، دا چې د هغې افراد تر حصر لاندې نيولی شي د محصوره په نامه يادېږي او دا چې د حرف (سور درلودونکې ده) چې د حصار او احاطې په معنی سره دی د مسوره په نامه يې ياده کړې ده، د محمول د ايجاب او ثبوت په خاطر موجبه ورته ويل شوې او د حرف سور کلی والي ورڅخه کليه جوړه کړې، ددې قضيې سور په عربي ژبه کې ((کل)) يا الف او لام تعريف دی او په پښتو ژبه کې ټول، هر، سراسر، او نور دي لکه دا قضيې: ان الانسان لفی خسر، کل نفس هالکة، ټولې سروې شنې دي، پوهان قدرتمن دي، سراسر دښمنان په غم کې دي او نور.

**2. محصوره موجبه جزئيه:** ددې قضيې سور په عربي ژبه کې بعض، فريق، طائفة جماعة او نور دي او په پښتو ژبه کې ځينې، ګيڼی، برخه او نور دي لکه دا قضيې: بعض الناس لبعض عدو، فريق من التلاميذ اذکياء، ځينې خلک صادق دي، ځينې محصلان کوشش کوونکي دي، ددې کتاب يوه برخه مغلقه ده او نور.

**3. محصوره سالبه کليه:** ددې قضيې سور په عربي ژبه کې لاشئ، لا واحد او په پښتو ژبه کې هيڅ يو، هيڅ شی او نور دي لکه چې وويل شي لاشئ من الشجر بحجر، ولا واحد من الانسان بحمار، هيڅ انسان له هيرولو څخه خالي نه دی، هيڅ شی له وخت نه ډير ارزښت لرونکی نه دی او نور.



14 – 11 - 2012

**4. محصوره سالبه جزئیه:** ددې قضیې سور په عربي ژبه کې لیس کل، بعض لیس او لیس بعض او په پښتو ژبه کې نه هر، نه ټول، داسې نه ده چې ټول، ځینې نه دی او نور لکه دا قضیې: لیس کل من لبس السلاح بشجاع، بعض الاقارب لیس بصدیق، بعض البلاد احق بالتوطن من غیره، ځینې خلک عالمان نه دي، نه هر چا چې ښکاره کړه زړور دې وي او نور.

## دویم: د قضیې تقسیم د محمول له مخې:

قضیه په دې لحاظ له دوه قسمه حمل سره رابطه لري، ذاتي حمل، شایع صناعي حمل، په لومړی حمل کې د موضوع ذاتیات پر موضوع حمل کیږي یعنې د هوهو حمل دی لکه د «حیوان حیوان دی» قضیه، انسان حیوان دی، انسان ناطق دی او نور. په دویم حمل کې د موضوع له ذاتیاتو نه خارجي صفات او کیفیات پر موضوع حمل کیږي او دا متعارف او شایع حمل دی لکه چې وویل شي: خندان انسان حیوان دی، ګلونه تازه دي او نور.

## درېیم: د قضیې تقسیم د حرف سلب له مخې:

قضیه د حرف سلب په اعتبار په دوه ډوله ده محصَله او معدوله.

**1. محصَله:** هغه حملیه قضیه ده چې موضوع یې یو وجودي او محصَل امر وی برابره خبره ده چې موجبه یا سالبه قضیه وی لکه دا قضیې: اوبه پاکې دي، اوبه پاکې نه دي په دواړو قضیو کې هم موضوع او هم محمول له حرف سلب څخه خالي دی.

**2. معدوله:** هغه حملیه قضیه ده چې په هغې کې موضوع او محمول او یا دواړه یو معدول امر وي یعنې په هغې کې د تحصل څخه عدول شوی وي برابره خبره ده چې قضیه موجبه وي او یا سالبه او په دری قسمه ده:

الف: معدولة الموضوع یا محصلة المحمول: هغه ده چې په هغې کې حرف سلب د موضوع جزء وي لکه: هر بې عقله ګمراه دی، هیڅ بې عقله کامیاب نه دی.



14 – 11 - 2012

ب: معدولة المحمول يا محصلة الموضوع: هغه ده چې په هغې کې حرف سلب د محمول جزء وي لکه: ظلم بې بقا دی، هيڅ ظلم بې جزا نه پاتې کيږي.
ج: معدلة الطرفين: هغه ده چې په هغې کې حرف سلب هم د موضوع جزء او هم د محمول جزء شوی وي لکه چې وواېو: هر بې سواده ناتوانه دی، هر ناپوه نابينا دی.

## څلورم: د قضيې تقسيم د جهت او کيفيت له مخې:

په هره قضيه کې کله چې د محمول نسبت موضوع ته او يا د محمول سلب له موضوع څخه په نظر کې ونيسو دا رابطه د هغو دواړو په منځ کې يا د وجوب په شکل ده يا د امتناع او يا هم امکان، دا د وجوب، امتناع او امکان کيفيت د قضيې د (مادې) په نامه يادوي. ماده په ځينو قضيو کې ملفوظه او په ځينو نورو کې مقدره ده، د ملفوظه مثال: هر انسان په حتمي يا ضروري توګه حيوان دی، سرو تل تر تله شنه وي. د مقدره مثال: هر مثلث درې زاويې لري (وجوب او ضرورت)، هر مربع درې زاويې لري (امتناع او استحالة)، هر شکل نسبت بل شکل ته يا وړوکی دی يا لوی (امکان او جواز). د منطقيانو له نظره هغه قضيې چې پکې د مادې ظاهرونکي الفاظ وجود ولري د (موجهه قضيو) په نامه يادېږي او هغه قضيې چې پکې ماده ملفوظه نه بلکې مقدره وي د (مطلقه قضيو) په نامه يې يادې کړې دي (۲۹: ۲۲۴ــ۲۳۷).

موجهه قضيې په دوه ډوله دي: بسيطه او مرکبه:

1. **موجهه بسيطه:** هغه ده چې دوو موجهو قضيو ته د انحلال وړ نه وي بلکې يوه موجبه جهت لرونکې قضيه يا يوه سالبه جهت لرونکې قضيه ده لکه دا دوه قضيې.
انسان بالضروره حيوان دی، جفت عدد بالضروره طاق نه دی.

2. **موجهه مرکبه:** هغه ده چې د دوو بسيطو موجهو په شکل بيان شي چې د هغې يوه موجبه او بله يې سالبه وي لکه: د هر ليکونکي ګوتې په حرکت کې دي نه دائماً،

چي د هغې د لومړي جزء معنى (د هر ليکوونکی ګوتي په حرکت کې دي) پر ايجاب مشتمله او د هغې د دويم جزء معنا (نه دائماً) سلبي ده.

موجهه بسيطه قضيه ډير اقسام لري چي تر ټولو معروف يې له ضروريه مطلقه، مشروطه عامه، دائمه مطلقه، عرفيه عامه، مطلقه عامه، ممکنه عامه او نورو څخه عبارت دي، او موجهه مرکبه قضيه هم ډير اقسام لري چي تر ټولو مشهوريې عبارت دي له مشروطه خاصه، عرفيه خاصه، وجوديه ضروريه، وجوديه لادائمه، وقتيه مطلقه، ممکنه عامه او نورو څخه. د بسيطه او مرکبه قضيو د اقسامو په اړه د زياتو معلوماتو د کسب د خواهش په صورت کې دې د منطق د کتابونو مطولاتو ته له هغې جملي څخه قطبي ته مراجعه وشي. د حمليه قضيې تقسيمات په لاندې چارټ او اشکالو کې وګورئ.




## د محصوره قضيو ښودنه په اشکالو کې:

1. **موجبه کليه:** هر افغاني آسيائي دی (لومړی شکل).
2. **سالبه کليه:** هيڅ انسان نبات نه دی (دويم شکل).

3. **موجبه جزئیه:** ځیني افغانان باسواده دي (دریم شکل).

4. **سالبه جزئیه:** ځیني فلزونه طلا نه دي (څلورم شکل).




لومړی شکل




دوهم شکل




دریم شکل




څلورم شکل

## پوښتنې

1. حمليه قضيه په سرکې په څو لحاظو د تقسيم وړ ده؟ يوازې نومونه يې واخلئ.
2. مخصوصه، طبيعيه، مهمله او مسوره قضيې تعريف او د هرې يوې مثال بيان کړئ
3. د منطق په علم او نورو علومو کې ولې يوازی محصوره حمليه قضيه د استفادې وړ ګرځي؟ دا موضوع د منطق له مطولو کتابونو څخه په استفادې سره تر بحث لاندې ونيسئ.
4. محصوره حمليه قضيه په څلورو قسمونو تقسيم شوی، تاسې ددې اقسامو هر يو د هغه د سورونو او مربوطه مثالونو په راوړلو سره شرحه کړئ.
5. ذاتي او صناعي حمل د مختلفو مثالونو په ذکر کولو سره واضحه کړئ.
6. د محصَلَة او معدوله قضيو د تسميې وجوه بيان کړئ.
7. موجهه قضيې ته يې ولې موجهه ويلې ده؟ د هغې دوه ګونې اقسام د يوه يوه مثال په راوړلو سره توضيح کړئ.
8. د مضمون د استاد په مرسته وجوب، امتناع او امکان شرحه کړئ.
9. څرنګه کولای شئ د حمليه قضيې مختلف تقسيمات په خپلو ابتکاري چارتونو او شکلونو کې وښاياست؟
10. د حمليه قضيې د مختلفو اقسامو مثالونه په غير مرتب ډول تحرير او د هغوی د هر يوه مَقسم، قِسم او قسيم د ګروپي کار په ترڅ کې پيدا کړئ.
11. د مثالونو په جوړولو او ښودنه کې له درسي موادو او په ټولګي کې له موجوده آشياوو څخه استفاده وکړئ.



14 – 11 - 2012

# دریم لوست

## شرطیه قضیه او د هغې اقسام

**موخې:**

1. محصلان د شرطیه قضیې تعریف او مختلف تقسیمات بیان کړی شي.
2. د شرطیه قضیې د مختلفو اقسامو د مختلفو مثالونو په اړه د معلوماتو تحلیل.
3. د قضیې د نقیض او د قضیې د نقیض د عکس او د هغې د مربوطه مثالونو تشخیصول.
4. محصلان د تمرین له اجراء څخه وروسته، د توضیح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

### د شرطیه قضیې تعریف:

**(ماحکم فیها بوجود نسبة بین قضیة و أخری اولا وجودها)** له هغې قضیې څخه عبارت ده چې په هغې کې په تعلق او تړاو د یوه نسبت له بل نسبت سره حکم شوی وي برابره خبره ده چې مذکور نسبت تبعیت او تلازم وی او یا بینونت او عناد.

شرطیه قضیه له دریو لحاظو د تقسیم وړ ده:

١– د نسبت د نوع له لحاظه چې په هغې کې وجود لري په دوه ډوله تقسیمیږي: متصله او منفصله.

٢– د کیفیت له لحاظه په موجبه او سالبه تقسیمیږي.

٣– د حالاتو او زمانو له لحاظه په شخصیه، مهمله او محصوره تقسیمیږي.

دا دی ددې تقسیماتو هر یو په لنډیز سره بیانوو.

## لومړی: د شرطيې تقسيم متصلې او منفصلې ته د نسبت د نوع له مخې چې په هغې کې وجود لري:

**الف: شرطيه متصله** هغه چې په هغې کې د دوو نسبتونو په ملازمت حکم شوی وي او دا په خپله په دوو ډولونو ويشل کېږي: لزوميه او اتفاقيه.

1. **لزوميه:** له هغې متصلې څخه عبارت ده چې د هغې د دوو طرفونو ترمنځ حقيقي اتصال او تلازم وجود ولري لکه: که اوبه ګرمې شي منبسطې کيږي.
2. **اتفاقيه:** له هغې متصلې څخه عبارت ده چې د هغې د دوو طرفونو ترمنځ حقيقي تلازم وجود نه لري خو په هغې کې اتفاقاً د تالي وجود د مقدم له وجود سره مقارن متحقق شوی وي (د شرطيې لومړی جزء مقدم او دويم جزء يې تالي دی) لکه: هر کله چې عثمان ټولګي ته راننوځي، درس له مخکې نه شروع شوی دی، البته عثمان تل ناوخته صنف ته راننوتی.

**ب: شرطيه منفصله** هغه ده چې په هغې کې د دوو نسبتونو په مغايرت او معاندت حکم شوی وي لکه احمد يا محصل دی يا زارع، او په درې ډوله ده: حقيقيه، مانعة الجمع او مانعة الخلو.

1. **منفصله حقيقيه:** له هغې قضيې څخه عبارت ده چې پکې د مقدم او تالي ترمنځ مغايرت او عناد په هغه اندازه ډېر وي چې نه يې ترمنځ جمع ممکنه وي او نه رفع لکه دا قضيه: عدد يا زوج دی او يا فرد.

2. **منفصله مانعة الجمع** هغه قضيه ده چې پکې د مقدم او تالي جمع يو له بل سره ممکنه نه وي خو رفع يې جايز وي يعنې دواړه فقط په صدق کې منافات ولري لکه: دا غاړکی يا طلا ده يا نقره ده.

3. **منفصله مانعة الخلو** هغه ده چې د مقدم او تالي رفع پکې ممکنه نه وي خو جمع يې ممکنه وي يعنې دواړه فقط په کذب کې د يوه بل متباين وي لکه: محمود يا

سترګي لري يا نابينا دی، په دې مثال کې ممکنه نه ده چې محمود نه سترګې ولري او نه نابينا وي خو ممکنه ده چې هم سترګې ولري او هم نابينا وي (۲۸:۶۷ـــ۶۹).

منفصله هم په دوه ډوله ده: لزومية او اتفاقيه د لومړی مثال طلا والی او سپین زر والی عقلاً منافات لري او دويم مثال: دا شخص يا محصل دی او يا متأهل.

## دويم: د شرطيي تقسيم د کيفيت له مخې موجبې او سالبې ته شامل دي

په شرطيه قضيه کې سلب او ايجاب څه ناڅه مغالطه ده ځيني اشخاص چې کله په هغې کې حرف سلب ويني فکر کوي چې هغه سالبه ده په داسې حال کې چې داسې نه ده، هر کله چې د مقدم او تالی ترمنځ ملازمت وجود ولري شرطيه موجبه ورته ويل کيږي که څه هم هغه دواړه سالبې هم وي لکه ( هر کله چې لمر را ونخيژي نو ورځ موجوده نه ده)، کله چې د مقدم او تالی ترمنځ ملازمت پورته شي شرطيه قضيه سالبه کيږي که څه هم هغه دواړه موجبې هم وي لکه (داسې نه ده چې هر وخت په آسمان کې وريځ وي نو باران دې وريږي).

## دريم: د شرطيي تقسيم د حالاتو او زمانو له مخې په دري ډوله دی:

## شخصيه، مهمله او محصوره

شرطيه قضيه د حالاتو او زمانو له مخې چې په هغې کې تلازم او يا عناد منځ ته راځي له پورته اقسامو څخه يو ځانته نيسي خو د طبيعيه په نوم څلورم قسم نه لري ددې لپاره چې يوه قضيه يوازې په هغه صورت کې طبيعيه ده چې د هغې موضوع، د هغې د مفهوم له هغه جهت څخه وي چې په ذهن کې دی.

**الف: شرطيه شخصيه**هغه قضيه ده چې په هغې کې په اتصال يا انفصال او يا د هغه د وونه د يوه نفي په يو مشخص زمان او حال کې حکم شوی وي، د شخصيه متصلې مثالونه دادي: که نن باران وورېده، بهر ته مه ځه. داسې نه ده چې که همدا اوس استاد حضور ولري، په تدريس دې مشغول وي. احمد په داسې حال کې چې د کور

دننه دی، یا ویده دی او یا ویښ دی. داسې نه ده چې په کوم وخت کې چې محصل په پوهنتون کې دی، یا ولاړ دی او یا په درس مصروف دی.

**ب: شرطیه مهمله:** هغه قضیه ده چې په هغې کې په اتصال یا انفصال او یا له هغو دوو څخه د یوه په نفی په یوه غیر مشخص حالت او زمان کې حکم شوی وي او په هغې کې دېته چې دا حکم په ټولو زمانو او حالاتو کې صادق دی یا په ځینې زمانو او حالاتو کې توجه نه وي شوې.

**د متصله مهملې مثالونه:** کله چې انسان بشپړه تجربه کسب کړه د ژوند په چارو کې نه ناکامیږي، داسې نه ده کله چې انسان دروغجن وي، غوره وي.

**د منفصله مهملې مثالونه:** جسم یا ساکن دی یا متحرک دی، داسې نه ده چې شی یا الماس وي یا طلا وي.

**ج: شرطیه محصوره:** هغه قضیه ده چې په هغې کې د حالاتو او زمانو د کمیت حکم بیان شوی او روښانه شوی وي چې آیا حکم د ځینو حالاتو او زمانو مربوط دی، یا په ټولو زمانو او حالاتو کې صادق دي، دا قضیه یا کلیه وي یا جزئیه.

**1. محصوره کلیه:** هغه قضیه ده چې په ټولو حالاتو او زمانو کې د حکم د اثبات او یا نفي بیانونکې وي.

**د متصله کلیې مثالونه:** هر کله چې خلک په پوره شوق د فضیلت پر حاصلولو پسې وي د سعادت لاره به طی کړي. هیڅکله داسې نه ده چې که انسان په سختیو کې صبر وکړي، په خپلو کارونو کې موفق نه شي.

**د منفصله کلیې مثالونه:** همیشه صحیح عدد یا زوج دی او یا فرد دی، هیڅکله داسې نه ده چې صحیح عدد یا زوج وي او یا په دوو د تقسیم وړ وي.

2. **محصوره جزئيه:** هغه قضيه ده چې پکې د حکم اثبات يا رفع په ځينو غير معينو زمانو او حالاتو پورې اختصاص لري (د شخصيه پر خلاف چې په هغې کې حکم په معيني زماني او يا معينو حالاتو پورې اختصاص لري).

**د متصله جزئيې مثالونه:** کله داسې وي چې: که انسان عالم وي، سعادتمند دی، داسې نه ده چې هر کله انسان لرې فکر کوي، خپل اهداف دې حاصل کړي.

**د منفصله جزئيې مثالونه:** کله انسان يا پروت دی او يا ناست دی (مثلاً په وړوکي موټرکې)، کله داسې نه ده چې انسان يا پروت وي او يا ناست وي (په هغه ځای کې چې کولای شي ودرېږي) (۲۹: ۲۱۶-۲۱۸).

**د شرطیه قضیې د تقسیماتو ښودنه (نمایش)**



## د قضاياوو احكام يا د هغوی ترمنځ نسبت:

د دوو موضوع ګانو د نسبتونو په اړه (د قضيې نقيض) او (د قضيې عكس) د بحث وړ ګرځي، محقق په ځينو مواردو كې په آسانۍ سره كولای شي د يوې قضيې د صدق د استناد له لارې د مطلوبې قضيې په كذب پوه شي او يا برعكس.

1- **د قضيې نقيض:** هر كله چې يوه قضيه يو مطلب ثابت او بله قضيه يې نفي كړي دغو دوو قضيو ته يو د بل نقيض ويل كيږي، لومړۍ قضيې ته (اصل) او دويمې ته (نقيض) وايي لكه دا دوه متناقضې قضيې چې د يوې له صدق څخه د بلې كذب افاده كيږي: احمد د شرعياتو د پوهنځي محصل دی، احمد د شرعياتو د پوهنځي محصل نه دی. منطقيان د دوو قضيو ترمنځ د تناقض د تحقق لپاره اته وحد ته لازمي ګڼلي چې دواړه قضيې به له اتو جهتو يو له بل سره يو وي او كه داسې نه وي په دغه صورت كې دغو دوو قضيو ته يو له بل سره متناقض نه ويل كيږي، د وحدتونو د تعداد په اړه اختلاف وجود لري: ځينو هغه يو او ځينو په ترتيب سره دوه، درې، اته، نهه، يوولس او دولس ګڼلی دي، اكثريت علماء په دې باور دی چې دا وحدتونه ټول د (موضوع او محمول) دوو وحدتونو ته راجع كيږي، هغو كسانو چې ددې وحدتونو تعداد يې يوولس ګڼلی دی (جزء او كل) او (قوه او فعل) يې په حقيقت كې يو يو وحدت نه بلكې دوه دوه وحدته حساب كړي دي، اته وحدته په لاندې ډول دی:

1. **په موضوع كې وحدت:** لكه: فريد دهقان دی. عمر دهقان نه دی، دا دواړه قضيې سره له دې چې يوه موجبه او بله سالبه ده، د هغوی ترمنځ تناقض وجود نه لري ددې لپاره چې په موضوع كې وحدت د تناقض د تحقق له شروطو څخه يو شرط دی خو په هغوی كې نه ليدل كيږي نو نقيض هم نه دی.

**2.په محمول کې وحدت:** لکه: کریم طالب العلم دی. کریم معمار نه دی. دا دوه قضیې هم یو د بل نقیض نه دي ځکه چې د لومړني محمول طالب العلم دی او د دویم معمار دی.

**3.په مکان کې وحدت** لکه: نعیم په کور کې دی. عابد په مسجد کې نه دی.

**4.په شرط کې وحدت:** لکه: انار خوړ دی که پوخ شوی وي. انار خوړ نه دی که نه وی پوخ شوي.

**5.په نسبت او اضافت کې وحدت** لکه: دا کتاب له علمي اړخه ګټور دی. دا کتاب له فلسفي اړخه ګټور نه دی.

**6.په جزء او کل کې وحدت:** لکه: خلک د دین عالمان دي (د هغوی ځینې). خلک د دین عالمان نه دي (هغوی ټول).

**7.په قوه او فعل کې وحدت:** لکه: دا ماشوم په حملیه او شرطیه قضیو پوهیږي (بالقوه). دا ماشوم په حملیه او شرطیه قضیو نه پوهیږي (بالفعل).

**8.په زمان کې وحدت** لکه: نن ورځ هوا ګرمه ده. د سبا هوا ګرمه نه ده.

**2. د قضیې عکس:** که د قضیې فرض د حکم په ځای او د قضیې حکم د هغې د فرض په ځای کیږدو په حقیقت کې مو د قضیې عکس منځ ته راوړی لکه چې وویل شي: هر کله مثلث متساوی الساقین وي د هغې د قاعدې دوه مجاورې زاویې یو له بل سره برابرې دي (اصلي قضیه). او: هر کله د یوه مثلث د قاعدې دوه مجاورې زاویې یو له بل سره برابرې وي هغه مثلث متساوی الساقین دی (د قضیې عکس).

عکس په دوه ډوله دی: عکس مستوي او عکس نقیض:

**الف:** په مستوي عکس کې موضوع د محمول په ځای او محمول د موضوع په ځای تغییر مکان کوي او که قضیه شرطیه وي نوبیا دا تغییر په مقدم او تالی کې صورت نیسي، لکه: هر انسان حیوان دی.

او د هغې عکس مستوي دادی: ځینې حیوانات انسانان دي. او: هر موجود که انسان وي نو حیوان به وي، چې د هغې عکس مستوي دادی: له موجوداتو ځینې که حیوان وی نو کیدای شي انسان وي.

**ب: عکس نقیض:** کله چې د قضیې نقیض معکوس کړو په حقیقت کې مو عکس نقیض لاس ته راوړی. نقیض او د هغې عکس د صدق او کذب له مخې یو له بل سره موافق وي لکه:

1. هر انسان حیوان دی (اصلي قضیه) صادق.
2. هیڅ انسان حیوان نه دی (نقیض) کاذب.
3. هیڅ حیوان انسان نه دی (عکس نقیض) کاذب.

د ایجاب او سلب، صدق او کذب موضوع په عکسونو کې د منطق د کتابونو د مفصلو بحثونو ورړ کړئیدلې چې د علاقمندی په صورت کې دې هغه کتابونو ته مراجعه وشي.

## پوښتنې

1. شرطيه قضيه تعريف کړئ او ووايئ چې له څو حيثو د تقسيم وړ ده.
2. شرطيه قضيه د هغه نسبت له مخې چې په هغې کې وجود لري په دوو ډولو وېشل کېږي: متصله او منفصله، تاسې دا دواړه قضيې يو له بله تفکيک او د هغوی د هرې يوې اقسام له مثالونو سره بيان کړئ.
3. په شرطيه قضيه کې سلب او ايجاب له مثال سره واضح کړئ.
4. د شخصيه، مهمله او محصوره شرطيه قضيو مختلف مثالونه د هغوی د اتصال او انفصال په نظر کې لرلو سره ذکر او شرحه کړئ.
5. د شرطيه قضيې متعدد تقسيمات له مختلفو حيثونو په خپلو ابتکاري چارټونو کې وښاياست.
6. د قضيې نقيض څه شی دی؟ په دوو متناقضو قضيو کې د اتو وحدتونو د موجوديت څرنګوالی شرحه کړئ.
7. د قضيې عکس تعريف کړئ او دهغې اقسام د مثالونو په راوړلو سره بيان کړئ.
8. محصلان دې د شرطيه قضيې مختلف اقسام او اجزاء په غير مرتب ډول د تختې پر مخ وليکي او وروسته دې د هغوی د هر يوه مَقسم تعيين او تشخيص کړي.



14 – 11 - 2012

# څلورم څپرکی

## استدلال یا حجت

# لومړی لوست

## حجت او د هغې اقسام

په دوو درسي ساعتونو کې دې تدریس شي

### موخې:

1. د حجت د لغوي او اصطلاحي معنى بيان د هغې له درې ګونو اقسامو سره.
2. د استقراء د تعريف او اقسامو بيان د تمثيل له حجت سره.
3. د منطقي قياس د تعريف بيان د هغې له اجمالي تقسيم سره د شكل او مادي له مخې.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت كسب كړي.

### د حجت تعريف:

حجت په لغت كې پرخصم او دښمن باندې د غلبې موندلو په معنى دى او په اصطلاح كې د معلومو تصديقاتو له مجموعې څخه عبارت دى چې د مجهول تصديق پيژندلو ته منتج شي. منطقيانو حجت په درې ډوله تقسيم كړى دى: استقراء، تمثيل او قياس.

1. **استقراء** په لغت كې د كلي د پلټنې په معنى ده او په اصطلاح كې د جزئياتو له انتقال څخه عبارت ده يوه كلي امر او عام قانون ته، او يا د دكتور محمد السيد الشامي المصري د كابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي د مخكني استاد د تعريف په بنا (الاستقراء كان يصعد من الجزئيات الى الكليات بعد التثبت من اشتراكهافى صفة معنية)(١٨: ٦).

ابو علي سيناى بلخي د استقراء د اصطلاحي تعريف په اړه ويلي دي: (استقراء د كلي شي پر طبيعت حكم كول دي چې د هغه كلي په ډيرو جزئياتو كې پيدا شوى

وي لکه چې په ډېرو حیواناتو کې لیدل کیږي چې د ژولو په وخت کې خپل فک اسفل (لاندینۍ زامه) خوځوي په دې اساس حکم کیږي چې د ټولو حیواناتو لاندینۍ زامه د ژولو په وخت کې په حرکت راځي).

د علیت قانون دی چې ټول استقراءات د هغې پر بنا صورت نیسي، دا قانون پر ټولو کائناتو او حادث عالم حکومت کوي او مونږ مطمئن کوي چې په دې منظمې نړۍ کې هیڅ حادثه د هغې له متناسب علت نه په غیر نه واقع کیږي او په هغې کې اتفاق او تصادف لاره نه لري، او الله تعالی دا نړۍ دارالاسباب جوړه کړې او دعلل او معلوماتو تر عام قانون لاندې یې تنظیم کړې ده او د همدې قانون له لارې مونږ عقلاً د ذات اقدس الهي په وجود معتقد کیږو او د همدې قانون له لارې ده چې مونږ د امورو په جزئیاتو کې پلټنه او تفحص کوو او د جزئیاتو د شباهتونو له لارې د هغوی په اړه کلي حکم ته رسیږو.

## منطقیانو استقراء په دوو ډولو وېشلې ده تام او ناقص:

**الف: تامه استقراء** هغه ده چې د یوه شي په ټولو افرادو کې تفحص وشي او حکم په ټولو کې مشاهده کړي او وروسته له هغې په کلي والي حکم شوی وي، او دا په هغه مواردو کې وي چې د کلي افراد او جزئیات محصور وي، دا قسم استقراء یقین لاسته راوړي او په فلسفه کې پکارول کیږي، په استقراء کې لومړی کلي په جزئیاتو یا اقسامو تقسیموو او وروسته له هغې څخه ټول په یوه حکم کې وینو لکه چې وو ایو: حیوان یا ناطق دی او یا غیر ناطق، خو ناطق او غیر ناطق حساس دي، نو حکم کوو چې: حیوان حساس دی، او یا هر یو له فلزاتو څخه لکه طلا، سپین زر، مس، سرب، فولاد او نور مشاهده او تجربه کړو او په هغو ټولو کې مو دا حکم لاس ته راوړی وي چې د حرارت د ورکولو په وخت کې منبسط کیږي نو کلي حکم د یوه قانون په عنوان صادروو چې: ټول فلزات د حرارت په واسطه منبسط ګیږی (۲۸: ۷۵ـــ۷۷).

**ب: ناقصه استقراء:** کله چې د یوه کلي اکثره جزئیات او افراد تر خپلې مشاهدې او تجربې لاندې ونیسو او وروسته کلي حکم د کل په اړه د یوه عام قانون په عنوان صادر کړو په دې صورت کې مو ناقصه استقراء سر ته رسولې ده. ناقصه استقراء یقیني علم نه افاده کوي، ددې لپاره چې د یوه کلي ټول افراد او جزئیات تر مشاهدې او تجربې لاندې نه دي نیول شوي او د کلي د حکم د نقض احتمال په پاتې افرادو کې وجود لري، څرنګه چې د ابو علی سینا په مخکنی مثال کې حیوانات له معلومې مشاهدې څخه وروسته د خوراک په وخت کې ټیټه زامه خو ځوي، کله چې تجربه د هغې په ټولو افرادو کې نه ده شوی نو په دې بنا د هغه کلي په حکم کې د نقض احتمال وجود لري او هغه حکم د یقیني علم مفید نه دی، څرنګه چې وروسته مشاهده شوې چې تمساح د خوراک په وخت کې خپل لاندینی فک نه خوځوي، نو دا قسم استقراء په فلسفه کې نه کارول کیږي او حتی په کامله استقراء کې یې هم ویلی دي چې د یقیني علم مفید نه ده او دهغې علت دادی چې د ځینو کلي ګانو د ټولو افرادو او جزئیاتو تفحص او تجربه له امکان څخه لرې ده نو د کلي حکم د نقض احتمال په هغه افرادو کې چې د مشاهدې مورد نه دي ګرځیدلی په خپل قوت باقي دی (۳۲:۱۴۲ــ۱۴۳).

**2. تمثیل:** د دوکتور الشامي المصري استاد د عبارت پر بنا (التمثیل کان یقیس الحکم علی جزئی لوجوده فی جزئی آخر کوجود الکون یستلزم وجود الخالق) (۶:۱۸). او یا دا چې ووایو: تمثیل د یوه جزئي په اړوند د حکم له اثبات څخه د بل جزئي لپاره عبارت دی د هغه شباهت په اساس چې د هغو دوو جزئي ګانو په منځ کې وجود لري لکه د متکلمینو دا قول چې: عالم مؤلف او مرکب دی نو حادث دی لکه چې کور هم مؤلف او حادث دی، او یا د فقهاوو دا قول چې نبیذ حرام دي ددې لپاره چې: خمر حرام دي او د خمر (شرابو) د حراموالي علت د هغه مسکر والی دی

او دا خصوصیت په نبیذو کې هم لیدل کیږي. اصولي قیاس (د اصول فقه قیاس) په حقیقت کې یو تمثیل دی. دوه نوعه مشابهت د تمثیل د حجت اساس تشکیلوي.

**الف:** هغه شباهت چې د دوو تنو ترمنځ مثلا د احمد او محمود د عمر، قد، وزن، قیافې، عقایدو او فکرونو له مخې موجود دی، نو که احمد ذکي او هوښیار وي کولای شو د محمود په ذکاوت او هوښیاری هم حکم وکړو.

**ب:** شباهت په نسبت کې چې دوو امرونو ته یې یو له بل سره ارتباط ورکړی دی مثلا د ریاضي په دې نسبت کې $(\frac{15}{5}=\frac{12}{24})$ چې د هغوی په صورتونو او مخرجونو کې ظاهري همرنګوالی نه لیدل کیږي خو هغه نسبت چې د ۱۲ او ۴ ترمنځ له یوه طرفه او د ۱۵ او ۵ ترمنځ له بل طرفه وجود لري هغه دوې افادې یې یو له بل سره مرتبطې کړی دي.

هر تمثیل د څلورو جزءونو درلودونکی وي او دې اجزاءو او ارکانو خپل ځانته د متکلمینو او فقهاوو له نظره مختلف نومونه خپل کړي دي.

1) . هغه رکن چې حکم یې د هغه د غیر لپاره ثابت شوی لکه خمر په تیر شوي مثال کې چې د اصل، مثال او شاهد په نومونو یادیږي.
2) . هغه رکن چې حکم د هغه لپاره ثابت شوی لکه نبیذ په تیر شوي مثال کې چې د فرع، تمثیل او غائب په نومونو یادیږي.
3) . قدر مشترک یا وجه شبه چې په اصل او فرع دواړو کې وجود لري او د علت، وصف او جامع په نومونو یادیږي.
4) . د تمثیل نتیجه یا نوی نفس حکم چې د شبیه په اړه یې صدور پیدا کړی دی او د حکم، فتوی او قضیې په نومونو یادیږي.

د تمثیل حجت چې د علم النفس او روانشناسي د علماوو د ډیرې استفادې وړ ګرځیدلی د ناقصې استقراء په شان هم د یقیني علم مفید نه دی ددې لپاره چې د تمثیل د دوو طرفونو ترمنځ مشترک ټول خصوصیات او اوصاف په ښه توګه نه شي تفحص کیدلی.

3. **قیاس:** قیاس په لغت کې اندازه کول او د یوه شي تقدیر له بل شي سره دی او په اصطلاح کې څرنګه چې یوه کاتب ویلي دي عبارت دی له: (قول مؤلف من قضایا متی سلمت لزم عنها لذا تها قول آخر) او یا دا چې ووایو: (قیاس له یو بل سره د دوو نغښتو قضیو څخه عبارت دی چې د هغوی له قبول څخه د دریمې قضیې قبول لازمیږي) او یا په لنډ عبارت سره: قیاس عبارت دی د کلي امر له تطبیق څخه د هغې پر جزئیاتو.

قیاس له دوو مقدمو (صغری او کبری) او یوې نتیجې یا مطلوب څخه تالیف کیږي، د صغری تقدم پر کبری او یا برعکس کوم خاص مشکل نه ایجادوي (۲۲-۵۹).

د منطقي قیاس لاندې دوه مثالونه په غور سره ولولئ او د هغو دواړو ترمنځ توپیرونه تشخیص کړئ.

**الف:**

1) سقراط انسان دی = د صغری مقدمه.
2) او هر انسان فاني دی = د کبری مقدمه.
3) نو سقراط فاني دی = نتیجه.

**ب:**

1) که دا جسم فلز وي د برق هادي دی = مقدمه.
2) لکن د برق هادي نه دی = مقدمه.
3) نو دا جسم فلز نه دی = نتیجه.

په پورتنیو دوو مثالونو کې دوه تفاوته وجود لري:

1. په لومړي مثال کې د مقدمتینو په متن کې نتیجه عیناً ذکر شوې نه ده په داسې حال کې چې په دویم مثال کې د مقدمتینو په متن کې نتیجه په لږ تغییر سره (سلب او ایجاب) کټ مټ ذکر شوې ده.

2. په لومړي مثال کې دویمه مقدمه له لومړۍ مقدمې سره د واو (او) عاطفه په واسطه یو ځای شوې په داسې حال کې چې په دویم مثال کې دویمه مقدمه د لکن په کلمې سره له لومړۍ مقدمې څخه استثنا او جدا شوې ده.

ددې توپیرو په اساس د منطق علماوو قیاس د صورت او شکل له مخې (د مقدمتینو د جمله بندۍ ظاهري طرز) په دوو ډولو وېشلی دی: اقتراني او استثنائي. څرنګه چې یې هغه د مادې د اولیه مبانیو له حیثه په پینځو ډولو وېشلی دی چې ژر به د (پینځه ګونو صنعتونو یا فنونو) تر عنوان لاندې په لنډه توګه بحث شي.

## پوښتنې

1. حجت په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ او د اقسامو یې یوازې نومونه واخلئ.
2. استقراء څه شی ده؟ او رابطه یې د علیت له قانون سره توضیح کړئ.
3. تامه او ناقصه استقراء یو له بل سره څه توپیر لري؟ د هرې یوې مثالونه بیان کړئ.
4. تمثیل یا اصولي قیاس تعریف کړئ او د مشابهت دوه شکلونه یې بیان او ارکان یې ذکر کړئ.
5. منطقي قیاس په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ او د هغې نتیجه په یوه مثال کې وښایاست.
6. محصلان دې استقراء، تمثیل او منطقي قیاس د درېو جلا جلا ګروپونو په لړ کې جراو بحث کړي او د خپل کار نتیجه دې د ټولګي د تختې پرمخ ولیکي.
7. منطقیانو قیاس د صورت او مادې له حیثه تقسیم کړی، تاسې ددغو دوو تقسیمونو اقسام ذکر کړئ.
8. د درسي موادو او په ټولګي کې دې له موجوده اشیاوو څخه په استفادې سره د تامې او ناقصې استقراء، کلامي، فقهي، ادبي او ریاضي تمثیل او منطقي قیاس لپاره مختلف مثالونه راوړل شي او مناقشه دې وکړی شي.



14 – 11 - 2012

# دويم لوست

## حملي اقتراني قياس

### موخې:

1. د حملي اقتراني قياس تعريف، حدونو، مقدمتينو، شکلونو او د هغه د منتج او عقيمو ضربونو پېژندنه.
2. د حملي اقتراني قياس د انتاج د عمومي او خصوصي شرطونو تحليل.
3. د څلورګونو اشکالو په منتجه ضروبو کې د انتاج د عمومي او خصوصي شرطونو د تطبيق د څرنګوالي توضيح.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

**د اقتراني قياس تعريف:** هغه قياس چې د هغې مقدمتين د عاطفه واو په واسطه يو له بل سره يو ځای شوي او عين نتيجه د هغې له عين مادې او صورت سره د مقدمتينو په متن کې نه وي ذکر شوې د اقتراني قياس په نامه يادېږي لکه:

سقراط عقلمن دی = صغری.

او هر عقلمن فکر کوونکی دی = کبری.

نو سقراط فکر کوونکی دی = نتيجه.

اقتراني قياس دوه ډولونه لري: حملي اقتراني او شرطي اقتراني.

**حملي اقتراني قياس:** دا قياس څرنګه چې له نامه څخه يې معلومېږي له حمليه قضاياوو څخه تشکيل او تأليف کيږي، پورتنی مثال د حملي اقتراني قياس دی.

يو حملي اقتراني قياس معمولاً له درېو قضيو څخه ترکيب کيږي: د صغری مقدمه، د کبری مقدمه او نتيجه د مثال په ډول په دې قياس کې:



14 – 11 - 2012

انور دروغجن دی = صغری.

او هر دروغجن د اخلاقو فاقد دی = کبری.

نو انور د اخلاقو فاقد دی = نتیجه.

د دریو لفظونو یا عبارتونو له تکرار څخه پورتنۍ درې قضیې جوړې شوې چې دا درې لفظونه یا عبارتونه (انور، دروغجن او د اخلاقو فاقد) دي، دا درې لفظونه یا عبارتونه په منطق کې د حدودو په نامه یادوي، (انور) حد اصغر دی چې په لومړۍ قضیه کې موقعیت لري او دا قضیه یې ددې لپاره چې په هغې کې حد اصغر موجود دی د (صغری) په نامه یاده کړې ده، (د اخلاقو فاقد) حد اکبر دی چې په دویمه قضیه کې موقعیت لري او هغه قضیه د (کبری) په نامه یادیږي، (دروغجن) حد اوسط دی چې د ډیر اهمیت درلودونکی دی او په دواړو مقدمو کې ذکر شوی دی. د قیاس په نتیجه کې حد اصغر د موضوع په ځای او حد اکبر د محمول په ځای راځي. حد اصغر وړوکې ساحه په اختیار کې لري په داسې حال کې چې حد اکبر د لویې دایرې درلودونکی دی، حد اوسط د (اصغر او اکبر) دواړو په منځ کې د افرادو له لحاظه ځای لري. په لاندې شکل کې درې واړه حدونه ښودل شوي دي(٢٦: ٧٢ـــ٧٤).




حد اوسط په مقدمتینو کې ثابت ځای نه لري او په مختلفو قیاسونو کې د مختلفو موقعیتونو درلودونکی دی، ارسطو د حد اوسط ددې تغییر مکان په نظر کې لرلو سره

قیاس په دریو شکلونو وېشلی او وروسته حکیم جالینوس وربانديې څلورم شکل ور زیات کړی دی چې لاندې څلور واړه شکلونه په لنډ ډول توضیح کوو:

1. په لومړي شکل کې حد اوسط محمول وي په صغری کې او موضوع وي په کبری کې.

2. په دویم شکل کې حد اوسط په صغری او کبری دواړو کې محمول وي.

3. په دریم شکل کې حد اوسط په صغری او کبری دواړو کې موضوع وي.

4. په څلورمشکل کې حد اوسط په صغری کې موضوع او په کبری کې محمول وي.

**د قیاس د منتج والي شرطونه:** د قیاس د انتاج لپاره یوه سلسله شرطونه د هغې په څلورو شکلونو کې وجود لري چې د هغوی د نشتوالی په صورت کې به قیاس په قطعي توګه عقیم وي، ددې شرطونو د ځینو موجودیت په عامه توګه په ټولو اشکالو کې حتمي دی په داسې حال کې چې ددې شرطونو ځینې نور د قیاس په هر شکل پورې په جلا توګه مختص دی.

### عمومي شرطونه:

د لاندې دریو شرطونو موجودیت د قیاس په هر شکل کې حتمي امر دی.

1. د مقد متینو د یوې د کلي‌والي او د دواړو د جزئي والي په صورت کې قیاس عقیم وي ددې لپاره چې د کلي څخه جزئي ته حکم سرایت کوي، لاندې قیاس ددې شرط فاقد او عقیم دی لکه: ځینې خلک پوه دي. او ځینې پوهان مالداره نه دي.

په دغو دوو مقدمو باندې کومه نتیجه نه مرتب کیږي ځکه د لومړۍ قضیې ځینې پوه خلک شاید له هغو ځینې پوهانو څخه غیر وي چې په دویمه قضیه کې ذکر شوي دي.

2. د مقدمتینو د یوې موجبه والی، او که دواړه سالبې وي حد اوسط چې د حکم رابط دی له حد اصغر او حد اکبر هیڅ یوه سره به متحد نه شي او په نتیجه کې به د

اکبر څخه د اصغر د ثبوت او یا سلب واسط هم و نه ګرځي. لاندې قیاس ددې شرط فاقد او عقیم دی: ځینې خلک پوه نه دي، او هیڅ یو له خلکو جماد نه دی.
دا قیاس کومه نتیجه نه لري ددې لپاره چې «خلک» چې اوسط دی نه له «جماد» او نه له «پوه» سره اتحاد لري نو پوه والی نه د جماد لپاره اثباتیږي او نه له هغې څخه سلب ګرځی.

3. هر کله چې صغری سالبه وي نو شرط دادی چې باید کبری کلي وي او که کبری جزئي وي نو قیاس به عقیم وي ددې لپاره چې په جزئي کبری کې اکبر د اوسط د ځینې افرادو لپاره ثابت شوی او د هغې د ځینو نورو لپاره نه ثابتیږي نو لاندې قیاس ددې شرط فاقد او عقیم دی: هیڅ یو له خلکو جماد نه دی. ځینې خلک پوه دي.
په دې مثال کې (خلک) حد اوسط دی، د جماد سره اتحاد نه لري او د هغوی ځینې له پوه سره هم متحد نه دي نو حد اوسط د حکم واسط نه دی شوی (۲۲: ۵۹ـــ۶۰).

## خصوصي شرطونه

په صغری او کبری کې د حد اوسط د موقعیت په نظر کې نیولو سره منطقي قیاس ځانته ځلور شکله غوره کوي چې مخکې په لنډه توګه توضیح شول، ددې ځلور ګونو اشکالو هر یو په شپاړس قسمونو او ضربونو تقسیم شوي دي، ددې لپاره چې هر شکل د دوومقدمو درلودونکی دی او هره مقدمه ممکنه ده چې موجبه وي او یا سالبه او په خپل ذات کې د هغوی هره یوه کولای شي چې کلیه وي او یا جزئیه، هره مقدمه ځانته ځلور حالتونه نیولی شي، او ځلور ضرب د ځلورو له شپاړسو (قسمونو) سره مساوي کیږي خو له ځلورګونو اشکالو څخه د هر شکل د انتاج لپاره د همغه شکل ځینې اختصاصي شرطونه وجود لري او په یوه شکل کې د خصوصي شروطو د نه پوره والي په نسبت د همغه شکل یو زیات شمیر ضروب غیر منتج ګرځي. دادی

لاندې د هر شکل خصوصي شرطونه د هغه له منتجو ضروبو سره یو ځای په ترتیب سره بیانوو:

## لومړی شکل:

هر کله چې حد اوسط په صغری کې محمول او په کبری کې موضوع وي قیاس لومړی شکل ځانته غوره کوي او ددې شکل د انتاج لپاره د کیفیت له لحاظه د صغری ایجاب او د کمیت له مخې د کبری کلیت شرط ګڼل شوی دی او د لومړي شرط په مراعاتولو سره څلور ضربه او د دویم شرط په رعایتولو سره اته ضربه بې نتیجې پاتې کیږي او ددې شکل له شپاړسو ضروبو څخه صرف څلور ضربه منتج او په لاندې ډول دي:

1. دواړه مقدمې موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه موجبه کلیه ده لکه:

هر وابنه (شینکی) نبات دی (موجبه کلیه).

او هر نبات لوېپدونکی دی (موجبه کلیه).

نو هر وابنه لوېپدونکی دی (موجبه کلیه).

2. صغری موجبه جزئیه او کبری موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه موجبه جزئیه ده لکه:

ځیني حیوانات ماهیان دي.

او هر ماهي په اوبو کې ژوند کوي.

نو: ځیني حیوانات په اوبو کې ژوند کوي.

3. صغری موجبه کلیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه کلیه ده لکه:

هر پوه توانا دی.

هیڅ توانا فریب کار نه دی.

نو: هیڅ پوه فریب کار نه دی.

4. صغری موجبه جزئیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه جزئیه ده لکه:

ځینې حیوانات الوتونکي دي.

هیڅ الوتونکی په اوبو کې ژوند نه کوي.

نو: ځینې حیوانات په اوبو کې ژوند نه کوي.

## دویم شکل:

هر کله چې حد اوسط هم په صغری کې او هم په کبری کې د قضیې محمول وي قیاس دویم شکل ځانته نیسي او ددې شکل د انتاج لپاره شرط دی چې الف: صغری او کبری د ایجاب او سلب له مخې یو له بل سره مختلفې وی. ب: کبری کلیه وي. د لومړی شرط په رعایت سره اته ضربه او د دویم شرط په لیدو سره څلور ضربه بې نتیجې ګرځي او ددې شکل ځانته څلور منتج ضربونه په لاندې ډول پاتې کیږی:

1. صغری موجبه کلیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه کلیه ده لکه: هر پوه د خلکو خوښ دی.

هیڅ بې عقله د خلکو خوښ نه دی. نو: هیڅ پوه بې عقله نه دی.

2. صغری سالبه کلیه او کبری موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه کلیه ده لکه: هیڅ فلز د اشتعال (اور اخیستلو) وړ نه دی.

هره ونه د اشتعال وړ ده. نو: هیڅ فلز ونه نه دی.

3. صغری موجبه جزئیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه جزئیه ده لکه: ځینې هندسي اشکال مثلث دي.

هیڅ مثلث مربع نه دی. نو: ځینې هندسي اشکال مربع نه دي.

4. صغری سالبه جزئیه او کبری موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه جزئیه ده لکه: ځینې خلک آسیایي نه دي.

هر افغان آسیايي دی. نو: ځیني خلک افغان نه دي.

## درېیم شکل:

هر کله چې د قیاس په دواړو مقدمو کې حد اوسط موضوع وي قیاس درېیم شکل ځانته غوره کوي او د انتاج لپاره يې شرط دی: الف: صغری موجبه وي ب: یو له مقدمتینو به کلیه وي چې د لومړي شرط په نظر کې نیولو سره اته ضربه او د دویم شرط په نظر کې نیولو سره دوه ضربه بې نتیجې ګرځي او ځانته شپږ ضربه نتیجه ورکوي چې په لاندې ډول ذکر کیږي.

1. صغری او کبری دواړه موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه موجبه جزئیه ده لکه: هر عقلمن سعادتمن دی.

هر عقلمند باسواده دی. نو: ځیني سعادتمندان باسواده دي (استثناء).

2. صغری موجبه جزئیه او کبری موجبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه موجبه جزئیه ده لکه: ځیني فلزات قیمتي اجسام دي.

او هر فلز ویلي کیدونکی دی. نو : ځیني قیمتي اجسام ویلي کیدونکي دي.

3. صغری موجبه کلیه او کبری موجبه جزئیه وي، په دې ضرب کې نتیجه موجبه جزئیه ده لکه: هر عاقل قوت لرونکی دی.

ځیني عاقلان رښتیاویونکي دي. نو: ځیني قوت لرونکي رښتیاویونکي دي.

4. صغری موجبه کلیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه جزئیه ده لکه: هر بخل کوونکی سخت زړی دی.

هیڅ بخل کوونکی عاقل نه دی. نو: ځیني سخت زړي عاقل نه دي (استثناء).

5. صغری موجبه جزئیه او کبری سالبه کلیه وي، په دې ضرب کې نتیجه سالبه جزئیه ده لکه: ځیني مینه وال با وفا دي.

هيڅ مينه وال هيروونکی نه دی. نو: ځينې با وفايان هيرونکي نه دي.

6. صغری موجبه کليه او کبری سالبه جزئيه وي، په دې ضرب کې نتيجه سالبه جزئيه ده لکه: هر محقق پوه دی.
ځيني محققان مسلمانان نه دي. نو: ځينې پوهان مسلمانان نه دي.

## ځلورم شکل:

هر کله حد اوسط په صغری کې موضوع او په کبری کې محمول وي قياس ځانته ځلورم شکل غوره کوي او ددې شکل د انتاج لپاره دوه شرطه وجود لري:

**الف:** د صغری او کبری ايجاب د صغری له کلي والي سره.
**ب:** په ايجاب او سلب کې د صغری او کبری اختلاف، د هغوی د يوې له کلي والي سره، ددې شرطونو په رعايت سره ددې شکل يوولس ضربه عقيم او پاتې پينځه ضربه يې منتج دي (۲۸: ۸۴ــ۸۹).

1. صغری او کبری موجبه کليه وي، په دې ضرب کې نتيجه موجبه جزئيه ده لکه:
هر انسان حيوان دی.
هر ناطق انسان دی. نو: ځينې حيوانات ناطق دي (استثناء).

2. صغری موجبه کليه او کبری موجبه جزئيه وي، په دې ضرب کې نتيجه موجبه جزئيه ده لکه: د اخلاقو د هر فاسدوونکي ليرې کول لازم دي.
ځيني کتابونه د اخلاقو فاسدوونکي دي. نو: ځينې هغه شيان چې ليرې کول يې لازم دي کتابونه دي.

3. صغری سالبه کليه او کبری موجبه کليه وي، په دې ضرب کې نتيجه سالبه کليه ده لکه: هيڅ فلز د اشتعال وړ نه دی.
هره اوسپنه فلز دی. نو: او سپنه هيڅ د اشتعال وړ نه ده.

4. صغرى موجبه کليه او کبرى سالبه کليه وي، په دې ضرب کې نتيجه سالبه جزئيه ده لکه: هر مقلد ضعيف الاراده دى.

هيڅ مقلد انسان د خپل نفس احترام نه کوي. نو: ځينې ضعيف الاراده ګان د خپل نفس احترام نه کوي (استثناء).

5. صغرى موجبه جزئيه او کبرى سالبه کليه وي، په دې ضرب کې نتيجه سالبه جزئيه ده لکه: ځينې حيوانات انسانان دي.

هيڅ نبات حيوان نه دى. نو: ځيني انسانان نبات نه دى.

**ضروري يادونه:**

د يوه قياس د نتيجې د جوړولو لپاره د نتيجې په موضوع کې حد اصغر او د نتيجې په محمول کې حد اکبر ځاى پر ځاى کېږي او هم د کميت (کليت او جزئيت) او کيفيت (ايجاب او سلب) له مخې نتيجه د مقدمتينو د اخس او ارذل تابع ده يعنې که له مقدمتينو څخه يوه سالبه وي نتيجه هم سالبه کېږي او که د مقدمتينو څخه يوه جزئيه وي نو نتيجه به هم جزئيه وي.

## پوښتنې

1. اقتراني قياس تعريف او د هغې د تسميې وجه له مثال سره ذکر کړئ.
2. د صغرى، کبرى، حد اصغر، حد اکبر او حد اوسط د تسميې وجوه د اقتراني قياس د يوه مثال په ترڅ کې ذکر کړئ.
3. دا چې حملي اقتراني قياس څلور شکلونه لري، علت يې څه شی دی؟ مسأله د هغې د هر شکل د مثال په ښودلو سره توضيح کړئ.
4. د درېو مجموعي شرطونو موجوديت د قياس د هر شکل د انتاج لپاره حتمي دی، تاسې دا شروط د هغې د انتاج د دلائلو له ذکر کولو سره شرحه کړئ.
5. ولې د حملي اقتراني قياس هر شکل د شپاړسو ضربونو او قسمونو درلودونکی دی؟ موضوع په غور سره وپلټئ او محاسبه يې کړئ.
6. د لومړي او دويم شکل د انتاج خصوصي شروط د هغې د منتجه قياسونو د مثالونو په ښودنې سره بيان کړئ.
7. د درېيم او څلورم شکل د انتاج خصوصي شروط د هغې د منتجه قياسونو د مثالونو په ښودنې سره ذکر کړئ.
8. محصلان دې د حملي اقتراني قياسونو په واسطه خو ادعاګانې ثابتې کړې او په هغو کې دې د انتاج عمومي او خصوصي شروط تشخيص کړي.
9. محصلان دې د حملي اقتراني قياسونو د منتجه ضروبو لپاره نوي مثالونه ايجاد او ذکر کړي.

# دريم لوست

## شرطي اقتراني قياس او استثنائي قياس

په دوو درسي ساعتونو کې دې تدريس شي

### موخې:

1. د شرطي اقتراني قياس د تعريف، اشکالو، ضروبو او نوروو اقسامو بيان.
2. د استثنائي قياس د تعريف، او په متصل استثنائي قياس کې د مقدم او تالي د وضع او رفع د څرنګوالي او اقسامو بيان.
3. په منفصل استثنائي قياسونو کې (مانعة الجمع او مانعة الخلو) د مقدم او تالي د وضع او رفع د څرنګوالی بيان.
4. محصلان دې د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

### د شرطي اقتراني قياس تعريف:

هغه قياس چې مقدمتين يې شرطيه قضيې يا شرطيه او حمليه قضيې وي د شرطي اقتراني قياس په نامه ياديږي. شرطي اقتراني قياس هم د حملي اقتراني قياس په شان د څلورګونو اشکالو درلودونکی او هر شکل يې د شپاړسو ضروبو درلودونکی دی، د شرطي اقتراني قياس منتجه او غير منتجه ضروب هم د حملي اقتراني قياس د منتجه او غير منتجه ضروبو په شان دي خو په لاندې درېو موردو کې شرطي اقتراني قياس له حملي اقتراني قياس سره متفاوت او متمايز دی:

**الف:** د قضيې لومړی حد په حملي اقتراني قياس کې د (موضوع) په نامه او د قضيې دويم حد د (محمول) په نامه ياديږي په داسې حال کې چې د قضيې لومړی حد په شرطي اقتراني قياس کې د (مقدم) په نامه او د قضيې دويم حد د(تالي) په نامه ياديږي.



14 – 11 - 2012

**ب:** په حملي اقتراني قياس کې د حد اوسط د موقعيت پر بنا د قضيتينو د موضوع او يا محمول پر ځای د قياس څلورګوني اشکال تشکيلېږي. خو په شرطي اقتراني قياس کې د څلورګونو اشکالو تشکيل د حد اوسط د موقعيت په اساس د قضيتينو د مقدم يا تالي پر ځای صورت نيسي د مثال په ډول هرکله چې حد اوسط په صغری کي تالي او په کبری کې مقدم وي د شرطي اقتراني قياس لومړی شکل تشکيلېږي.

او هر کله چې حد اوسط په دواړو کې د تالي په ځای موقعيت نيولی وي د هغه دويم شکل تشکيلېږي او په هغه صورت کې چې حد اوسط په دواړو مقدمو کې د مقدم په ځای راغلی وي د هغې درېيم شکل وجود ته راځي او هر کله چې حد اوسط د لومړي شکل برعکس په صغری کې مقدم او په کبری کې تالي وي د هغه څلورم شکل تشکيلېږي.

**ج:** د هر يوه په مربوطه ضروبو او څلورګونو اشکالو سربيره، شرطي اقتراني قياس د نورو مختلفو اقسامو درلودونکی هم دی او ددې مختلفو اقسامو علت له شرطيه، او شرطيه او حمليه مختلفو قضيو څخه ددې قياس د تأليف څرنګوالی دی، ددې لپاره چې امکان لري ددې قياس دواړه مقدمې شرطيه متصله او يا شرطيه منفصله وي او هم امکان لري د هغې لومړی مقدمه شرطيه متصله او دهغې دويمه مقدمه شرطيه منفصله وي او دهغې د بالعکس امکان هم وجود لري او يا هم ممکنه ده د کبری مقدمه حمليه قضيه او د صغری مقدمه متصله يا منفصله شرطيه قضيه وي. او په منفصله شرطيه قضيه کې هم درې احتماله وجود لري چې منفصله حقيقيه وي يا منفصله مانعة الجمع او يا هم منفصله مانعة الخلو، په دې ځای کې ددې ټولو اقسامو له ذکر څخه صرف نظر کوو خو ددې قياس صرف دوه مثالونه لاندې ذکر کوو چې له هغوی څخه يو له شرطيه متصله قضيو څخه مؤلف شوې او بل يې د منفصله شرطيه قضيو څخه مرکب شوېدی.

1. هر کله چې لمر راختلی وي نو ورځ موجوده ده (صغری).

او هر وخت چې ورځ موجوده وي عالم روښانه دی (کبری).

نو: که لمر راختلی وي عالم به روښانه وي (نتیجه).

2. هر عدد یا زوج دی او یا فرد دی (صغری).

تل هر عدد یا فرد او یا منقسم دی متساوییَنو ته (کبری).

نو: هر عدد یا زوج او یا غیر منقسم دی متساوییْنو ته (نتیجه).

ارسطو یوازې د حملي اقتراني قیاس او استثنائي قیاس په اړه بحث کړی او د شرطي اقتراني قیاس په نامه څه شی د هغه په کتابونو کې نه لیدل کیږي خو وروسته شیخ ابوعلی ابن سینای بلخي د لومړي ځل لپاره د هغه په اړه بحث وکړ او متأخرینو منطقیانو هم له هغه څخه پیروي وکړه او په دې مورد کې یې مفصل بحثونه سر ته رسول (۲۸:۸۹ــ۹۰).

ابوالعلاء عفیفي په خپل معروف کتاب (المنطق التوجیهي) کې د شرطي اقتراني قیاس لپاره پینځه قسمونه ذکر کړي دي. دادي مونږ د ګرانو محصلانو د معلوماتو د زیاتوالي لپاره په عربي ژبه ددې قیاس پینځه ډولونه له مثالونو سره په لاندې ډول وړاندې کوو:

آما القیاس الاقتراني الشرطي، فتحته خمسة انواع، لانه إما ان یترکب:

۱. من قضیتین شرطیتین متصلتین، و هوالقیاس الاقتراني الاتصالي،

مثل: إن طلعت الشمس انتشرت حرارتها.

و إذا انتشرت حرارة الشمس انتعش الحیوان والنبات.

.: اذا طلعت الشمس انتعش الحیوان و النبات.

او:

۲. من قضیتین شرطیتین منفصلتین، وهوالقیاس الا قتراني الا نفصالي،

مثل: إما أن یکون المکان مضیئا او مظلماً.



14 – 11 - 2012

و المضئ إما مضئ بنور طبيعى او بنور اصطناعى.

.: إما أن يكون المكان مظلماً او مضيئا بنور طبيعى او اصطناعى.

او:

٣. من شرطية متصلة و حملية، مثل:

إذا كان الانسان حراً فى افعاله كان مسؤ لا عنها.

المسؤل عن آفعاله يستحق العقوبةعند و قوع المخالفة منه.

.: إذا كان الانسان حراً فى افعاله يستحق العقوبةعند وقوع المخالفة منه.

او:

4. من شرطية منفصلة و حملية، مثل:

كل جسم قابل للحركة.

كل قابل للحركة إما متحرک بنفسه او متحرک بغيره.

.: كل جسم إما متحرک بنفسه ام متحرک بغيره (متحرک بنفسه كا لحيوان).

او:

5. من شرطية متصلة و شرطية منفصلة، وله نتيجتان : إما شرطية متصلة آو شرطية منفصلة، مثل:

اذا ظهرت على يدمدعى النبوة معجزة فهو صادق.

مدعى النبوة إما صادق او كاذب.

.: إذا ظهرت على يد مدعى النبوة معجزة فهو غير كاذب.

او: اما ان تظهر على يد مدعى النبوة معجزة اويكون كاذباً (22: 70—71).

## د استثنائي قياس تعريف:

هغه قياس چې په مقدماتو کې يې بالفعل نتيجه يا د نتيجې نقيض ذکر شوی او د هغه مقدمې د لکن او يا د هغې په شان الفاظو په واسطه استثناء شوې وي، د استثنائي قياس په نامه ياديږي، دوه شرطيه او حمليه قضيې ددې قياس په تأليف کې سهم (برخه)

لري چې حمليه قضيه چې د قياس دويمه قضيه ده د لكن، اما، خو او داسې نورو الفاظو په واسطه له شرطيه قضيې څخه استثناء كيږي. استثنائي قياس دوه څانګې لري: متصل او منفصل.

## الف: متصل استثنائي قياس

هغه دی چې له يوې لزوميه متصله شرطيه قضيې او يوې حمليه قضيې څخه تأليف شوې او د متصله شرطيې له دوو جزءونو څخه يو (مقدم او يا تالي) په هغه كې يا وضع او يا رفع شي، په دې قياس كې د صغرى د مقدم له وضع، د صغرى د تالي وضع د نتيجې په حيث قبوليږي خو د مقدم له رفع د تالي رفع د نتيجې په حيث نه قبليږي، او هم د تالي له وضع، د مقدم وضع او يا رفع د نتيجې په حيث وجود ته نه شي راتللی خود تالي له رفع د مقدم رفع د نتيجې په حيث قبليدلی شي او دا څلور حالته چې د هغه دوه حالته منتج او نور دوه حالته يې عقيم دي د استثنائي قياس په لاندې مثالونو كې تطبيقيږي.

1. كه آسمان وريدلی وي ځمكه لمده ده.
لكن آسمان وريدلی دی.
نو ځمكه لمده ده.

دا قياس په آخر كې نتيجه لري او د مقدم له وضع د تالي وضع د صادقې نتيجې په حيث قبليږي.

2. كه آسمان وريدلی وې ځمكه لمده ده.
لكن آسمان نه دی وريدلی.

په دې صورت كې نتيجه د تالي وضع او يا د تالي رفع نه شي كيدلای او قياس عقيم دی ځكه چې نه شو ويلای (نو ځمكه لمده نه ده) ځكه ممكنه ده ځمكه په نورو علتونو سره لمده شوې وي او همدارنګه نه شو ويلی (نوځمكه لمده ده) ددې لپاره

چې د ځمکې د لندوالی یو علت باران دی او هغه نفی او رفع شوې او د لندوالي نور علتونه هم ممکنه ده چې د حکم په زمانه کې وجود و نه لري.

3. که آسمان وریدلی وي ځمکه لمده ده.

لکن ځمکه لمده ده.

په دې صورت کې چې تالی وضع شوې بیا هم قیاس نتیجه نه ورکوي یعنې د تالي له وضع د مقدم وضع لاس ته نه راځي څرنګه چې د مقدم رفع هم د نتیجې په حیث قبلیدلی نه شي ځکه چې نه شو ویلی (نو آسمان وریدلی دی) ځکه ممکنه ده چې ځمکه د بل علت په واسطه لنده شوې وي او همدارنګه نه شو ویلی (نو آسمان وریدلی نه دی) ځکه ممکن د ځمکې د لندوالي علت د باران وریدل وي.

4. که آسمان وریدلی وي ځمکه لمده ده.

لکن ځمکه لمده نه ده.

نو آسمان نه دی وریدلی.

دا قیاس په پای کې نتیجه لري او د تالی له رفع د مقدم رفع د صادقې نتیجې په حیث قبول شویده ددې لپاره چې ځمکه لنده نه ده او دا پخپله ددې دلیل دی چې آسمان نه دی وریدلی او د لمدوالي نورو علتونو هم وجود نه درلود.

## ب: منفصل استثنائي قیاس

هغه دی چې له منفصلې شرطیه قضیې او حملیه قضیې څخه تألیف شوې وي، څرنګه چې منفصله قضیه درې ډولونه لري: حقیقیة، مانعة الجمع او مانعة الخلو نو دا قیاس هم ځانته درې ډولونه لري: (۱۸: ۵۶ــ۵۷).

1. که لومړی مقدمه منفصله تامة العناد او حقیقیة وي استثناء ځانته لاندې څلور حالته غوره کوي:

**الف:** د مقدم له وضع د تالي رفع نتیجه کیږي.

**ب:** د تالي له وضع د مقدم رفع نتیجه کیږي.

**ج:** د مقدم له رفع د تالي وضع نتیجه کیږي.

**د:** د تالي له رفع د مقدم وضع نتیجه کیږي.

دا منتج څلور حالته په لاندې مثال کې تطبیق شوي دي.

1. اوس یا ورځ ده یا شپه ده.
لکن ورځ ده.
نو شپه نه ده.

2. اوس یا ورځ ده یا شپه ده.
لکن شپه ده.
نو ورځ نه ده.

3. اوس یا ورځ ده یا شپه ده.
لکن ورځ نه ده.
نو شپه ده.

4. اوس یا ورځ ده یا شپه ده.
لکن شپه نه ده.
نو ورځ ده.

2. که لومړی مقدمه منفصله مانعة الجمع وي له دوو جزءونو څخه د یوه وضع د بل جزء د رفع نتیجه ورکوي خو له دوو جزءونو څخه د یوه رفع د بل جزء وضع د نتیجي په حیث نه قبلیږي.

په لاندې مثال کې هغه تطبیق کوو.

1. عمر یا په افغانستان کې دی یا په سعودي کې دی.
لکن په افغانستان کې دی.

نو په سعودي کې نه دی.

2. عمر یا په افغانستان کې دی یا په سعودي کې دی.

لکن په سعودي کې نه دی.

نو په افغانستان کې دی.

چې په پورتنیو دواړو حالتونو کې له دوو جزءونو څخه د یوه وضع د بل جزء رفع د نتیجې په حیث لاس ته راغلی ده خو په لاندې دوو حالتونو کې قیاس عقیم دی او له دوو جزءونو څخه د یوه رفع د بل جزء وضع د نتیجې په حیث لاس ته نه راځي.

3. عمر یا په افغانستان کې دی یا په سعودي کې دی.

لکن په افغانستان کې نه دی.

نو په سعودي کې دی.

4. عمر یا په افغانستان کې دی یا په سعودي کې دی.

لکن په سعودي کې نه دی.

نو په افغانستان کې دی.

ددې قیاس دا دوه حالته ددې لپاره عقیم دي چې امکان لري عمر نه په افغانستان کې وی او نه په سعودي کې وي بلکې په پاکستان کې وي.

3. که لومړی مقدمه منفصله مانعة الخلو وي له دوو جزءونو څخه د یوه رفع د بل جزء د وضع نتیجه ورکوي خو له دوو جزءونو څخه د یوه وضع د بل جزء د رفع په حیث نتیجه نه قبلوي، هغه په لاندې مثال کې تطبیق کوو.

1. احمد یا سترګې لري یا نابینا دی.

لکن سترګې نه لري.

نو نابینا دی.

2. احمد یا سترګې لري یا نابینا دی.

لکن بينا دی.

نو سترګې لري.

په پورتنيو دوو مثالونو کې قیاسونه منتج دي او له دوو جزءونو څخه د يوه رفع د بل جزء د وضع په حيث نتيجه په لاس راغلې ده خو په لاندې دوو مثالونو کې قیاسونه عقيم دي.

3. احمد يا سترګې لري يا نابينا دی.

لکن سترګې لري.

نو بينا دی.

4. احمد يا سترګې لري يا نابينا دی.

لکن نابينا دی.

نو سترګې نه لري.

پورته دوه قياسونه ددې لپاره عقيم دي چې ممکن احمد سترګې ولري خو د هغه سترګې نابينا وي او يا حتمي نه ده چې احمد نابينا وي نو حتماً به سترګې نه لري ځکه ممکنه ده احمد هم سترګې ولري او هم نابينا وي يعني سترګې يې بينائي ونه لري.

## د استثنائي قياس د انتاج شروط:

د استثنائي قياس د صحت لپاره لاندې درې شرطونه حتمي دي:

**الف:** که لومړۍ مقدمه متصله شرطيه وي حتمي ده چې موجبه وي، پرته له هغه د اتصال او ملازمت په رفع حکم کيږي او قياس عقيم ګرځي.

**ب:** او هم شرط دی چې متصله شرطيه، لزوميه متصله وي، پرته له هغه د يوه له وجود يا عدم څخه د بل وجود يا عدم ثابتيږي او هم شرط دی چې منفصله شرطيه، منفصله عناديه وي.

**ج:** ددې قياس شرطيه قضيه بايد کليه وي ترڅو د نتيجې صدق تعميم ومومي. (١٠:٦٦ــ٦٧).

## پوښتنې

1. شرطي اقتراني قیاس تعریف او درې ګوني توپیرونه یې د حملي اقتراني قیاس سره ذکر کړئ.
2. شرطي اقتراني قیاس د څلورګونو اشکالو او له مربوطه ضروبو څخه یې سربیره د نورو مختلفو اقسامو درلودونکی هم دی. ددې مختلفو اقسامو د وجود علت بیان کړئ.
3. ابوالعلاعفیفي د شرطي اقتراني قیاس لپاره پینځه قسمونه بیان کړي، تاسې د هغو اقسامو د هر یوه مثالونه ذکر کړئ.
4. استثنائي قیاس تعریف کړئ او ووایئ چې ولې په دوو ډولونو: (متصل او منفصل) ویشل کیږي؟
5. په متصل استثنائي قیاس کې د مقدم له وضع څخه د تالي وضع د نتیجې په حیث قبلیږي، خو د مقدم له رفع څخه د تالي رفع د نتیجې په حیث لاس ته نه راځي، دا خصوصیت یې په څلورو مربوطه مثالونو کې بیان کړئ.
6. منفصل استثنائي قیاس تعریف کړئ، د حقیقیه منفصله څلور حالته له مثالونو سره پکې شرحه کړئ.
7. که د منفصل قیاس لومړۍ مقدمه، منفصله مانعة الجمع وي نو منتجه او غیر منتجه حالات یې له مثالونو سره توضیح کړئ.
8. که د منفصله قیاس لومړۍ مقدمه، منفصله مانعة الجمع وي نو کوم حالات پکې تصور کیدلی شي؟ د هغې د انتاج او عدم انتاج څرنګوالی د مربوطو مثالونو په ښودنې سره یې مناقشه کړئ.
9. د استثنائي قیاس د صحت شروط ذکر کړئ او د هغوی د هر یوه علت بیان کړئ.

10. محصلان دې د شرطي اقتراني قياس او استثنائي قياس مطابق خو نوې ادعاګانې اثبات کړئ.
11. له درسي موادو او موجوده اشياوو څخه د مثالونو په ښودنه کې په درسي ساحه کې استفاده وکړي او په عمل کې يې پلي کړي.

# څلورم لوست

## د قیاس لواحق

### موخې:

1. محصلین وکولای شي هغه څه توضیح کړي چې د قیاس د لواحقو تر عنوان لاندې یې مطالعه او څیړي.
2. د مرکب قیاس بیان له دواړو ډولونو سره.
3. د خلف قیاس توضیح او د جوړښت څرنګوالی یې.
4. محصلین وکولای شي چې د تمرین له اجراء کولو وروسته د دې درس د توضیح او د مطالبو د عملي کولو مهارت او توان تر لاسه کړي.

د منطقي قیاس په اړه مطالب تر دې ځایه پای ته ورسېدل مګر د اسلامي ختیځ ځینې منطقیان او د کتابونو مؤلفین د قیاس څه ناخه فروع او توابع د "قیاس د لواحقو" تر عنوان لاندې تر څېړنې لاندې نیسي چې مونږ یې په لاندې ډول په مختصر شکل بیانوو، د "قیاس د لواحقو" په بحث کې د قیاس مختلف توابع او فروع ذکر کېږي چې د ټولو راوړل په دې مختصر کتاب کې له توان څخه وتلی کار دی نو لدې کبله د هغو له جملې څخه یواځې مرکب قیاس او خلف قیاس تر څېړنې لاندې نیسو.

### مرکب قیاس:

هغه قیاس دی چې دواړه مقدمې یې بالذات ثابتې نه وي او د اثبات لپاره یې نور علمي دلائل هم وجود ونلري، نو محقق د یو ه قیاس پر جوړښت شروع کوي او وروسته د بل قیاس مقدمه جوړوي او په لوازمو کې د یوه له وجود څخه د بل لازم وجود ثابتوي او په پای کې خپل اخري مطلوب ته رسېږي، یا د ابن سینا بلخي په تعبیر " چې یوه مسئله په ډېرو قیاسونو سره جوړه شي"(۲:۳۸) او په بل عبارت مرکب قیاس هغه

قیاس دی چې له دوو مقدمو څخه زیاتې ولرې لکه چې وویل شي: "دغه سړی انسان دی" او " هر انسان حیوان دی" او "هر حیوان حساس دی" او " هر حساس جزئي امور درک کولای شي" او په پای کې نتیجه داسې لاس ته راوړی شو چې : "دغه شخص جزئي امور درکولای شي".

## د مرکب قیاس ډولونه:

مرکب قیاس په دوه ډوله دی: منفصل النتیجه او متصل النتیجه.

**۱. منفصل النتیجه:** له هغه مرکب قیاس څخه عبارت دی چې د مقدمتینو اوله نتیجه یې د قیاس په منځ کې ذکر شوې وي، لکه د یو ه سړي د یوه معین وزن د ثبوت لپاره داسې مرکب قیاس ترتیبوو:

دغه شخص انسان دی.

او هر انسان حیوان دی.

نو دغه شخص حیوان دی.

او هر حیوان جسم دی.

او هر جسم د مخصوص وزن لرونکی وي.

نو دا شخص د مخصوص وزن لرونکی دی.

په پورتني مرکب قیاس کې د اولي قیاس نتیجه (چې دا شخص حیوان دی) د قیاس په منځ کې ذکر شوې ده.

**۲. متصل النتیجه:** له هغه مرکب قیاس څخه عبارت دی چې د مقدمتینو اوله نتیجه د قیاس له منځ څخه حذف شوی وي او مقدمې یې په متصل او پرله پسې ډول ذکر شوې وي، د مثال په توګه پورتنی قیاس په داسې شکل جوړوو:

دغه شخص انسان دی.

او هر انسان حیوان دی.

او هر حیوان جسم دی.

او هر جسم د مخصوص وزن درلودنکی وي.

نو دغه شخص د مخصوص وزن درلودنکی دی.

مرکب متصل النتیجه قیاس زیاتره په ریاضي علومو کې په کار وړل کېږي.

## خلف قیاس:

خلف د "خاء" په فتحې سره د محال او باطل قول په معنی دی، لکه څرنګه چې په خلف قیاس کې د یو ه شي ثبوت د ابطال النقیض په بنې راځي او دا پخپله له مستقیمې لارې څخه د تخلف په معنی دی نو له همدې امله دغه ډول قیاس د خلف قیاس په نامه یادېږي او د مستقیم قیاس په مقابل کې قرار لري.

په خلف قیاس کې مطلوب د ابطال النقیض په وسیله سرته رسېږي او یا د محقق نصیرالدین طوسي په عبارت: " هر کله چې د مطلوب اثبات د هغه د نقیض د ابطال په وسیله وشي، هغه ته قیاس خلف ویل کېږي" (۲۰:۳۱۹).

خلف قیاس د صورت او شکل له مخې د مرکب قیاس په شان له یوه اقتراني او یوه استثنائي قیاس څخه منځ ته راځي، کله چې وغواړو حملیه قضیه د اقتراني قیاس په وسیلې ثابته کړو، یو اقتراني او بل استثنئي قیاس سره ترتیبوو او د اقتراني قیاس نتیجه د استثنایي قیاس اوله مقدمه ګرځوو او له دواړو قیاسونو څخه نتیجه لاس ته راوړو.

د عالم د حدوث په مورد کې د متکلمینو له طرفه داسې مستقیم قیاس جوړوو:

عالم تغیېر خوړونکی دی.

هر تغیېر خوړونکی حادث وی.

نو عالم هم حادث دی.

خو که د عالم حدوث د عالم د قدم د بطلان له لارې اثبات شي نو دا به يو خلف قياس وي، اول يو اقتراني قياس جوړېږي بيا د هغه نتيجه د استثنايي قياس د اولې مقدمې په حيث قرار نيسي او د دې دواړو قياسونو نتيجه له مطلوب څخه عبارت دی، دغه مطلوب چې "عالم حادث دی" د ابطال النقيض له لارې داسې ثابتوو:

## اقتراني قياس:

که چېرې عالم حادث نه وي نو قديم به وي.

که قديم وي نو محال لازمېږي.

نو که عالم حادث نه وي نو محال لازمېږي (نتيجه)

وروسته دا نتيجه د استثنايي قياس لپاره مقدمه جوړ وو او وايو:

## استثنايي قياس:

که چېرې عالم حادث نه وي محال لازميږي.

مګر محال صحيح نه دی.

نو د عالم نه حادث والی هم سم ندی، يعني "عالم حادث دی"(نتيجه او مطلوب) (۱۴۲:۳۲).

خلف قياس د لومړي ځل لپاره زنون ايليائی د استدلال له اقسامو څخه شمېرلی دی او وروسته د نورو منطقيانو او حکماوُو لخوا منل شوی او خپور شوی دی.

خلف قياس په مستقيمه توګه د نتيجې اثبات نه کوي، بلکې د ابطال النقيض له لارې هغه ثابتوي، د ارسطو لخوا خلف قياس له شرطي قياسونو څخه شمېرل شوی دی او شرطي قياسونو ته زياته توجه نه کوي، نو په همدې سبب خلف قياس تههم زياته توجه نه کوي، د ارسطو ځينو پيروانو خلف قياس يو بسيط استثنايي قياس بللی دی، د هغوی له جملې

څخه افضل الدين کاشاني چې په ٦٦٧هــ ش کې تير شوی دی په دې اړه داسې وايي: "خلف قياس استثنايي متصل قياس دی چې "مقدم" يې د مطلوب نقيض ۍ او مقدم ته يې د "تالي" د لزوم بيان د يوې حمليې قضيې په واسطه ثابت شوی وي".

ځينو داسې ګمان کړی دی چې کېدای شي ارسطو اقتراني شرطي قياس په يو ې بيلۍ رسالۍ کې ليکلی وي چې د زمونږ زماني ته نه ده را رسېدلې، ارسطو خلف قياس له اقتراني او استثنايي قياس څخه مرکب بللی دی او زياتو اسلامي منطقيانو لکه شيخ اشراق (سهروردي)، قطب الدين رازي او علامه حلي د ده د نظر پيروي کړ ې ده، اسلامي منطقيانو، متکلمينو او فلاسفه و ود زياتو کلامي او فلسفي دعواګانو لپاره له خلف قياس څخه کار اخيستی دی په خاصه توګه په هغه وخت کې چې مدعی غير محسوس او غير مشاهد وي، په داسې ځايونو کې چې د خلف قياس څخه کار وانخيستل شي نو استدلال او عقلي او فکري برهان دومره موثر ندي.

د يادونې وړ ده چې ارسطو په زياته کچه د مقدمتينو صورت ، شکل او نتيجې ته توجه لري نو په همدې وجه ځينو نقدکوونکو د ارسطو د قياس په دې اړخ اعتراض کړی دی، په ارسطويۍ قياس کې کېدای شي چې د کاذبو مقدمو څخه صادقه نتيجه لاس ته راشي، د مثال په توګه که ووايو چې هر انسان لرګی دی او هر لرګی حيوان دی نو نتيجه يې داسې راځي چې هر انسان حيوان دی ، په دې مثال کې د قياس دواړه مقدمې کاذبې دي خو کله چې هغوی د ارسطوي قياس په چوکاټ کې راولو صادقه نتيجه ترې ئه لاس ته راځی، له دې ډول قياس څخه هغه وخت صادقه نتيجه اخيستلای شو چې دواړه مقدمې يې کاذبې وي خو که د هغوی له جملې څخه يوه صادقه وي او بله کاذبه وي په دې صورت کې: نتيجه يې کاذبه راځي، د مثال په لومړي توګه که د قياس په لومړي شکل کې يواځې د کبری مقدمه کاذبه وي خو د صغری مقدمه کاذبه نه وي د قياس نتيجه کاذبه وي، لکه دا قياس: هر انسان حيوان دی (صادقه) او هر حيوان نبات دی (کاذبه) نو هر انسان نبات دی (کاذبه نتيجه).

په پخواني یوه درس کې یادونه وشوه چې ارسطویي قیاس د دوو اړخونو له مخې د بحث وړ دی، یو د شکل او صورت له مخې او بل د مادې له مخې، مونږ د شکل او صورت له مخې قیاس په مختصره توګه وڅېړه ، د هغه ډولونه، شکلونه او منتجه او عقیمه ضروب مو بیان کړل ، دا ټول د قیاس په صورت او شکل پورې اړه لري چې د الله تعالی په مرستې له هغو څخه فارغ شوو او اوس د څو درسونو په ترځ کې غواړو چې قیاس د مادې له مخې تر بحث او څېړنې لاندې ونیسو.

# پوښتنې

1. مرکب قیاس تعریف او هغه په یوه مثال کې تطبیق او وښيئ.
2. متصل النتیجه او منفصل النتیجه قیاس له یو بل څخه څه فرق لري؟ په ځانګړو مثالونو کې یې واضح کړئ.
3. خلف قیاس د منطقیانو په لغت او اصطلاح کې بیان کړی.
4. یوه حملیه قضیه د مطلوب په حیث د خلف قیاس په طریقه څه ډول اثبات کېدای شي.
5. په خلف قیاس کې اقتراني قیاس له استشنائي قیاس سره وصل او مربوط کیږی، تاسي د دې قیاسونو وصل کېدل د یوه مثال په ضمن کې واضح کړئ.
6. د ارسطو او افضل الدین نظر د خلف قیاس په اړه څه و؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.
7. د ارسطويي قیاس څو مثالونه ذکر کړئ چې په هغه کې دواړه مقدمې کاذبې او نتیجه صادقه وي.
8. د درس د ښې زده کړې په خاطر په ساحه کې له درسي موادو او شیانو څخه استفاده وکړئ.



14 – 11 - 2012

# پنځم څپرکی

## پینځه ګوني صنعتونه

# لومړی درس

## لومړني مبادي

### موخې:

1. د قياس و پنځه د شکل او مادې له مخې او د صوري منطق له نظره د علم مختلف تقسيمات.
2. په لنډه توګه د هغو اوليه مباديو بيان چې يقيني علم حاصلوي.
3. د غير يقيني اوليه مباديو توضيح او تشريح.
4. محصلين دې د تمرين له اجراء کولو وروسته، د دې درس د مطالبو د توضيح او تطبيق مهارت ترلاسه کړي.

مخکې له دې چې د پنځه ګونه صنعتونو بحث ته داخل شو لازمه ده چې د يوه ځانګړي درس په ترڅ کې هغه اوليه مبادي چې د پنځه ګونو صنعتونو اساس او د استدلال ماده تشکيلوي تر څېړنې لاندې ونيسو، لکه څرنګه چې څو ځله تکرار شو چې صوري منطق قياس له دوو اړخونو څخه تر بحث او څېړنې لاندې نيسو.

1. د شکل او صورت په اعتبار چې دولونه، اشکال او ضروب يې مخکې تشريح شوي دي.
2. د مادې په اعتبار چې په پنځه ګونو صنعتونو کې به تر څېړنې لاندې ونيول شي.

د پنځګونو صنعتونو تر بحث او څېړنې مخکې د دې ضرورت ليدل کېږي چې د علومو او استدلالاتو اوليه مبادي او مواد توضيح کړو.

د منطق د علما وو له نظره علم په لومړي سر کې په دوه ډوله حصولي او حضوري تقسيمېږي، حضوري علم هغه علم د ی چې له خارج څخه نه حاصلېږي يعني انسان

حضوراً او وجداناً په هغه پوهېږي، لکه د انسان علم په هغه څه چې د هغه په داخل او ذهن کې ګرځي او د الله تعالی علم په ټولو موجوداتو باندې، حصولي علم د حضوري علم په عکس له خارج څخه حاصلېږي او په دوو قسمونو تصور او تصدیق باندې وېشل کېږي، تصور یواځې د صورت حاصلېدل په ذهن کې دي بې د عقل د حکم له صادرېدو څخه، لکه د انسان تصورد تیږې، ګرمي، یخني، یو ځوان محصل، نه پنځوس او داسې نورو په اړه

تصدیق هغه دی چې عقل د معقوله صورتونو اړوند حکم صادر کړي، د مثال په توګه چې حکم وشي. هر مربع څلور ضلعې لري او داسې نور.

تصور او تصدیق هر یو په خپل ذات کې دوه ډوله دي. ۱. ضروري یا بدیهي. ۲. نظري یا اکتسابي. په لومړي ډول کې تفکر او تأمل ته ضرورت نه بریښي، د مثال په توګه د ګرمی، یخنی، تندی او داسې نورو تصور ، او د دې خبرې تصدیق چې لمر رڼایي او حرارت تولیدوي، په دویم قسم کې ژور فکر او سوچ ته ضرورت احساسیږي، د مثال په توګه د روح، عقل، جوهر، نفس او داسې نورو تصور ، او د دې تصدیق چې د مثلث د زاویو مجموعه له دوو قایمو سره برابره ده او داسې نور.

له دې مقدمې څخه وروسته په علم پورې اړوند د دې خبرې یادول ضروري دي چې انسانان په لومړي سر کې د بدیهیاتو پر پېژندلو مصروف وو، بیا ورو ورو د بدیهیاتو له پېژندلو وروسته د ژورو نظریاتو زده کړې ته ورسېدل، نو ویلای شو کله چې بدیهي امور د نظري او کسبي امور و د زده کړې وسیله ګرځېدلي دي، نو اساسا د بشري علومو مقدماتي بنسټ تشکیلوي او دا دواړه د منطق په علم کې د "ل ومړنیو مبادیو" په نامه یادېږي.

لومړني مبادي په حقیقت کې له هغو قضایاو و څخه عبارت دي چې د استدلال په ترکیب او جوړښت کې ترې استفاده کېږي او پایله لاس ته راځي، لکه څرنګه چې

لومړني مبادي د ضعف او قوت له اړخه د يقين په افاده کولو کې سره توپير لري نو په همدې سبب د استدلال نتايج او پايلې د يقين په افاده کې هم سره توپير لري، نو له همدې امله ارسطو په خپل منطق کې قياس د مادې په اعتبار په پينځو ډولونو باندې ويشلی دی او هغه يې په پينځه ګونو فنونو چې مونږ ورته پينځه ګوني صنعتونه وايو ياد کړي دي.

**د قياس د مادې ډولونه او يالومړني مبادي** لومړني مبادي يا د قياس ماده د قوت له حيثيته د علم يقين په افاده کولو کې په دوه ډوله ده:

1) يقيني لومړني مبادي.
2) غيريقيني لومړني مبادي.

## لومړی –يقيني لومړني مبادي:

دا مبادي له هغو قضيو څخه عبارت دي چې د هغه قوت په اساس چې په دوی کې موجود دی انسان ته يقيني علم حاصلوي، دغه مبادي بې له تامل څخه روښانه او واضح دي او د نظري مسائلو د حل اساس تشکيلوي، که دا مبادي موجود نه وای، مونږ نشو کولای نظريات اثبات کړو ځکه چې نظريات د نظرياتو ملاتړ نشي کولی او يو نظري اثبات ته ضرورت لري نو که د هغه مبنا پر بل نظري وي، هغه پخپله هم اثبات ته ضرورت لري چې په نتيجه کې باطل تسلسل لازميږي او که د دريیم ي او څلورمې نظريې په اثبات کې د لومړی نظريې څخه کار واخيستل شي نو دور لازميږي، نو ويلای شو: لومړني بديهي مبادي د الله تعالی لوی نعمتونه دي چې د هغو په واسطه انسان کولای شي د عالم مجهولات ځان ته معلوم کړي. (۳۲: ۱۴۸)

لومړني يقيني مبادي په شپږ ډوله دي او د "برهان" اساس تشکيلوي چې يو له پينځه ګونو صنعتونو څخه دی. او د دې صنعتونو څلور نور قسمونه پر غيريقيني مباديو باندې ولاړ دي، مونږ لومړني يقيني مبادي په لاندې توګه په لنډ ډول بيانوو.

## 1. بدیهیات یا اولیات:

له هغو قضیو څخه عبارت دي چې په هغو کې یواځې د موضوع، محمول او نسبت تصورات د یقین په حاصلولو کې کفایت وکړي د مثال په توګه دوه نقیضونه په یوه وخت کې سره جمع او رفع کېدای نشي، دوه مساوي مقدارونه له درېیم مقدار سره ، په خپل منځ کې سره برابر دي، کل له جزء څخه لوی دی او داسې نور.

## 2. تجریبیات:

هغه قضیې دي چې د مکرر نظر کولو څخه وروسته انسان د هغو په صحت باندې حکم کولای شي خو د غه حکم برهان ته ضرورت لري او برهان هم له هغې قضیې سره نه وي بلکې تجربې ته ضرورت لري، د مثال په توګه که ووایو: حرارت جسم منبسط کوي، د غه حکم له مکررو تجربو وروسته صادر شوی دی او اوس یقیني علم افاده کوي، په مجرباتو کې دوه شیان لازمي دي: ۱. مشاهده او مکرره تجربه ۲. په داسې شکل یو مستور قیاس: که د جسم انبساط د حرارت په نتیجه کې اتفاقي او تصادفي وای، نو دایمي به نه وای ، خو دایمي دی، نو اتفاقي او تصادفي نه دی، نو د همدې مستور او خفي قیاس په نتیجه کې انسان ته یقین حاصلېږي.

## 3. فطریات:

هغه قضیې دي چې د هغو له تماس څخه یقیني علم حاصلېږي، خو دغه قضیې هم له ځان سره یو برهان لري، د مثال په توګه که ووایو، د شپږ عدد جفت دی، دغه حکم د دې قیاس پر اساس ولاړ دی چې وایو: د شپږ عدد په دوو باندې د وېش وړ دی او هر عدد چې همداسې وي نو هغه جفت وي نو د شپږ عدد هم جفت دی(۳۱: ۱۱۶).

## 4. حدسیات:

هغه قضیې دي چې د بهرنیو مقدماتو پر اساس د هغو پر صحت باندې حکم وشي، د مثال په توګه چې ووایو: د سپوږمۍ نور د لمر له نور څخه مستفاد دی، دغه حکم د

بيروني مقدماتو پر اساس شوی، لکه: په مختلفو شپو کې د سپوږمۍ ليدل، د هغې هلال کېدل، د هغې بدر کېدل، د هغې خسوف او داسې نور ...، او فلکي احکام ټول حدسي دي.

## 5. متواترات:

په دې قضيو کې حکم د اورېدولو پر اساس وي، او د داسې خلکو لخوا اِخبار شوی وي چې په دروغو د هغوی جمع کېدل محال وي، په دې حکم کې هم برهان ته ضرورت شته خو برهان له ځان سره قضيه نلري او د اشخاصو د اخبار په وجه يې د تواتر درجه خپله کړې وي، د مثال په توګه د مکې، مدينې او پخوانيو پاچ اهانو وجود او داسې نور (۱۷:۲٦۱).

**6. مشاهدات:** هغه قضيې دي چې په کې د ظاهري حواسو او يا شعور په مرسته حکم وشي، د مثال په توګه چې ووايو: دغه زړه راښکو نکی آواز د آبشار دی، دغه ګل ښه بوی لري، شات خواږه دي او داسې نور.

## دويم –غيريقيني لومړني مبادي:

دا هغه قضيې دي چې په کې د اعتماد وړ علمي دلائل وجود ونلري او د هغه استدلال اساس نشي کېدای چې د يقيني علم افاده وکړي، يعني له هغو څخه يقيني علم نشي حاصلېدای، نو په همدې سبب د غيريقيني لومړنيو مباديو په نامه يادېږي او په لاندې اووه ډوله دي:

**1. مشهورات:** هغه قضيې دي چې زيات يا ټول خلک په هغو باور لري او زياتره بې هغو باندې د باور علت يو له لاندې امورو څخه دی.

الف: ټولو ته ګټه لري، د مثال په توګه د عدل او انصاف ښه والی.

ب: اخلاقيات، د مثال په توګه له ناموس نه د دفاع کولو ښه والى او د نه دفاع کولو بدي او خرابوالى.

ج: داخلي حالات او انفعالات، د مثال په توګه د ترحم ښه والى او د ظلم بدوالى.

د: عادتونه او تقاليد، د مثال په توګه د هنديانو په نزد د حيواناتو وژل.

**2. مقبولات:** هغه قضيې او خبرې چې د اعتماد وړ کسانو څخه روايت شوې وي، د مثال په توګه: تصميم د برياليتوب ولمړى شرط دى، د وطن مينه د ايمان د يوې برخې څخه ده

**3. ظنيات:** هغه قضيې دي چې باور او جازم يقين پرې نشي کېداى، ظني په دوو اعم او اخص معناګانو باندې استعمال شوې ده، اعم ظني د يقين په مقابل کې استعمالېږي او د غيريقيني قضاياوو ټولو ډولونو ته شامل دى، اخص ظني هغه دى چې له واقع سره د خبر د حکم په مطابقت کې د هغه د نقيض احتمال موجود وي، نو په دې معني سره مقبولاتو او زياتو مشهوراتو ته نه شامل يږي او ظن هغه ته لاره نشي پيدا کولاى، د مثال په توګه: بکر د شپې لخوا په کوڅو کې ګرځي او هر څوک چې د شپې لخوا په کوڅو کې ګرځي هغه غل دى ، نو بکر غل دى، د قياس کبرى ظني ده (۱۴۶:۱۱).

**4. مسلمات يا تقريرات** هغه قضيې دي چې د يو ه شخص او يا ډلې د اعتماد وړ ګرځيدلې وي، که څه هم ويونکى په هغو باندې باور ونلري خو کله ناکله يې ومني . د يو ه علم ځينې مسلمات په بل علم کې هم مسلم وي د مثال په توګه "حرکت موجود دى" د الهياتو په علم کې ثابت شوى دى او په طبيعي علم کې هم د يوې مسلمې قضيې په توګه د هغې له عوارضو څخه بحث کېږي.

**5. وهميات:** هغه باطلې قضيې دي چې د خلکو په منځ کې يې د حق او حقيقت په

توګه شهرت پيدا کړی وي او د غه شهرت تر دې حده پورې رسېدلی وي چې په آسانۍ سره په کې شک او ترديد نشي راتلای، د مثال په توګه: د خلکو باور د تورې پیشو د ليدولو پر شومتيا، د سپ ي آنګولا په بد فال نيول، د مسافر له تګ څخه وروسته د کور د جاروکولو بدفالي او داسې نور.

**6. مخيلات:** هغه قضيې دي چې تصديق نه افاده کوي خو د عواطفو د راپارولو سبب ګرځي چې په پايله کې يو څه رغبت يا نفرت منځ ته راوړي د مثال په توګه چې وويل شي: "علم د ژوند اوبه دي".

**7. مشبهات:** په مشبهه قضاياو و کې لفظي او يا معنوي اشتباه د دې لامل ګرځي چې خلک هغه صادقې وبولي، په داسې حال کې که هغه اشتباه له منځه لاړه شي نو هغه قضيې کاذبې ګرځي، لفظي اشتباه لکه چې وايو: " در باز است و هر بازی پرنده است، پس هر دری پرنده است " معنوي اشتباه لکه چې وايو: "اين عکس انسان است و هر انسان ناطق است پس اين عکس ناطق است" (۲۴:۲۹۵).

## پوښتنې

1. قياس د شکل او صورت له مخې او همدارنګه د مادې له اړخه کوم موضوعات تر بحث لاندې نيسي؟ په لنډه توګه يې بيان کړئ.
2. د علم اولي، دويمي او درېيمي تقسيم د ارسطو د منطق له نظره د يوه چوکاټ په ضمن کې بيان کړئ.
3. لومړني مبادي څه شي دي؟ د هغو اهميت او ارزښت د منطقي قياسونو او براهينو په تشکيل کې بيان کړئ.
4. لومړني مبادي يا د قياس ماده په څو ډوله ده؟ په ضمن کې د لمړنيو يقيني مباديو ارزښت د منطقي براهينو په تشکيل کې بيان کړئ.
5. يقيني لومړني مبادي پر شپږ ډوله دي، هر ډول يې تعريف او په اړوند و مثالونو کې يې تطبيق کړئ.
6. غيريقيني لومړني مبادي په او وه قسمه دي، تاسې د هغو هر يو قسم تعريف او په اړونده مثالونو کې يې تطبيق کړئ.
7. محصلين دې په ۱۳ ګروپونو تقسيم شي او هر يو ګروپ دې په يوه اولي مبدا کې بحث او څېړنه وکړي.
8. محصلين دې پر لومړنيو مباديو پورې اړوند او د هغو د توضيح او تفصيل لپاره د لرغوني منطق له معتبرو مراجعو او موادو څخه چې لاس رسی ورته لري استفاده وکړي.



14 – 11 - 2012

# دويم لوست

## برهان

### موخې:

1. د پينځه ګونو صنعتونو شرح او د هغو په منځ کې د برهان د صنعت تشخيص.
2. د لمي او اني براهينو تر منځ توپير د مختلفو مثالونو په ترڅ کې.
3. د لمي برهان د علمي ارزښت بيانول له دليل او مثالونوسره.
4. محصلين دې د تمرين له اجرا وروسته د دې مطالبو د توضيح او عملي تطبيق مهارت دې تر لاسه کړي.

مخکې له دې چې برهان پورې اړوند خپل بحث شروع کړو، لازمه ده د پينځه ګونو صنعتونو له ډلې څخه د برهان په هکله په لنډه توګه توضيحات ورکړو.

نصيرالدين توسي په مختصره توګه د پينځه ګونو صنعتونو اړوند ويلي دي: "هر کله چې له جازمو اقوالو څخه مرکب قياس د يقين افاده کونکی و ي، نو بالذات يې هغه ته "برهان" نوم کېښود او هر يو چې د مشهورې رايې يا التزامي مقتضی افاده کوونکی وي، هغه ته يې "جدل" نوم کېښود، او هر هغه څه چې د غيرمطابق جازم اعتقاد افاده کوونکی وي، هغه ته يې "مغالطه" نوم کېښود او هر څه چې د غيرجازم اعتقاد افاده کوونکی وي، هغه ته يې "خطابه" نوم کېښود او هر هغه څه چې د تخيل افاده کوونکی وي نو هغه ته يې د "شعر" نوم کېښود (۲۰:۳۴۲).

د پينځه ګونو صنعتونو له جملې څخه "برهان" او "مغالطه" ځانګړی اهميت او ارزښت لري، د برهان ارزښت په دې کې دی چې د يو ه څه په اړه د ترديد او شک په وخت کې هغه جوړو و او د خپل ځان او نورو لپاره يو مطلب اثباتوو. د مغالطې

ارزښت په دې کې دی چې له یو ه چا سره د مناظرې او محاجات پر وخت د هغه له مغالطه قیاساتو څخه ځان ساتلی شو او د عقل د معامله کوونکو او الفاظو په فریب کې نه واقع کېږي. د برهان او مغالطې صنعت د محقق او فیلسوف لپاره مطلوب بالذات دی او نور دې صنعتونه تردې صنعتونو لږ ارزښت لري.

**د برهان تعریف:** برهان چې ارسطو "دویم انالوتیکا" ګڼلی دی، له هغه قیاس څخه عبارت دی چې مقدمات او ماده یې یقیني او ضروربالذات وي، ارسطو هم برهان هغه قیاس بللی چې له ضروري مقدماتو څخه جوړ شوی وي (۳:۳۲۱).

خواجه نصیرالدین طوسيېرهان داسې تعریف کړی دی: "برهان له یقینیاتو څخه جوړ شوی قیاس دی چې یقیني بالذات او بالاضطرار پایله ترې لازمه شي."ډاکتر الشامي المصري برهان په داسې لنډ عبارت سره‌تعریف کړی دی: "و هو ما یٔلف من الیقینیات فقط و هی سبعة" نو په دې اساس برهان له شپږو او یا اوو لاندې لومړنیو قضایاوو او مبادیو څخه جوړېږي: اولیات، مجربات، متواترات، مشاهدات، فطریات، حدسیات او نظریات.

اړینه ده ووایو چې د برهان مقدمات باید یو څه شرائط ولري چې د هغو په موجودیت کې قیاس د برهان شکل غوره کړي او قطعي یقیني پایله لاس ته راوړي، دغه شرا ئط په لاندې ډول دي:

1. مقدمات باید اولي ذاتي وي.
2. مقدمات باید کلي وي.
3. مقدمات باید یقیني امور وړاندې کړي.
4. مقدمات باید له پایلې څخه واضح او معروف وي.
5. مقدمات باید په ذهن کې د تعقل او تصور له اړخه او د خارجي وجود په مرحله کې له نتیجې څخه مخکې وي.
6. مقدمات او نتیجه د ضرورت د افادې له پلوه یو له بل سره مساوي وي، په دې

معنی چې نتيجه د ضرورت افاده کونکې وي، مقدمات هم بايد د ضرورت افاده وکړي.

دغه ټول شرايط ځکه د برهان د مقدماتو لپاره په نظر کې نيول شوي دي چې د قياس په جوړښت کې ظني قضايا لاره پيدا نکړي او برهان هغه يوازينی قياس دی چې پر يقيني مقدماتو باندې ولاړ دی.

**لمي او اني برهان :** برهان پر دوو قسمونو لمي او اني سره تقسيميږي، لمي برهان هغه برهان دی چې په هغه کې له علت څخه پر معلول باندې علم راشي، او اني برهان هغه دی چې د دې پر عکس له معلول څخه پر علت علم راشي (۱۵۴:۳۲).

دکتور شامي د دې دواړو په تعريف کې داسې ليکلي دي: "و اقسام البرهان بإعتبار حال الحد الوسط إثنان لمي و إني: اللمي ما کان الحد الوسط علة لثبوت المحمول للموضوع في الذهن و الخارج و سمي لمياً لإفادته اللمية ای علية الحکم علی الاطلاق, مثل هذا مؤمن و کل مؤمن غيور ـ هذا غيور.

و الإني ما لم يکن الحد الوسط علة للحکم في الخارج بل في الذهن و الفهم و سمي إنياً لإفادته الإنية ای الثبوت في العقل لا العلية في الوجود, مثل هذا غيور. و کل غيور مؤمن ـ هذا مؤمن" (۶۸:۱۸).

ارسطو د لمي برهان پر اهميت او ارزښت زيات تاکيد کړی، ځکه چې د علت له پېژندولو څخه وروسته د معلول ټول ذاتيات او خصوصيات پېژندل کېږي، خو د دې پر عکس داسې نه ده چې د معلول له پېژندلو څخه ټول علتونه وپېژندل شي.

د برهان دواړه قسمونه مقابل لوري ته د يقيني علم افاده کوي او په داسې مستحکم او قوي استدلال باندې يې اطلاق کېږي چې په هغه کې هېڅ ډول شک، وهم او ظن نه وي او د خصم او مقابل لوري قناعت منځ ته راوړي، قرآنکريم هغه کتاب دی چې له براهينو څخه ډک دی او هغ و خلکو ته چې د دې کتاب په اړه شک لري داسې

فرمايي: " قُلْ هاتُوا بُرْهانَكُمْ إنْ كُنْتُمْ صادِقِينَ ". قرآنكريم نبي كريم صلی الله عليه وسلم ته فرمايي: خلک د الله تعالی لارې ته په حکمت، استدلال او غوره او نيکه مجادله چې په حقيقت کې برهان دی دعوت کړه: " ادْعُ إِلى سَبِيلِ رَبِّکَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ".

نو د پورتنيو توضيحاتو پر اساس ويلی شو کله چې د معلول وجود د علت له وجود څخه ثابت شوی وي او يا پر بل عبارت هغه منځنی حد چې په ذهن کې "اصغر" ته د "اکبر" د ثبوت علت وي په خارج کې هم اصغر ته د اکبر د ثبوت علت وي، دې ته لمي برهان ويلی شي ځکه چې د حکم د علت (لم) درلود ونکی دی، د مثال په توګه کله چې وايو: دلته اور موجود دی او هر چېرته چې اور موجود وي، هلته حرارت وي، نو دلته حرارت موجود دی، په دې مثال کې د "اور وجود" چې منځنی حد (حداوسط) دی، نه يواځې دا چې پر حرارت باندې زمونږ د پوهې علت دی بلکې په خارج او نفس الامر کې د هغه د وجود علت هم دی.

کله چې حد اوسط د اصغر لپاره د اکبر د ثبوت علت وي خو په خارج کې د غه حد اوسط د اصغر لپاره د اکبر د ثبوت علت نه وي، دغه قسم برهان ته "اني" برهان ويل کېږي، ځکه چې "ان" د ثبوت په معنی دی او دلته هم د حکم پر وجود او ثبوت باندې دلالت کوي که څه هم په خارج کې د حکم د ثبوت او وجود علت نه وي، د مثال په توګه چې مخکنی مثال په داسي ډول جوړ کړو: دلته حرارت موجود دی او هر چېرته چې حرارت موجود وي نو هلته اور موجود وي نو دلته اور موجود دی.
دلته د حرارت وجود پر اور باندې د علم علت دی، خو حرارت يواځې د اور معلول نه دی، بلکې نور څه هم کېدای شي.

دا يوه حتمي خبره ده چې د برهان مقدمات لکه څرنګه چې د مقدماتو په شرايطو کې بيان شول بايد يقيني امور وي، يعنې د برهان مقدمات بايد اوليات، فطريات،

مجربات، متواترات، مشاهدات، حدسيات او نظريات وي، چې دا پخپله د يو ه قياس د برهان کېدو علامه او نښه ده، بيلګه يې په لاندې ډول ده:

دغه مايع اوبه دي.

او هرې اوبه تنده له منځه وړي.

نو دغه مايع هم تنده له منځه وړي.

د برهان د صغرى مقدمه د محسوساتو له جملې څخه ده، يعنې په سترګو ليدل کېږي او د کبرى مقدمه له تجربياتو څخه ده، په دې معنى چې اوبه په هر ځای کې او د مختلفو اشخاصو له لوري تجربه شوي دي چې تنده له منځه وړي، نو حس او تجربه چې د يقيني امور و څخه شمېرل کېږي د پورتني قياس اساس تشکيلوي نو له همدې کبله قطعي او يقيني علم حاصلوي (۲۸:۱۰۴).

لکه څرنګه چې مخکې اشاره وشوه لمي برهان د اني برهان په نسبت زيات اهميت او ارزښت لري ځکه چې په لمي برهان کې د علت په ثبوت او وجود باندې له علم څخه د معلول پر وجود او ثبوت باندې علم حاصلېږي او هر معلول کېدای شي چې د زياتو علتونو خاوند وي خو يو معين علت يواځې يو معين معلول منځ ته راوړي، په مخکني مثال کې اور او حرارت دوه شيان دي چې د علت رابطه د هغوی په منځ کې وجود لري، اور د حرارت علت دی او دا ناممکنه ده چې په کوم ځای اور موجود وي هلته حرارت وجود ونلري او حرارت د اور معلول دی، خو يواځې د اور معلول نه دی، کېدای شي د نورو منابعو معلول هم وي، نو اور د حرارت د وجود يو حتمي علت دی، خو د حرارت وجود د اور حتمي معلول نه دی، نو په همدې خاطر پر معلول باندې له علم څخه پر معين علت باندې علم نه حاصلېږي، او دا چې په مختلفو علومو کې د حوادثو او واقعاتو د علتونو وړاندوينې ته زياته توجه کېږي نو منطق پوهنې د لمي برهان په واسطه علمي وړاندوينو ته ښه زمينه برابره کړې ده.

ارسطو په خپل "ارګانون" نومي کتاب کې د پورتني مطلب په تایید ، لمي برهان د استدلال له پیاوړي ډول څخه شمېرلی دی، هغه په خپل نوموړي کتاب کې د لمي او اني برهان لپاره یو مثال ذکر کړی دی چې وروسته ابوعلي سینا په خپل کتاب "شفاء"، خواجه طوسي په "اساس الاقتباس" او ځین و نورو مسلمانو منطقیانو هم په خپلو کتابونو کې د هغه د مثال پیروي کړېده، ارسطو نجومي محاسبه او د سپوږمۍ او لمر په منځ کې د ځمکې د حائل کېدو پیشبیني کوي چې په نتیجه کې د سپوږمي نیول (خسوف) را منځ ته کېږي، هغه د خسوف د واقع کېدو علم د پورتنۍ محاسبې او پیشبنۍ په نتیجه کې یو لمي برهان بولي خو که په همدې مثال کې لومړی خسوف ولیدل شي او بیا وروسته د لمر او سپوږمۍ په منځ کې د ځمکی پر واقع کېدو علم راشي، د هغه په نظر دغه یو اني برهان دی (۲۴:۳۰۴ــ۳۰۵).

نو ویلی شو چې لمي برهان په مختلفو علومو کې خورا زیات اهمیت لري او ډېر استعمالېږي، لکه څرنګه چې د لرغونی یونان د فلاسفه وو او علماوو له جملې څخه طالس په (۵۸۵ ق. م ) کال کې په لمي قیاس کسوف یا لمر نیونه پیشبیني کړه او یو کال وروسته د ۵۸۴ ق. م کال د م ي په ۲۸ نیټه هغه پیشبیني شوی کسوف واقع شو، د ترکیې علما وو په هغه وخت کې دغه کسوف مشاهده کړ او وروسته یې د علتونو د پیدا کېدو په لټه راووتل، د طالس برهان یو لمي برهان او د ترکیې د علماوو برهان یو اني برهان و، چې د لومړني برهان اهمیت او ارزښت څرګند او ښکاره دی.

## پوښتنې

1. د پینځه ګونو صنعتونو نومونه یاد کړئ، د حصر وجه یې ذکر کړئ او د هغو مهم انواع له دلیل سره ذکر کړئ.
2. برهان تعریف او د ارسطو نظر په دې اړه بیان کړئ.
3. د خواجه طوسي او دکتور شامي له نظره برهان تعریف او د هغه د لومړنیو مبادیو یواځې نومونه واخلئ.
4. د قیاس مقدمات هغه وخت یقیني علم حاصلوي چې ځینې شرایط ولري، دغه شروط ذکر کړئ او د هغو اهمیت په برهاني قیاس کې واضح کړئ.
5. د برهان ډولونه تعریف او ښکاره او بارز تفاوت یې هم ووایئ.
6. د ارسطو له نظره لمي برهان ولې زیات اهمیت او ارزښت لري؟ شرح یې کړئ.
7. د لمي او اني برهانونو څو مثالونه ذکر او د هغو د مقدماتو یقیني والی ثابت کړئ.
8. څرنګه کولای شي ثابت کړئ چې طالس د کسوف په واقع کېدو کې له لمي قیاس څخه کار اخیستی دی.
9. محلصین دې له پینځه ګونو صنعتونو څخه مختلف قیاسات جوړ کړي او بیا دې له هغو څخه د برهان صنعت او بیا دې لمي او اني برهانونه په دلایلو سره تشخیص کړي.



14 – 11 - 2012

# درېيم لوست

## خطابه او شعر

**موخې:**

1. د خطابې د اوليه (لومړنيو) مباديو واضح کول، په مختلفو مقاصدو کې له هغې څخه د استفادې څرنګوالی او اقسام.
2. د خطابې په اړه د معلوماتو ارائه (ښودنه) او د يوې ښې خطابې تنظيم او ايراد.
3. د شعري صنعت په اړه د معلوماتو ښودنه، د هغې اوليه مبادي او اقسام.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې درس د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

**خطابه:**

کله چې زمونږ قياس له ظنيه اوليه مباديو (ظنياتو) څخه تشکيل شوی وي د خطابې قياس په نامه يادېږي، هغه ظنيات چې د خلکو په منځ کې خپاره شوي او له مقبولاتو څخه يې نشأت کړی وي او يا: خطابي قياس له هغه قياس څخه عبارت دی چې د مقدماتو په تشکيل کې يې مقبولات، مشهورات او مظنونات کارول شوي وي او د ظني علم افاده وکړي، دوکتور شامي د خطابې په اړه ليکلي دي: «الخطابة قياس يتركب من:

1. المقبولات وهى القضايا المأخوذة ممن يعتقد فيه لزيادة عقل او دين كالأ ولياء والعلماء و الحكماء، اما القضايا المأخوذة من الانبياء فالحق أنها يقينية.

2. المظنونات ماكان حكم العقل فيها راجحاً مع تجويز النقيض نحو كل من يطوف بالليل فهو سارق. والغرض من الخطابة الترغيب والترهيب » (69:18).

خطابه سره له دې چې شور اچونکې او جذبه راوړونکې خبره ده خو د هغې نتيجه الزام راوړونکې نه ده او يو امر قطعي نه ګرځوي، صرف سامعين يوه امر ته ترغيب او تشويق کوي او يا هم د هغوی زړه له يوه امر څخه بد وي، د اوريدونکو له عواطفو او احساساتو سره رابطه قايموي، د هغوی قناعت حاصلوي او دا هم امکان لري چې د خطابې ډير سامعين د هغوی د احساساتو او جذبو د له منځه تللو څخه وروسته د هغې محتويات قبول نه کړي. په خطابه کې معمولاً هغه مسائل مطرح کيږي چې د عامو خلکو د منلو وړ وګرځي او وينا کوونکی پخپله هم د هغې په حق والی قطعي باور ولري که څه هم د هغې خطابې مطالب احياناً واقعيت ونه لري.

په خطابې او وينا کې وينا کوونکي خپل هدف او مطلوب مخکې له مخکې ټاکي او د هغې د بيان په جريان کې له موضوع او هدف سره د خورو ورو او غير مرتبو مطالبو څخه ډډه کوي په دې بنا بايد خطيب د يوې طرحې مطابق ترمخه موضوعات تيار کړي، د خپلې خطابې پيل او پای تنظيم کړي او په ځای به وي چې په دې اړه د افلاطون خبرې د هغه له کتاب (فدروس) څخه عيناً نقل شي: «هره خطابه او وينا بايد د ژوندي موجود په څېر وي يعنې لاس او پښې ولري او په هغې کې منځ او پای او پيل وجود ولري او دا برخې يو له بل سره اړيکي او تناسب هم ولري»۳(۱ : ۲۰۳).

څرنګه چې د دکتور شامی نظر دی، په وينا کې د وينا د تاييد لپاره معمولاً د عقل او دين د لويانو لکه اولياوو، علماوو او حکماوو خبرې را اخيستل کېږي، يوه خطابه د مقدمې، الحاقي مطالبو، اصل مطلوب او د نتيجې د لاسته راوړلو درلودونکې وي، د خطابې اصلي او اساسي مطلب د «خطابې د ستنې» په نامه او مقدمات او ضميمې يې د «خطابې د اعوانو» په نامه سره يادوي.

خطابه د تاريخ په اوږدو کې د دين د علماوو، سياستمدارانو، نظاميانو او د ټولنيزو چارو د پوهانو د پراخې استفادې وړ ګرځيدلې ده، د دين يو عالم په خپلو زړه

راښکونکو، منطقي او مدللو خبرو سره یو جمعیت د خپل دین پیرو ګرځوي او یا یو ماهر سیاستمدار په خپلې پلان شوی خطابې سره چې نوې طرحې او ژمنې لري یو عظیم ملت یې خپلې شاته راښکلي دی او یا هم د جګړې د ډګر یو قومندان توانیدلی چې پر خپلو وطندوستانه او هڅوونکو خبرو تر خپل امر لاندې مات شوي لښکر ته د دویم ځل لپاره ځان او روح ورکړي او له وطن څخه د دفاع او د خپلې داعیې لپاره یې جګړې ته تیار کړي. هغه قناعت چې له خطابې څخه لاس ته راځی که څه هم قطعي تصدیق او جازم باور پکې نه وي یو ظني قناعت دی ځکه چې د هغې مقدمات د ظني مبادیو څخه تشکیل شوي دي خو هغه قضایا او مقدمات چې له انبیاء کرامو څخه اخیستل شوي وي په قطعي توګه د یقیني علم افاده کوي.

کله چې په وینا کې د خطابې له قیاسونو څخه استفاده کېږي اکثراً د هغې کبری مقدمه حذفوي او د ارسطو په صوري منطق کې یې دا ډول قیاس د «قیاس درج» په نامه یاد کړی دی (۷۲:۱۲) لکه چې وویل شي: دروا غ د هلاکت سبب دي، نو له درواغو ډډه وکړئ، او یا ووایو: اتحاد او اتفاق د قدرت موجب دی نو اتفاق او اتحاد وکړئ ترڅو قدرتمند اوسي.

**د خطابې اقسام:** دا چې خطابه څرنګه د یوه مطلب درلودونکې ده په لاندې څو قسمونو تقسیمیږي:

**الف: دیني خطابه:** هغه ده چې د دین یو عالم دیني معتقدات او فروعات په زړه راښکونکو مستندو عبارتونو او دیني نصوصو سره بیان کړي.

**ب: علمي خطابه:** په دې ډول خطابې کې علمي موضوعات او مطالب په ساده او عام فهمه عبارتونو ښودل کیږي چې عام خلک یې له پایلو څخه خبرشي.

**ج: سیاسي خطابه:** هغه ده چې سیاستمداران او سیاست پوهان د خلکو د جلب او جذب لپاره او یا د خپلو نظریاتو حق ښکاره کولو په منظور یې تنظیم او بیانوي.

**د: نظامي خطابه:** هغه ده چې د نظامي ډګر قوماندانان يې د سرتېرو د ښه تنظيم کولو په منظور طرح او القاء کوي.

**هــ: قضايي خطابه:** هغه ده چې د دعواګانو د خاوندانو، د مدافع وکيلانو او ددې برخې د نورو مسؤلينو له خوا د قضايي دعواګانو د اثبات او يا ابطال په خاطر ترتيب او بيانېږي.

**و: تشريفاتي خطابه:** هغه ده چې د هغې په واسطه د فرد او يا خاصې ډلې ستاينه يا غندنه وشي.

**شعر:** شعر له مخيلاتو څخه مؤلف صنعت دی چې وزن، قافيه او سجع لري او په هغه ښايست او زړه راښکلو سره چې لري يې د مقابل لوري خيال او روح تحريکوي، له شعر څخه هدف رغبت ورکول او يا نفرت پيدا کول دي، که څه هم دا کار په کاذبو مقدماتو سره وکړی شي.

دکتور شامی د شعر په اړه ليکلي دي: « الشعر و هو القياس المؤلف من المخيلات، وهى القضايا التى تتأثر منها النفس قبضاً او بسطا كوصف الخمر بأنها بول با ئعها، و كوصف عصير البرتقال بأنه ياقوتة سيالة، و الغرض منه قبول النفس اثر الترغيب والترهيب بالفعل» (69:18).

شعر په زړونو کې مؤثره خبره ده خصوصاً هغه شعر چې د روح راښکونکې محتوی، ترکيب او موزون صورت او قافيه ولري. هغه خبره چې په اديبانه طريقې او ماهرانه روش بيان شي زړونه تسخيروي او سحر او جادو پيدا کوي، رسول کريمﷺ په دې اړه څه ښه ويلي دي: (ځينې بيانونه د سحر تأثير لری او ځينې اشعار حکمت دي).

که مونږ د زړه بايلونکو او عارفو شاعرانو اشعار ووايو څرنګه سحر لرونکی تأثير زمونږ په روح او عواطفو کې ايجاد وي او څرنګه مونږ د خپل پيغام منلو ته تياروي، د مولانا جلال الدين بلخي، فردوسي ابوالقاسم، سعدي، خواجه حافظ، د هرات پير، ميرزا عبدالقادر بيدل، عبدالرحمن بابا او په اوسنيو کې د امير المتغزلين حمزه شينواري شعرونه مو ويلي او اورېدلي دي او هم د هغو له پيغامونو څخه سخت متأثر شوي يو.

په بادغيس کې د اميرنصر درباريان چې د خپلو کورنيو له غرېو او خپلوانو څخه لرې وو او د بيلتانه له کبله خپه او غمجن شوي وو د وخت له مشهور شاعر رودکي څخه يې وغوښتل چې يو داسې شعر ووايي چې امير د خپل وطن (بخارا) په ياد وهڅول شي او مونږ هم ور سره يو ځای خپلو کورونو ته ور شو نو له خپلې موسيقی آلې (چنګ) سره يې داسې وويل:

بـوی جوی موليان آيد همـــــی يـــــاد يار مهربان آيد همــی

ژباړه: مونږ ته د موليان د لښتي بوی راځي مهــــربانه يـــار مو يادېــــــږي

ای بخـــارا شاد بـــاش و شادزی شاه سويت مهمان آيد همـــی

ژباړه: ای بخارا خوشحاله اوسه او خوشحاله ژوند وکړه شاه ستا په لور ميلمه راځي

کله چې ساماني شاه دا شعر واورېد نو تر اغيز لاندې يې داسې راغی چې يوه موزه يې په پښو، بله يې ترې پاتې سمدلاسه يې بخارا ته حرکت وکړ.

ارسطو شعر «محاکات» ګڼي او کيدای شی محاکات په کوميدي شکل مطرح شي او يا تراژيدي او يا هم حماسي وي، د ارسطو او نورو لرغونو منطقيانو له نظره شعر هغه خبره ده چې تخيل وهڅوي که څه هم عروضي وزن و نه لري، نو ارسطو هغه نثر هم شعر ګڼلی چې خيال پکې وي، او هره وينا چې له تخيل څخه فاقده وي شعر ورته نه

ويل کېږي که څه هم موزون او مقفی وي. هغه کلام چې عملي موضوعات د شعر په ژبه بيان کړي او وزن او سجع ولري شعر نه دی، ځکه چې تخيل نه تحريکوي او له عواطفو او احساساتو سره کار نه لري، له همدې کبله اميدوکلس چې طبی او طبيعی چارې يې په موزون شکل د شعر په قالب کې بيان کړي دي شاعر نه ګڼي بلکې هغه ته طبيعت پوه او طبيب وايي. سره له دې چې ارسطو په بل ځای کې ويلي دي: د شعر ويلو انګيزه دوه شيان دي: يو د انسان علاقه له محاکاتو سره او دويم د هغه مينه له وزن او نظم سره او همدا دوه شيان په شعر کې باعث شوي چې مونږ ترې خوند اخلو، نو د ارسطو هدف په دې ځای کې له وزن او نظم څخه عروضي وزن نه دی بلکې د هغه مطلب څپه ييز (هجائي) وزن دی، محاکات د ارسطو له نظره له خاصې غريزې څخه نشأت کوي چې په انساني فطرت کې ايښودل شوي دي او هغه د تقليد غريزه ده چې په انسان کې تر هر حيوان ډېره پياوړې ده.

په شعري قياس کې هم د خطابي قياس په شان د کبری مقدمه حذف کېږي او قضيې پخپله د قياس د صغری حيثيت غوره کوي (۴: ۱۳–۱۲).

دا چې له شعر څخه نورو اذهانو ته د خپلو تخيلاتو د منتقلولو په منظور ګټه اخيستل کېږي او هم ګمراهان له شاعرانو څخه متابعت‌کوی. په دې وجه دشعر داخصوصيت دقرآنکريم د مذمت وړ او مورد ګرځيدلی او ويلی يې دی: «وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓ» (1: يَس ، 69). او: «وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾» (1: الشعراء،224).

د شعر صنعت د منطق په علم سربيره په نورو فنونو کې هم د بحث وړ ګرځيدلی، د مثال په ډول شعر په عروضي سيستم کې چې له وزن او د هغې له اقسامو څخه بحث کوي د عميقي مطالعې مورد ګرځي او هم د قافيې په فن کې چې د بيتونو د دور و نو د وروستيو کلمو له هم آهنګۍ څخه بحث کوي مطالعه کيږي او هم د بديع په علم يا فن کې چې له لفظي او معنوي ښايستونو (صنعتونو) څخه بحث کوي د ارزونې

مورد ګرځيدلی، څرنګه چې موسيقي هم د شعري غږ د حقيقي وزن څخه بې علاقې نه وي.

**د شعر اقسام** د ارسطو د منطق شارحينو شعر په مختلفو اقسامو وېشلی دی چې څو ډوله يې دادي: د ټوکو ټکالو شعر(کميديا)، د ستاينې شعر (اپريا)، د غندنې شعر (سايتريا)، حماسي شعر (هيروئيک)، د وير شعر (ډراماتيک) د هزلياتو شعر (بورليک) او نور (۲۴: ۳۲۰ــ۳۲۱).

# پوښتنې

1. د خطابي قياس له څه ډول اوليه مباديو څخه تشکيليږي؟ د ډاکټر شامي له نظره مقبولات او مظنونات بيان کړئ.
2. د خطابي قياس نتيجه ولې الزامونکې نه ده؟ په دليل سره يې شرح کړئ.
3. خطيب يا ويناوال د خطابې له ايراد څخه مخکې هغه څه ډول طرح او تنظيموي؟ په دې اړه د افلاطون نظر هم ذکر کړئ.
4. د خطابي صنعت د مختلفو هدف لرونکو وګړو د استفادې وړ ګرځي، تاسې د مشهورو خطابو څو نمونې ذکر کړئ.
5. خطابه په څو قسمونو تقسيم شوې؟ هر قسم يې په لنډ ډول توضيح کړئ.
6. شعر د دکتور شامي له نظره تعريف کړئ او د هغه د مباديو پر څرنګوالي بحث وکړئ.
7. که ستاسې په ټولګي کې د شعر لېوال او شاعران وي هغوی دې زمونږ د هېواد د مشهورو شاعرانو له اشعارو څخه څو عالي نمونې ووايي چې په کې ترغيب او يا ترهيب وجود ولري.
8. د شعر اقسام بيان کړئ او د هغو فنونو نوم واخلئ چې شعر پرې د علاقې او بحث وړ ګرځېدلی وي.
9. تاسې څرنګه د يو چا د حقيقت د اثبات او يا ترغيب او ترهيب لپاره له اشعارو او شعری قياسونو څخه ګټه اخلئ؟ موضوع د ديوانونو او شته وو موادو په ترڅ کې وڅيړئ.



14 – 11 - 2012

# ځلورم لوست

## جدل او مغالطه

### موخې:

1. د جدل د لغوي او اصطلاحي معنی بیان، د هغه اساسي هدف او تاریخي لرغونتیا.
2. د مغالطې د لغوي او اصطلاحي معنی بیان، د هغې اقسام او د معنوی او صوري مغالطې د منځ ته راتګ لاملونه.
3. د محصلانو له طرفه د جدل او مغالطې د صنعتونو عملي مشق او تمرین.
4. محصلان د تمرین له اجراء څخه وروسته، د توضیح او ددې درس د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

**د جدل تعریف:** جدل په لغت کې په خبرو اترو کې د دښمنۍ لجاجت ته وایي. په داسې حال او شکل سره چې اکثراً له حیلې سره یو ځای وي او کله له معمول انصاف څخه لرې وي، همدا راز د صوري منطق په اصطلاح کې جدل هغه قیاس دی چې له داسې مقدماتو څخه تشکیل شوی وي چې د خلکو په نزد او یا د مباحثې د لورې له نظره له مشهوراتو او مُسَلَّماتو څخه وي او د جدل ډېر ښه شکل هغه دی چې له داسې مشهوراتو څخه یې تألیف موندلی وي چې په هغې ټول خلک یقین او باور ولري او داسې مشهوراتو ته یې (آراء محموده) ویلې دي او د جدل دې ښه قسم ته په قرآنکریم کې هم اشاره شوې ده: « اُدعُ اِلی سبیل ربِّک بالحکم ةِ و الموعظةِ الحسنة و جادلهم بالتی هیَ احسن».

د جدل له صنعت څخه اساسي هدف دوه شیان دي: یو په هغه دلیل سره د خصم او مباحثې د لورې قانع کول چې د هغه په نزد مشهور او مسلم دی، دویم د هغه چا



14 – 11 - 2012

ځوابول دي چې د عقل او فهم د کموالي له کبله د برهاني قياس او استدالال له درک څخه عاجز وي او مباحثه کوونکی هم استدلال ته بدلون (تغيير) ورکړي او له هغه قياس څخه کار واخلي چې مشهور مقدمات ولري، ( ۳۲: ۱۷۱ ).

په مجادله کې اکثراً د دوو وګړو ترمنځ سوال او جواب کېږي او يو لوری تل کوښښ کوي چې په پرله پسې پوښتنو سره د ځانګړې موضوع په اړه د مقابل لوري نظريات ځانته په ښه توګه معلوم کړي او وروسته د هغه له ځوابونو او نظرياتو څخه يو قياس جوړ او هغه له خپل مخکيني نظر څخه منصرف کړي، ځکه چې د هغه د قياس مقدمات له هغو امورو څخه دی چې مخکې مقابل لوري هغه څرګند کړي او ورته تسليم شوی دی او يو طبيعي امر دی چې دا ډول استدالال اکثراً له يوه ډول لجاجت سره ترسره کېږي. او کله کله ترې نه هدف يوائې خپل مقصود ته رسېدل وي نه د حقيقت کشف، په جدل کې معمولاً کوښښ کېږي چې خصم او د خبرو اړخ له پښو وغورځوي او په خپلو خبرو او دلايلو سره هغه مغلوب کړي. که په جدل کې ډېر لجاجت وکارول شي او د مباحثې طرفين د انصاف او عدالت له دايرې څخه بيرون شي دا به يو مذموم جدل وي او هېڅکله د يوه عالم او پوه سړي له شأن سره نه ښايي، خو که دلته مقابله په داسې ډول وشي چې اساسي هدف او مقصود يې د مقابل لوري له پښو غورځول نه بلکې د حقيقت کشف او د مجهول پېژندل وي او د ټول متقابل احترام د اصولو او موازينو په رعايت سره او په صميمانه توګه وکړی شي په دې حالت کې مونږ د قرآني مبارک آيت مضمون «و جادلهم بالتی هی احسن» په ښه توګه عملي کړی دی.

جدل سره له دې چې د استدلال يوه لرغونې طريقه ده او لرغونتيايې د انسان د خلقت لرغونتيا ته رسېږي خو جدل په منظمه توګه د سوفسطائيانو او د هغوی د شاګرد (سقراط) ترمنځ شکل نيولی او ورو ورو د مباحثې د لورې د ماتې لپاره د يوې قوي وسيلې په حيث کارول شوی دی، د استدلال دا طريقه د سقراط د شاګرد

(افلاطون) په واسطې کمال ته رسيدلې او وروسته په نوو پيرو کې د (دياليک تيک) تر نامه لاندې چې هماغه د جدل معنی لري د آلماني هيګل په واسطه يې ځانته پراخه ابعاد نيولي دي، د لرغوني يونان لوی فيلسوف سقراط چې د سوفسطائيانو په منځ کې ورزول شو يواځنې کس دی چې په خپل عصر (زمانه) کې يې د خپلو استادانو ډېر نظريات رد کړي دي.

سوفسطائيان د اشياوو د حقايقو له وجود څخه منکر وو او هغه يې شخصي تصورات او طرز تلقيات (ذهنيت) ګڼل، سقراط چې د حقايقو وجود يې ثابت ګڼه د سوفسطائيانو په مقابل کې يې سخته مبارزه پيل او د جدل د روش څخه چې د هغوی په منځ کې هم دود و استفاده وکړه، د سقراط جدلی روش يې وروسته د سقراطي روش (تهکم او توليد) په نوم ياد کړی دی، سقراط په خپل دې روش کې له سوفسط څخه ګڼې پوښتنې مطرح کولې او په دې لړ کې يې له هغې څخه د اشياوو تعريفات غوښتل، سوفسط به داسې تصور کوه چې واقعاً سقراط په دې اړه په څه شي نه پوهېږي او د هغه شي او يا اشياوو په تعريف به لګيا کېده او د هغه په اړه به يې دلايل هم ذکر کول، تر ډېرو توضيحاتو وروسته سقراط چې ټول شيان به يې په دقت سره اورېدلي وو د هغې سره به په تمسخرانه لهجې سره بحث ته واردېده او د سوفسط له توضيحاتو څخه چې د هغې له مسلماتو نه به شمارل کيدل د هغه په مقابل کې به يې يو قوي استدلال وړاندې کوه او سوفسط به په ډېرې ساده ګۍ او آسانۍ سقراط ته تسليمېده.

ارسطو د جدل قياس يقيني علم ته مفيد نه بولي او هغه يې په خطابه کې د تمرين يوه نوعه معرفي کړی دی.

## د مغالطې تعریف:

مغالطه په لغت کې په غلطۍ کې اچولو ته وايي او د ارسطو د صوري منطق په اصطلاح کې له هغه قیاس څخه عبارت دی چې له مشبهاتو او وهمیاتو څخه تألیف شوی وي، د مغالطې قیاس د برهان په شان یقیني علم افاده کوي خو نه صادق یقین، بلکې کاذب او د واقع مخالف یقین (۱۵: ۱۲۸).

له مغالطې څخه هدف او غرض په دې فن او صنعت کې ماهرېدل یا د خصم امتحانول او له هغه څخه د بیلتون اختیارول دي او یا مغالطه د خصم د مجابولو (ځوابولو) او د هغه له شر او دښمنۍ څخه د خلاصون لپاره د استفادې وړ ګرځي.

مغالطه دوو ډولونو (معنوي او صوري) ته تقسیمېږي. په معنوي مغالطه کې د قیاس بڼه د منطقي موازینو سره سمه عیاره شوې خو په معنی کې یې ستونزه وجود لري د مثال په ډول د قیاس یوه یا دواړه مقدمې له وهمي چارو څخه وي لکه دا قیاس «دا مرغه تیوس دی او هر تیوس شوم دی نو دا مرغه شوم دی»، په دې قیاس کې د ترکیب او تألیف له لحاظه کوم مشکل وجود نه لري خود هغه مشکل په دویمه مقدمه (کبری) کې دی چې یوه وهمیه قضیه ده او د خبرې د لوري د غلطۍ لامل ګرځي.

مصادره علی المطلوب هم د معنوي مغالطې یوه نوعه ده چې په هغې کې له مدعیٰ څخه د دلیل په حیث او له دلیل څخه د مدعیٰ په حیث استفاده کېږي یا د قیاس پایله عین مقدمات او مقدمات عین پایله وي لکه چې وویل شي «دا شخص توانا دی او هر توانا قوي دی نو دا شخص قوي دی» او د توانایي او قوت ترمنځ کوم توپیر وجود نه لري.

په صوري مغالطې کې، د معنوي مغالطې پرخلاف په متن او الفاظو کې مشکل وجود لري نه په معنی او مفهوم کې، په صوري او معنوي مغالطو کې ډېر موضوعات دخالت لري چې وروسته بیانېږي، د مغالطې قیاس که له حکیم او یوه سره د مناظرې او یا د

برهان په مقابل کې وکارول شي د ( سفسطې) په نامه يادېږي او که له جدل او جدلي سره د مناظرې په مقابل کې ترېنه ګټه واخيستل شي د (مشاغبې) په نامه يادېږي، مشاغبه له شغب څخه اخيستل شوې او د اضطراب او د احساساتو پارولو په معنی ده. مسلمان منطقيان د مشاغبې کارول چې د مغالطې نوعه ده جائزه نه ګڼي خو د هغې استعمال يې د کافرانو او منافقانو په مقابل کې جائز ګڼلی دی.

مخکې ذکر شول چې مغالطه له وهمياتو او مشبهاتو څخه تأليف کېږي، مشبهات هغه کاذبې قضيې دي چې له صادقو قضيو سره مشابهت لري، په دې برخه کې هغه علتونه تر مختصر بحث لاندې نيسو چې د صادقې په شکل د يوې کاذبې قضيې د ښکاره کېدلو سبب کيږي او په اشتباه او مغالطه کې د انسان د وقوع باعث ګرځي، دا علتونه يا په لفظ پورې اړوند دي او يا په معنی پورې، په دې شرح:

## د صوري مغالطې د ايجاد علتونه:

1. **لفظي اشتراک**:د مغالطې له عواملو څخه يو لفظي اشتراک دی لکه چې وويل شي (اين مايع شير است و هر شيری درنده است).

2. **اعجام او اعراب**:ځينې وختونه د تورو د ټکو اينبودل په کلام کې د مغالطې باعث کيږي او يا د کلماتو په اواخرو کې د اعراب د جاری کولو له خرنګوالي څخه مغالطه منځ ته راځي مثلاً يو توری يو ټکی لري خو اشتباهاً هغه ته دوه ټکي ردي او يا د معربو کلماتو اعراب په سمه توګه نه رعايتوي او د نصب پر ځای رفع پکار وي، ابو علي سينا بلخي په (تعليقات) کې ليکي: حکماوو ويلي دي: (انه تعالی وجود بحت) يعني خدای تعالی بحت او صرف وجود دی، خو وروسته د هغه په ليکلو او تلفظ کولو کې اشتباه شوې او په دې توګه يې ويلي دي (انه تعالی وجود يجب) يعني خدای تعالی واجب وجود دی چې د ابن سينا له نظره د (يجب) جمله ترکيب افاده کوي او موضوع د بحث وړ ګرځوي او يا په دې مبارک آيت کې د اسم جلاله د

نصب تبدیل په رفع باندی «انمّا یخشی اللّهَ من عباده العلماءُ» چې په ترجمه او ژباړه کې د فاحش غلط سبب ګرځي.

**3. ترکیب:** ترکیب او د هغې څرنګوالی هم کله د مغالطې باعث شوی دی لکه چې وویل شي (احمد مهندس او جید دی) په دې قضیه کې پر موضوع په مستقله توګه دوه محموله حمل شوي په داسې حال کې چې دا کار باعث کیږي چې پورتنۍ قضیه په (احمد ښه مهندس دی) سره وژباړل شي په داسې حال کې چې له هغې څخه هدف دادی چې احمد مهندس او هم د نیکو او ښو اخلاقو خاوند دی.

## د معنوي مغالطې د ایجاد علتونه:

**1. د انعکاس توهم:** د انعکاس توهم هغه دی چې په یوې قضیې کې د یوه امر (شي) به کلیت حکم شوی وي او انسان تصور وکړي چې د موضوع په ځای د محمول د معکوس کولو په صورت کې هم هغه مخکې کلیت حفظ کیږي لکه چې ووایو (کل بیاض لون) نو انسان توهم او تصور وکړي چې د هغې سرچپه (کل لون بیاض) هم سم دی په داسې حال کې چې د هغه دا توهم غلط دی.

**2. د ذات په ځای د عرض استعمال:** که د موضوع او یا محمول په ځای د هغو عرض یا معروض وویل شي د مغالطې سبب ګرځي د مثال په ډول د (کل انسان کاتب) په ځای (کل ابیض کاتب) وویل شی چې بیاض د انسان عرض دی او د انسان په ځای راغلی دی او یا د (کل بیاض مفرق) یعني هر سپینوالی د نور (رڼا) خپرونکی دی پر ځای وویل شي (کل ثلج مفرق) ځکه چې واوره د سپینوالي معروض ده او د سپینوالي پر ځای ذکر شوې ده او نور موارد چې له ذکر کولو څخه یې صرف نظر کیږي. ډاکټر شامي د مغالطې په اړه لیکلي دي «المغالطة وهی قیاس فسدت صورته و مادته فهی اعم من السفسطة، اما المغالطة بفساد المادة کما یقال: المیت جماد. و کل

جماد لا يخاف منه . :. الميت لايخاف منه. و اما المغالطة بفساد الصورة فبأن يكون التأليف شبيها بالقياس وليس بقياس و ذلک بأن تكون الحدود اثنان كمايقال: كل انسان بشر. و كل بشر ضحاک :.كل انسان ضحاک. لان البشر مرادف للانسان ولزم من هذا أن النتيجة مرادفة لكبرى وذلک مصادرة على المطلوب» (18: 70—71).

## پوښتنې

1. جدل په لغت او د منطقيانو به اصطلاح کې تعريف کړئ او د جدل بنه شکل بيان کړئ.
2. د جدل له صنعت څخه اساسي هدف دوه شيان دي، تاسې دا دوه شيان مختصراً شرح کړئ.
3. د هغه جدل په اړه خپل نظر بيان کړی چې د طرفينو لجاجت او بې انصافۍ ته منجر شي.
4. د جدل صنعت په تاريخي لحاظ وڅېړئ.
5. مغالطه په لغت او د منطقيانو په اصطلاح کې تعريف کړئ، او د هغې د لومړنيو مبادیو نوعيت توضيح کړئ.
6. منطقيانو مغالطه دوو قسمونو معنوي او صوري ته تقسيم کړې، تاسې ددغو دوو قسمونو لپاره څو مثالونه ذکر کړئ.
7. مغالطه ځان ته څه وخت د سفسطې يا مشاغبې عنوان غوره کوي؟ او د مشاغبې حکم بيان کړئ.
8. د صوري مغالطې او معنوي مغالطې د ايجاد څو علته د خپلو مثالونو په راوړلو سره واضح کړئ.
9. د دکتور شامي له نظره د سفسطې په نسبت د مغالطې اعم والی شرح کړئ.
10. د جدل او مغالطې په اړه دې د دوو جلا ګروپونو له لارې آزاد بحث وشي او د ګروپونو نتايج دې شريک کړی شي.
11. د جدل صنعت او د مغالطې صنعت دې له مناسبو درسي موادو څخه په استفادې سره عملاً په ټولګي کې د متقابلو لوريو ترمنځ تمرين شي.



14 – 11 - 2012

# دویمه برخه

## تطبيقي يا ميتودولوژي منطق

# لومړی څپرکی

## تطبيقي يا ميتودولوژي منطق ته

## ننوتـــل

# لومړی لوست

## د نويو پېړيو د فلاسفوو او منطقيانو په واسطه د صوري منطق نقد او مخکېنی تاريخ

### موخې:

1. د ارسطو د صوري منطق د انکشاف څرنګوالي او د پيدايښت د کيفيت توضيح.
2. ددې مطلب تحليل چې په لويديځ او اسلامي ختيځ کې د ارسطو منطق د خاص اهميت درلودونکی و.
3. د ارسطو د منطق په اړه د فرانسس بيکن، رنه ديکارت او استوارت ميل د انتقادي نظرياتو په مورد کې د معلوماتو تحليل.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

ددې کتاب په يوه لوست کې د (د منطق د علم د تاريخچې) تر عنوان لاندې ددې علم تاريخچه نسبتاً په مفصله توګه بيان شوې خو په دې لوست کې چې د صوري منطق د نقد مس أله تر بحث لاندې ده اړينه برېښې چې لومړی ددې علم مخکېنې تاريخ په خاصې طريقې وکتل شي او وروسته پرې نقد وشي.

که خپلو خبرو ته ډېر دقت وکړو په ساده ګۍ سره مونږ دې شو چې د ژوند په ټولنيزو، سياسي او اقتصادي برخو کې زموږ ټول ورځيني مناقشات د منطقي اصولو او قواعدو په اساس او بناء تر سره شوي دي. ددې اصولو او قواعدو پکارول يوازې د نني عصر د متمدن او پرمختللي انسان ځانګړتيا نه ده بلکې يوازينې مميزه ده چې انسان يې (ښاري او پرمختللی، کليوال او اطرافي انسان) له نورو حيواناتو څخه جلا



14 – 11 - 2012

کوي، فطري یا طبیعي منطق د انسان په اصل کې اېښودل شوی دی او انسان د هغې په اساس فطرتاً یو منطقي موجود دی، کله چې انسان د خپل ژوند له ساده ګۍ او بساطت څخه بیرون شي او د هغه ژوند ځانته پراخه ابعاد ونیسي طبیعي ده چې د مختلفو منازعاتو د حل او پر غلیم باندې د غلبې او له حق څخه د باطل د منطقي تمییز لپاره د انساني ټولنې په مختلفو برخو کې د منطقي قوانینو وضع کولو ته ضرورت احساس شو او په دې ساحه کې لومړنی مبتکر یوناني مشهور فیلسوف ارسطو یا ارسطاطالیس وو چې د ( ۳۲۲ـــ۳۸۴) کلونو ترمنځ یې مخکې له میلاد څخه ژوند کړی، دا چې ارسطو د منطق د علم واضع او لومړنی معلم دی په دې معنی ده چې د لومړي ځل لپاره یې وکولای شول ددې علم خواره واره ټول اصول او قواعد تصنیف کړي او د هغه په تدوین د یو علم او قانوني اصل په حیث چې رعایت کول یې د انسان ذهن له خطاء څخه مصئون ساتي، لګیا شو په پوره یقین ویلی شو چې له ارسطو څخه مخکې نور فلاسفه هم وو چې په دې ساحه کې یې ګټورې چارې سر ته رسولې دي، سوفسطائیانو چې د لرغوني یونان د سیاسي ټولنو سره یې مینه درلوده ډېره هڅه وکړه چې خپل زده کوونکي په جدل او خطابې کې چې ددې علم مهم صنعتونه دي خاص تربیه کړي او په دې لړ کې د عمومي موارد و په استناد د جزئی احکامو په اثبات لګیا شول، د سوفسطائیانو د ښوونځي له نامتو زده کوونکو څخه یو سقراط دی، کله چې یې ولیدل چې هغوی د اشیاوو حقایق ثابت نه ګڼي، قصد یې وکړ چې د (تهکم او تولید) د معروف روش په کارولو سره هغوی په خپل استدلال کې د تناقض وجود ته متوجه کړي او د مجهولاتو او منطق په دقیق تعریف تاکید وکړي، هغه د تعریفاتو په باب «حد» وضع کړ، موږ کولای شو هغه په منطق کې د تعریفاتو د باب واضع وګڼو، هغه د اشیاوو د تعریفولو لپاره استقرائی روش اختیار او غوره کړ چې وروسته دې روش ډېر اهمیت پیدا کړ.

افلاطون د (مُثل) د نظريې په طرحې سره وکولای شول د ارسطو د څلور ګونو کلياتو د تصنيف لپاره زمينه برابره کړي او د رياضي پر اصولو او مبانيو چې د منطقي اصولو سره ډېر ورته والی لري ډېر تاکيد وکړي (۱۸:۵ـــ۶).

وروسته له هغې چې منطق د ارسطو په واسطه تنظيم او تهذيب شو ددې علم د ډېر انکشاف او پراخوالي کار په ټپه ونه درېد بلکې په دې ساحه کې ډېر کلک ګامونه په وروسته دورونو کې هم پورته شول. يوناني زنون ( ۲۶۲ـــ۳۶۰ ق.م) د رواقيانو د ښوونځي مؤسس وو او د هغه د ښوونځي پيروانو نړۍ له اتمونو او يو له بل سره د نښتو ذراتو څخه مرکبه وګڼله.

د هغوی له نظره ډېره مهمه او صادقه قضيه هغه ده چې د دوو شيانو ترمنځ د نسبت او ارتباط مفهوم ورکړي، څرنګه چې په شرطيه قضيه کې د مقدم او تالي ترمنځ دا نسبت او ارتباط په ښه توګه ليدل کيږي نو دا قضيه په منطق کې د ډېر اهميت درلودونکي ده، په دې بناء يې شرطي قضيې او استثنائي قياس ددې ښوونځي له ابتکاراتو څخه ګڼلي دي، حکيم جالينوس د ارسطو د قياس پر شکلونو څلورم شکل ورزيات کړ او د «رسم» په اساس د تعريفاتو نظريه يې ابتکار کړه.

صوري فرفوريوس په «ايساغوجي» کتاب کې چې د لرغوني منطق له ډېرو معروفو متونو څخه شمېرل کېږي او زمونږ د هېواد په ديني مدارسو کې هم متداول دی د ارسطو څلور ګونو کلياتو (جنس، فصل، خاصه او عام عرض) ته ئې ترتيب ورکړ او د نوع کلي يې پرې زيات کړ او دا پنځه ګوني کليات يې د قول شارح او مقولاتو لپاره مقدمه وګڼله او په تقديم او تاخير کې يې هم لاس وواهه په دې معنی چې ارسطو په آخر کې څلور ګوني کليات، «جدل» ته نژدې بحث کړي وو په داسې حال کې چې فورفوريوس د پنځه ګونو کلياتو بحث د تصوراتو تر باب پورې ملحق کړی او د خپل کتاب په لومړۍ برخه کې يې ذکر کړی دی.

افرودیسي سکندر په دویمه میلادي پیړۍ کې د منطق علم چې ارسطو هغه د «تحلیلاتو» په نامه یاد کړی و او په هغه د آلې یا وسیلې اطلاق هم کیده د «لوجیکا» په نوم یې مسمی کړ، څرنګه چې عربو ژباړونکو هغه «نص» او یا قانونمنده آله ګڼلې ده او د فیلسوف العرب یعقوب بن اسحق الکندی کار ددې علم د پراخوالي په هکله د قدر وړ دی. زمونږ د هیواد پوهان او فلاسفه هم ددې علم د پراخوالي، تبویب او د بابونو د تهذیب په اړه بې تفاوته پاتې نه شول بلکې په خپل وار یې د قدر وړ کارونه په دې اړه سرته رسولي دي. ابو نصر فارابي د «معلم ثاني» لقب په دې علم کې کسب کړی او ابو علي سینا بلخي په خپلو مشهورو کتابونو (شفاء) او (نجات) کې ددې علم په توضیح او تشریح لګیا شوی دی، څرنګه چې ټول پوهیږو د منځنیو پیړیو په ترځ کې د ارسطو صوري منطق په اروپا کې د ځانګړې اهمیت درلودونکی وو.

اسکولاستیزم او ترمسیحی حکمت پورې مربوطه مدرسې د ارسطو د منطق محتویات د انجیل د کتاب د محتویاتو په شان نافذ، د اجراء او تطبیق وړ ګڼل، د فورفوریوس صوري کتاب چې مخکې ذکر شو په اروپا کې ځانته د اسکولاستیک په لومړۍ دوره کې د ارګانون له ځینو یاداشتونو سره موجود و، خو د هغه په دویم دور کې د منطق ځینې کتابونه او د ارګانون د قیاس مباحث چې د عربو په واسطه ژباړل شوي وو اروپا ته د ځینو یهودیانو په وسیله منتقل شول. کله چې دا کتابونه په لاتیني او نورو اروپائي ژبو وژباړل شول، اروپائیان د هغوی د عربي متن د ژباړې له لارې ددې علم په محتویاتو پوه شول، د ارسطو صوري منطق د اروپایانو په نزد د منځنیو پیړیو په جریان کې د افکارو د سنجش یوازینۍ ښه وسیله وه تر هغې چې د منځنیو پیړیو دورې خپل ځای رنسانس او د علومو تجدید ته خالي کړ او په اروپا کې د لوی فکري انقلاب زمینه مساعده شوه انساني او طبیعی مختلف علوم له فلسفي څخه جلا شول او د خپلې پرمختیا لپاره یې لاره د کلیسا له قید او شرط او د پاپ له حکم څخه پرته هواره کړه او اروپا د ساینس او تکنالوژي د محیرالعقولو پرمختیاوو شاهده



14 – 11 - 2012

وګرځېدله، په دې اړه ددغو فلاسفه وو او پوهانو کار لکه راجرزبيکن انګليسي، کوپرنيک لهستاني، ګاليله ايټالوي، فرانسس بيکن انګليسي، رنه ديکارت فرانسوي، بيشه فرانسوي او ايمانوبل کانت آلماني ډېر اهميت درلود.

د نويو پېړيو فلاسفه وو او پوهانو د اروپايانو د منځنيو پېړيو خراب وضعيت او حالت د کليسا د اربابانو د تحجر او د ارسطو د صوري منطق د عقامت نتيجه ګڼلې چې د انجيل او نورو اديانو نصوص د صوري منطق له عقيمو روشونو څخه په استفادې سره د کليسا د آباءو په واسطې په ذهني او عندي شکل سره تفسير او تأويل شوي چې د انسان د سالم او آزاد فکر کولو لپاره په هغې کې هيڅ يوې زمينې وجود نه درلود، هغوی مدعي شول چې صوري منطق په هيڅ يوه علمي اکتشاف او فکري حرکت کې عمده او اساسي نقش نه درلود بلکې د پرمختګ د لارې بند او ديوال ګرځيدلی، د منطق دنده دا وه چې پوهانو ته د علومو د تحقيق ميتودونه او روشونه ور زده کړي او د قوانينو د ميندلو په لاره کې او د انساني پوهاويو په منځ کې د روابطو د کشف په هکله له هغوی سره مرسته وکړي خو برعکس صوري منطق د انسان ذهن له الفاظو سره په لوبولو کې مصروف وساته سره له دې چې صوري منطق د شارحينو له اړخه داسې تعريف شوی چې دا يوه قانوني آله ده چې رعايت يې ذهن له فکري خطا څخه ساتي «المنطق آلة قانونية تعصم مراعتها الذهن عن الخطاء فی الفكر» خو دغې منطق د منځنيو پېړيو په اوږدو کې نه د خلکو ذهن، نه د کليسا د آباءو ذهن او حتی د خپله منطيقانو ذهن يې هم د فکري تيروتنو څخه و نه ژغورلو (۷: ۲۰).

فرانسس بيکن (1561_1626) نوي ارګانون وليکه او په هغې کې يې نوی منطق چې د مشاهدې او تجربې پر بنياد متکی و پيشنهاد کړ او د ارسطو يي قياس په اړه يې داسې وويل: «قياس د انسان ذهن مقيد کوي نه امور (چارې)» په دې معنی چې د علم هدف د چارو معرفت او هم پر هغوی د حاکمو اړيکو پېژندل دي نه يوازې د تصوراتو معرفت چې زمونږ ذهن هغه يو له بل سره مربوط کړي. رنه ديکارت

(۱۵۹۶ـــ۱۶۵۰) مشهور فرانسوي فیلسوف د ارسطو د صوري منطق په اړه ولیکل: «مګر سم فکر مو وکړ، د صوري منطق په هکله له دې سره مخامخ شوم چې د قیاساتو عمده ګټه او نور ډېر تعلیمات یې دانه دي چې انسان په څه شي نه پوهېږی هغه بیاموِي، بلکې دادي چې وکولای شي په هغه څه چې پوهېږي بل پرې پوه کړي».
انګلیسی مشهور فیلسوف او پوه استوارت میل چې د (۱۸۰۶ــ۱۸۷۳) کلنو ترمنځ یې ژوند کړی د ارسطو پر صوري منطق یې هم د پاملرنې وړ نقدونه (کره کتنې) کړې دي، هغه استدلال کوي چې د ارسطو په قیاس کې د قیاس پایله پر مقدماتو بنا شوې او په عین حال کې لیدل کېږي چې د قیاس مقدمتینو هم د قیاس پر نتیجې بنا موندلې ده، د صوري منطق په کتابونو کې دا مثال ډېر تکرارېږي «سقراط انسان دی، او هر انسان فاني دی، پس سقراط فاني دی» په دې قیاس کې د «سقراط فاني دی» قضیه له کلي قضیې څخه مخکې «هر انسان فاني دی» سمه فرض شوې ده یعنې د قیاس مقدمتینو په حقیقت کې په هغه شي بنا موندلې چې د هغه اثبات مطلوب دی او داسې حالت چې د مدعیٰ او مطلوب د اثبات لپاره خپله له هغه څخه او یا د هغه له جزء څخه استفاده وشي دور او یا مصادره علی المطلوب ده چې هغه د سفسطې یو ډول دی چې په هغه کې کوم شی چې اثبات یې مطلوب وي مخکې نه مسلم او ثابت ګڼل کېږي، هغه داسې ادامه ورکوي: مونږ هغه وخت کولای شو د انسان له فنا کېدلو نه مطمئن شو چې له مخکې نه مو د انسان د نوعې د ټولو افرادو فاني کېدل چې سقراط د هغه یو جزء دی قبول کړی وي نو کلي قضیه «انسان فاني دی» کوم مجهول نه معلوموي او په عمل کې له ارزښت او اعتبار څخه فاقده ده، هغه پوهه چې په عمل کې ترېنه استفاده ونه شي او د مشکل غوټه خلاصه نه کړي اعتبار نه لري. قیاس او استقراء په صوري منطق کې د چارو د تحقیق دوه روښه دي، په قیاسي روش کې په پیل کې محقق کلي حکم صادر کړی، وروسته د هغه کلي په افرادو او جزئیاتو لګیا کیږي لکه څرنګه چې د «سقراط انسان دی، او هر انسان فاني دی نو سقراط فاني دی» په قیاس کې لیدل

کېږي، خو په استقرائي روش کې په پيل کې محقق د يوه کلي افراد او جزئيات د خپل دقت مورد ګرځوی وروسته د هغه افرادو جلا احکام په کلي باندې تطبيقوي (۲۷:۱۴۷)، استورات ميل نه يواځې قياس بلکې په ارسطويي قياس کې صوري استقراء هم تر نيوکې لاندې راوړې او هغه له عملي ارزښت څخه فاقده ګڼي مثلاً د صوري استقراء له نظره که سيارات د لمر په شا او خوا ګرځي بايد په داسې ډول حکم وشي: عطارد د لمر په شاو خوا تاوېږي، ناهيد (زهره)، ځمکه، بهرام (مريخ)، برجيس (مشتري) کيون (زحل)، اورانوس، نپتون او پلوتون هم د لمر په شاو خوا تاوېږي نو ټول سيارات د لمر په شاو خوا تاوېږي په دې مثال کې چې د څو جزئي حالتونو څخه د يوه کلي حکم په لور تګ شوی کوم نوی شی چې په مقدماتو کې نه وي نه ليدل کېږي يعنې «نتيجه» د مقدماتو تکرار دی نه کوم نوی شی، پرته له مقدماتو استقراء زمونږ پر معلوماتو کوم شی نه زياتوي او کوم مجهول نه معلوموي د مقدماتو دا ډول تنظيم له عملي او تطبيقي ارزښت څخه فاقده پايله ده، خو په عملي منطق کې کله چې اوبه د حرارت د درجې په ارتباط څو ځله ازمايي او تجربه کوي يې او د يو شان نتايجو له تکرار څخه وروسته حکم کوی چې «اوبه د سانتي ګريد په سلو درجو کې په جوش راځي» د بياني منطق دا کار يوازې د صورت او فورم له لحاظه نه بلکې د مخکينۍ مشاهدې، تجربې او تکرار پر مبنا استوار دی او هغه شی چې محض ذهني دی په واقع او نفس الامر کې د انسان له ذهن نه بهر د څېړنې وړ او پر يوې مادي باندې عملاً تطبيق شوی او د هغې څخه نه رديدونکې پايله لاس ته راغلې ده، په راتلونکې کې هم د تطبيقي منطق ددې حکم په اساس د نورو عملي تحقيقاتو لپاره زمينه برابره شوې ده (۷:۲۲ــ۲۳) او همدارنګه که په منطقي قياس کې غور وشي او له محض شکل څخه بهر شي او هغه پايله لاس ته راوړي چې مخکې په مقدماتو کې وجود ونه لري په يقين سره ويلی شو چې داسې واقعي قياس د عملي استدلال پايه او اساس دی نقدي او په لاس را تلونکی ارزښت لري.

## پوښتنې

1. د منطق او انساني تفکر اساسي اصول او قواعد د انساني فطریاتو او اولیاتو څخه حسابیږي دا موضوع وڅیړئ.
2. د صناعي منطق اصول او قواعد د لومړي ځل لپاره د چا په واسطه تنظیم شول؟ ددې قواعدو تاریخي سابقه بیان کړئ.
3. د منطقي قواعدو په انکشاف کې سوفسطائیانو او سقراط څه نقش درلود؟ توضیح یې کړئ.
4. د منطق له تنظیم څخه وروسته د زنون رواقی سهم د شرطیه قضیو او استثنائي قیاس په ارتباط شرح کړئ.
5. د «ایساغوجي» کتاب معرفي او د هغه اهمیت په شرق او غرب کې د ارسطو د منطق د معرفي په لړ کې ذکر کړئ.
6. د ارسطو منطق اسلامي عالَم او لویدیځي نړۍ ته څرنګه معرفي شو؟ د هغه ارزښت او اهمیت په منځنیو پیړیو او د حکمت په مدرسه کې بیان کړئ.
7. ولې د نوو پیړیو فلاسفه وو او پوهانو د ارسطو صوري منطق تر انتقاد لاندې نیولی او هغه یې د علمي حقایقو په کشف کې یوه عقیمه وسیله ګڼلې؟
8. د ارسطو د صوري منطق په اړه د فرانسس بیکن، رنه دیکارت او استوارت میل انتقادي نظریات په مشخصه توګه ذکر کړئ.
9. استوارت میل د ارسطو منطقي قیاس دور او مصادره علی المطلوب ګڼلی دی، دا موضوع د یوه مثال په لړ کې شرح کړئ.
10. دا چې استوارت میل د ارسطو د منطق استقراء هم له عملي ارزښت څخه فاقده ګڼلې، پر موضوع په مدلِله توګه بحث وکړئ.
11. محصلان دې د ارسطو د صوري منطق د اصولو سره سم د استدلال مختلف مثالونه د ټولګي د تختې پرمخ تحریر او د نوو پیړیو د منطقیانو او فلاسفه وو له نظره دې انتقادونه وکړي.



14 – 11 - 2012

# دویم لوست

## د صوري منطق د نقد نقد

### موخې:

1. د سوفسطائیانو د نظریاتو او د منطقي قوانینو توضیح.
2. د انساني تفکر په انکشاف کې د صوري منطق د نقش په اړه د معلوماتو تحلیل.
3. د صوري منطق په اړه د نوو پیړیو د فلاسفه وو او منطقیانو د انتقاداتو نقد او ارزونه.
4. محصلان د تمرین له اجرا څخه وروسته، د توضیح او ددې درس د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

په تېر شوي لوست کې د نوو پیړیو د فلاسفه وو او منطقیانو په واسطه د ارسطو د منطق تاریخي وړاندیز او نقد په مختصره توګه ذکر شو او د هغوی له خوا چې پر صوري منطق کوم عمده او مهم انتقادات وارد شوي وو پرې بحث وشو، خو دا هم باید هیر نه کړو چې د ارسطو صوري منطق که هر څومره د غرب (لوېدیځ) د ځینو علماوو د نقد او کره کتنې وړ وګرځېد خو په هغې کچې عقیم او غیر مفید نه دی کوم چې هغوی تصور کړی دی.

که د ارسطو د دوران زماني او مکاني حاکم شرائط په نظر کې ونیسو او سوفسطائي فلسفي ښوونځي لکه العنادیة، العندیة او الأدریة چې د مادي او محسوسو اشیاوو حقائق یې لږ تر لږه هم ثابت نه ګڼل له نظره لرې و نه غورځوو په جرأت سره ویلی شو چې د ارسطو صوري منطق د خپل وخت د سالم تفکر ټول قوانین او اصول تنظیم کړي او د سفسطې او جدل د ښوونځیو پر ضد یې مبارزه کړې او د اشیاوو د پیژندنې سمه لاره او روش یې د بالحد او بالرسم د تعریفاتو له لارې ښودلې او په ذهن کې یې د شي د بنې د معرفت او حصول اقسام ښه توضیح کړي دي.

لفظ يې د متعددو اړخونو له پلوه ارزولې او د معناګانو او مفاهیمو د سم بیان او تعبیر لپاره يې زمینه آماده کړې، د دال دلالت يې پر مدلول په داسې طریقې سره توضیح او بیان کړی چې تل د علومو د استفادې وړ ګرځېدلی دی، په صوري منطق کې تصدیقات پر یو شمېر ثابتو او لایتغیرو قوانینو بنا پیدا کړی چې تل په ټولو علومو او فنونو کې ترې نه ګټه اخیستل شوې ده، مثلاً د «هو هو» قانون چې د ذاتیت د قانون او یا د فروغي په تعبیر د (اینهماني) یعنې «همغه دی» په نوم هم یادېږي.

ددې قانون په اساس شی له خپل ځان څخه عبارت دی او هر شی د یوه ثابت حقیقت درلودونکی دی او تر هغه وخته چې په هغې کې هغه حقیقت موجود وي تغییر نه قبلوي. د «عدم تناقض» قانون هم د انساني فکر له قوانینو څخه یو قانون دی هر کله چې دا ومنو: دا شی نبات دی بیا نه شو کولای چې په عین زمان او عین جهت کې ادعا وکړو چې غیر نبات دی، او یا هم «د امتناع یا ثالث مرفوع» قانون چې د هغه په اساس کله چې ومنو هغه شی (مثلاً نبات دی) نو که په رښتیا هغه شی نبات وي په خپله دې دعوی کې صادق یو او که نبات نه وي کاذب یو یعنې د صدق او کذب څخه غیر دریېم حالت په هغې کې نه شي تصور کیدای.

او یا دا چې ووایو د ۴ عدد (شمیر) یا فرد دی یا زوج چې دریېم حالت په هغې کې ګنجایش نه لري (۲۴:۷۰ـــ۷۱) او همدارنګه د تعلیل قانون چې د هغه په اساس ځینې شیان د ځینې نورو لپاره علت دي.

دا چې د صوري منطق تعریف چې مخکې ذکر شو شکلي او صوري لوری ښیي له دې کبله دی تر څو د هغې د تطابق او هماهنګي ضرورت په یوناني پوهه او فرهنګ کې چې کیفي او توصیفي جنبه يې لرله حفظ کړی خو ددې ضرورت باوجود هم د مضمون او مادې اړخ ئې هم له نظره نه دی لرې کړی او ددې ملحوظ له مخې ده چې د ارسطو صغیر منطق زیاتره د فکر قوانینو او د هغه شکلی جوانبو ته توجه لرله په

داسې حال کې چې د هغه کبير منطق زياتره يوازې رياضيکي او طبيعي علومو ته توجه کړې ده (۱۹:۱۳) چې دا نظر د ابو علی سينا بلخي په واسطې هم تأييد شوی او په دې اړه يې ويلي دي: «دا چې د ارسطو منطق موږ له عمومي قوانينو سره آشنا کوي او له فکري خطاء څخه زمونږ د صيانت موجب ګرځي نو په هغه کې د صورت او مادې دواړو اړخونو ته توجه کېږي».

د ارسطو صوري منطق د سم تفکر وسيله او آله ده چې له هر ډول خطاء څخه په امان کې وي او د سالم تفکر ټول اصول او قواعد يې وضع او تنظيم کړي دي.

اوس دا آله او وسيله زمونږ په اختيار کې قرار لري او دا تر موږ پورې اړه لري چې له دې آلې او وسيلې څخه څرنګه ګټه واخلو، آيا يو منطقي قياس پر صادقو مقدماتو ترتيبوو او يا پر کاذبه مقدماتو؟ په دويم صورت کې به د قياس نتيجه يقيناً کاذبه او ناسمه وي د مثال په ډول په لاندې قياس کې د قياس مقدمتين چې د هغې تجربه شوې ماده صادقه ده نو د هغه «نتيجه» هم صادقه ده « الحديد معدن، و کل معدن يتمدد بالحرارة، فکل حديد يتم دد بالحرارة» خو که خپل قياس په دې ډول جوړ کړو: «المعدن نبات، وکل نبات نام، فالمعدن نام» څرنګه چې زمونږ لومړی مقدمه کاذبه او د واقع مطابق نه ده او تجربه يې نه تأييد وي نو ضرورتاً زمونږ د قياس نتيجه هم کاذبه او د واقع خلاف ده، دکتور شامي مصري د «دراسات فی علم المنطق» په کتاب کې د صوري منطق په اړه څه بنه ليکلي دي: « وذلک کعلم السباحة مثلا فانها تستند علی أسس علمية هی وسيلة لا نقاذ الانسان من الغرق، فاذا خالف س بلح هذه الأسس فلا عبرة بسباحتق واذا نجا من الغرق فذلک بمحض الصدفة والواقع» (18: 13). او که ددې قانوني وسيلې او آلې څخه د منځنيو پېړيو په اوږدو کې سمه استفاده نه ده شوې او د هغې مادي او عملي اړخ هېرولو ته سپارل شوی او زياتره د فکري تحجر او د کليسا د آباوو تر جزمي عقايدو پورې اړه لري چې د نويو حقايقو د کشف سره يې هېڅ ډول علاقه نه درلوده.

د ارسطو صوري منطق د منځنيو پېړيو په اوږدو کې په ختيځو ټولنو او په ځانګړې توګه په اسلامي ټولنو کې ځانګړی اهميت درلود او هېڅ مدرسه او علمي حوزه نه وه چې د ارسطو صوري منطق په کې نه وي تدريس شوی.

په اروپا کې له دې قانونمندی آلې او وسيلې څخه معقوله او عملي استفاده ونه شوه او د کليسا اربابو هغه د ذهني او شکلي انځور په ډول وساته خو برعکس په ختيځ خصوصاً په اسلامي ختيځ کې ددې منطق موجوديت نه يوائې د پرمختګ هيڅ ډول مانع او سد ونه ګرځيده بلکې مسلمانانو د هغو له قوانينو څخه په ټولو علومو او فنونو کې استفاده وکړه او په مختلفو عرصو کې يې ګټور پرمختګونه حاصل کړل لکه رياضيات، کيميا، فزيک، بيولوژي، دواسازی، طب او حربی وسايل.

په اوسنۍ زمانه کې هم د ارسطو صوري منطق د اسلامي هيوادونو په اکثره مدرسو او پوهنتونونو کې تدريس کيږي او علت يې هم دادی چې د اسلامي فرهنګ لومړنی لاس کتابونه او اصيل متون د قياسي استدلال له طريقې سره په مطابقت کې تبويب او تدوين شوي دي او که پر صوري منطق کامل تسلط او ورود وجود ونه لري د هغو متونو له محتوياتو څخه سم درک او فهم په ښه توګه نه شي ميسر کيدلی.

مسلمه خبره داده چې هم صوري منطق او هم ميتودولوژی او تطبيقي منطق دواړه د هغه دلائلو سره چې ذکر شول د ځانګړي اهميت درلودونکي وو او په هيڅ وجه يو د بل اهميت نه شي نفی کولای او ددې ملحوظ په بنا صوري او تطبيقي منطق له نيمې پيړۍ څخه ډير وخت زمونږ د ګران هيواد د ښونځيو د درسي نصاب جزء وو.

د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي هم صوري او تطبيقي منطق د تدريس د اهميت او ضرورت د درک پر بنا د خپل عمر له ٥٠ کلونو څخه زيات د خپلو درسي برنامو جزء ګرځولي او په دوو سمسترو کې يې د تدريس اراده کړې ده او همدارنګه د

هيواد د نويو پوهنتونونو د شرعياتو د پوهنځيو په ټولو درسي پروګرامونو کې هم ځای پر ځای شوي دي.

د هيواد د ښوونکي دروزنې تحصيلي نهادونو او دارالمعلمينونو هم د منطق د مضمون ددواړو شعبو (صوري او تطبيقي) تدريس له نظره لرې نه دی غورځولی او هغه يې د ديني علومو په تعليمی نصاب کې شامل کړی دی.

## پوښتنې

1. د العنادية، العندية او الادرية فرقو نظر د شیانو د حقائقو په مورد کې بیان کړئ.
2. د منطقي حد او رسم له لارې د شیانو پېژندنه توضیح کړئ او لفظ له مختلفو جهتونو څخه په مختصره توګه تقسیم کړئ.
3. د «هو هو» د قانون او نورو منطقي قوانینو په هکله څه پوهېږئ؟ له مثالونو سره يې توضیح کړی.
4. دا چې د ارسطو صوري منطق صورت او ماده دواړه د پاملرنې وړ ګرځولي، موضوع مختصراً شرح کړئ.
5. صوري منطق له فکري خطاء څخه د ذهن د صیانت ښه وسیله ده او دا زموږ کار دی چې له هغه څخه څرنګه استفاده وکړو، دا موضوع د متضادو مثالونو سره بیان کړئ.
6. د ارسطو منطق د لوېدیځ په نسبت په اسلامي ختیځ کې په ښه توګه د استفادې وړ ګرځیدلې، دا مسأله په دلائلو سره وڅېړئ.
7. د اسلامي شریعت د لومړي لاس د کتابونو او متونو د محتویاتو د ښه فهم لپاره د ارسطو د منطق زده کولو ته ضرورت پېښېږي، دا موضوع په اختصار سره جر او بحث کړئ.
8. د خو ګروپونو په لړ کې د ارسطو د منطق اهمیت د انساني تفکر په انکشاف کې وارزوئ او بیا د ګروپي کار نتایج توحید کړئ.



14 – 11 - 2012

# دويم څپرکی

## دعلومو روشونه او ډلبندي

# لومړی لوست

## د علومو ډلبندي

### موخې:

1. د زماني په اوږدو کې له فلسفې څخه د مختلفو علومو د بېلېدلو د څرنګوالي بيان.
2. د هغو علومو د تصنيف بيان چې د اسلامي پوهانو او ارسطو په واسطه شوی دی.
3. د فرانسس بيکن او اګوست کنت د تصنيف او د نړۍ په تحقيقاتي نهادونو او پوهنتونونو کې چې په اوسنۍ زمانه کې کوم تصنيف کېږي بيان.
4. محصلان د تمرين له اجراء کولو څخه وروسته د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

څرنګه چې پوهېږو فلسفه په لرغوني يونان کې په ټولو نظري او عملي فعاليتونو او علومو کې شامله وه او ټول علوم د فلسفې تر عنوان لاندې مطالعه کېدل او د علومو او فنونو د مختلفو عرصو کار کوونکي د فلاسفه وو په نوم يادېدل خو کله چې د علومو لمنې ډېرې پراخې شوې او يو فيلسوف نه شو کولای چې ټول علوم په هغې پراختيا سره تر تحقيق او څېړنې لاندې ونيسي او محسوس او ملموس نتايج له هغې څخه لاسته راوړي نو په دې اساس د وظايفو تقسيم او وېش منځ ته راغی او علومو يوه يوه په تاريخي مختلفو زمانو کې په تدريج سره خپل استقلال اخيستی او په مستقله توګه د مطالعې او څېړنې وړ ګرځېدلي دي. د علومو لومړنۍ ساحه چې له فلسفې څخه جلا شوې او ځانته يې مستقل وضعيت نيولی له رياضياتو څخه عبارت و چې له ميلاد څخه مخکې په څلورمه پېړۍ کې د يوناني اکليد (اقليدوس) په واسطه سر ته ورسېده او د هغه په تعقيب له ميلاد څخه مخکې په درېيمې پېړۍ کې مکانيک

د يوناني ارشميدس، په شپاړسمه پيړۍ کې هيأت (ستوري پيژندنه) د لهستاني کوپرنيک، په اوولسمه پيړۍ کې فزيک د ايتاليايي ګاليله، په اتلسمه پيړۍ کې کيميا د فرانسوي لاوازيهٔ، د ۱۹ پيړۍ په لومړنی نيمايي کې بيالوژی د فرانسوي اوګست کنت په واسطه له فلسفي څخه جلا کړی شول.

له بلې اړخه د ځينو علومو ذات البيني اړيکو، پوهان دې ته اړ کړل تر څو د علومويو شمير ډلبندۍ په تاريخي مختلفو دورو کې سرته ورسوي.

لومړی فيلسوف چې د علومو د (ډلبندۍ) د ابتکار نسبت هغه ته شوی ارسطو دی، هغه په خپل دغه کار سره په حقيقت کې د فلسفي مختلف اړخونه يو له بل څخه جلا کړل، هغه د انساني روح د عملياتو (تفکر، عمل او ابداع) پر مبنا فلسفه نظري، عملي او ادبي علوموته وويشله.

1. **نظري علوم:** هغه علوم دي چې د حقيقت په مشاهدې او تدقيق يې اکتفا کړې او دا چې له دې تدقيقاتو څخه حياتي او عملي نتائج لاسته راوړي کوښښ نه کوي لکه رياضي، فزيک او ميتافزيک، د ارسطو په نزد د ميتا فزيک موقعيت له نورو ټولو علومو څخه اوچت دی ځکه ميتا فزيک يو کلي علم دی چې د ټولو حادثاتو علل تر تحقيق او څيړنې لاندې نيسي.

2. **عملي علوم :** عملي علوم د هغه عمل او حرکت له مخې څخه چې د فرد، کورنۍ او دولت په اړه کيږي ويشل کيږي لکه اخلاق، د ښارونو سياست او د کورنۍ تدبير.

3. **ادبي علوم :** دا علوم د بشر د مبدعه قوې نتيجه ده لکه شعر، خطابه، جدل، موسيقي، بيان او مناظره.

معلومه ده چې د ارسطو «ډلبندي» که څه هم بې اساسه نه ده خو مکمله هم نه ده ځکه چې له يوې خوا يې علوم او صنائع يو له بلې سره ګډ کړي او له بلې خوا يې تاريخي علوم إهمال کړي دي او له دې څخه علاوه د هغه د تصنيف په اساس کې هم مبهم والی موجود دی، که څه هم درې ګونې عمليات (تفکر، عمل او ابداع) چې د تصنيف مبدأ منل شوي دي روحي عمليات دي چې هر يويې په خپل نوبت سره يو له بل سره مرسته کوي، هغه علوم چې اساساً نظري وي بالضروره، عملي نتائج هم منځ ته راوړي او بالعکس د هر عملي علم مبدأ په هر حال کې له يوې سلسلې افکارو څخه عبارت وي او د دې له مخې عملي علوم بايد په نظري علومو استناد ولري نو په دې حالت کې دا درې ګونې فعاليتونه کولای شي يو له بل سره تداخل وکړي نو دغه شيان د تصنيف د استناد ځای او اساس ګرځول په حقيقت کې يوه متين مسند ته نه لاس رسی دی.

## په منځنيو پيړيو کې د علومو ډلبندي :

په منځنيو پيړيو کې چې کوم تصنيف حاکميت او رواج درلود د ارسطو له تصنيف څخه متأثره و او له هغه سره دومره توپير نه لري، په منځنيو پيړيو کې په اسلامي عالم کې هم وضعيت په همدې ترتيب او بڼې و او علوم يې په دوو ډولونو عقلي او نقلي سره تقسيم کړي وو چې عقلي علومو يې هماغه د ارسطو تصنيف تشکيل کړی و، د لاندې شرحې په شان:




چې ددې تصنيف اساس او غايه په عربي علومو کې د مهارت کسب او د قرآنکريم او الهي حکمت لازم درک او پوهېدل دي.

**د فرانسس بیکن ډلبندي:** بيکن چې د اوسني عصر د فلسفې له مؤسسينو څخه يو دی علوم يې د انساني روح د ملکاتو (حافظه، مخيله او عقلانيه) په نظر کې نيولو سره ډلبندي (تصنيف) کړې دي.

1. هغه علوم چې د حافظې له ملکې څخه پيدا دي چې له طبيعي، مدني، مذهبي او سياسي تاريخ څخه عبارت دي.

2. هغه علوم چې له مخيله ملکې څخه پيدا دي چې له شعر، موسيقي، نقاشي، او نورو ظريفو صنايعو څخه عبارت دي.

3. هغه علوم چې له عقلانيه ملکې څخه پيدا دي چې له فلسفې څخه عبارت دي چې درې موضوع ګاني لري: خدای (الهيات او لومړنی فلسفه) طبيعت (فزيک، رياضيات او بيالوژي)، انسان (منطق، اخلاق او روانشناسي يا ارواح پيژندنه، په دې تصنيف کې هم ضعيفې نکتې وجود لري ځکه چې علوم او ظريف صنايع يې يو له بل سره مخلوط کړي دي.

طبيعي او سياسي تاريخ چې يو له بل سره يو قطعي مشابهت نه لري يو د بل ترڅنګ اينبودل شوي دي او هم ددې تصنيف اساسات يو په بل کې متداخل دي، دغه تصنيف چې د بيکن او فرانسوي الامبر په نامه مشهور دی د فرانسې د ۱۸ پيړۍ د دايرة المعارف د ليک والانو د تاييد وړ هم ګرځيدلی دی.

**د اګوست کنت او آمپر تصنيف:** اګوست کنت فرانسوي او آمپر په نولسمه پيړۍ کې يو تصنيف لري چې د هغه په ترڅ کې علوم دوو جلا ډولونو ته تقسيم شوي دي، يو ډول چې پر مادياتو پورې مربوطو علومو ته شامل دی او نرۍ وال علوم ورته هم ويل شوي په خپل ذات کې څلور ډولونه لري: رياضي علوم، طبيعي علوم، فزيکي علوم او طبي علوم. او دويم ډول چې پر معنوياتو پورې مربوطو علومو ته شامل دی او عقلاني علوم. هم ورته ويل شوي په خپل ذات کې څلور ډولونه لري: فلسفي علوم، تر کلام او هنر پورې اړوند علوم، د نژاد پيژندنې علوم چې تر تاريخ پورې هم اړوند دي، او سياسي علوم (چې تر اقتصاد او عسکري فنونو پورې هم مربوط دي).

که د اګوست کنت تصنيف ته ځير شو له عام څخه يې حرکت کړی او په خاص ختم شوی او له فلسفې څخه د هر علم د بيلتون د تاريخ په اساس ترتيب او تنظيم شوی دی، څرنګه چې ليدل کيږي رياضي علوم لومړني ډول علوم دي چې د يوناني اقليدوس په واسطه له فلسفې څخه جلا شوي او وروسته طبيعی، فزيکي او نور علوم، او شايد ددې ډلبندۍ او طبقه بندۍ يوازينی‌مشکل په هغې کې د اروا پوهنې نشتوالی وي.



14 – 11 - 2012

خو په اوسنۍ زمانه کې د علومو کومه ډلبندي او طبقه بندي د نړۍ د پوهنتونونو او علمي او تحقيقي مراکزو په اختيار کې ده؟ نن ورځ تر کائناتو پورې د اړوندو پديدو او امورو د تنوع په اساس علوم پر درېو اساسي ډولونو باندې ډلبندي شوي دي: فزيکي علوم، حياتي علوم، او اجتماعي علوم. د رياضی علوم يې د نورو علومو اساس او بنياد ګڼلي دي.

په فزيکي علومو کې هغه علوم شامل دي چې تر بې روحه مادې پورې اړه لري لکه د کيميا علم، د فزيک علم، د ځمکې پېژندنې علم، د افلاکو او ستورو پېژندنې علم. او په حياتي علومو کې هغه ډول علوم شاملېږي چې د ځان او روح لرونکې مادې پورې اړوند دي لکه د بيولوژي علم، د وظائف الاعضاء علم (فيزيولوژی)، د ځناور پيژندنې علم، د نبات پيژندنې علم. او په اجتماعي علومو کې هغه ګروپ علوم شامل دي چې تر انسان پورې اړونديږي، لکه د تاريخ علم، د اروا پوهنې علم، د ټولنې پيژندنې علم، او د اقتصاد علم (۷:۳۱ــ۳۹).



14 – 11 - 2012

## پوښتنې

1. د علومو په ساحه کې د وظائفو له تقسیم څخه مخکې په لرغوني یونان کې د فلسفې او علومو د وضعې څرنګوالی بیان کړئ.
2. ریاضي، میخانیک، هیأت، فزیک، کیمیا، بیالوژي او ټولنې پېژندنه په کوم وخت کې او د کومو علماوو په واسطه له فلسفې څخه جلا کړی شول؟ په اختصار سره یې ذکر کړئ.
3. د علومو د تصنیف او ډلبندۍ ابتکار چا کړی.
4. په منځنیو پېړیو کې د علومو د تصنیف وضعیت څرنګه و؟ او د اسلامي پوهانو دلبندي مختصراً واضح کړئ.
5. د انساني روح ملکات چې د فرانسس بیکن د تصنیف اساس تشکیلوي ذکر کړئ او وواياست چې دا لاندې علوم د انساني روحي ملکاتو په کومه یوه پورې اړوندېږي: «الهيات، بیالوژي، اروا پوهنه، موسیقي، لومړنۍ فلسفه، ریاضیات، منطق، فزیک، اخلاق، شعر، نقاشي».
6. د اګوست کنت او آمپر د علومو تصنیف په یوه چارت کې د تختې پر مخ وښیئ.
7. هغه تصنیف چې په اوسنۍ زمانه کې د نړۍ په پوهنتونونو او علمي او تحقیقاتي مراکزو کې تطبیق کېږي کوم دی؟ دا تصنیف له مخکېنیو تصنیفونو سره پرتله کړئ.
8. محصلان دې کتلاګونو او د نړۍ د مشهورو پوهنتونونو ویب سایتونو ته د لاس رسي په صورت کې د علومو د معروفو تصنیفونو او ډلبندیو په اړه مختصرې مقالې ولیکي.

# دويم لوست

## انساني تفکر او د علومو چارچلند (روشونه)

### موخې:

1. د ديکارت د څلورګونو قاعدو او روش پېژندني او په علمي تحقيق کې د هغه د اهميت درک.
2. د علومو د مختلفو روشونو تشخيص، د هغو توپيرونه او مشترکات.
3. په علمي تحقيق کې د ترکيب، تجزيې، استدلال او د مستقيمې مشاهدې د اهميت بيان.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

### د علومو د روشونو توپير:

روش پيژندنه يا ميتودولوژي له واقعي او اختصاصي منطق څخه عبارت دی، ددې منطق له نظره هر شي ته هغه وخت حقيقت ويل کېږي چې له واقعيت او نفس الامر سره مطابقت ولري څرنګه چې د تفکر موضوع ټل په يوې علمي ساحې پورې اړونده نه ده نو د تفکر روش او مېتود هم د موضوع د توپير پر اساس توپير لري، د مثال په ډول که د تفکر موضوع د رياضي مجرد امور وي او يا د هغې موضوع فزيکي او کيمياوي حوادث او واقعات وي نو د هر يوه د تحقيق طريقې به هم يو له بل سره متفاوتې وي، د مختلفو علومو د طريقو مجموعه د روش يا ميتود په نامه يادوي او هغه علم چې دا روشونه يې پيژندلي او يو له بل څخه يې تفکيکوي د نوي منطق يا د علومو فلسفه او يا هم د ميتودولوژي او روش پيژندنې په نوم يې ياد کړی دی.



14 – 11 - 2012

روش یا مېتود په حقیقت کې د هغو طریقو مجموعه ده چې د حقیقت میندلو لپاره په کارېږي او یا د هغې اثبات پرې کېږي. میتودولوژي او روش پېژندنه له هغه علم څخه عبارت ده چې د تحقیق د مناسبو روشونو او د مختلفو علومو د قضایاوو د اثبات په اړه بحث کوي نو د روش پېژندنې علم له یوه اړخه د تحقیق د طریقو مجموعه ده چې په یوه علم کې پکارول کېږي او له بله اړخه د علمي تحقیق د روشونو پلټنې کوي چې له همدې کبله روش پېژندنه د منطق او تفکر د صحیح فن یوه برخه ده.

نوی منطق له عقلاني اصولو څخه منبع اخلي او د تحقیق په اوږدو کې له ناسمو فکرونو څخه مخنیوی کوي او بې نظمۍ نه پرېږدي.

## د رنه دیکارت څلور قاعدې:

فرانسوي رنه دیکارت د ذهن او انساني تفکر له بې نظمۍ څخه د مصئونیت او د علمي حقایقو د اثبات لپاره په هره علمي ساحه کې د لاندې څلورو قاعدو موجودیت او عملي کول حتمي ګڼي.

1. **د بداهت قاعده:** باید ځیر شو چې تر هغه وخته پورې چې یوه موضوع ښه درک نه کړو او د هغې په ماهیت پوه نه شو تر هغه وخته هغه حقیقي او سم و نه ګڼو.

2. **د تحلیل قاعده** د بحث او تحقیق هره موضوع د تحلیل او تجزیې قابلیت لري د تحقیق او تفکر وړ موضوع باید د هغې په تشکیلوونکو اجزاوو تحلیل کړو او دې کار ته تر هغه ځایه ادامه ورکړو چې موضوع په خپلو ډېرو وړوکو اجزاوو تجزیه او تحلیل او ذهن ته مفهوم شي.

3. **د ترکیب قاعده** کله چې یوه موضوع په خپلو ممکنه وو ډېرو وړوکو اجزاوو تحلیل شي وروسته له هغې یې هر جز د تحقیق او دقیقي پلټنې وړ وګرځي او د

ترکيب عمليه په هغه ډول سر ته ورسېږي چې په هغې کې د وړوکو اجزاوو څخه د لويو اجزاوو په لوري سير او حرکت وکړي.

**4. د شمېرې او دقت قاعده** په دې قاعدې کې په دې مطلب تاکيد دی چې بايد د موضوع ټول اجزا که ظاهراً کم اهميته هم وي تر شمېرنې لاندې ونيول شي او دقيقاً وپېژندل شي.

د روش پيژندنې يا ميتودولوژي علم بېلابېل روشونه او ميتودونه د مختلفو علومو د مختلفو موضوعاتو د تدقيق لپاره تشخيص کړي، د مثال په ډول د رياضي علم لپاره د قياس او استنتاج روش او ميتود، د طبيعي علومو (کيميا او فزيک) لپاره د مشاهدې، استقراء او تجربې روش، د حياتي علومو لپاره له مشاهدې، استقراء او تجربې سربېره د تعريف او ډلبندۍ روش، د اجتماعي علومو لپاره له متذکره روشونو سره د اسنادو، مدارکو، شواهدو او منابعو پلټنه، او د علم النفس او ارواپوهنې لپاره د رفتار، سلوک او تفکر ارزونه د هغو ساحو د علمي حقايقو د کشف د مناسبو او مؤثرو ميتودونو او طريقو په حيث په نظر کې نيولي دي.

په ټولو روشونو کې مهم اصل دادی چې روشونه يوازې ذهني و نه ګڼل شي بلکې له بهرنيو واقعاتو سره بايد تطبيق شي او د موضوعاتو د حقيقي والي علمي مختلفو امورو يوائينې معيار دادی چې فکر تر کومه حده له ذهن څخه پر بهرني واقعيت مطابقت لري او د نړۍ په حوادثو کې هغه منعکسوي.

شايد ځينې نوي منطقيان او فلاسفه د پورته ذکر شوي معيار په نظر کې نيولو سره د پراګماتيزم (د عمل اصالت) ښوونځی هم تر خپل انتقاد لاندې راوړي.

سره له دې چې د پراګماتيزم فلسفي ښوونځي په خپلو اصولو سره وکولای شول د امريکا په خلکو کې ښه ځای تر لاسه کړي او د امريکا د ملي فلسفې په عنوان په ۱۹ پيړۍ کې وپېژندل شي، ددې ښوونځي له نظره د تفکر موضوع او هر نظر هغه

وخت سم او صحیح دی چې د انسانانو په عملي ژوند کې کارول شوی وي او وکولای شي د مشکلاتو په حل او د غوټو په خلاصولو کې مؤثر واقع شي، په دې فلسفه کې ټولې قضیې او چارې په عمل کې د مفیدیت او مؤثریت پر مبنا د ارزونې وړ ګرځي او له دې اړخه او جهته ده چې دا فلسفه یې د (نفعي فلسفې) په نامه هم یاده کړې ده.

دا ښوونځی په ۱۹ پیړۍ کې په امریکا کې د درې تنو معروفو فلاسفه وو او علماوو په پرله پسې کوښښونو سره منځ ته راغی، دا درې کسان چونسي رایت، چارلز سندرس پیرس، او ویلیام جمز دي (۲۵ : ۱۱۷).

هغو کسانو چې دا ښوونځی یې تر انتقاد لاندې نیولی داسې توضیح ورکوي: دا ښوونځی د خپلو ضرورتونو او احتیاجاتو په اساس حقایق تعریفوي او د شي د واقعیت د پلټنې لپاره د هغه ګټورتیا د ارزونې وړ ګرځوي او په حقیقت کې دې ښوونځي د طبیعت او ټولنې عیني قوانین په نظر کې نه دي نیولي اوغواړي بیروني عیني واقعیت د افرادو د احتیاجاتو او د ذهن او شخصي او خپل منځني تمایلاتو تابع کړي.

د نوي منطق او دعلومو روش پېژندنې له نظره غوره علمي طریقه او روش هغه دی چې د واقعیت عیني قوانین انعکاس کړي او همدا روشونه او قوانین دي چې مونږ د انساني تفکر ظواهر، ټولنه، طبیعت او حادث عالم په ښه او نیکه وجه پیژندلی او مطالعه کولی شو، دا روشونه او عیني قوانین په هره موضوع او علمي ساحه کې یو له بل سره متفاوت دي خو داسې اصول او موازین شته چې په ټولو علمي ساحو کې دخالت لري او مشترک دي، د مثال په ډول تجربه او عمل په ټولو علمي ساحاتو کې مشترک اصل دی او هېڅ علمي ساحه له هغو څخه بې پروا کیدلی نه شي.

## د انساني تفکر طریقې:

د انسان فکر چې د معلومو امورو له ترتیب څخه عبارت دی د یوه مجهول امر کشف ته د رسېدلو لپاره موضوعات ور پېژني او تحلیل او ترکیبوي یې، د انسان فکر مختلف موضوعات په لاندې دوو شکلونو لاس ته راوړي او په تجزبه او ترکیب لګیا کېږي.

**1. مستقیمه مشاهده** دا چې انسان له خپل طبیعي یا اجتماعي چاپېریال سره نږدې تماس لري او هغه په خپلو حواسو سره احساس او مشاهده کوي او یا بهرنۍ نړۍ د هغه په حواسو اغېزه کوي، د بهرنۍ نړۍ دا مشاهده او احساس یې د حسي او بې واسطې پېژندنې او یا مستقیم معرفت په نامه یاد کړې دی، دې ډول پېژندنې ته ځکه مستقیم او بې واسطه وایي چې په هغې کې استدلال، وړاندوینه او محاسبه دخالت نه لري او ددې ډول معرفت لپاره مشاهده او حس کفایت کوي، پېژندنه (معرفت) د مستقیمې مشاهدې له لارې په مختلفو شکلونو صورت نیسي: ممکنه ده د هیجاناتو، خاطراتو، تمایلاتو او نورو روحي حالاتو له لارې پېژندنه وشي او هیڅ ډول واسطه او وسیله په کار نه وي لکه د خوښۍ، غم، په نفس اعتماد، ولږه، تنده، حقارت، وقار، حسادت، تهور، جبن او نورو احساس. آیا ممکنه ده زمونږ د ظاهري حواسو د مستقیم احساس له لارې پېژندنه وشي؟ مثلاً ښکلی باغ ووینو، بد آواز واورو او نور، دا ډول پېژندنه بهرنۍ نړۍ زموږ ذهن ته منعکسه کوي او تجربې او استدلال ته زمینه برابره وي. او هم ممکنه ده چې په الهامي او اختراعي شکل پېژندنه وشي او د یوه دننه ځلېدونکي او باطني اشراق په شان مونږ سره د یوې مجهولې موضوع په پېژندنې کې مرسته وکړي. څرنګه چې له میلاد څخه مخکې د درېیمې پېړۍ معروف فیلسوف ارشمیدس چې په یونان کې یې ژوند کاوه او تل د اجسامو د مخصوص وزن په ټاکنه بوخت و ناڅاپه په حمام کې په اوبو کې ننوت او خپل ځان یې سپک (کم وزنه) احساس کړ او د اجسامو د مخصوص وزن په مورد کې په یوه علمي مطلب پوه شو او د دغه اختراع د خبر ورکولو لپاره په همدغه حال کې چې د

اورکا! اورکا! (پیدا مې کړ! پیدا مې کړ!) نارې یې وهلې حمام یې پرېښود. یا هم امکان لري پېژندنه د یوې عقلاني بدیهي په شکل د انسان په نزد له واسطې پرته وجود ولري لکه دا بدیهه «جز د کل څخه وړوکی دی» او نور بدیهیات.

**2. تعقل او استدلال:** کله چې پېژندنه د مستقیمې مشاهدې او بې له واسطې لارې لاس ته راغله او ډېر مواد حاصل شول، وروسته د تفکر قوه دا مواد یو د بل په خوا کې ځای پر ځای کوي او کلي احکام ترې راوباسي او وروسته دې کلي احکامو او عمومي نتایجو ته په نورو مواردو کې تعمیم ورببني او یا په بل عبارت عقلانیه قوه د معلومو امورو د مقدماتو د ترتیب له لارې د یوه شي حقیقت کشفوي چې تر اوسه مجهول و (۷: ۴۰ــ۵۵).

استدلال په دوو طریقو (استقراء او قیاس) سره کېږي، په استقراء کې لومړی جزئي واقعیتونه تر پلټنې لاندې نیول کېږي او وروسته مُحقِق په یوه کلي حکم چې د هغو ټولو جزئیاتو په منځ کې مشترک وي پوهېږي، په لرغوني منطق کې استقراء په دوو ډولونو تقسیم شوې ده:

۱ . کامله ۲ . ناقصه، دا چې ممکنه نه ده چې د یوه کلي ټول افراد تر پلټنې او تحقیق لاندې ونیول شي ځکه نو استقراء د لرغوني منطق له نظره مطمینه نه ده او د هغې څخه حاصل شوي پایلې د نه منلو وړ دي خو د نوي منطق له نظره استقراء د حقایقو د پلټنې یوازینې ښه لاره ده خصوصاً په نویو او تجربي علومو کې لکه فزیک او نور.
په قیاس کې له یوه کلي اصل او عمومي حکم څخه یوه جزئي نتیجه لاسته راوړو د استقراء او قیاس د اهمیت د څرنګوالي په مورد کې د فلاسفه وو او منطقیانو ترمنځ د نظر اختلاف وجود لري، د تجربي علماوو له نظره لکه فرانسس بیکن او نور استقراء د قیاس په نسبت ډېر اهمیت لري مګر د عقلي مذهب فلاسفه او منطقیان لکه دکارت، اسپینوزا، لایب نیتس او نور قیاس د استقراء په نسبت د وجود د حقایقو په

کشف کې مهم ګڼي او له دې تجربي او عقلي دوو ښوونځيو څخه مخکې د لرغوني ماوراء طبيعي منطقيانو استقراء او قياس يو له بل څخه متفاوت او يو د بل مخالف دوه روشونه ګڼل، خو نوی منطق دا دواړه يو د بل مخالف نه ګڼي او وايي چې: په هېڅ وجه يو له بل څخه بې نيازه نه دي. ددې دوو ډولو د پېژندنې څخه چې مختصراً شرح شول سربېره د تحقيق ور موضوعاتو تجزيه او ترکيب هم ډېر اهميت لري، دا چې د يوه شي اوليه اجزاء او عناصر تحليل کړو تجزيه ورته ويل کېږي او دا چې د شي هغو اوليه اجزاوو او عناصرو ته د دويم ځل لپاره يو له بل سره ارتباط ورکړو په حقيقت کې مو د ترکيب عمليه سرته رسولې ده او مونږ چې کله يو شی تجزيه او ترکيب کړ په حقيقت کې مو د هغه شي په ماهيت او اصلي کنه پوهه حاصله کړې ده، تاسې يو لاسي ساعت چې مونږ ټولو هغه ليدلی دی په نظر کې ونيسئ که د يوه مسلکي سړي په واسطه د هغه ټولې پرزې يو له بل څخه بېلې کړی شي او وروسته د هغه د پرزو په ترکيب او يو ځای کولو اقدام وکړي، دا کار هغه په ښه توګه قادر کوي چې د هرې يوې پرزې دنده وپېژني او د هغو له ترکيب څخه ددې وړوکي انجن ډېرې دندې تشخيص او خپل علم ددې معمولي ماشين په نسبت کامل کړي.

غربي (لوېديځو) منطقيانو په منځنيو پېړيو کې تجزيه او ترکيب يو له بل څخه دوه مخالف او متضاد شيان ګڼل په داسې حال کې چې د نوي منطق له نظره دا دواړه کاملاً يو له بل سره مرتبط دي چې له هغو څخه د د قيقې او علمي استفادې په نتيجه کې مونږ کولای شو ښه کشفيات و کړو او د هستۍ موجودات ځانته مسخر او د دارينو د سعادت لپاره له هغو څخه ګټه واخلو.

## پوښتنې

1. روش څه شی دی؟ او د روش پېژندنې علم څرنګه د مختلفو علومو روشونه تشريح کوي؟ په لنډه توګه يې واضح کړئ.
2. د ديکارت څلورګونې قواعد ذکر کړئ او د علمي موضوعاتو په تحقيق کې د هغو د رعايت اهميت شرح کړئ.
3. د علومو د مختلفو روشونو ترمنځ تفاوت بيان او هم د هغو روشونو مشترکات ذکر کړئ.
4. د کوم مهم اصل له مخې، د نوي منطق ځينې علماوو د پراګماتيزم ښوونځی تر خپل انتقاد لاندې نيولی دی؟
5. د مستقيمې او بې واسطې مشاهدې مختلف اقسام د هر يوه له مثالونو سره توضيح کړئ.
6. د تعقل او استدلال عمليه بيان او د استقراء او قياس په مورد کې د علماوو اختلاف شرح کړئ.
7. د تجزيې او ترکيب اهميت په خپلو ابتکاري څو مثالونو کې عملاً وښيئ.
8. له درسي مناسبو موادو او منابعو څخه په استفادې سره د علومو مختلف روشونه او د انساني تفکر طريقې د ټولګي په منځ يا بهر کې عملاً تجربه کړئ.



14 – 11 - 2012

# دریم لوست

## علمي معرفت او پېژندنه

### موخې:

1. د معرفت او پېژندنې په حصول کې د عقلیونو او حسیونو د نظریاتو تحلیل.
2. د علم د تعریف او علمي قوانینو په مورد کې د معلوماتو تحلیل.
3. د علمي پېژندنې او واقعي محقق د مشخصاتو او مختصاتو بیان.
4. محصلان د تمرین تر اجراء څخه وروسته، د توضیح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبیق مهارت کسب کړي.

د لرغوني یونان علماوو علم په ذهن کې د شي د صورت له حصول څخه عبارت ګڼه خو اوس د علم تعریف په ذهن کې د شي د صورت په حصول او انعکاس نه خلاصه کېږي بلکې هغه د معلوماتو او معرفتونو یو سیستم او زنځیر ګڼي، په حقیقت کې د لرغونو علماوو تعریف د یوې پېژندنې او ساده معرفت تعریف دی چې د معاصرو علماوو له خوا د هغه لپاره تر سره شوی دی.

### د پېژندنې یا معر فت تعریف:

معرفت په ذهن کې د بهرنۍ نړۍ د عیني واقعیت له انعکاس څخه عبارت دی، نو په دې تعریف کې بهرنۍ نړۍ یو عیني واقعیت دی او دا واقعیت د انسان په ذهن کې منعکس کېږي او انسان ته د هغه عیني واقعیت په اړه معرفت او پېژندنه حاصلېږي، د پېژندنې او معرفت د حصول په اړه د فلسفې د مختلفو ښوونځیو په منځ کې اختلاف وجود لري، د تجربې د اصالت ښوونځي د معرفت په حصول کې مشاهدې او احساس ته اهمیت ورکړی او د فکر او نظر نقش، تجرید او تعمیم په نظر کې نه نیسي، د اصالت عقل ښوونځی برعکس د مشاهدې او احساس اهمیت په نظر کې نه



14 – 11 - 2012

نیسي او په دې اړه د عقلي قوې فعال نقش ته یې حکم کړی دی، د ( ۱۸ ) پیړۍ ماتریالیستان سره له دې چې دعوی کوي عیني او طبیعي اشیاء په ذهن کې پېژندنې یا معرفت ته انعکاس ورکوي خو د افکارو له ترکیبولو او پېچل تیا څخه کاملاً بې خبره وو او د فکر لپاره په ارزښت قایل نه وو، نني جدید منطق او علمي فلسفه یوازې د تجربې د اصالت د ښوونځي نظر ته اهمیت نه ورکوي او نه یوازې د اصالت عقل نظر ته، بلکې معرفت مرکب منطقي جریان ګڼي او عمل ته پکې فعال نقش ورکوي، د جدید منطق له نظره پېژندنه یو غیر فعال انعکاس، عکس وار او د بهرني واقعیت نه جلا یو بې حرکته جریان نه دی، د جزئیاتو د بسیطې مشاهدې مرحله، له هغوی څخه د مجرد فکر د انتزاع مرحله او د عملي تطبیق مرحله، دا ټول له هغو مراحلو څخه عبارت دي چې هغه باید وپېژندل شي.

د انسان په ذهن کې د بهرنیو اشیاوو لومړنی انعکاس د پېژندنې (معرفت) اساس تشکیلوي، همدا حواس دي چې موږ د بهرنۍ او محسوسې نړۍ سره یوځای کوي، خو دا هم باید ذکر کړو چې په ذهن کې یوازې د اشیاوو ساده انعکاس د معرفت لپاره کفایت نه کوي بلکې اړینه بریښي چې د انساني عقل په واسطه مجرد احکام له ډول ډول حوادثو او د مختلفو اشیاوو له انعکاس څخه انتزاع شي او دا مجرد او کلي احکام دي چې د پېژندګلویو او یو له بل سره د یوه مرتبط سیستم د ایجاد لپاره زمینه برابره او علمي قوانین د انساني ذهن په نزد مسلم کوي، او په طبیعي او انساني نړۍ کې د علمي کلي قوانینو پر وجود هغه وخت حکم کېږي چې د هستۍ د عالم مختلف حوادث او د بهرنیو اشیاوو ذهني صور یو له بل سره پرتله شي، د هغوی ترمنځ د توافق او تخالف نکتې معلومې شي او په عمل کې د هغوی ترمنځ د روابطو د وجود په څرنګوالي پوهه حاصله شي.

## د علم تعریف:

د علم په اړه بېلابېل تعریفونه شوي چې مشترک اساس لري، ځینو ویلي دي: علم د اشیاوو صحیح او مستدل پېژندل دي، ځینې علم د پیژندګلویو او معرفتونو مجموعه او سیستم ګڼي چې بیان شوي او تحقیق کړي شوي وي.

ځینو هغه داسې تعریف کړی: علم د انسان دوامداره کوښښ دی د نړۍ د اسرارو د پوهېدلو لپاره او د هغوی په منطقي توګه او انساني عقل ته د منلو وړ بیان تر هغه ځایه چې د عیني قوانینو کشف او پېژندنې ته منجر شي.

او په یوه بل تعریف کې علم د انساني فکر، ټولنې او طبیعت د ظواهرو او چارو (امورو) د قوانینو او علتونو د کشف لپاره د ذهن له منظمو او مداومو کوښښونو څخه عبارت دی او ددې قوانینو اړوندول یو له بل سره په داسې بڼه چې یو نظام (سیستم) جوړ کړي.

شاید چې د پورته ټولو تعریفونو محتوا په لاندې ډول په لنډه توګه په دې تعریف کې داسې را غونډه شي: علم د طبیعت، ټولنې او فکر په اړه د پیژندګلویو له سیستم څخه عبارت دی چې د یوه علمي فعالیت په ترڅ کې منځ ته راځي.

د یوه محقق د دوامداره کار په واسطې په طبیعت، ټولنې او تفکر پورې د مربوطې یوې ساحې کلي قوانین کشف کېږي، کله چې د یوه شي او یا حادثې د اجزاوو او جزئیاتو د ذات البیني روابطو څخه پوه شو او هم د هغه روابط له نورو اشیاوو او حوادثو سره معلوم کړو نو ادعا کولای شو چې هغه شی او یا حادثه مو د بشري توان په کچې پېژندلې ده، کله چې مو شی یا حادثه وپېژندله نوبیا هغه په ډېره ښه توګه د انسان د دنیوي او اخروي ژوند په ګټې په کار اچولی شو او دا د بهرنیو اشیاوو د تسخیر هماغه معنی ده چې د خدای جل جلاله د بالغه حکمت په وسیله شوې ده، او د عالم د صحیح پېژندنې له کبله ده چې موږ حکم کوو نړۍ د یوه دقیق نظام او

بديعي صنعي درلودونکي ده او دا دقيق نظام او بديعه صنع، قادر ناظم، عالم او صانع ذات غواړي، نو په هغه وسايلو او حواسو چې مونږ ته خدای جل جلاله راکړي دي خپل ځان او عالم بايد وپيژنو او د خپل ځان د پيژندنې او عالم د پيژندنې له لارې قادر خدای و پيژنو او د هغه په ذات او ښايسته او کاملو صفاتو پوه شو.

## علمي پېژندګلوي او د هغې مشخصات:

د جديد منطق علماوو پيژندنه يا معرفت په علمي او سطحي دوو ډولونو وېشلی دی.
که ذهن يو شی او عين په ابتدايي توګه سره درک کړي، دا درک له سطحي او عادي پيژندنې څخه عبارت دی، د مثال په ډول هغه معلومات چې عام خلک او ماشومان يې د عالم له محيط، قضاياوو او حوادثو څخه لري د معرفت له همدې ابتدائي مرحلې څخه شمېرل کېږي خو علمي پيژندنه هغه ده چې سطحي او عادي پيژندنه په سمې او مستدلې طريقې د خپل کمال مراتب طی کړي او دا ډول پيژندنه دوه خصوصيتونه لري:

۱ . جمعي خصوصيت لري او غالباً د لرغونو او نويو بېلابېلو ملتونو د بې شمېره افرادو د کار او تحقيق په پايله کې لاس ته راځي، د مثال په ډول که د کيميا علم په نظر کې ونيسو په هغه کې او ډېرو ملتونو او ډېرو کسانو تجارب اساسي نقش لري، ځينې اسلامي حکماوو د کيمياوي تعاملاتو د اجراء په جريان کې حتی خپلې سترګې له لاسه ورکړې دي، د ډېرو قربانيو او زحمتونو په پايلې کې يې مونږ نن ورځ د درمل جوړونې، طبابت او په نورو ساحاتو کې د پرمختګونو شاهدان يو.
خو سطحي او عادي معرفت شخصي جنبه لري او يوه ځانګړې برخه له يوې ساحې څخه په سطحي او غير مستدله توګه په نظر کې نيول کيږي.

۲ . د علمي پيژندنې بل خصوصيت دادی چې دا ډول پيژندنه په ميتوديکه توګه او د علمي او تجربه شويو روښونو پر بنياد ترسره کېږي او څيړونکي له خپلو تجربي



14 – 11 - 2012

ابتکاراتو څخه استفاده کوي په داسې حال کې چې د سطحي او عادي پېژندنې (معرفت) حصول له میتودیکي او علمي لارې صورت نه نیسي (۲۶: ۱۴۵–۱۵۳).

## د واقعي محقق مشخصات:

هر عالم او محقق چې غواړي یوه خاصه موضوع په یوې خاصې علمي ساحې کې تحقیق کړي او په هغې موضوع کې مجهول حقیقت ته ورسېږي باید دا لاندې ځانګړنې ولري (۷:۵۹ ـــ ۷۵).

1. محقق او عالم باید حقیقت خوښ ولري او د هغه په علمي او تحقیقي کار کې هیڅ ډول غرض او شبهه وجود ونه لري او په ډېرې علاقې او محبت سره د حقایقو د کشف په لټه کې وي او همدارنګه په ډېرې علاقې او محبت سره له علمي لاسته راغلیو حقایقو څخه دفاع وکړي.

2. محقق او عالم باید د فکري تقوا درلودونکی وي یعنې تر هغه وخته پورې چې یوه موضوع یې په هر اړخیزه توګه نه وي تحقیق کړې او د خپل ځان په نزد یې مسلمه نه وي ګرځولې باید هغه ښکاره نه کړي.

3. محقق او عالم باید په ټولو علمي ساحاتو کې پر متناسبو معلولاتو باندې د علتونو پر تأثیر تاکید او باور ولري.



14 – 11 - 2012

## پوښتنې

1. د لرغونو منطقیانو له نظره علم تعریف کړئ او له ساده پېژندنې او معرفت سره یې پرتله کړئ.
2. د پېژندنې او معرفت د حصول د څرنګوالي په مورد کې د عقلیونو او تجربیونو د ښوونځیو نظر بیان کړئ.
3. د جدید منطق له نظره پېژندنه له بهرني واقعیت څخه یو غیر فعال انعکاس او انځوریز او بې حرکته جریان نه دی بلکې د مختلفو مراحلو درلودونکی ده، تاسې د پېژندنې دا مراحل د یوه مثال په ترڅ کې واضح کړئ.
4. ستاسې له نظره کوم تعریف د علم لپاره ډېر مناسب دی؟ تاسې په دې لړ کې کولای شئ له خپل ابتکاري تعریف څخه هم استفاده وکړئ.
5. له علمي قوانینو څخه هدف څه شی دی؟ او څرنګه کولای شو د یوې علمي ساحې په کشف سره، یو شی په ښه توګه وپېژنو او د دارینو د سعادت لپاره له هغه څخه استفاده وکړو؟
6. علمي پېژندنه له مشخصاتو سره شرح کړئ.
7. د واقعي محقق مشخصات بیان کړئ او ووایئ چې که یو محقق ددغو مشخصاتو درلودونکی نه وي د هغه د تحقیق په کار کې به څه مشکل منځ ته راشي؟
8. د دوو ګروپونو په لړ کې د سطحي او علمي پېژندنې د توپیرونو په اړه دې کار وشي او د دواړو ګروپونو د کار پایلې دې توحید شي.

# څلورم لوست

## په عقل او تجربې کې د خطا د وقوع اسباب

### موخې:

1. د علم د دوو منبعو په حیث د عقل او تجربې د نقش بیان.
2. په خطاء کې د انسان د وقوع د اسبابو سم تحلیل.
3. د څلورګونو اوهامو په اړه د معلوماتو تحلیل چې د بیکن په واسطه په خطاء کې د وقوع د اسبابو په عنوان توضیح او تحلیل شوي دي.
4. محصلان دې د تمرین له اجراء څخه وروسته، د توضیح او ددې لوست د مطالبو د عملی تطبیق مهارت کسب کړي.

### عقل او تجربه د علم دوه منبع:

مخکې له دې چې د عقل او تجربې په اړه د علم د دوو منبعو پر عنوان بحث وکړو لازمه ده چې د علم د عمومي اوصافو په اړه څو کرښې ولیکو، په تیر لوست کې مو د علم او د علم د تعریف په اړه بحث وکړ او له مجموعې څخه یې دې نتیجې ته ورسېدو چې علم د لاندې عمومي اوصافو درلودونکی دی:

1. علم د انساني ټولنې او تاریخ محصول دی او هیڅ علم د یو ټاکلي فرد د کار په پایلې کې منځ ته نه دی راغلی بلکې د ډېرو پیړیو په تیریدلو سره د متعددو ملکونو د بې شمیره افرادو د زحمتونو د زغملو په اثر ئې شکل نیولی دی.

2. د څېړنې وړ علم په یوې ساحې پورې اړوند د عمومي احکامو، قوانینو او د امورو د جزئیاتو له پلټنې څخه وروسته لاسته راځي یعنې د هر علم موضوع کاملاً کلي ده خو جزئیات یې عمومي قوانینو ته د لاس رسی په منظور استقراء او تحقیقوي، مثلاً د فزیک په علم کې د حرارت پر وړاندې د فلزي اجسامو د انبساط موضوع یو کلي

حکم دی او په هغې کې د هدف په حيث يوازې د يوه معين فلزي جسم له انبساط څخه بحث نه کېږي. د اجسامو د سقوط مسأله يو کلي حکم دی چې د فزيک د بحث وړ ګرځيدلې نه د ټاکلې ونې څخه د پاڼې سقوط. او په اروا پوهنې کې عواطف، چارچلند او هيجانات د بحث وړ دي نه د يوه مشخص استاد په غصه کېدل پر محصلانو.

3. د علومو عمومي احکام او قوانين څرنګه چې په ټولو ذهنونو کې د همآهنګۍ او توافق باعث کېږي همدارنګه د يوه شخص د افکارو او سوچونو د همآهنګۍ او توافق باعث هم ګرځي. عقل او تجربه د علم دوې منبعې دي. د بشر د ابتدائي ټولنو په منځ کې له قديم الايام څخه عقل د علم او پوهې د يواځينۍ وسيلې په توګه ګڼل شوی او د سمو او مستدلو منطقي پېژندګلويو لپاره يې زمينه مساعده کړې، لکه چې انساني اوليه تجربو او د بشر ډېرو بسيطو فنونو په علمي مختلفو عرصو کې په مغلقو او سختو تجربياتو کې د انسان د لاس رسي لپاره زمينه مساعده کړې ده.

**عقل:** من حيث المجموع له ذهن څخه عبارت دی، يا عقل د هغو اصولو او مباديو له مجموعې څخه عبارت دی چې انساني تفکر هدايت او اداره کوي. عقل د ځينو اصولو او اولياتو درلودونکی دی چې د فطرت په حکم له هغې څخه انکار نه شي کيدای، لکه د «هو هو» قانون يعنې دا شی پخپله هماغه دی، او د عدم تناقض قانون يعنې نه شي کيدلای دوو متفاوتو شيانو يا صفتونو ته له يوه شي سره په يوه زمانه کې او له يو جهت څخه تړاو ورکړو، لکه چې ووايو دا انارتريو او خوږ دی. له دې ډول اصولو څخه زياتره د رياضي په علومو کې استفاده کيږي لکه چې د ستورو پيژندنې، کيميا، فزيک، ميکانيک، بيالوژی او ټولنپوهنې په علومو کې زياتره د «عليت» له اصل څخه چې د انساني عقل له ارزښتمندو تيوريو او مهمو اصولو څخه يو دی مرسته اخيستل کيږي.

هغه کسان چې په علم او پېژندنې کې د تجربې په نسبت د عقل په وجود او فعال نقش تاکید کوي د عقلي مذهبانو په نامه يادېږي او د هغوی فلسفي ښوونځی د اصالت عقل د ښوونځي یا راسیونالیزم په نامه یادیږي. فرانسوي رنه دیکارت ددې ښوونځي بنسټ اېښودونکی دی، دا ښوونځی د حقیقت د کشف معیار او کچه عقل بولي، ددې ښوونځي له نظره د رياضي علم یو محض علم دی او هیڅ ډول رابطه له تجربې سره نه لري او له هغې څخه جلا عمل کوي. دیکارت وایي: لکه چې د رياضي یو عالم د عقل او عقلي استنتاج له لارې د رياضي مسایلو په حل لاس رسی مومي په همدې شکل یو فیلسوف کولی شي د انساني عقل د کارولو له لارې د یوه مجهول شي حقیقت ته ورسېږي.

**تجربه** تجربه په عامې معنی عبارت ده د انسانانو او بهرني عالم له متقابل عمل څخه، او د بشر علمي پېژندنه د تجربې له لارې حاصلېږي او په پایله کې بهرني عالم ته په خپلې ګټې تغيير ورکوي خو تجربه په خاصې معنی دوه شکله لري.

1. د یوه شي او حادثې دقیق درک او مشاهده.
2. آزمایښت یا مشاهده هغه حادثه ده چې عالم او محقق يې منځ ته راوړي او یايې په هغې کې تغيير وارد کړی وي..

تجربه په علمي او دقیق مفهوم د انسان او بهرني عالم په منځ کې له متقابل عمل او رد عمل څخه عبارت ده او د هغې په نتیجه کې د مجهول په حقیقت علم او پېژندنه حاصلېږي.

ددې فلسفې پیروانو ته حسيون یا تجربیون وايي او د هغوی د فلسفې ښوونځی د اصالت تجربه یا د آمپریسم د ښوونځي په نامه یادېږي.

نوی منطق او د علومو فلسفه د مجهول د حقیقت په کشف کې نه عقل په یوازې توګه مؤثر ګڼي او نه تجربه او حس بلکې د انساني عقل فعالیت او تجربې دواړو ته د

عالم وجود د نويو شيانو په پېژندنه کې يو شان اهميت ورکوي که علم اساساً پر مشاهدې او محسوسې تجربې بناء شوی وي نو په دې مورد کې به له انصاف څخه لرې وي چې د علمي پېژندنې په امر کې له علمي مفاهيمو، تيوريګانو او د افکارو له فعال نقش څخه انکار وکړو (۷: 104ــ110).

## په خطاء کې د وقوع اسباب:

انسانانو د تاريخ په اوږدو کې له بانډيوال څخه نيولې تر ښاري پورې د عالم، خپل ځان او هستۍ په اړه سوچ کړی او هر يوه د خپل فکري توان او په لاس کې د موجودو وسائلو پر بنا له حقايقو څخه يو تعبير کړی دی خو هغه څه چې يو عامي او بدوی فرد يې د اشياوو له حقيقت څخه پېژني ډېر توپير لري له هغه شي سره چې يو عالم او يوه فرد يې د اشياوو د حقيقت په نسبت لري. څرنګه چې عامي او بدوي کسان تل د عالم د حقايقو په اړه په قضاوت کې په خطاء کې واقع کېږي، عالم او پوه کسان هم ځينې وختونه تېروتنه کوي، ددې لپاره چې انساني عقل او حسي تجربه له خطاء او تېروتنې څخه په امان کې وي لازمه ده چې انسان د تفکر په ټولو انواعو او علمي روشونو باندې پوه شي او د هغو په مکرر تمرين او تجربې لګيا شي، هر څوک د تفکر په جريان کې د اشتباه مرتکب کېږي خو ښه او موفق پوه هغه دی چې دا اشتباه ګانې اوتېروتنې د هغې اقل حد ته تقليل کړي.

نوی منطق په خطاء کې د وقوع يو شمېر اسباب او عوامل شمېرلي چې په قصدي او يا سهوي توګه د يوه پوه او محقق د سالم سوچ د لارې مانع ګرځي چې دا اسباب لاندې په لنډ ډول توضيح کېږي (۲۱: ۱۴).

1. **په تصديق کې سهل انګاري** يو عالم او پوه بايد د احکامو په اصدار او تصديق کې سهل انګاري ونه کړي بلکه د موثقو دلائلو له توافر څخه وروسته دې د يوه شي په ايجاب او يا سلب حکم وکړي.

2. **په حکم کې تلوار کول :** يو عالم او پوه بايد د يوه حکم په اصدار کې په لږو مثالونو او غير کافي تجربې اکتفاء ونه کړي، او يا په دې لړ کې صرف په بسيطي مشاهدې قانع نه شي او يا د مجهول د حقيقت په کشف کې له موثرو او پر مختللو وسايلو څخه استفاده ونه کړي، او د قضاياوو په نسبت په احکامو او قضاوت کې تلوار کول په خطاء کې د انسان د وقوع سبب کېږي. (تلوار د انسان د خطا سبب ګرځي).

3. **په رای کې استبداد:** عالم او پوه بايد د احکامو او علمي قضاوتونو په ابراز کې يوازې د خپلې رأيې تابع نه شي او بايد چې حقايق د عقلي او تجربي دلايلو پر بنا قبول کړي، پر دښمن د غلبې د حصول لپاره له خپل ناسم نظر څخه دفاع او په هغه باندې تاکيد ونه کړي، دا روش د علومو د ترقۍ او پرمختګ په لار کې لوی خطر او مانع دی (۹: ۴۶ــ۴۷).

4. **عادات او هيلې:** ځينې عادتونه او غوښتنې هم په خطاء کې د وقوع باعث کېږي.

5. **له مخالفت سره مينه او علاقه مندي:** کله ځينې کسان د شهرت ترلاسه کولو لپاره د نورو صحيح او سم نظريات رد کوي او د نورو له نظرياتو سره له مخالفت څخه خوند اخلي.

6. **ځينې وختونه له جمال او ښايست سره مينه :** کله د اشياوو صناعي يا طبيعي ښايست او جمال له سم تفکر څخه د انسان مانع او د انسان د خطاء سبب ګرځي.

### د خطاء په اړه د بيکن نظر :

د انګليسي فرانسس بيکن له نظره(۱۵۶۱ــ۱۶۲۶) انساني خطاګاني له څلورو ډولونو څخه بهر نه دي او د خطاء دا انواع يې د څلور ګونو اوهامو په نامه ياد کړي دي.

**1. د جنس اوهام:** د انساني طبيعت د جنس مقتضی اکثراً انسان خطاء ته راکاږي چې په دې نوع اوهامو کې عام (بی سواد) او خاص (عالم) یو شان دي. له جزئي شخه کلي ته په حرکت کې تلوار کول ددې نوعي اوهامو ښه مثال دی چې یو فرد باید د عقل د سرعت او پرواز مانع شي او پرې نه ږدي چې په احکامو او قضاوتونو کې له تلوار څخه کار واخلي، ددې وهمونو مثالونه زموږ په سوچونو کې د انساني مختلفو عواطفو مداخله ده، لکه اضطراب، منفعت (ګټه اخیستنه)، آرزو (هیله)، حرص او نور چې دا عواطف بعضاً زموږ د صحیح احکامو د حدودو او د منطقي او معقولو قضاوتونو مانع ګرځي او موږ د اشیاوو او مسایلو د حقایقو له کشف څخه لرې ساتي.

**2. د کهف اوهام:** کهف په عربي کې غار ته ویل کیږي او له دې ډول اوهامو څخه د بیکن موخه د افرادو د شخصي خصوصیاتو مجموعه ده چې په یوې خاصې ټولنې کې ژوند کوی، دا افراد د انساني طبیعت د جنس په خصوصیاتو کې یو له بل سره شریک دي او د هغوی ترمنځ کوم توپیر نه لیدل کیږي خو دوی کوم ځانګړې فردي، کورني او ټولنیز حالات چې لري یې په افکارو، سوچونو او قضاوتونو کې د یوې سلسلې خطاګانو مرتکب کیږي، مثلاً یو څوک چې په یوې صنعتي ټولنې کې ژوند کوي د خپلو افکارو او سوچونو د څرنګوالي له لحاظه متفاوت دی له هغه چا سره چې په یوې زراعتي ټولنې کې ژوند کوی، همدارنګه د دوو کسانو حالات چې یو په کلي او بل په ښار کې ژوند کوي یو له بل سره متفاوت دي، او هم هغه کسان چې د رفاه او عدم رفاه، غنا، فقر او لس ګونو نورو اړخونو له لحاظه یو له بل سره متفاوت دي هغوی د فکر د توجیهاتو او علمي پیژندګلویو له لحاظه د خارجي عالم د مختلفو قضایاوو په نسبت هم یو له بل سره یو شان نه وي (۲۷: ۱۷۰ـــ۱۷۱).

**3. د سوق او بازار اوهام:** دا هغه خطا ګانې دي چې د کلماتو، جملو او عبارتونو د ناسم استعمال په اثر کې منځ ته راځي چې په وروستنيو پېړيو کې د ژبې د تحليل په فلسفي کې دا ډول خطاګانې په تفصيل سره بيان شوېدي.

**4. د نمايش او تياتر اوهام:** کله په خطاء کې زمونږ د وقوع باعث د تير شوو علماوو او فلاسفه وو په نظرياتو کلک اعتقاد وي، د مثال په ډول ايټالوي ګاليله حکم وکړ چې د متفاوتو وزنونو درلودونکي اجسام په واحده زمانه کې ځمکې ته سقوط کوي، سره له دې چې د خپلو زده کوونکو لپاره يې د «پيزا» د برج له سره دوه تيږې چې يوه د بلې لس برابره وه راوغورځولې او عملاً يې آزمايش او تجربه وکړه چې په يوه وخت کې ځمکې ته ساقطې شوې خو د هغه شاګردان چې د ارسطو د نظريې سخت معتقد وو دا تجربه قبوله نه کړه ځکه ارسطو ويلي وو چې د هغو دوو تيږو د رسېدلو زماني تناسب $\frac{1}{10}$ دی يعني لويه تيږه ( ۹) برابره ژر د وړې تيږې په نسبت ځمکې ته رارسېږي. او يا د مشتري په شا او خوا د اقمارو د تاوېدلو عملي مثال د ګاليله له خوا د تلسکوب په وسيله د هغه همکارانو ته وښودل شو خو هغوی ددې په نسبت چې په دې اړه ارسطو څه نه دي ويلي د اقمارو تاويدل و نه منل.

## پوښتنې

1. د علم عمومي اوصاف توضيح کړئ.
2. عقل تعريف کړئ، او د راسيوناليسم د فلسفې د ښوونځي نظر په دې مورد کې بيان کړئ.
3. تجربه تعريف کړئ، د هغې شکلونه ذکر او د عالم د حقايقو په کشف کې د هغې نقش توضيح کړی.
4. د نوي منطق منځنی نظر د راسيوناليسم او آمپريسم د ښوونځي په مورد کې شرح کړئ.
5. په خطاء کې د وقوع اسباب ذکر او د هر يوه خاص نقش د خطاء په ايجاد کې بيان کړئ.
6. بيکن په خطاء کې د وقوع اسباب د اوهامو په نامه تعبير کړي، تاسې دا اوهام د مثالونو په راوړلو سره واضح کړئ.
7. آيا تاسې په خطا کې د وقوع د اسبابو په اثر کوم وخت په خپل تفکر او قضاوت کې د اشتباه مرتکب شوي ياست؟ د هغې څو مثالونه خپلو ټولګيوالو ته بيان کړئ.
8. د اصالت عقل او اصالت تجربه د ښوونځيو په مورد کې مختصر سيمينارونه ورکړئ.

# دریمم خپرکی

روشونــــه

# لومړی لوست

## د رياضي علومو د تحقيق روش

### موخې:

1. د رياضي علومو اجمالي توضيح او د منفصل او متصل كم شرح.
2. د رياضي د اوليه (لومړنيو) مبادیو بيان او د رياضي د علومو د مفاهيمو په هكله د راسيوناليزم، آمپريسم او رياليزم د ښوونځيو بيان.
3. د رياضي افادو په استنتاج كې د تحليلي او تركيبي روشونو شرح.
4. محصلان دې د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت كسب كړي.

**د رياضي علوم:** رياضيات عقلاني پوهه ده چې د ځينو مقاديرو په تعيين د ځينو نورو مقاديرو په وسيله د هغه دقيقو روابطو پر بنسټ چې د هغوی ترمنځ موجود دي لګيا ده او يا د ديكارت په تعبير : «رياضيات د نظم او اندازې ځانګړي علوم دي» مقدار او كميت د رياضي د بحث وړ موضوع ده.

كميت او مقدار هغه دي چې د ډېروالي او كم والي وړتيا ولري. كميت او مقدار يا منفصل وي او يا متصل. د رياضي صحيح او طبيعي اعداد منفصل كميت او مقدار ګڼل كيږي، او كسري اعداد، زمان، مكان، ابعاد، حجمونه او هندسي اشكال متصل كميت او مقدار دی. منفصل كميت د حساب د علم موضوع او متصل كميت د هندسې د علم موضوع ده.

رياضيات د حساب په څانګو، هندسې، الجبر او د توابعو په نظريو تقسيمېږي، د الجبر په علم كې د غير مشخصو مقاديرو د رابطې د ښودنې لپاره د اعدادو په عوض حروف هم پكارول كيږي.

د مثال په ډول په دې فورمول کې:

$$(2+4)^2 = (2+4)(2+4) = 2^2 + 8 + 8 + 4^2 = 2^2 + 2 \cdot 8 + 4^2$$

حروف دارنګه ځای پر ځای کوو:

$$(a+b)^2 = (a+b)\,(a+b) = a^2 + ab + ab + b^2 = a^2 + 2ab + b^2$$

د الجبر علم په منفصل او متصل دواړو کمیتونو کې عملي کېږي، د الجبر د کامل تعمیم څخه د توابعو نظریه لاس ته راځي کله چې یو متغیر له بل متغیر سره رابطه ولري دویم متغیر د تابع په نامه یادېږي، د مثال په ډول د دایرې مساحت د دایرې د شعاع تابع ده.

څرنګه چې مخکې وویل شول کمیت او مقدار د ریاضیاتو موضوع ده یعنې د ریاضي علوم د مقادیرو ترمنځ روابط چې له اعدادو، اشکالو او حرکاتو څخه عبارت دي ټاکي، د مقادیرو او کمیاتو په مورد کې د نظر اختلاف موجود دی، ځینې په دې عقیده دي چې د ریاضي مفاهیمو په انساني ذهن کې له مشاهدې او تجربې څخه مخکې وجود درلود چې د راسونالیزم ښوونځي ته ددې نظریې نسبت ورکړل شویدی.

ځینې علماء په دې باور دي چې د ریاضي مفاهیم په دوامداره او تدریجي شکل له مشاهدې او تجربې څخه وروسته لاسته راغلي، د مثال په ډول ابتدائي انسانانو لومړی د خپلو لاسونو ګوتی په غور سره مشاهده کړې او وروسته د «۵» او «۱۰» په عدد پوه شول او د دایرې مجرد شکل ته یې د ګردو اجسامو او اشیاوو له لیدلو څخه وروسته لاره میندلې ده، لکه د لمر د قرص، د سپوږمی د قرص لیدل د قمري میاشتی په منځ کې، او د اصالت تجربې آمپریسم ښوونځي ته ددې نظریې نسبت ورکړل شوی دی، خو هغه څه چې مسلم دي او په دې مورد کې له حقیقت سره یو ځای دي د اصالت واقع یا ریالیزم د ښوونځي نظر دی، دا ښوونځی چې د معاصرو منطقیانو د

تایید وړ ګرځیدلی د حس او تجربې نقش له یوه اړخه او د عقل او فطري اولیاتو نقش له بله اړخه د ریاضي مفاهیمو په شکل نیونې کې محسوس او ارزښتناک ګڼی، ددې ښوونځي له نظره انساني ذهن او فکر خپل کار په مشاهدې، حس او تجربې سره پیلوي، که مشاهده، حس او تجربه نه وي مونږ نه شو کولای آن د ریاضي پر ډېرو ابتدائي مفاهیمو پوه شو، مونږ لومړی په بیروني نړۍ کې ګڼ شمیر معدودات عملاً مشاهده کړې دي او وروسته بیا د ریاضي اعدادو په مجردو مفاهیمو پوه شوي یو، مونږ عملاً مختلف مادي اشیاء او اجسام یو له بل سره په متفاوتو ابعادو لیدلي او احساس کړې دي او وروسته مو د هندسي اشکالو مجردو مفاهیمو ته لاره میندلې ده، او له بله اړخه انساني ذهن په فطري توګه ځینې ضروري او کلي بدیهیات له ځان سره لري چې پر تجربې او حس مقدم دي، مونږ د ملیون، بلیون او... او ... مفاهیم د اشیاوو د عملي شمېرلو څخه لاسته نه دي راوړي او یا د دوه زره ضلعي مضلع د شکل په وجود حکم کول مو په خپلو حواسو سره مشاهده او تجربه کړې نه دي (۱۶: ۱۳۲).

## د ریاضي علومو مبادي:

د نوي منطق علماوو د ریاضي علومو لپاره درې مبدأګانې شمېرلې دي: متعارفات، موضوعات او تعریفات.

1. **متعارفات** هغه بدیهي، ضروري او کلي قضیو ته چې د مقادیرو ترمنځ روابط افاده او تعیین کوي متعارفات ویل کیږي، لکه چې ووایو دوه مقداره چې له دریېم مقدار سره برابر وي یو له بل سره هم برابر دي، او کل له جزء څخه لوی دی، دا قضیې ددې لپاره بدیهي دي چې عقل یې پرته له شک څخه قبلوي، او ضروري دي ځکه د هغوی په عکس حکم نه شو کولی، کلي دي ځکه چې په ټولو مواردو تطبیق کیږي.

2. **موضوعات** له هغو غیر بدیهي او غیر ضروري قضیو څخه عبارت دي چې د دلیل له طلب څخه پرته قبول شوي وي، د متعارفه او موضوعه ترمنځ تفاوت په دې کې دی چې متعارفه له تجربې څخه مخکې او موضوعه له تجربې څخه وروسته حاصلېږی، د هغوی ترمنځ بل تفاوت دادی چې متعارفه د ریاضي په ټولو علومو کې تطبیق کېږي په داسې حال کې چې موضوعه محدوده ساحه لري او یوازې د هندسې په علم کې پکارول کېږي، لکه د اقلیدوس دا درې ګونې موضوع ګانې.

**الف:** د دوو ټکیو ترمنځ تر ټولو لنډه فاصله مستقیم خط دی.

**ب:** له دوو تکیو څخه یوازې یو مستقیم خط تېرېدلی شي.

**ج:** د یوه خط په خارج کې له یوې واقع شوې نقطې (ټکي) څخه یوازې یو موازي خط له دې خط سره رسمولی شو.

د اقلیدوس په درېیمه موضوعه کې د لوباچوفسکي په واسطه ډېر جرو بحث شوی او رد شوې ده، څرنګه چې د لوباچوفسکي نظریات د نورو ریاضي پوهو په واسطه لکه ریمان رد شوي او هم ریمان له هغه څخه مخکې د اقلیدوس موضوع ګانې هم رد کړي دي.

3. **تعریفات** تعریفاتو د مقادیرو، کمیاتو او اشکالو په مورد کې عمومي فکرونه ښودلی دي او مونږ سره کمک کوي چې له هغه څخه خصوصي او جزیي نتایج استنتاج کړو، د مثال په ډول د اعدادو په پېژندنه کې وایي: اعداد هغه کمیات دي چې د واحد له انضمام څخه په خپل نفس کې متشکل شوي وي.

د اعدادو تعریف له موږ سره مرسته کوي ترڅو د ریاضي ټول اعداد د واحد (یوه) په استناد سره تشکیل کړو، د نقطې (ټکي) په تعریف کې ویل کېږي: نقطه په مجرد بُعد کې له هغه ذهنیه صورت څخه عبارت ده چې د درې ګونو ابعادو فاقده وي.

د مجرد بُعد تعریف: مجرد بُعد هغه مطلقه خلا ده چې په هغې کې اشیاء تمکن لري.

له دې تعریفاتو نه وروسته د حدونو د نورو اقسامو د پېژندنې لپاره ښه زمینه مساعدیږي او له دې تعریفاتو څخه وروسته په ساده ګۍ سره مجرده حرکت داسې تعریفوو: په مجرد بُعد کې د زمان د دخالت له مفهوم څخه پرته د یوې هندسي نقطې له تغییر مکان څخه عبارت دی، او د خط په تعریف کې وایو: هغه شکل دی چې په مجرد بُعد کې د نقطې له حرکت څخه منځ ته راځي، او یا خط د هندسي نقطو له محل (ځای) څخه عبارت دی، او همدا راز سطحه داسې تعریفوو: له هغه شکل څخه عبارت ده چې په مجرد بُعد کې له حرکت څخه منځ ته راغلې او د طول او عرض درلودونکی وي.

## د ریاضي علومو روش:

د ریاضي علومو روش یو جوړوونکی قیاس او یا د قضیو استنتاج له هغو اصولو څخه دی چې مخکې وضع شوي دي او موږ هغه د ریاضي علومو د مبادیو تر عنوان لاندې شرح کړل، د ریاضي په علومو کې قضیې له اولیه اصولو او مبادیو څخه د استدلال په وسیله په منطقي توګه سره حاصلیږی، دا چې د ریاضي په علومو کې جز ئي قضیې د ریاضي له اولیه مبادیو څخه استنتاج کېږي نو د ریاضي برهان او استدلال د قیاس د روش پر بناء استوار دي. ځینې علماء چې د اصالت تجربې له ښوونځي څخه متاثر دي د ریاضیاتو برهان او استدلال قیاسي نه بلکې استقرائي ګڼي، هغوی وایي: په ریاضیاتو کې هم لومړی جزئي موارد د تحقیق وړ ګرځي وروسته د یوه ګروپ د جزئیاتو په اړه کلي حکم صادریږي.

که دا نظر ومنو چې د ریاضي برهان قیاسي دی نو باید زیاته کړو چې د ریاضي استدلال او برهان د واقعي قیاس پر اساس بنا موندلې چې د هغه علم له اولیه مبادیو څخه یې صورت نیولی دی، هر قیاس چې په ریاضي کې صورت نیسي موږ نوي

حقيقت ته رسوي نو ويلی شو چې د رياضياتو استدلال استنتاجي استدلال دی چې د تحليل په صورت او يا د ترکيب په صورت کې سر ته رسېږي. په يوه تير شوي لوست کې مو د تحليل او ترکيب په هکله بحث وکړ، تحليل عبارت دی د کل له تجزيې څخه د هغه په عناصرو باندې، په داسې حال کې چې په ترکيب کې له جزء څخه کل ته سير او حرکت کېږي، تحليل او ترکيب يو د بل مکمل دي، د رياضي په علومو کې که حرکت له تعريف څخه شروع او په مطلوبې قضيې منتهي شي دا ترکيب دی او که حرکت له مطلوبه قضيې څخه شروع او تعريف ته ورسېږی تحليل او تجزيه ورته ويل کيږي، په بل عبارت هر کله چې د رياضي استدلال او برهان له معلومو «رياضي اوليه مباديو» څخه شروع او مجهول (مطلوبه قضيې) ته ورسيږی د ترکيب عمليه ترسره شوې او هر کله چې د رياضي استدلال او برهان له مجهول (مطلوبه قضيې) څخه شروع او په معلوم (د رياضي اوليه مبادي) نهايي شي د تحليل او تجزيې عمل سرته رسېدلی دی.

په دې بنا د تحليل عمليه څرګندوي چې مطلوبه قضيه په يوه تعريف چې د رياضي له اوليه مباديو څخه ګڼل شوی بنا شوې ده، او د ترکيب عمليه دابښکاره کوي چې مطلوبه قضيه له يوه تعريف څخه د نتيجې په حيث لاس ته راغلې ده، د ترکيب عمليه هغه وخت ممکنه ده چې له مخکې نه تحليل او تجزيه شوې وي لکه چې د ترکيب له لارې د تحقيق څخه پرته تحليل او تجزيه هم کامله نه وي.

## پوښتنې

1. رياضيات تعريف کړئ، او د هغې د بحث د مورد موضوع توضيح کړئ.
2. کم څه شی دی؟ او څو قسمونه لري؟ او د رياضي کوم علوم تر کم متصل پورې مربوط دي؟
3. څو الجبري افادې ذکر کړئ چې په هغو کې د اعدادو پر ځای له حروفو (تورو) څخه استفاده شوې وي:
4. د راسيوناليزم، آمپريسم او رياليزم د ښوونځيو نظر د رياضي د مفاهيمو په مورد کې بيان کړئ.
5. د رياضي علومو په کومو اوليه مبادیو بنا موندلې ده؟ له هغو څخه متعارفه مبدأ شرح کړئ؟
6. د رياضي موضوع ګاني تعريف کړئ او د هغوی فرق له متعارفاتو سره ذکر کړئ
7. د رياضي د علومو روش بيان کړئ، تحليل او ترکيب د هغوی د مثالونو په راوړلو سره واضح کړئ.
8. عدد، ټکی، مجرد بُعد، مجرد حرکت، خط او سطحه تعريف کړئ.
9. له مناسبو درسي منابعو او موادو څخه په استفادې سره د رياضي په علومو کې د تحقيق د روشونو په مورد کې جرو بحث وکړئ او د هغې نتايج په مختصره توګه د ټولګي د تختې پر مخ وليکئ.

# دويم لوست

## په طبيعي علومو کې د تحقيق روښ

### موخې:

1. د مثبتو علومو د مشخصاتو بيان.
2. په طبيعي علومو کې د تحقيق د روښ بيان، او د مشاهدې د مراحلو، تجربې فرضيې او علمي قانون توضيح.
3. د تحقيق د درې ګونو لوحو بيان او توضيح د استورات ميل د څلورګونو قواعدو له تحليل سره.
4. محصلان د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي تطبيق مهارت کسب کړي.

### مثبت علوم:

د علومو پرمختګ د ژوند د چاپېريال او طبيعت په برابر کې د انسان د مداوم کار او زيار په نتيجه کې شوی دی، کله چې انسان د يخنې احساس کړی د ګرمې په لټه کې شوی دی او کله چې له طوفان او سيلاب سره مخامخ شوی د خپل ځان د نجات لپاره راوتلی، کوم وخت چې له سيند او نهر سره مخامخ شوی له هغو څخه د تېرېدلو او عبور په فکر کې غورځېدلی دی، په دې مبارزه کې انسان په کراره کراره هغه ځای ته رسېدلی چې د طبيعي نړۍ قوانين يې کشف کړي او د طبيعت په پټو رازونو پوهېدلی، په نتيجه کې انسان طبيعت او مافيها د خپلې نفعې لپاره تسخير کړي، هغه توانېدلی چې په بندونو او د اوبو په تأسيساتو سره نه يوازې خپل ځان د سيلابونو، خرابيو او طوفانونو له شر څخه خلاص کړي بلکې هغه سيلابونه تر خپل کنټرول لاندې هم راولي او د ډاکټر ترابی په تعبير له هغه څخه سپين سکاره يعنې د برېښنا

جریان لاس ته راوړي او خپل کوروونه، کلي او ښاروونه پرې روښانه کړي، انسان د اجسامو د طبیعي او فزیکي قوانینو په پېژندنې سره وکولای شول فضاء ته لاره پیدا کړي او د بحروونو له عمق څخه خبر شي.

علم د انساني ژوند له همدې ضرورتونو څخه نشأت کړی تر څو انسان د طبیعي مختلفو قوانینو په درک سره د طبیعي واقعاتو او حوادثو وړاندوینه وکړي او په هغه کې د نفوذ له لارې ځان د آفاتو له شر څخه وساتي او حتی له هغو نه د خپلې نفعې لپاره کار واخلي، ددې لپاره چې انسان وکولای شي په ښه توګه طبیعت او نړۍ وپېژني ضرورت دی چې نه یوازې طبیعي واقعات او حوادث په مکرره توګه تحقیق او وپلټي بلکه باید د هغو حوادثو ترمنځ ثابت روابط هم کشف او لاس ته راوړي، د طبیعي حوادثوتوالي او تعاقب سبب ګرځي ترڅو د هغوی ترمنځ یوشان روابط ښکاره شي او کله چې د یوې حادثې علت معلوم شو او د هغې ثابت او ډول ډول روابط له نورو حوادثو سره لاس ته راغلل په حقیقت کې هغه حادثه زموږ لپاره د فهم او پیژندنې وړ وګرځېده.

هغه علوم چې غیر ژوندي (مړه) اجسام د تحقیق او پلټنې مورد ګرځوي د فزیک او کیمیا د علم په نامه یادېږي او هغه علم چې ژوندۍ ماده یا جسم تر مطالعې لاندې نیسي د بیالوژۍ په نامه یادېږي، د اناتومي علم د ژوندي جسم د وجود جوړښت، د فزیولوژۍ علم د ژوندي جسم د اعضاوو فعالیت، پتالوژۍ علم د ژوندي جسم د مرضي حالاتو او د میکروبیولوژۍ علم د ژوندي جسم د مکروبونو څرنګوالی د تحقیق وړ ګرځوي، هغه علم چې انساني روح تر مطالعې لاندې نیسي د علم النفس (سایکولوژي) په نامه او هغه علم چې انساني جمعیت څېړي د ټولنې پېژندنې (سوسیولوژي) په نامه یادېږي. دا ټول علوم د مشاهدې او تجربې له مخې په خپل کار پیل کوي او د خپلو مربوطه حوادثو ترمنځ ثابت روابط تر غور او ارزونې لاندې نیسي.

ماده، حیات، روح او ټولنه د متذکره علومو موضوعات تشکیلوي، دا موضوعات له تجرد څخه د تشخص په لور ترتیب شوي یعني ماده د نورو موضوعاتو په نسبت ډېره مجرده او ټولنه د لومړنيو موضوعاتو په نسبت ډېره مشخصه ده. ماده د حیات په نسبت او حیات د روح په نسبت او روح د جمعیت په نسبت ډېر بسیط او ډیر مجرد دي، ټول هغه علوم چې د پورته ذکر شویو موضوعاتو حقایق په کې تر تجربې لاندې نیول کېږي او د هغو ساحاتو مربوط قوانین تر تحقیق لاندې نیسي د مثبتو علومو په نوم یادېږي، علم النفس او ټولنپوهنه چې روحي او ټولنیز حوادث او واقعات تر مطالعې او تجربې لاندې نیسي او ثابت او لایتغیر نتایج له خپلو مربوطو قوانینو څخه لاس ته راوړي جدیداً له مثبتو علومو سره یو ځای شوي دي.

په ټولو مثبتو علومو کې د هرې ساحې د ثابتو قوانینو له کشف او کارولو څخه سربېره د منطقي قوانینو رعایت چې پر تجربې مقدم دی هم حتمي امر دی، مثلاً د عینیت (هو هو) قانون په نظر کې نیول، د عدم تناقض قانون او نور.

## په فزیکي او کیمیاوي علومو کې د تحقیق روش:

په طبیعي علومو او په ځانګړې توګه په فزیکي او کیمیاوي علومو کې د تحقیق روش له استقراء څخه عبارت دی خو باید داسې تصور و نه شي چې دا علوم د قیاس روش ته اصلاً اړتیا نه لري بلکې په ځینو مواردو کې د قیاس روش هم د استفادې وړ ګرځي خو د طبیعي علومو اصیل او اساسي روش استقراء او تجربه ده او په فزیکي او طبیعي علومو کې جزئیه حوادث او واقعات تر مطالعې او تحقیق لاندې نیول کېږي او د هغو د عمومي قوانینو په کشفولو لاس رسی مومي، طبیعي علوم د طبیعت د محسوسو واقعیتونو سره سرو کار لري او موضوع یې د ریاضي په شان معقول او انتزاعي موجودات (اعداد او اشکال) نه دي چې ظاهرآ د محسوسو واقعیتونو څخه بېل دي.

## استقرايي او تجربي روش لاندې مرحلې لري:

**1. مشاهده** په طبيعي علومو کې تر تحقيق پورې اړوند مسائل لومړی په مشاهدې سره شروع کيږي، ممکنه ده مشاهده په ساده توګه او بې له وسايلو سر ته ورسيږي او يا هم ممکنه ده اضافي وسايل په هغې کې وکارول شي، او همدارنګه مشاهده په دوو فاعلانه او منفعلانه ډولونو اجرا کيدای شي، منفعلانه مشاهده د مثال په ډول هغه ده چې د اتفاق له مخې يو ستوری د هيأت د علم د محقق د تلسکوب او دوربين په مقابل کې تېر شي خو فاعلانه مشاهده تصادفي نه وي بلکې محقق له مخکې نه پلانوي او ضرورتونه او لازمه وسايل تيار وي، مشاهده کوونکی بايد د سليمو حواسو او قوي معنوياتو درلودونکی وي، هغه مشاهد چې په خپلو ظاهري حواسو کې مشکل لري او يا له معنوي لحاظه مشوش او غير دقيق څېړونکی وي يقيناً د هغه مشاهده به هم د کاميابۍ وړ نه وي.

**2. فرضيه:** فرضيه د استقراء دويمه مرحله ده، هر کله چې محقق يو واقعيت مشاهده کړي، د دې واقعيت د توجيه او توضيح لپاره د هغه په ذهن کې فکر او يا فرض خطور کوي نو زيار باسي چې ثابته کړي چې دا فرض د هغه مشاهده شوي واقعيت سره تطبيقيږي او که نه؟ وروسته د دويم ځل لپاره مشاهده شوي واقعيت ته مراجعه کوي ترڅو د فرض ارزښت او اهميت و ارزوي، فرضيه په حقيقت کې هغه فکر او نظر دی چې د تخمين (اټکل) په توګه د اشياوو د علتونو او يا د هغوی د معلولونو د بيانولو لپاره په نظرکې نيول کېږي، د يوه طبيعي واقعيت مشاهده تحقيق کوونکی مؤقتو فرضونو او نظرياتو ته راکاږي، فرضيه د يوه طبيعي واقعيت په مورد کې د يوه علمي قانون مسوده ده، کله چې يوه فرضيه د تجربې په واسطه مسلمه شي او فرض په حقيقت مبدل شي قانون شمېرل کيږي، فرضيه د واقعيت له مشاهدې او تجربې څخه وروسته او د مربوطه قانون له بنې غوره کولو څخه مخکې منځ ته راځي.

**3.علمي قانون:** کله چې فرضیه د تجربې وړ وګرځیده او له تجربې څخه وروسته ثابته او مسلمه شوه دا فرضیه ځانته د علمي قانون حیثیت غوره کوي یعنې کله چې فرضیې په ټولو مواردو کې صدق وکړ او له علمي موازینو او اصولو سره یې مطابقت پیداکړ هغه فرضیه یوه علمي نظریه او قانون کېږي، د څو علمي قوانینو د تعمیم او یو له بل سره د هغوی د اړوندولو په پای کې، د یوه طبیعي علم په سطح یو عام قانون منځ ته راځي چې د «نظریې» په نامه یادیږي، د تحقیق وړ په یوې ساحې کې د نظریاتو مجموعه د مربوطې ساحې د «علم» په نامه یادیږي.

علمي قانون د حادثاتو ترمنځ موجود نسبتونه افاده کوي او هر وخت تجربه کیدی شي، مثلاً د اجسامو د سقوط قانون د ځمکې مرکز ته، د جسم او ځمکې ترمنځ رابطه بیانوي او په قطعي توګه تجربه او مسلمه شوې ده، د علمي قانون له خصوصیاتو څخه یو یې عمومیت دی، مثلاً په یاد شوي قانون کې ټول اجسام شاملیږي او په ځینو اجسامو پورې مختص نه دی نو د اجسامو د سقوط د امکان ضرورت په تجربي ضرورت مبدل شوی دی، په علمي قانون کې له مشخص او جزئي څخه عمومي ته، له ممکن څخه ضروري ته او له مختلط څخه ساده ته رجوع کیږي.

واضح او قطعي قانون هغه دی چې د «علیت» د نظریې په بناء یې بنا موندلې وي. په طبیعت کې هره حادثه علت ته اړه ده او هر علت ځانته متناسب معلول لري، الله تعالی ﷻ او حکیم صانع دا طبیعي نړۍ په داسې قانون او نظام سره خلق کړې او موږ ته یې قوي حواس او سلیم عقل راکړی دی ترڅو د عالم د نظام دا روابط او قوانین کشف او له هغوی څخه د خپلو دارینو د سعادت لپاره استفاده وکړو(۷: ۳۶۱-۳۷۳).

## د فرانسس بيکن درې لوحې:

څرنګه چې مخکې وويل شول په طبيعي علومو او په ځانګړې توګه په فزيک او کيميا کې د تحقيق روش د استقراء او تجربې له روش څخه عبارت دی او په طبيعي علومو کې قطعي او مطمين قوانين هغه دي چې د «عليت» د نظريې په اساس يې بنا مونډلې وي، لومړنی عالم چې د استقراء د روش په مورد کې يې خپل معلومات او تجارب په دقيقه توګه ارائه کړل انګليسي بيکن دی، دې فيلسوف د ارسطو د «ارګانون» په مقابل کې خپل نوی علمي روش د « نوي ارګانون» تر عنوان لاندې ارائه کړ، هغه د استقراء لپاره درې لوحې په نظر کې ونيولې چې لومړی لوحه د «دی»، دويمه لوحه د «نه دی» او درېيمه لوحه يې د «درجې يا تحول» په نامه ياده کړه، په لومړۍ لوحه کې هغه حوادث قيدېږي چې يو ځای له هغې حادثې سره چې علت يې لټول کېږي ښکاره شي، په دويمه لوحه کې هغه حادثات قيدېږی چې يو ځای له هغه حادثې سره چې د هغې علت لټول کېږي ورک شي، او په درېيمه لوحه کې تزايد او تناقص قيدېږي.

## د استورات ميل خلورګونې قاعدې:

استورات ميل په خپلو مطالعاتو سره د استقراء په برخه کې ډېر غور او دقت وکاروه او په دې لړ کې يې خلورګونې قاعدې را وپيژندلې چې د هغو درې قاعدې د بيکن له دريو لوحو سره مطابقت لري.

**1.د توافق قاعده:** هر کله چې وغواړو د «g» د حادثې علت مطالعه کړو نو وينو چې د «g» له حادثې څخه مخکې نور کوم حادثات واقع شوي دي په لومړي ځل وليدل شول چې د GXYZ حادثې واقع شوې خو په دويم ځل ملاحظه شول چې د «g» له حادثې څخه مخکې د GLMN حادثې واقع شوې دي، په دې استقراء او تجربه کې واضحاً معلومېږي چې د «g» د حادثې علت د «X» حادثه نه ده ځکه چې

په دویمه حادثه کې نه لیدل کېږي او همدارنګه ویلی شو چې د YZLMN حادثې هم د «g» علت نه دي ځکه چې په دواړو وارو کې نه ده تکرار شوي خو په دې مثال کې وینو چې د «G» حادثه یوازې په دواړو وارو کې واقع شوېده نو حکم کولای شو چې د «G» حادثه د «g» د حادثې علت ده.

## 2.د تخالف قاعده

هرکله چې د «g» له حادثې څخه مخکې چې د علت پیدا کول یې مطلوب دي په لومړي ځل د OPQ «i» حادثې واقع شوې وي او په دویم ځل هم عین حادثې د «g» له حادثې څخه مخکې واقع شي خو یوازې د «g» حادثه او د لومړی ګروپ له حادثاتو څخه تنها یوه ښکاره نه شي په دې صورت کې هغه حادثه چې په دویم ځل نه ده ظاهره شوې د «g» د حادثې علت ده چې په خپله هم نه ده ظاهره شوې، مثلاً د «i» حادثه په دویم ځل کې د«g» له حادثې سره یو ځای واقع نه شي چې ددې حقیقت ښودونکې ده چې«i» د «g» علت دی ځکه دا دواړه حادثې په عدم ظهور کې یوه له بلې سره شریکې دي:

لومړی ځل: OPQ «i»

هغه حادثه چې د علت پیدا کول یې مطلوب دی: «g»

دویم ځل OPQ «٠»

هغه حادثه چې علت یې د تفحص مورد دی نه ده ظاهره شوې: «٠»

## 3.د مترافقه تحولاتو قاعده: په دې قاعده کې د مثال په ډول د «f» حادثه د

تحقیق مورد ګرځیدلې ترڅو یې علت معلوم شي، هغه حادثات چې تر هغې مخکې واقع کېږي په متفاوتو درجو سره قرار لري، ددغو حادثاتو په ډل کې دوې حادثې یو د بل علت او معلول دي چې په هر ځل کې د مترافق او یو شان تحولاتو درلودونکی

وي، د مثال په ډول د MNOPQ حادثات د «f» له حادثي څخه مخکې په درې واړو کې واقع شوي او د «f» حادثه د هغې په تعقيب ظاهره شوې ده:

لومړی ځل:

| M | N | O | P | Q |
|---|---|---|---|---|
| 4 | 9 | 5 | 6 | 13 |

«f»

6

دويم ځل:

| M | N | O | P | Q |
|---|---|---|---|---|
| 15 | 7 | 2 | 3 | 8 |

«f»

3

دريیم ځل:

| M | N | O | P | Q |
|---|---|---|---|---|
| 3 | 4 | 6 | 12 | 9 |

«f»

12

په درې واړو کې صرف د «P» حادثه ليدل کېږي چې په خپل تحول کې د «f» د حادثې سره مترافقه ده او نور حادثات په خپلو تحولاتو کې د «f» له حادثې سره په تخالف کې قرار لري نو د «P» حادثه د «f» د حادثې علت ده.

۴. **د بقاياوو قاعده**دا قاعده کاملاً د استورات ميل له ابتکاراتو څخه ده چې د بيکن په درې ګونو لوحو ور زياته شوې ده په دې قاعده کې مثلاً د څو حادثو له وقوع څخه وروسته د MNOPQ د X«Y»Z مرکبه حادثه ظاهريږي او د «X» حادثه د «N» له حادثې سره او د «Z» حادثه د «Q» له حادثې سره توضيح شوې او علتونه يې پيدا شوي دي په دې ځای کې د «XYZ» له مرکبې حادثې څخه يوازې د هغې د يوه جزء

علت چي د «Y» له جزء څخه عبارت دی تر اوسه نه دی معلوم شوی نو په واضحه معلومېږي چې د «Y» د جزء علت د «MOP» له حادثاتو څخه یوه ده، دا چې د «MOP» له حادثاتو څخه کومه یوه د «Y» د حادثې علت ده د لومړنيو درې ګونو قاعدو څخه په استفادې سره معلومېدی شي(۲:۱۷۴۹-۱۷۴).

## په حیاتي علوموکې د تحقیق روش:

حیات پېژندنه د ژوندیو د طبیعت حقیقي علم دی چې په هغې کې د ځمکې پر مخ د ژوند د رشد له قوانینو څخه بحث کېږي، حیاتي علوم، حیات پېژندني، فزیولوژی، کالبد پېژندنې، جنین پېژندنې، حیوان پېژندنې او نبات پېژندنې ته شامل دي، څرنګه چې مخکې ذکر شول د فزیکي او کیمیاوي علومو د تحقیق روش استقراء او تجربه ده، حیاتي علوم چې د ژوندی مادې د حرکاتو قوانین بررسي کوي د تجربي علومو څخه شمېرل شوي او د نورو طبیعي علومو په شان د لاندې روشونو څخه ګټه اخلي:

مشاهده، لومړنی تجربه، د فرضیې ارائه، د فرضیې د مسلم کولو لپاره دوامداره تجربه، د کلی قانون کشف او د تجربه شویو فرضیو څخه د علمي نظریاتو جوړول.

سربېره پردې په حیاتي علومو کې د ژوندیو اجسامو تعریف او ډلبندي ته هم ډېر اهمیت ورکول کېږي.

# پوښتنې

1. ستاسې له نظره مثبت علوم د کومو مشخصاتو درلودونکي وي او دا مشخصات په کومو علومو کې وجود لري؟ توضیح یې کړئ.
2. منفعلانه او فاعلانه مشاهده تعریف او د هرې یوې مثالونه ذکر کړئ.
3. فرضیه څه شی ده؟ او د هغې د تحقیق څرنګوالی د علمي قانون د تشکیل په منظور بیان کړئ.
4. فرضیه له مسلم کېدو څخه وروسته په علمي قانون بدلېږي، نو ووایئ چې د تشکیل شویو قوانینو له مجموعې څخه څه شي منځ ته راځي؟
5. د «دی، نه دی او درجی» لوحې په یوه عملي مثال کې واضح کړئ.
6. د استورات میل څلورګونې قاعدې په سمبولیک شکل ښودل شوې دي، تاسې یې عملي مثالونه وښیئ.
7. د حیاتي علومو د اقسامو نوم واخلئ او د هغو د تحقیق روش بیان کړئ.
8. د درسي منابعو او موادو څخه په استفادې سره د دوه نفري ګروپونو په ترڅ کې د طبیعي علومو د تحقیق د روش په هکله جرو بحث وکړئ.

# درېيم لوست

## په بشري علومو کې د تحقيق روش

### موخې:

1. د بشري علومو مختصره توضيح، اوله تعريف، موضوع، غرض او د علم النفس د تحقيق له روش سره آشنايي.
2. د تاريخ د علم د عمومي او خصوصی تعريفاتو او د ډلبنديو د انواعو او همدارنګه د دغه علم د محقق د ذاتي صفاتو بيان.
3. د ټولنپوهني د علم تعريف، او په دغه علم کې د تحقيق د روش او د هغې د عملي تطبيق د څرنګوالي بيان.
4. محصلان دې د تمرين له اجراء څخه وروسته، د توضيح او ددې لوست د مطالبو د عملي مهارت تطبيق کسب کړي.

بشري علوم له هغه علومو څخه عبارت دي چې د يوه انساني فرد نفساني حالات او د بشري ټولنو د پرمختګ او انکشاف د قوانينو د کشف څرنګوالی تر تحقيق او پلټنې لاندې نيسي، د بشري علومو شمېر ډېر دی خو په دې ځای کې مونږ يوازې ددې علومو څېنې روشونه بيانوو:

### علم النفس او د تحقيق روش يې:

علم النفس چې په يوناني ژبه کې د سايکالوژی په نامه يادېږي د نفساني حالاتو، علمي پيژندنو او د هغوی د روابطو تعيين، د رفتار د مختلفو وجوهو مطالعه او د ذهن او بهرنی نړۍ په روابطو کې له تحقيق څخه عبارت دی، د علم النفس موضوع «انساني ذهن» او د انسان د فردی بېلابېلو سلوکونو له جهتونو څخه عبارت ده، د علم النفس او اروا پوهنې علماء د زده کړې نظري او عملي موضوعات بررسي کوي او د زده

کړی د عملیې څرنګوالي په ماشومانو او لویانو کې ترڅېړنې لاندې نیسي، د ټولنیزې اروا پوهنې علماء په یوه بشري ټولنه کې د جرم عوامل او انګېزې، د انقلابونو، تظاهراتو، ملي قیامونو او د ملتونو د جګړو لاملونه هم د تحقیق مورد ګرځوي، نو علم النفس انساني سلوک مطالعه کوي او دې سوالونو ته چې انسانان څه کوي؟ او څرنګه یې سر ته رسوي؟ او د څه لپاره یې سر ته رسوي؟ علمي ځوابونه چې پر مداومو تجربو ولاړ وي ارائه کوي.

سربیره پردی د اروا پوهنې علم انساني ذهن هم له هره اړخه تر څېړنې لاندې نیسي او د تعلم، ادراک، تخطر، تخلیل، توهم، حکم او داسې نور مسائل مطالعه کوي، په ډېرو ذهني عملیاتو او فعالیتونو کې د ظاهري جسم او حواسو کار مطرح کېږي او د هر انسان هر سلوک د هغه په هر عکس العمل کې، د اشخاصو او اشیاوو په اړه او یا د هغه اشتراک له هغوی سره په متقابلو فعالیتونو کې «ذهني وي او که فزیکي» هم د اروا پوهنې په علم کې شاملېږي.

د تحقیق روش په علم النفس کې یا ذهني روش (دننه مشاهده) دی او یا عیني روش (بهرنۍ مشاهده) دی. که د روحیاتو د علم محقق د خپلو نفسانیاتو په تحقیق کې مشغول شو ذهني روش او یا دننه مشاهده یې پکارولې ده او که د نورو افرادو نفساني او دې دوی دننه حالات یې د تحقیق مورد وګرځول په تحقیق کې یې له عیني یا بهرنۍ مشاهدې څخه استفاده کړې ده، یو عالم د خپلو داخلی حالاتو په خپل پېژندنې سره په نفس د قیاس له لارې د نورو د نفساني او داخلی حالاتو پیژندنې ته رسېږی او د هغو کلمو د معناوو په پوهېدو چې نور یې د خپلو نفساني حالاتو په بیان کې پکاروي توفیق مومي، دا ذهني روش له عیني روش څخه د استفادې نه پرته کافي نه دی ځکه کله چې د تحقیق هدف، د یوه حیوان، د یوه ماشوم، د یوه بېدیایي او وحشي، یا یوه ناروغ انسان د داخلي حالاتو مطالعه وي نو ذهني روش په دې ډول حالاتو کې چندان توفیق

نه لري، په علم النفس کې د تحقیق علمي او معمول روشونه په لاندې څو روشونو کې مطالعه کېږي.

1. آزمایشي روش (مثلاً ددې فرضيې آزمايښت چې دې وسايطو چلوونکي د بصري علايمو په مقابل کې له سمعي علايمو (آوازونو) څخه ډېر ژر عکس العمل ښيي).

2. د مشاهدې روش (مثلاً د ځينو حيواناتو د ټولنيزو فعاليتونو ثبت او دقيقه مشاهده او د خپل او پردي څخه په تقليد کې د هغوی علاقه).

3. تکويني روش (مثلاً د رشد د جريان، بدني انکشاف، د ماشوم د ذهن او رفتارونو د تحول، له نورو سره د ماشومانو روابط او ددې رشد د ټولو جرياناتو د ثبت، تحول او ترقياتو مطالعه).

4. آماري (شمېرنې) او ټستي روش (دغه روش چې د ياد شوو دوو روشونو د تلفيق محصول دي، دغه روش په ځينو مواردو کې لکه د کورنۍ د ټولنيزې او اقتصادي وضعې د موقعيت د اغيزې مطالعه، د ماشومانو د هوش په کچه کې او يا د زده کوونکو په عملي صداقت او يا تقلب کې کارول کېږي).

5. باليني روش (چې د يوه معين شخص په مورد کې د هغه د مخصوصو نفساني حالاتو يا حالت د تشخيص په منظور او د هغه په لارښوونې او معالجې کې کارول کيږي) د علم النفس په علم کې د نورو علومو په نسبت د قوانينو کشف سخت دی او د اجسامو د سقوط د قانون په څير کلي او قطعي نه وي ځکه د نفس حالات متغير دي نو مربوطه قوانين هم متغير دي خو دا موضوع د کلي حقايقو د موجوديت مانع نه ده چې د ثابتو روابطو په صورت کې په علم النفس کې کشف او منځ ته راغلي دي، لکه دا کلي حقيقت «د خوند په موقع کې، حرکت زياتېږي او توسعه مومي» (۷: ۲۵۳–۲۵۶).

## تاريخ او د تحقيق روش يې:

د تاريخ علم له دوو جهتونو څخه د تعريف وړ دی: يو د عمومي معنی له مخې او بل د خصوصي معنی له مخې، تاريخ د لومړنۍ معنی له مخې د هغو ټولو واقعاتو له تحقيق څخه عبارت دی چې په تيره زمانه کې واقع شوي دي، واقعات، د سماوي اجرا مو، او تر ځمکې پورې د مربوطو موجوداتو ټولو واقعاتو ته شامل دي او له دې واقعاتو څخه هره يوه يو تاريخ لري.

تاريخ د دويمې معنا له مخې عبارت دی د انساني واقعاتو او فعاليتونو له تحقيق څخه چې په تېر وخت کې شوي او سياسي، نظامي، اقتصادي، ديني، اخلاقي او علمي برخې پکې شاملې دي. هغه بشري واقعات چې د تاريخ له نظره د تحقيق وړ ګرځي له هغو واقعاتو او حوادثو سره چې د تجربي او طبيعي علومو له نظره د مشاهدې او تحقيق وړ دي د ملاحظې وړ تفاوت لري، تاريخي واقعات مړه اوتر احساس، مشاهدې او تجربې لاندې نه شي راتلی په داسې حال کې چې د تجربي او طبيعي علومو واقعات او حوادث تر مشاهدې لاندې نيول کيږي او تکرارېدی شي او له دې امله ددې دوو ساحو د تحقيق روشونه هم يو له بل سره توپير لري.

د تاريخ د علم اساسي هدف دادی چې د امکان تر حده وکولی شي تېر شوي واقعات څرنګه چې واقع شوي تثبيت او په خپلو مخونو کې يې قيد کړي، دا چې واقعاتو ته خاصې معناوې ور وبښي، نتايج او احکام لاسته راوړي، د انساني حيات د انکشاف قوانين له مشاهدې او تحليل څخه وضع کړي دا ټول هغه امور دي چې تر ټولنپوهنې (سوسيولوژي) پورې اړوند او د تاريخ د ساحې له بحث او تحقيق څخه بهر دي.

### د تاريخ د علم تقسيمات:

د تاريخ علم د تېر شويو واقعاتو، د طبيعت، بشري ټولنې او تفکر له انکشاف څخه بحث کوي نو په دې بنا ويلی شو چې دا علم لاندې درې ډولونه لري.

**1. طبيعي تاريخ:** د تاريخ په دې ډول کې د ځمکې له تاريخ، له منځه تلليو لرغونو موجوداتو او د داسې نورو له تاريخ څخه بحث کيږي.

**2. انساني تاريخ:** د تاريخ په دې ډول کې د انساني ملتونو، قومونو او جمعيتونو له تاريخ څخه بحث کيږي.

**3. فکري تاريخ:** د تاريخ په دې ډول کې د اديانو، فلسفي علومو او داسې نورو له تاريخ څخه بحث کيږي.

د لوېديځ مختلف پوهنتونونه د تاريخ علم په دې وروستيو کې په لاندې ډول سره ډلبندي کوي:

1. د اديانو تاريخ.
2. د فلسفې تاريخ.
3. د علومو تاريخ.
4. اقتصادي تاريخ.
5. سياسي او حقوقي تاريخ.
6. ديپلوماسي او نظامي تاريخ.
7. د ادبياتو تاريخ.
8. د اخلاقي نظرياتو، تقاليدو او عاداتو تاريخ.
9. د هنرونو او فنونو تاريخ.

## په تاريخ کې د تحقيق روش:

تاريخي واقعات او حوادث يو له بل سره په منفرد او مجرد ډول نه مطالعه کيږي او په نړۍ کې اصلاً منفرد او مجرد واقعات او حوادث وجود نه لري بلکه د تاريخ د محققانو او د علومو د فلسفې له نظره ټول تاريخي حوادث او واقعات د هغوی په مختلفو ساحو کې يو له بل سره مربوط وو، په بشري ټولنو کې ډير حوادث او

تحولات د انسانانو د کار او زيار له اثره منځ ته راغلي. تاريخي شواهد په دوو شکلونو زمونږ په اختيار کې دي.

1. **مادي تاريخي شواهد او مدارک :** دا ډول مدارک په مادي او عيني صورت کې زمونږ د مطالعې او قضاوت په وړاندې قرار لري لکه د عمارتونو او بنګلو پاتې شوني، تاريخي کلاوې او آبادۍ، د ګاڼو ډولونه، جواهر، لوښي، وسلې، د ژوند او کار مختلف وسائل او داسې نور.

2. **معنوي تاريخي شواهد او مدارک:** دا ډول مدارک په عيني شکل نه بلکې په معنوي شکل مونږ ته د تير وخت او د تير شويو خلکو حکايت کوي، لکه ژبه د هغې له ټولو سمبولونو او نښو سره په لوحو کې ليکل شوي مفاهيم، شفاهي منقولات او د هغو نور ډولونه. په مادي مدارکو کې د تاريخ محقق بايد کوښښ وکړي ترڅو تاريخي اثر په خپل ځای کې مطالعه او تحقيق شي او هغه څه چې د انتقال وړ وي او په موزيمونو او خزانو کې جمع کړي شوي وي بايد د هغه پواسطه ليست او د هغوی د محل او مشخصاتو فهرست ترتيب شي. د تاريخي اثر د خصوصياتو په تشخيص کې له تشخيص کوونکو وسائلو او آلاتو څخه استفاده وشي او هم له متخصصانو، صنعتګرو، هنرمندانو او له پوهو کسانو څخه مرسته غوښتل کيږي ترڅو د هغې د سم او صحيح درک او تشخيص له لارې د هغه اثر د اړوند عصر پر حاکمو ټولو شرائطو او حالاتو پوه شي.

د معنوي آثارو او مدارکو تحقيق دې هم لومړی په غور سره مطالعه شي او وروسته دې د خط، ژبې، اصطلاحاتو او جملو او د اثر د نورو خصوصياتو په څرنګوالي علم حاصل او د اثر اړونده زمانه دې تشخيص شي او د هغې زمانې د ديني، سياسي، نظامي، اجتماعي او فرهنګي حالاتو د ډير تحقيق د څرنګوالي په مورد کې دې زمينه مساعده شي.

## د تاريخ محقق په لاندې دوو طريقو سره کار کوي

1. هغه اسناد چې له مخکې څخه را پاتې وي تر تحقيق لاندې نيسي؟

2. هغه نتايج چې له دې لرغونو اسنادو څخه استنتاج شوي د خپلې ژورې بررسی او مطالعې مورد ګرځوي. لومړنۍ عمليه اساساً تحليلي عمليه ده چې د «تاريخي انتقاد» په نامه هم تعبيرېږي او دويمه عمليه يو ترکيبي فعاليت دی چې د «تاريخي انشاء» په نامه يادېږي.

انتقاد او تحليل په تاريخ کې يوه مهمه مسأله ده او د انسانانو شهادت په دې مسأله کې ځانګړې ځای لري خو بايد پر هر شهادت باور ونه کړو او د خبر صدق او يا کذب او د هغه د مطابقت څرنګوالی له واقع سره تشخيص کړو، دا چې د يوې واقعې خبر مو واورېد بايد لومړی د هغه د امکان او يا استحالې په اړه غور وکړو چې له عقلي اصولو او علمي قوانينو سره په تضاد کې نه وي او په دويم قدم کې بايد د هغه محتمل والی وارزوو او وروسته له نورو مدارکو او منابعو څخه په دغه اړه استفاده وکړو او د شهودو د تفاوت او توافق څرنګوالی بررسي کړو، همدارنګه د تاريخي لرغونو ځايونو او مرقومه (ليکل شوو) وثائقو په اړوند بايد د تاريخ د محقق له پلوه پوره غور ترسره شي.

## تاريخي انشاء په دوو بڼو سره کېږي

1. د تاريخي واقعاتو د توضيح لپاره د هغو د جزئيه لاملونو پر لور حرکت کېږي او دا د تاريخ اصلي وظيفه ده چې د يوې واقعې له حدوث نه مخکيني ټول لاملونه د مطالعې او ارزونې لاندې وګرځي.

2. د لاملونو په دې شکل کې يوازې يوه واقعه د تدقيق مورد نه ګرځي بلکې پرمختګ او کوښښ کيږي چې د بشري ټولنې او ملتونو د ژوند د انکشاف قوانين کشف او د راتلونکو حوادثو په وقوع په اټکلي توګه هم حکم وکړی شي، د بشري

ټولني حيات د سوسيولوژي په علم او د راتلونکي اجتماعي وضعې د څرنګوالي ټاکل او وړاند وينه د تاريخ په فلسفې پورې اړه لري.

د تاريخ د ليکلو لپاره د تاريخ د محقق ذاتي مواصفات هم ارزښتناک نقش لري، د استدلال قوه، د ذکاء او هوښيارۍ درجه، د واقعاتو ترمنځ د خفيه اړيکو له مشاهدې څخه د هغوی پر بعيدو (لرې) روابطو پوهېدل، د تحليل قوه، او د تاريخي هرې حادثې د مخکينيو لاملونو ذکر له هغو صفاتو څخه دي چې د هغوی پوره شتون د تاريخ په محقق کې ډېر ارزښت لري.

## ټولنپوهنه او په هغې کې د تحقيق روش:

ټولنپوهنه يو نوی علم دی او د هغې په استقلال کې جرو بحث وجود لري، ځينې په دې آند دي چې جامعه شناسي (ټولنپوهنه) هماغه د روح او نفس علم دی څرنګه چې ټولنپوهنه له انساني جمعيت او ټولنې څخه بحث کوي او انساني ټولنه له افرادو څخه تشکيل شوی او فردي سلوک د علم النفس موضوع ده، خو ځينې نور په دې نظر دي چې ټولنپوهنه له ديني، حقوقي، سياسي، اقتصادي اعتقاداتو او هر هغه څه څخه چې د مدنيت د جوړونې سبب کيږي، بحث کوي.

يادشوی مدنيت او اعتقادات د انسانانو د ګډ فعاليت پواسطه منځ ته راځي او فرد په يواځې توګه هغه نه شي ايجادولی نو د يوه علم موجوديت د ټولنپوهنې په نامه ضروري دي.

د ټولنپوهنې د تحقيق روش يو تجربي روش دی په کلي توګه هغه اصول چې بايد په ټولنيزو تحقيقاتو کې رعايت شي په لاندې ډول دي.

1. د ټولنپوهنې محقق بايد په علمي توګه د تحقيق وړ موضوع مطالعه کړي او د افرادو شخصي نظريات په آزاد تحقيق کې مانع ونه کرځي.

2. يوازې هغه ډله نوې پيدا شوې شيان چې د ښکاره خصوصياتو په نظر کې نيولو سره تر يوه تعريف لاندې راځي تر څېړنې لاندې ونيسي.

3. کله چې محقق د ټولنيزو امورو د يوې مشخصې بيلګې او ډلې په اړه تحقيق کوي بايد هغه د فردي خصوصياتو له هر ډول توجه څخه لرې تر مطالعې او غور لاندې ونيسي.

څرنګه چې د ټولنپوهنې روش يو تجربي روش دی نو په دې مورد کې لاندې درې مرحلې تر سره کيږي:

**1. دامورو مشاهده:** څرنګه چې په بشري ټولنه کې د ټولو مواردو مشاهده د انسان له توان څخه وتلې ده ځکه نو د کار د آسانۍ لپاره د مشاهدې له لاندې روښونو څخه استفاده کيږي:

**الف: مونوګرافي:** د يوه ټولنيز واحد بشپړه مطالعه او تحقيق لکه په افغانستان کې د معلولينو د کورنيو د ژوند د څرنګوالي په اړه مطالعه.

**ب: تاريخ:** تاريخ د اطلاعاتو مهمه منبع ده، محقق کولای شي له تطبيقي تاريخ څخه د خپل تحقيق لپاره استفاده وکړي. تجزيه، تحليل او د ټولنيزو امورو توجيه د تطبيقي تاريخ له لارې د ټولنپوهنې يو له مهمو روښونو څخه شميرل کيږي.

**ج: انسان پيژندنه:** په ټولنيزو ډلو او ابتدائي اقوامو کې مطالعه او تحقيق د امورو په مشاهده کې ښه وسيله شميرل کيږي.

**د: آمار او احصائيه:** په احصايې (شميرنې) سره ممکنه ده ډيرې لويې ټولنيزې معضلې په ښه توګه وپيژندل شي او د حل لپاره يې مناسبې لارې ولټول شي.

**2. فرض:** د فرض په اړه په تير لوست کې بحث وشو، ټولنپوهنه هم د نورو علومو په شان له علمي فرضونو څخه نه شي مستثنی کيدلی، د فرض د ايجاد او له هغې څخه د استفادې شرائط په ټولنپوهنه کې هم کټ مټ هغه شرائط دي کوم چې په نورو علومو کې د فرض د ايجاد او له هغې څخه د استفادې لپاره ضروري ګڼل کيږي.

**3. تطبيقي او آزمايښتي روښ** نن ورځ په ټولو علومو کې آزمايښت او تجربې ته ډېر اهميت ورکول کيږي. څرنګه چې د ټولپوهنې د بحث موضوع انسان او انساني ټولنه ده نو د هغې د تجربې او آزمايښت وسايل د طبيعي علومو د تجربې او آزمايښت له وسايلو سره توپير لري، ټولپوهنه لزوماً د مشابه نوو پيدا شوو شيانو له تطبيق څخه استفاده کوي، د يوه فرض د مسلم کولو لپاره له لاس ته راغلو نتايجو څخه يوه په نظر کې نيسي او د نورو واقعي امورو په واسطه هغه تر کنټرول او پلټنې لاندې نيول کيږي، ياد شوي واقعي امور له تاريخي حقائقو، اطلاعاتو او د انسان پېژندنې له معلوماتو څخه عبارت دي، د مثال په ډول فرانسوي دوو مشهورو ټولپوهانو د دورکيم او هالبواکس په نومونو د شلمې پيړۍ په لومړيو کې د ځان وژنې او انتحار د علتونو په اړه تحقيق وکړ، لومړی يې د ارقامو په اساس داسې ومونده چې ځان وژنه په دوبي کې نسبت ژمي ته ډېره وي او فرض يې داسې وانګيره چې حرارت د ځان وژنې د ډېروالي باعث شوی خو وروسته يې دا فرضيه رد کړه او نورې فرضيې يې تشکيل کړې چې په هغو کې وژنه د کال په تر ټولو لويو ورځو کې، په شنبې او پنجشنبې کې د سړيو ځان وژنه او د جمعې په ورځو کې د ښځو ځان وژنه، د تجرد په حالت کې ځان وژنه، د تأهل په حالت کې ځان وژنه، د اولاد نه درلودلو په صورت کې ځان وژنه د تجربې، آزمايښت او تطبيق مورد وګرځيدې او په نتيجه کې په دې مورد کې د يوه عام قانون په کشف موفق شول: «کوم کس او شخص چې هر څومره د ټولنې او ټولنيزو ګروپونو سره ډېر او کلک روابط ولري او په ټولنيز چاپيريال کې هم غړی شي او ځان ورسره جوړ کړي او په اصطلاح له ټولنې سره يې جوش خوړلی وي په هماغه اندازه د ځان وژنې او انتحار احتمال يې ضعيف او کمزوری دی».

دې دوو ټولپوهانو له نورو محققاتو سره د ځان وژنې په مورد کې ټول ظاهري او غير اساسي لاملونه حذف کړل اوددې کار د اصلي علت په کشف موفق شول چې:

«د ځان وژنې اصلی لامل د شخص د يوځای والي او ملاتړ نشتوالی او يا کموالی او د هغه تړاو قطع کيدل دي کوم چې شخص له ټولنې او دوستانو سره يوځای کوي، او هغه ځان د ټولنې د سلګونو او زرګونو افرادو په منځ کې يوازې، بې پناه، سرګردانه او يا شړل شوی او جلا لويدلی مومي».

ټولنپوه په هرې ټولنيزې حادثې کې له دې معروفو روشونو څخه استفاده کوي او ټولنيزې مغلقې قضيې ځانته معلوموي او د هغو د حل معقولې لارې پيدا کوي، د مثال په ډول په يوې ټولنې کې د طلاق دوقوع د مسألې پېژندنه او حل، له کور څخه د نوو ځوانانو تبنتېدل، له بلوغ څخه مخکې ودونه، په مخدرو موادو روږديدل، غلا، اختطاف، د انسان قاچاق، قتل، د لارې شکول، زنا او د بشري ټولنې د نورو معضلاتو پيژندنه او حل.

دا چې ټولنيزحوادث ډېر متنوع او مختلف دي نو ځکه ضرورت پيدا کېږي چې ټولنيز علوم هم متنوع او مختلف وي، لکه ديني، اخلاقي، حقوقي، اقتصادي، ژبني (لساني) او بديعي اجتماعيات چې هر يو له دوی څخه له ټولنپوهنې سره نږدې اړيکې لري.

## پوښتنې

1. بشري علوم تعريف کړئ، د علم النفس د تحقيق روش د هغه له موضوع او هدف سره توضيح کړئ.
2. ذهني روش (دننه مشاهده) او عيني روش (بهرنۍ مشاهده) شرح او بيان کړئ.
3. آزمايښتي، مشاهده وي، تکويني، احصايه وي او باليني روشونه هر يو د مثال سره شرح کړئ.
4. د تاريخ عمومي او خصوصي تعريف بيان کړئ او د هغه د تقسيماتو انواع په اختصار سره ذکر کړئ.
5. د مادي او معنوي شواهدو يوازې نوم واخلئ او د يوه مورخ د کار بنې (اشکال) توضيح کړئ.
6. د تاريخ د محقق ذاتي صفات په مُدَلّله توګه توضيح کړئ.
7. د ټولنپوهنې فرق له علم النفس سره بيان کړئ، د هر يوه د بحث وړ موضوعاتو يوازې نوم واخلئ.
8. د ټولنپوهنې روش يو تجربي روش دی، تاسې ددې روش درې مرحلې شرح کړئ.
9. د ټولنپوهنې تطبيقي آزمايښت او روش په ټولنيزو لويو موضوعاتو او معضلاتو کې د نمونې په ډول وکار وئ.
10. اجتماعيات د کومو کاري ساحاتو درلودنکي دي؟ يوازې نوم يې واخلئ.
11. د بشري مختلفو علومو د تحقيق د روشونو په مورد کې په لاس کې لرلو منابعو څخه په استفادې سره جلا جلا مقالې تحقيق او وليکئ.



14 – 11 - 2012

# ماخذونه


1. قرآن کریم.
2. ابن سینا، حسین بن عبدالله. دانشنامهٔ علائی . تهـــــــــــــران: شرکت مطبوعات، 1315 ش.
3. ارسطو. کتاب التحلیلات ال ثنیة. تحقیق. عبدالرحمن بدوی(منطق ارسطو) القاهرة: مکتبة النهضة المصریة 1949 .
4. ارسطو. کتاب البوطیقا (فن الشعر). القاهرة: مکتبة النهضة المصریة 1953.
5. اوی، البرت. تاریخ مختصر فلسفه . ج 2. ترجمه علی اصغر حلبی. تهران: کتابفروشی زوار، 1358 ش.
6. بلیاوی، محمد ابراهیم. ضیاء النجوم فی توضیح سلم ال علوم. ملتان: مکتبهٔ امدادیه، ب– ت.
7. ترابی، علی اکبر. فلسفهٔ علوم. تبریز: دانشگاه تبریز، 1347 ش.
8. التفتارانی، سعدالدین. شرح العقاید النسفیة. پشاور: قصه خوانی، ب–ت.
9. حسین، طه. مبادی علم منطق . ترجمه. عبدالحق بیتاب. کابل: مطبعهٔ دولتی، 1335 ش.
10. حنبل، حسن حسن. المنطق الوافي. القاهرة: مطبعة الرسالة، 1966.
11. خاوری، خراسانی عبدالرسول. منطق. تهران: اندیشه، 1336 ش.
12. خرائلی، محمد. منطق نظری و خلاصهٔ منطق عملی و فلسفهٔ اولی. تهران: امیر کبیر، 1340 ش.
13. خوانساری، محمد. منطق صوری. تهران: دانشگاه تهران، 1360 ش.
14. الرازی، محمد قطب الدین. القطبی. ملتان: مکتبهٔ امدادیه، ب – ت.
15. رشاد، محمد. منطق. تهران: اندیشه، 1345 ش.
16. سیاسی، علی اکبر. مبادی فلسفه. تهران: کتابهای درسی، 1352 ش.

17. سیاسی، علی اکبر. منطق و فلسفه. تهران: کتابخانۀ ابن سینا، 1341 ش.
18. الشامی، محمد السید. دراسات فی علم المنطق. مصر: 1960.
19. الشنیطی، فتحی محمد. اسس المنطق و منهج البحث العلمی. ب– ت.
20. طوسی، نصیر الدین. اساس الاقتباس. تهران: دانشگاه تهران، 1355 ش.
21. عبدالفتاح وحسن الغزالی. المنطق و مناهج البحث العلمی . جمهورية العربية الليبية، امانة التعليم، 1981.
22. عفیفی، ابوالعلا. المنطق التوجیهی. القاهرة: المكتبة الاميرية، 1944.
23. فروغی، محمد علی. سیر حکمت در اروپا . ج1. تهـــران: انتشارات زوار، 1366 ش.
24. کاوش، سید نورالحق. منطق ارسطو. کابل: مطبعۀ وزارت تحصیلات عالی و مسلکی، 1369 ش.
25. کرم، یوسف. تاریخ الفلسفة الیونانیة. القاهرة: لجنة التأیف و الترجمة و النشر، 1966.
26. مجددی، غلام حسن. مبادی منطق صوری و تطبیقی . کابل: وزارت معارف، 1346 ش.
27. محمود، زکی نجیب. فلسفۀ علوم. ترجمه غلام حسن مجددی. کابل: پوهنځی ادبیات و علوم بشری پوهنتون کابل، 1347 ش.
28. مددی، عبدالمنان. منطق صوری. کابل: پوهنتون کابل، 1366 ش.
29. مظفر، محمد رضا. منطق. ترجمه و اضافات. علی شیروانی. ج1. قم: دارالعلم، 1373 ش.
30. ملاحسن. شرح سلم العلوم. پشاور: مکتبۀ حقانیه، ب–ت.
31. ناصرالدین، صاحب الزمانی. منطق برای همه . تهران: بنگاه مطبوعاتی عطائی، 1337 ش.

32. همدانی، محمد مفتح. روش اندیشه. قم: چاپخانۀ علمیۀ قم، 1377 ش.
33. یوجل، حسن عالی. کتاب منطق . ترجمه غلام حسن مجددی. کابل: مطبعۀ عمومی، 1328 ش.